د

حمزه شنواري

# کلیات

پنځم جلد

پښتو اکېډمي پښور یونیورسټي

د

# حمزه شنواري

# کلیات

پنځم جلد

ترتیب او تدوین
ډاکټر راج ولي شاه خټک
پروفیسر پردل خان خټک

نظر ثاني

پروفیسر پرېشان خټک
پروفیسر محمّد نواز طائر

پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي

PROPERTY OF ACKU
33508
AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00033508 2

ټول حقوق محفوظ دي

د پښتو اکېډيمۍ د مطبوعاتو سلسله نمبر ۲۹۹

---

د کتاب نوم ———— د حمزه شنواري کليات

پنځم جلد

د مصنف نوم ———— امير حمزه خان شنوارے

خورونکي ———— ډائريکټر پښتو اکېډيمي

پېښور يونيورسټي

چاپ ———— ملّت پرنټرز لاهور

د چاپ کال ———— ۱۹۹۷ع

پروف ———— قاضي حنيف الله حنيف

کتابت ———— لطف الله خوشنويس

شمېر ———— يو زر

قيمت : ستو ډيټر ايډيشن ۲۷۰/- روپۍ

مجلد ۳۰۰/- روپۍ

په اهتمام د محمد جاويد خليل په ملّت پريس لاهور کښې چاپ شو

او د پښتو اکېډيمۍ پېښور يونيورسټۍ نه خور شو -

ACKU

بسم الله الرحمن الرحيم

د امیرالمتغزلین حمزه شنواري د اشعارو د مجموعې " د حمزه شنواري کلیات " دا پنځم جلد دے ۔ او دا پنځم جلد د هغهٔ د منظوم کلام اخري برخه ده ۔ په دې پنځم جلد کښې د ستر حمزه شنواري هغه ټول متفرق اشعار راټول ځائے کړے شوي دي کوم چې مونږ ته د مختلفو ذریعو نه ترلاسه شوي دي ۔ په دې متفرقاتو کښې هم قطعې، رباعیانې، نظمونه او فردونه شامل دي ۔ دا په دې لحاظ هغه خوارهٔ وارهٔ اشعار وُ ۔ چې حمزه صاحب په مختلفو موقعو وئیلي وُ ۔ چرته په خطونو کښې، چرته په خپل بیاض کښې او چرته په نورو موقعو، تردې چې د ملګرو، یارانو دوستانو او مریدانو د ښادۍ په موقع د هغهٔ لیکلي شوې سهرې هم په دې جلد کښې ځائے کړے شوې ۔ مونږ ددې جلد د تیارۍ نه مخکښې د خپلې رسالې " پښتو" په ذریعه او په نورو ذریعو هم پښتون اولس ته عموماً او د حمزه صاحب نژدې ملګرو ته خصوصاً داخواست کړے وُ ۔ چې که چا سره د حمزه صاحب څه قسمه ناچاپ اشعار موجود وي هغه دې مونږ ته راواستوي چې په کلیاتو کښې ئې ځائے کړے شو ۔ مونږ د هغه ټولو ښاغلو ملګرو



ACKU

مننه کوؤ چاچې زمونږ ددې خواست په جواب کښې مونږ سره د حمزه صاحب د منظوم کلام په راغونډولو کښې مرسته کړې ده. مونږ تر خپله وسه په دې پنځم جلد کښې دا کوشش کړے دے. چې د حمزه صاحب څهٔ قسمه هم ناچاپ شعر پاتې نهٔ شي. ولې بیا هم کېدے شي چې ځنې خلقو ته زمونږ دا خواست نهٔ وي رسېدلے که هغوئ ددې پنځم جلد د اشاعت نه پس هم داسې شعرونه راواستوي نو په نورو ایډیشنونو کښې به ځائے کړے شي او د حمزه صاحب د منظوم کلام کلیات به په اصلي معنو کښې مکمل شي.

ددې پنځم جلد نه وړاندې د غزل د بابا غزلونه او نظمونه په څلورو جلدونو کښې شائع کړے شوي دي. د هر جلد د صفحو شمېر شپږ سوه یا د شپږو سوو نه زیات دے. زمونږ دا خیال ؤ. چې هم‌دغه هومره د صفحو تعداد ددې پنځم جلد هم برابر شي ولې وروستو د حساب نه معلومه شوه چې ددې پنځم جلد د صفحو شمېره به څهٔ خواؤشا تر زرو صفحو اورسېږي. مونږ دا هم کولے شول چې د یو ضخامت دا کلیات په شپږو جلدونو کښې چاپ کړے شي. ولې زمونږ مجبوري داوه چې دا منصوبه او ددې د پاره له U.G.C له اړخه منظور کړے شوے ګرانټ د پنځو جلدونو ؤ. ځکه نو مونږ د اخري جلد یعنې د پنځم جلد ضخامت زیات کړو. خو د منصوبې مطابق مو د "حمزه شنواري کلیات" په پنځو جلدونو کښې سرته اورسولو. ددې پنځم جلد د غټوالي یوه وجه دا هم ده چې په دې کښې د حمزه صاحب دوه نایابه چاپ شوي کتابونه، د ژوند او یون مثنوي او د نعتیه کلام مجموعه "د زړهٔ آواز"



ACKU

هم چاپ کړے شو - ددې نه سېوا دکابل منظومه سفرنامه چې اوس ورکه ده - دهغې څۀ برخه چې په لاس راغله هغه هم ورسره ځائے کړے شوه . ددې نه سېوا دنمونې په طور دحمزه صاحب يوه بله نايابه مثنوي بلکه دورکې مثنوۍ يو څو شعرونه چې بيامونده شول هغه موهم شامل کړل - ددې دپاره چې که چرې لوستونکي دغه نيمګړي اشعار اووينې او دکابل دسفرنامې ورسره د مولانا روم مثنوي په طرز ليکلې هغه مثنوي دچا سره وي او يائې ورته څۀ درک معلوم وي نو مونږ يقين لرو چې د هغې د درک خبر به راکړي او داسې به دحمزه صاحب دغه دوه شاهکارونه د ورکېدو نه بچ پاتې شي - ددې سره يوه بله اهمه خبره دا هم پښتنو ته ورياده وو چې حمزه صاحب منظومې ډرامې هم ليکلې دي چې يوه پکښې د شوقيانو بنار په نوم شهرت لري او غالبًا چې د ريډيو پاکستان پېښور نه خپره شوې هم ده . ولې اوس ئې سکرپټ هم نشته . يا زمونږ تر لاسه نۀ شو - که دا ډرامه يا داسې ډرامې دچا سره وي اميد لرو چې مونږ به ترې خبر کړي

ددې پنځم جلد د اشعارو د راغونډولو په لړ کښې مونږ په عمومي توګه د ټولو کمک کوونکو منته کوو - دکابل دسفرنامې دپاره د محترم همېش خليل دمثنوي دڅو شعرونو دپاره دخيال اسد ابادي د سهرو دپاره دښاغلي عاقل خان افريدي ، ډاکټر مسعود ، داد محمد دلسوز اقبال اعزان اپريدے او دهغه ټولو ښاغلو ممنون يو چا چې د سهرو اشعار مونږ ته په وخت راليږلي دي -

۲۴۲۱

د ستر حمزه شنواري د منظوم کلام کلیات په دې پنځو جلدونو کښې مکمل کړے شو ـ ددې سره زمونږ دا هم اراده ده چې د بابا د نثر د کلیاتو اهتمام هم دغه رنګ اوکړے شي ـ ددې دپاره چې زمونږ کومه منصوبه لرو په هغې کښې د حمزه صاحب کلیات نثر څه په دغه حساب په اتو جلدونو کښې اندازه کړے شوے دے ـ د حمزه صاحب د نثري کتابونو، مقالو، مضامینو ډرامو او نورو اثارو یوه وافره ذخیره موجوده ده که چرې زمونږ وس پورې اورسي یا د پروفیسر پرېشان خټک په شان څوک بل حکومتي واکدار داسې راپیدا شي چې د حمزه صاحب د نثر د کلیاتو د اشاعت د اخراجاتو ذمه واري په سر واخلي نو امید کوو چې زر تر زره به دا هم تر سره اورسولے شي ـ

ددې جلد خصوصًا او د حمزه شنواري د کلیات پنځو وارو جلدونو د تیارۍ په لړ کښې له هر چا زیاته منـــــه د محترم استـــاد پروفیسر پرېشان خټک کوو ـ د چا په ذریعه چې ددې کلیاتو اشاعت ممکن شو ـ ورســره د پروفیسر محمد نواز طائـر او حاجي پردل خان خټک هم ډېره ډېره مننه کوو د چا په ذاتي دلچسپۍ چې دا منصوبه ســرته اورسېده ـ د دوئ سره سمه مننه زۀ د خپل ملګري د مطبوعاتو د څانګې انچارج د بناغلي محمد جاوید خلیل هم کوم چې هغه په انتهایي ذمه وارۍ نۀ یواځې دا چې ددې کلیاتو د اشاعت د کار ذمه واري تر ســره کړه بلکه د حمزه صاحب

ACKU

د اشعارو په راټولولو کښې ئې ذره په مینه برخه اخستې ده. زۀ د خپلو ملګرو لطف الله خوشنویس، قاضي حنیف الله حنیف او د ملت پرنټرز مالک ښاغلي عنایت الله ګران هم د دغه شان مننه کوم چا چې په ډېره مینه د چاپ ذمه وارئ ترسره کړې -

وما علینا الا البلاغ

ډاکټر راج ولي شاه خټک
ډائرېکټر پښتو اکېډیمي
پېښور یونیورسټي

۴۳۲۳

# رباعیات

دا رباعي ما په خوب کښې ویلې وه
زما وړومبۍ رباعي ده ۱۹۳۷ سنه ع

لوبان شه اے درده، او اور ته رسه
مشغول په عبادت دي مَلَک پور ته رسه
یا اوښسه مکان د پساري په دوکان
صورت کښې د پوړۍ شه هر کور ته رسه

تارک گوښه نشین غم د ژوندون کړي ولې
کیدونکی حقیقت له دنیا ستون کړي ولې
دنیا د زیور دکه ناوې، ته یې زلمے
ناشکره داسې ته د نعمت خون کړي ولې

حمزه تا عبادت په څه بهانه پرې اښے
جنت دي په بدل د بتخانه پرې اښے
بابا زموږ پر ښے په یوه دانه وه
څه کفر شو که ما په پیمانه پرې اښے

دنیا کښې هغه کس به سلامت پاتې شي
چې ژوند يې وي ساده کم يې حاجت پاتې شي
حمزه چې د غمو بوټې بې ښاخه شو
پنجونه د مارغانو امانت پاتې شي

بې ځایه چې خرڅ نه کړي عدالت دغه دے
اختیار چې کفایت کړي مشقت دغه دے
حمزه که ته لکي شې دولتمند به نه شې
کم کم چې ضرورت کړې نو دولت دغه دے

زاړه خیالات بدل ، نوي کره ځان کښې پیدا
تفسیر د موتوا قبل ان تموتوا شو دا
په مزکه کښې حمزه چې دانه نه شي ورسته
شین بوټې به ذرکاله کښې تری نه شي نما

هر دم په وړاندې ځه ، ورستو رامه شه په شا
هر کام دې ورستې ژوند لره بونیا قضا
حمزه چې په شجر کښې راپیدا شي ثمر
ممکن نه وي ثمر لره شجر چې شي بیا

ACKU

زاهد کړي نصیحت راته بېګاه او صبا
حمزه د نمونځ اودس دې پاتې نه شو سودا
په کاڼي جوکه نه لګي څه پوهه به شي
دا څو رندله وېښتو به څه سجده کړي ادا

## مستره

مستره فحاشۍ لره سبب شوې وې
مسجد په مقابل کښې خوښ په کلب شوې وې
ذکري لرې د بې امې ، خو دا وایې حمزه
اخته په داسې جهل مرکب شوې وې

## پرده او تهذیب

تهذیب د مسلمان زوړ شو پرده څه پکار
سپوږمۍ ته د خسوف توره پرده څه پکار
بښکره فلسفه کښې د هارون ده حمزه
شي څوک د غزالي که پرورده څه پکار

مستې راغلو مسجد ته زیر وې نمونځو نه
مانع ورته په مخکښې د وېښتو بندونه
رومال د هېبت په ځای شو خو سجده کښې وایې
پتلون قل هو ، الم نشرح يې اندامونه

ACKU

۲۰۲۳۲

## پښتون ته

تل شپه ده د غربت په تا سحر رانغے
پر فال دې بد اختر، چرې اختر رانغے
ورځ چې باران راورې نو برېښناوې پکښې
افلاس دې ډېروي پکښې اثر رانغے

## د شرفاؤ جوهر

اول د شريفانو وو جوهر علمونه
جرأت او شجاعت او مذهبي جوشونه
اوس دا د شرافت دے معيار شوے حمزه
چې پېغلو سره کاندي په هنر رقصونه

## فېشن

حمزه بس کړه نور مه کړه د فېشن غمونه
بے ننګه شي چې ترشي د هر څېز وارونه
وهېستان يې فېشني سور د ګندګۍ په کاڼي
په پښتو کښې د چوړي دي کړېچي بوټونه

## خواهش

خواهش په رياضت شي فنا يا که سوا
اتش کړي په وهلو د بکر کښې رنها
خواهش که شي فنا نو پيدا کړي دوبار
يو سر د ديوې پرې کړې نو بل کړي نما



ACKU

ناپوهه دي احساس چې د بنهٔ ذات نهٔ لري
یو علم ، داد ب ځان کښې صفات نهٔ لري
حمزه سزا جزا وي د درنو په برخه
هر څيز ته کهربا هم التفات نهٔ لري

## عشق

اے عشقه پوهه نهٔ شوم ئې بقا که فنا
يو رنځ ئې حقيقت کښې که قضا او دوا
سپرلے دې له یوې سترګې خزان له بلې
خندا ئې د وصلت که د فرقت ئې ژړا

اتش د شمعې شوق د پتنګ نهٔ بدلوي
د سرو زرو معيار چرې زنګ نهٔ بدلوي
حمزه د غیر تهذيب څهٔ کوې مار اوګوره
بدل کړي زوړ پوستکے نو رنګ نهٔ بدلوي

اواز چې تندر اوکړي نو برېښنا وي پهٔ کښې
جانان په ما منت کړي نو خندا وي پهٔ کښې
راځي سيلئ په ځنګلښې له بارانه حمزه
ساړهٔ چې اسويلي کړمه ژړا وي پهٔ کښې

سر سبزي پهٔ نسیم شول د صبا گلونه
نفس دي څوک لهٔ مالګې کړي تازه داغونه
ترکومه منتظر به د حمزه وي اشنا
ساته پهٔ نمک دان کښې د مینو زړونه

خوشحال یم توري زلفې دلربا مې اوموند
بنا ګُسته لکه قمر دے خو بلا مې اوموند
حمزه چې لهٔ ازله دا قسمت وهٔ زما
ناسوت لره چې راغلم بے نوا مې اوموند

حمزه داسې بېکاره خوشے لټ شوې ولې
ازام دي شو رخصت داسمان کټ شوې ولې
د سرو لمبو پهٔ غم کښې خوټيلي غونډې وې
د پاک الله د ويرې داسې غټ شوې ولې

اشنا بهٔ شي، دښمن هم که د سر لري څوک
دنيا کښې چې اخلاق ښکلي بهتر لري څوک
هر څو کهٔ مار دښمن دے د سړي اے حمزه
يو دم ئے بے ضرر کړي چې منتر لري څوک

---

ئه زما شيخ

حمزه څه شي په دا کډ مال او زر لري څوک
مالک د تخت و تاج وي او لښکر لري څوک
جوهر چې د حیا ګې په لمو کښې نه وي
تږي تښته په دنیا کښې که کوثر لري څوک

ما د غان دي خزان تېر شو چې ګلشن لره ځي
زندان د خانې د خوا چمن لره ځي
خواهش د امانت د کوټې ور پرانستو
توبې کوي شکر ونه خپل وطن لره ځي

تل کړه نمونځونه خوږ چې دي ورځ شي سمه
طاعت کړه په مستۍ نه وایم زیاته کمه
کښتونه چې اوبو اوچې صحرا وي حمزه
ړنده سترګه هغه چې وي خالي له نمه

واصل څه خبر نه وي د هجران له خاره
ظلمت چې په دنیا ورک شي رڼا شي یاره
وصلت کښې ثنا شرک ده چې غیر ده حمزه
لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْتُم سُکَارا

٢٤٣٠

ACKU

عارف هغه چې حال چاته وېلې نهٔ شي
صورت يې ائينه پټ يې ساتلې نهٔ شي
حمزه شکر هغه دے چې کېدلې نهٔ شي
داد غواړه لهٔ هغو چې ورکولې نهٔ شي

صورت مې منعکس شو پهٔ وجدان د زړهٔ
ميړنې مې قدم لاندې ګرفتار پهٔ فنا
فرياد مې د هغهٔ د هوش پهٔ غوږ واورېد
وې شکر چې مې مل شوه پهٔ جهد کښې فنا

زړهٔ ډک چې د مسلم شو لهٔ قرانه څېنې
قبضه يې شوله پورته له جهانه څېنې
چې ځې ته ورشي کور ترې د رب مخ پټوي
زړهٔ تور دے د کعبې له مسلمانه څېنې

سرسبزه مې هستي وه پهٔ الفت د اشنا
هيڅ پوهه نهٔ وم زهٔ د بستانهٔ پهٔ جفا
واعظه طعن مهٔ کړه لهٔ بې صبره يمه
لرګې چې لوند پهٔ اورسوزي نو کاندي ژړا

## کم ظرف

کم ظرفه وي حاسد په چا اثر نهٔ لري
محروم چې له بصره وي نظر نهٔ لري
سره زر چې دي بها، اوزي له ګټو ځيني
نن تاو سره چې اور اخلي جوهر نهٔ لري

عاشق شي معشوقه او معشوقه شي عاشق
چې يو وي نو ترمنځ ئې د نسبت وي خندق
تل مالکي کان کښي، ګټه هم شي مالکه حمزه
ناقص چې شي ملګري د کامل، نو شي حق

عاشق خو يم، د دې نه زهٔ انکار نهٔ کوم
اشنا که رضا کيږي نو تلوار نهٔ کوم
بې نياز که وي نو زهٔ هم يم غيور پښتون
چې دے نهٔ کوي زهٔ هم دغه کار نهٔ کوم

له يو طرفه عشق نهٔ وي دامهٔ کړه ګمان
دا اور دے چې شي بل په التفات د جانان
کوم ځين چې ځلا نهٔ لري ځپله حمزه
هر ګز په پلوشو به د نمر نهٔ شي روښان

مارغۀ ته مارغۀ څۀ وائي د پر نه جدا
دماغ به څۀ دماغ وي د هنر نه جدا
مذهب او سیاست کښې لازم ملزوم
میوه نۀ وي هیڅرې د شجر نه جدا

پښتونه د اسلام په مینه ګرم اوسه
عفت ساته مدام او دور له شرم اوسه
دښمن کره تېښې تار چې د حیات دې شلوي
په خپلو کښې ورېښمو غونډې نرم اوسه

## مغربي لباس

جامو کښې د مغرب چې جینکۍ وینمه
داګویا بیزوګانې بې لکۍ وینمه
تل هېښ سره بوتهان د لوړو پوندو په پښو
حیران یم په غونډو کښې ئې جمکۍ وینمه

مرهم شته دے خو زخم مې جوړ شوے نۀ دے
هر څو که شته اوبۀ تاؤ مې سوړ شوے نۀ دے
یوځل په کالو سر کښې مې کۀ یاد کړې نو څۀ
په څاڅکي اوبو څوک چرې موړ شوے نۀ دے

اشراف چې کوي، کړي چې نهٔ کړي اوکړي انکار
درنو لره يو دم وي اضطراب او قرار
د سپکو قرار نهٔ وي خو ورو ورو کوي کار
چې مزکې ته بېنه دروې ورو ورو کړي رفتار

الفت داسې څيز نهٔ دے چې پرې څوک شي رسوا
دا ذرهٔ دے ورله راچې شي نو کاندي ژړا
هيڅ زوږ اونهٔ صدا شته پهٔ اوبو کښې حمزه
تېرېږي چې پهٔ ګټونو پيدا کړي صدا

تبديل پهٔ نصيحت به نهٔ شي فطرتونه
هر څوکهٔ نهٔ کوي نو هومره شي عشقونه
زاهده کړي حمزه خوبه توبه لهٔ ميو
بل کوم څيز دے چې هېرې کړي دے خوندونه

څه تښته زهٔ خو ستا نهٔ يم غلام توبې
الطاف به وي بهر چې شه لهٔ جام توبې
سپرلے ښکلې دريځې ، او ځواني ده زما
کړه ذرهٔ د بوډاګانو خپل مقام توبې

پهٔ خوله مې توبه نهٔ راځي توبه خدايه
چې نهٔ راځي نو څهٔ راځي توبه خدايه
توبه نو پهٔ پسرلي کښې د حمزه نه نهٔ شي
توبه لهٔ توبې نهٔ راځي، توبه خدايه

سپرلے د گلو وخت او شراب او توبه؟
ساقي او ترانې د رباب او توبه؟
واعظ جوړ د ځواني بهار ليدلے نهٔ دے
مشفقه محبوبه او شباب او توبه؟

اثار د توبې وائي مے نوشي بنهٔ نهٔ ده
ناپوهه پهٔ ځواني کښې سم نوشي بنهٔ نهٔ ده
حمزه وائي همزولي دي ځواني او مستي
د دې دواړو پهٔ څهٔ هم اغوشي بنهٔ نهٔ ده

بنا ئست چې د چا وينم نو هم ستا وينمه
کاته کهٔ چا ته نهٔ کړم نو هم تا وينمه
تيارهٔ ده کهٔ رڼا ده کهٔ گناه او ثواب
هم تهٔ او ستا صفت صبا بېگاه وينمه

یو سیند یمه د عشق څو شورو شرنهٔ لرم
دلبر لرم پهٔ کور کښې څو محشر نهٔ لرم
واعظه تهٔ کمال د تصوّر مې ګوره
چې ځان ته فکر اوکړم پهٔ تن سر نهٔ لرم

ګرېوان باندې مې بې سببه نم د څهٔ دے
دې څولې بیابان باندې شبنم د څهٔ دے
نهٔ وجه د ژړا شته نهٔ سبب شته د غم
زړګیه راته اووایه دا غم د څهٔ دے

مړدان به کړي پېرزو پهٔ بل چې څهٔ کړي پهٔ ځان
دا نښه د سخي ده، د صادق مسلمان
ملّت چې حنیفه لري یواځې نهٔ خوري
جدا دې یو او بل نه د سکانو پهٔ شان

چې زهٔ ورته څهٔ وایم هغه نهٔ کا اوځي
پر ما د رقیبانو زړونه بنهٔ کا اوځي
رویونه چې د خدائے کرم ورته مخکښې حمزهٔ
د باد پهٔ خولهٔ یو دوه خبرې اوکا اوځي

هر چا چې یم ریټلی نو بستر ورکوم
هر څوک چې راته بد وائي نو زر ورکوم
یم هغه ونه څوک مې چې په کڼو ولي!
خپل سوري ورله زه اوهم ثمر ورکوم

چې نه څښمه زه چائې نو پیالې څه پکار
دریاب کښې چې سفر نه وي جالې څه پکار
انسان لره یو قوت دوهم جونګړه ده بس
نوکر خدمتګاران لوئې بنګلې څه پکار

الفت هغه ګڼه چې مل له سوزه وي ساز
باغ څه وي چې ګل وي د بلبل نه وي اواز
حمزه صنم چې لرې کړو بیلتون درځینې
اوس مخ ته د مثال ئې کړه سرخم د نیاز

نیکي کوه زوال به نه راځي په شباب
خواږه لري عسل که څوک او خوري په خواب
نېکان که شي فنا بیا شي پیدا حمزه
باران چې او کړي ورک شي نو بیا راشي سحاب

۲۴۳۷

یو ځین په اصلیت کښې وي عذاب او لا ثواب
خواهش چې نه وي یو او ګڼه لطف او عتاب
رحمت دے اے واعظه د رته څه به وایم
بارش چې اپوته کړے نو ترې جوړیږي شراب

ظالم که وي غره په خپل قوت باندې
مظلوم د خدائے په فضل او په رحمت باندې
لیدلي فرعونان هر د هستۍ سترګو دي
چې راشي په صولت چې په حسرت باندې

وړومبے دیدن شراب وي بے هوشي راولي
وړومبۍ بوسه د لبو مدهوشي راولي
وړومبۍ نمړۍ چې وږے د طعام واخلي
د نفس په شور شر کښې خاموشي راولي

د شنې سرې په کښې جلوه کریمه زه
سرخي یم که باران د خپل بصریمه زه
هجران کښې چې فنا ده د وصال ده بقا
تیرې د پاره غشي د سحر یمه زه

خرد وائي چې پوره ته شه عمل دے پکار
يقين وائي سکون کښې څهٔ خلل دے پکار؟
خرد وائي سکون په انتشار کښې وي پټ
يقين وائي چې بس نو تور او ربل دے پکار

درياب کښې دهستۍ لکه د شور يمه زهٔ
امواج په زړهٔ کښې پټ چې څومره خوريمه زهٔ
ډُم ټاټکے څو عالم وهٔ د انسان را کښې پټ
ورکړم ، ادا نهٔ شوم، هغه پوريمه زهٔ

زهٔ چا يمه وئيلے ، هغه چا وئيلے
زهٔ هغه يم وئيلے ، هغه ما وئيلے
دنيا کهٔ افسانه وي چې پاک رب وئيلے
پاک رب يو حقيقت دے چې دنيا وئيلے

انګريز دمات قوت مارغهٔ تر پرجوړ وي
د رعب ئے جهان مات ورله وزر جوړوي
جرمن مشت ورکړوان ايله د روس سره دے
مورچې لا دېخوا نه په خيبر جوړوي

لواړګي
۳، اګست سنه ۱۹۴۱

PROPERTY OF ACKU 33508

اګاه د انګریزانو په احوال یمه زه
له ضعفه یې څه لږ غونډې ملال یمه زه
هم لږ که ماتې او خوړې دا به ډېره ښه وي
په فتح د جارج باندې خوشحال یمه زه

خال نه بد دی د سنګار سامان یې کور پاتې شو
حمزه راځه زړور د تهمت تور پاتې شو
دا ښه شوه له څرې یې غلاف لرې نه کړو
بې داره شه په سوره کښې منګوړ پاتې شو

علیؑ او فاطمهؓ څه دي قران اوګوره
بیا مَرَجَ البحرین یَلتقیان اوګوره
زامن یې دوه لعلونه دي حُسینؓ او حسنؓ
یخرُجُ مِنهُمَا اللؤلؤ والمرجان اوګوره

یو رنګ چې کوم رنګ وي په ښه رنګ لیده شي
سنګار په ائینه د حُسن رنګ لیده شي
تعریف چې د بد رنګه د ښائست کوي څوک
لا یو په دوه د مخکښې نه بد رنګ لیده شي



ACKU

# د صابر شنوارې په قبر

کچه ځواني صابر یوړه له ځانه سره
ګل دروي یې پټي ستړګي د خزانه سره
نیمګړے د نیمګړي دنیا باغ اوګنه
اښکلے ځي خمیس د ے د ارمانه سره

جوړمینه له یارانو یخه شوې وه ستا
کهٔ تو منه د ژوندون به یخه شوې وه ستا
وادهٔ ته هم حصار نهٔ شوې صابره ولې
ښېوه د کوږې حورې خوښه شوې وه ستا

داغونه مې د ستا د مینې اورې اشنا
ګلشن دې د ځوانۍ ګلونه سېرې اشنا
راتلونکے د ے سېرلے زهٔ په زندان کښې یمه
چیل کور کښې مې چې ډېر سوري جوړکړې اشنا

څېرې ته مې لږ ځېر شه د زړهٔ حال یمه زهٔ
بیا هم چې دې له خدایه پېرې خوشحال یمه زهٔ
خفګان د دنیا یو خوا د اشنا بل خوا
فطرت مې بهارې د ے پشکال یمه زهٔ



ACKU

ګل حال د پرېشانئ د بوئ په رم اونه وېے
حمزه د جمعیت په باب څه کم او نه وېے
وي نمرته سترګې د ګل غېږ پرین دي
رو داد د جدائ چرې شبنم اونه وې

کړي ناز خو په ټکل د حجاب شوے نه دے
پورکې خو تېروي خو قصاب شوے نه دے
ځواني ئې لا په حُسن کښې کمې ده حمزه
دولت لري صاحب د نصاب شوے نه دے

# پاکستان

منمه چې جناح عالي صفات ګڼلے
بیا پسته مسلمان ورېو ذات ګڼلے
حمزه د پاکستان په حقله حق داد ے
سرحد کښې خو" امین الحسنات" ګڼلے

حېران مه شه که مومو یو شمشیر مات کړه
یا دا چې یو ښېښې اهنی تیر مات کړه
دوستانو ته د خلئے د ظالم دوست څه دے
کانګرس خو د مانکي شریف فقیر مات کړه

زهٔ هغه شاعر نهٔ یم چې دروغ وائي
دروغ ئې هم هغه چې بې فروغ وائي
حمزه دے ائینې غوندې بے روئې وریا
دا نه چې د چا پسو ته به دروغ وائي

## اسلام او غیرت

پښتون ته د اسلام نامه غیرت راولي
بیا دوئې کښې اتفاق او برکت راولي
نهرو به ئې مل نهٔ کړے شي لهٔ ځان سره
سرحد ته کهٔ نهرو سنه د جنت راولي

دا غم دے چې نهرو په دې وطن راځي
بیا پاتې پرون ولې شو چې نن راځي
قائد د مسلمان خو دے ډیلي کښې حمزه
سرحد ته څهٔ د پاره برهمن راځي

تجویز به ئې وي لوئې خو پرې عامل به نشي
بنیاد د عمارت نشته کامل به نهٔ شي
نهرو راځي سرحد ته په ډېر ډېر ارمان
پښتون ورسره هیچرې شامل به نهٔ شي

ACKU

خبر ئې هغه څوک دے چې سبحانه مني
بیا پسته محمد صلی الله علیه وسلم هم ئې قران نه مني
پښتونه د حمزه د خولې نه دا واوره
دا هغه بد نصیب دے چې احسان نه مني

راجوړ شو پاکستان خو پکښې کارپاټي دے
لا هغسې فرعون سرمایه دار پاټي دے
پاړو د سیاست ته د رسی بناڅي وي
ناشکره په لستوڼي کښې دې مار پاټي دے

یو ځل چې لاړ شي بیا هغه هوس نه راځي
چې اووځي نو بیا هغه نفس نه راځي
خفګان مې مدامي نه دے راځي او درومي
او به لکه په ګوړ درومي واپس نه راځي

سودا د تورو زلفو دې سودا راولي
انداز دې کتے نه شم خو ژړا راولي
سرخم دې تورو سترګو کښې اجل ویمه
بلا لرے دا هسې چې قضاء راولي



ACKU

ځواني چې راشي ځان سره ادا راولي
صهبا نشه د ځان سره همرا راولي
شنواريه چې يار راشي نوشي کوړدې ودان
پسرلي بوټي ګلونه په صحرا راولي

دوستي کاندي ايمان د مسکينانو سره
ياري ده د اسلام د غريبانو سره
ماوې چې د لعنت په پاکستان کښې شي ورک
قسمت دے لا مدګړے د غمانو سره

خبر يې ؟ چې داخلق ولې شور کوي
بيا مونږ مسلم يګيانو ته پېغور کوي
مظلوم مهاجرين خو هر څوک نه پوښتي
قبضې په دوکانونو خلق نور کوي

زمونږ د جمعيت پريشاني اووښته
بهر په نوي رنګ يې قرباني اووښته
بېدار سحر په مونږ د پاکستان راوړه
مسلم چې شفق رنګه ستوماني اووښته

پړې پوهه به شې زړه که حق پرست اوموې
يو کيف به په وجود کښې د الست اوموې
معيار دغه حسين د شهادت جوړ کړه
کامله فتح داده چې شکست اوموې

سرخ رويه ازادئ د قام په خون راغې
جامه کښې د صبا هغه پرون راغې
طالب وو د حِنا ، د فطرت ناوې لره
مرګے په ننواتې د ژوندون راغې

هغه د شهادت په وينو سرې داڼې
پښتونه هغه ستا د زړه نه پرې داڼې
نن ګوره چې يې بَر د ازادۍ راوړ
مونږ دلته وې کرلې يو دوه درې داڼې

د کنګهم پارک شهيدان

خلوت ته يې لاړ نه مونده بهر اوده شو
ظلمات کښې شو ستومان ديار په در اوده شو
قانع شولو جوړ خضر د حيات په اوبو
ککو کښې د اشنا زما نظر اوده شو

ACKU

زاهد کړه کېږه څکه په بستر اوده شو
سګ اودے اونهِ د چا په در اوده شو
راویښ شو یو بې غمه چې سحر راغے
بل تهوله شپه په غم کښې وه سحر اوده شو

دا خلق زړه چاودون ته موسېدل وائي
برهمي پرېشانۍ ته خندېدل وائي
روداد د مېين زړه، لکه د ګل هسې دے
حالت ته د فنا ئې غوړېدل وائي

په زړه یو اسوېلے دې د ملّت راولي
دا ابر زما خدایه د رحمت راولي
مُسکي لکه برېښنا په ځان ځانۍ کړي مُونږه
باران د ژوندون څک د جمعیت راولي

دا وایه جمعیت کښې دې ژوندون کوم دے
بیا وایه فردیت کښې دې سمون کوم دے
خېره د پاکستان کښې دې سره ستا د وینو
مقام پکښې اووایه د پښتون کوم دے

شک نشته هیڅ په دې کښې مسلمان یمه زه
د لواړګي باشنده یمه ښه ځوان یمه زه
هرګز به محو نه کړمه قامي امتیاز
ژوندون به مې په دې وي چې افغان یمه زه

## جمهوریت

دا نن پرون چې دے جمهوریت خو نه دے
دا کار د انتخاب د شریعت خو نه دے
لږ فکر دغه طرز د حکومت ته لره
دا کړے فیرنګي راته لعنت خو نه دے

کیدے شي چې قانون به د اسلام جوړ کړي
منې ؟ چې مسلمان به مسلمان جوړ کړي
هغه پتلون یو شان او هیټ پسري خلق
د برېتو په مقام چې دوه مچان جوړ کړي

الله زمونږه یو ، زمونږ قران یو دے
هندي که ترک عرب دے که افغان یو دے
مونږ مشت او ګریبان کړو سیاست د فرنګ
یو ځائے که سره بیا شي مسلمان یو دے

پښتون سرفروشي او قرباني پېژني
زمري غونډې په سينه کښې رواني پېژني
ورمېږ د اتحاد نعره پښتون کړې ده
دنيا جمال الدين افغاني پېژني

پښتون د ځان سره عالي نعمت راوړے
ساده ئې اېښې غونډې فطرت راوړے
جوهر ئې دے په نوم د اسلام سرور کول
قربان ېږي ئې غيرت او حميّت راوړے

عالم کښې د اسلام به اتحاد شي پېدا
شيرين چې د اسلافو هغه ياد شي پېدا
پښتون تېشه په لاس کښې دے تيار ولاړ
دا مه وايه چې د رېغه که فرهاد شي پېدا

## علامه اقبال ته

ستا عمر د پېغام د خاتمې سره لاړ
اقباله . تکامل د فلسفې سره لاړ
موسم د وچتوبې ئې له خودي روه خلاف
ستا روح د پسرلي د بدرګې سره لاړ

زهٔ لاړم تنهايي ته خو تنها نهٔ شومه
ما ځان له هر څهٔ غوڅ کړو ولې ستا نهٔ شومه
را اوښيه کوم رنګ دې طلب اوکړم اشنا
نيم عمر لاړو پوې پهٔ مُدعا نهٔ شومه

شهيد بابا پېڅکى ۲۱ نومبر ۱۹۷۵ء

تا نهٔ وينم له ځان چې تېرېدې نهٔ شمه
بيا ځان سره هم زهٔ خوشحالېدې نهٔ شمه
د رواڼې خوله خِرد ، را ته عطا کړه جنُون
اوس نور خو په دې حال پاتې کېدې نهٔ شمه

تا درد زما سوا کړ خو سپوا دې نهٔ کړ
تا زړهٔ زما خطا کړ ، خو خطا دې نهٔ کړ
ليمهٔ زما تيرو د انتظار سپين کړل
څهٔ ښکلې شپه دې راکړه خو صبا دې نهٔ کړ

جوبان يم ستا د مينې د غرهٔ سر ته بهٔ ځم
همّت مې نارينه دے نهٔ چې بېرته بهٔ ځم
بې ستا نه بل ديدن پهٔ ځان حرام ګڼمه
کهٔ ستا ديدن اونهٔ کړم نو هم چرته بهٔ ځم

سپرلي ستوماني او وبسته زبېړګې رانه غې
زړهٔ او چاوده دګلې خواسوېلې رانه غې
ګرېوان به زهٔ هم څیري کړم دګُل غوندې
ورشو ته مې د زړهٔ کهٔ پسرلې رانه غې

ډېر ډېر دي افقونه دي شفق یو دے
مسلم دې رنګ په رنګ وي خو سبق یو دے
حېران یم چې حق څنګه تعدّد کړو قبول
دا حق دے دړې او یا وایه کهٔ حق یو دے

نن ضبط مې ټله زړهٔ د بې قرار او بهېد
راډب شو، دلېمو نه انتظار او بهېد
یخنې په تېرېدو تېرېدو اوکړو ګذار
هېنګې اوکړو فطرت، ترینه بهار او بهېد

غون کېدهٔ معلومېږي چې اسمان او غورېد
لږ واوره چې څهٔ وائي، پسرلې اوکړېد
ډېر ډېر ذرونه خُدا ټله د ښاخلو اوسي
بېکون په دې نظام ټله باران اورېد

ACKU

٢٢٣٥١

قدرت د هر عمل د پاره وار جوړ کړهٔ
باران له څاڅکي څاڅکي یو تار جوړ کړهٔ
هر څیز کړه پهٔ یو وخت خپله هستي ښکاره
او وخت یې د اشیاؤ پهٔ اظهار جوړ کړهٔ

سلګۍ د غلامانو د افشا څهٔ پکار
طوفان چې راپیدا نهٔ کړي اخفا څهٔ پکار
دانجل تر ښغلتوبه پهٔ نظر کښې ښهٔ ده
خپل کور چې پکار نهٔ شي پهٔ بېدیا څهٔ پکار

منشا چې د بهتر او د کهتر یوه وي
او بیا چې د عالي او د افسر یوه وي
هم دا جمهوریت لري رښا د امن
منشا لکه د ستورو او د نمر یوه وي

پهٔ نفس کښې د انسان بهٔ شرافت رانهٔ شي
قالب کښې چې ترڅو د شریعت رانهٔ شي
تل تل بهٔ شخصیت نوې جامه بدلوي
ترڅو چې اسلامي جمهوریت رانهٔ شي

ACKU

٢٣۴٥٢

ستا نوم مې په خوله راغې اوسېلې دې نه شي
یو عرض درته کومه خو زېږېږي دې نه شي
هر شې چې زما سترګو کښې ستا رنګ نه ويني
لا شې به ورته وایم هغه شې به نه شي

هم تا ناتوانه کړې هم دې توان راکه
وم تا بې ځانه کړې هم دې ځان راکه
مولا چې مدح خوان د اهلِ بېتو ومه
شاعر ومه، خو ماله دې قران راکه

خېل عرض به په نیاز له زړه د باندې کړمه
دانه چې به د اوښکو چینې تاندې کړمه
کاسې چې د لېمو په دې حضور کښې د تا
تروې او به نه بنائې چې دروړاندې کړمه

کثرت هله څرګند شو چې وحدت راغې
وحدت هله معروف شو چې کثرت راغې
راتګ دهر کمال د محمد صلی الله علیه وسلم سره و
صورت کښې د انسان وو چې رحمت راغې

بابا د رسالت او امامت راغے
خاوند د خلافت او ولایت راغے
صاحب د شفاعت او هدایت دادے
حامل د سرې توب د عنایت راغے

عِلّت لهٔ سرې توبه د پستۍ لاړو
نن رنګ ئې د لمونه د مستۍ لاړو
پرتو د چا د عکس وهٔ، هیڅ وېلے نهٔ شم
حیرت د ائینې نه د هستۍ لاړو

خپل ځان سره مونس احدیت نهٔ شولو
تر څو چې محمد صلی الله علیه وسلم ورله وحدت نهٔ شولو
عرفان د محمد صلی الله علیه وسلم وهٔ ډېر له عقله اوچت
ترڅو ابالحسنؑ واحدیت نهٔ شولو

راځي راځي، پرتو دے د رحمٰن راځي
راغلے خو لا پوهې ته څهٔ ګران راځي
حمزه د محبّت به معرفت شي هله
جامه کښې د مهدیؑ چې هغه ځوان راځي

ACKU

حمزه چې نقطه نهٔ لري دچا نامه ده
نامه د محمد صلی الله علیه وسلم او د الله تعالیٰ نامه ده
سوبمه لهٔ دې دوو چې پهٔ یو حرف ده کمه
هغه ېې د علی رضی مشکل کشا نامه ده

تنګ شوے زړهٔ مې وائې چې الله اوبله
بیا وائې محمد صلی الله علیه وسلم علی مولا اوبله
نسبت ورکړه څیره، بې خبر ولې یُ
دا ټول بللے کېږي بے نوا اوبله

افسوس بهٔ پهٔ دې څهٔ کرم چې قیدیٔ یمه زهٔ
دا خپل قصور زما دے چې باغي یمه زهٔ
تا نفس لهٔ بغاوت چې راته ډک راکړے
خود ستا پهٔ مدعا څمه عاصي یمه زهٔ

دا مار بهٔ د نفس کله پهٔ کوتک سم شي
هر خوځ چې کړي لهٔ ځایه هغه دم خم شي
یا بین د محبّت دے او یا سوړه د مرګ
بې دې نه خو حرام شه کهٔ یُ خم سم شي

د سترګو دې قربان شم غرڅنې دې کړمه
اشنا په نظر مه شې پسلنې دې کړمه
ستا واخلمه بلا ددې هوښیارو سترګو
هم دا مې وه کمې چې لیونې دې کړمه

تل تل ستم جفا کړه، عنایت مه کوه
هم هیڅ نظر په ما د مرحمت مه کوه
پرېږدې مې اوکه وژنې هر چې ته کړې بنه دي
هر څه کړه درله بنائې خو نفرت مه کوه

شهید بابا ۲۸ دسمبر سنه ۱۹۵۲ع

جذبه به ستا د لطف او د رحمت لرزوم
احساس به دې د مهر او عنایت لرزوم
فطرې دې سخاوت دے په ما لاس مه نیسه
ایوان به په فریاد د رسالت لرزوم

هیڅ پوهه په دې نه شوم چې څه ستا په زړه دي
ځان هم نه خبروې چې څه زما په زړه دي
سیند څه زده چې مطلب د سمندر به څه وي
ما څه زده دي چې څه د بې نوا په زړه دي

حېران یم چې بندېز د انتشار څهٔ بهٔ وي
زړګے مې چې کړي جمع هغه لاړ څهٔ بهٔ وي
دا ستانه صدقه ستا د لوېد غواړم
ستا زړهٔ چې پرې خورسند شي هغه کار څهٔ بهٔ وي

ستا مخ کښې رنګینۍ مې د بهار لیدلې
د زړهٔ د ګل قبا مې تار په تار لیدلې
د سرو او سپینو پرک مې برېښنو لے نهٔ شي
چې سترګو مې برېښنا ستا د رخسار لیدلې

لېلې د ارتقا چې ستا څرې کومه ده
سیندور د کومې وینې دي درې کومه ده
زنځیر چې د انسان د اخوّت جوړېد
ما غږ کړو د پښتون یکښې کړې کومه ده

فطرت راوړو دفتر خو ګډه په شور لاړو
سپرلے څهٔ وهٔ خو اوې کارهٔ اور لاړو
بے غاښو ګل چې نهٔ شو تلفظ کوے
مقصد نکه نکهت ترې خور ما خور لاړو

ACKU

# خوشحال بابا

کاروان د رنګینو له مهاره نیسه
دا جنس د پرېشانیو وره بهاره نیسه
مُسکی مې لا داغونه ځوانی دي د زړهٔ
پهٔ مخه دې ګلونه، خپله لاړهٔ نیسه

سپرلیه تا چې مخ داسې خندان راوړے
روداد اووایه د کوم پرېشان راوړے
هم ستا دې مبارک وي دا زړهٔ چاودي ګلان
ما زړهٔ د خپل زړهٔ چاودي خوشحال خان راوړے

وختونه بهٔ ستا یاد له یادو هېر نهٔ کا
پېدا بهٔ بل پښتون د تا ځېر نهٔ کا
تا خښته داسې ایښې چې فنا نهٔ لري
تېرېږي زماني خو تا به تېر نهٔ کا

ساوي ماته بهٔ نهٔ کړم دا زهیرهٔ توبه
بیا ذاچي کړي ما پهٔ سپینه ږیره توبه
لېکن د پسرلي لهٔ مستو سترګو توبه
ښکاري د ګرېوان مې هره ځېره توبه

توبه ئې ځکه شاته کړه توبه خدايه
بريښنا د مخ ئې ماته کړه توبه خدايه
هر څوکه زه توبه توبه/نعرې وهمه
توبه ما ماته کړه توبه خدايه

حمزه د تعلق د اختتام ښنخه ده
داګوټجه ئې وجدان ته ديو دام ښنخه ده
اوس ګوره ئې چې دومره ناز ليدلے په ياد
تندے ئې څه صفا د استفهام ښنخه ده

پېڅلى ۱۶ مارچ سنه ۱۹۵۳ء

نرګس وے نظر لاړو، تماشه راغله
ديدي وې دا دنيا څه ده سودا راغله
مقصد خو ئې داداغ وه چې رسوائې کړلو
فطرت چې تخنو لمه خندا راغله

پېڅلى ۱۶ مارچ سنه ۱۹۵۳ء

بس غم او خوشحالى له کنارو اووتم
ستا عشق کښې دهستى له کنارو اووتم
اوس ستا په ننداره کښې چې ژوندون خوبښ دے
هر څوکه له دې نورو نندارو اووتم

اوس وایم د بېلتون له کهاره اوو تم
اشنا کړم تماشه له تماشو اوو تم
نور هیڅ نه دو سراب وه چې اشنا مې اولید
واصل شوم ورسېږې چې له لمو اوو تم

ما پرېږد ده څه سنګې مې د هستې پاڅې دي
یو څو ګوټه نور غوارې څه مستې پاڅې دي
ساقي د حقیقت لوړې لاست نه کوي
لا شوق د محبت کښې څه پستې پاڅې دي

یم خاورې خوکارونه د ګلزار کوومه
کشته یم خو ښبګړه د بیمار کوومه
ستا زخم د عصیان دې خبر لوڅه نه وي
مرهم غوندې خاموشه یم خوکار کوومه

فطرت درهبرۍ که څه هنر راوړو
ما هم ئې هر تکل لره نظر راوړو
لا مونږ دیو اوبل نه بې خبر پاڅې یو
هم دې بې خبرۍ د چا خبر راوړو



ACKU

د اتک دے که راتک دے ورته یون وائي
هر څوک که ورته نن صبا پرون وائي
هوهو چي په تک تک کښي کله خوب ورشي
معلومه شوه هم دي ته به سکون وائي

ښکاريږي راته داچي حسابيږي به نه
عاشق چي ګناه اوکړي عذابيږي به نه
ښکارزن چي د ښائست دي محترم وي مدام
بازان چي کله مړه شي کبابيږي به نه

## د مرشد بے نوا په مزار

ګل ګل ته د مسکا راوړي صبا پیغام
ظلمت ځپلو سترګو ته رڼا پیغام
هم داسي د پښتون د اتحاد په غرض
راوړے دے سرحد ته بے نوا پیغام

ارام د دنیا په مینتون راکړ
خواهش د لوئي طلب دي د مجنون راکړ
قربان دي د مُسکانه د اسرارو شمعي
تا ما ته د پتنګ غوندي ژوندون راکړ

# زلميانو ته

يو سوال درته کومه يه زلمو زلمو
ملت د پښتانه کښي مېړنو زلمو
داغن د مستقبل دے د حمزه په ژبه
ژوندے کړئ خپل ادب خپله پښتو زلمو

چي برې نه وزي په شکته پښتنو پښتو
کړئ جګه تراسمانه مېړنو پښتو
کړئ سُر داسي تارونه د ملت درباب
پرده پرده چي غږ کړي چي پښتو پښتو

محفل کښي د پښتون چي بله شمع وينم
هر کس له خوښه ډک روښانه طبع وينم
پرېشانه پتنګان د استعمار د تيرو
اعجاز به وي د چاچي ئي راجمع وينم

دا رباعي ما په کراچۍ کښي جوش مليح ابادي (مرحوم) ته اوروله د ده چي ترجمه ئي واورېده . ډېره ئي خوښه کړه .

خوشحال که دولتمند وي خو پرېشان به وي
هر څوک چه جمع زړه وي سرګردان به وي
سحر کښي د سپرلي شب نمي ګل اوګوره
په ډکه خوله به خاندي خو ګريان به وي

کراچۍ ۲۵ دسمبر ۱۹۵۶ء

# دیوم غالب په موقع

غالب که سمندر وه بېکران دسخن
هر موج د تخیل یې وه طوفان دسخن
نامه اسد الله او تخلص ئې غالب
هم دا وه حقیقت کښې پهلوان دسخن

ظاهر کړه په خپل وخت کښې عجائب غالب
ښکاره کړه د اسرارو مطالب غالب
اوس د زمانې ته څو لږ غوږ کېږده
نعرې دي په هر لورې چې غالب غالب

د خیال له انقلابه واقعات اوځیږي
بیا پس له واقعاتو حادثات اوځیږي
د خیال په ښه او بد باندې موقوف دے نظام
دا خیال دے چې ترې کله هم بائیلات اوځیږي

کراچي ۲۷، اکتوبر ۱۹۵۹ء

پردې د ژبه په خپله خوله کښې څه ښکاري
وینا د بل په ژبه خو ښه نه ښکاري
په خپله خوله پردۍ ژبه د بل خبرې
لږ فکر اوکړه بد او که به ښه ښکاري

کراچي ۲۷، اکتوبر ۱۹۵۹ء

زلمو د حال غوټو د استقبال ګلونو
زدزد را مفصل شي د اجمال ګلونو
خپاره مو دفترونه کړئ د ضبط او نظام
ودې مو راخپرې کړئ لکه جال ګلونو

هر څوک وي په بند کښې حوصلې ماتې
سپرلي د خزانونو کړې حملې ماتې
خپل بې ته رسيدل چې په خبرونه شول
طوطيانو په وزرو کړې پنجرې ماتې

طورخم ۱۸ اګست سنه ۱۹۵۷ء

هيڅ پوې نه شوم په دې چې ستا نظر څه اووې
بيا زړه مې له دې کيفه بې خبر څه اووې
زړه چاودې کلي ګل شوې په خندا سر شوې
هيڅ حال نه وائې ما ته چې سحر څه اووې

ساده ساده کتل د غرڅنو زده کړه
بيا سترګې جوړول د امزرو زده کړه
چې سترګې ټيټې نه کړې د هيچا په کتو
هيچا ته ټيټه مه وايه پښتو زده کړه

ACKU

ټپرېږي په هر ګام شَله په پښتونخونهٔ ده؟
دا څوک ده څهٔ معذوره په پښتونخونهٔ ده؟
زړه ده خو چې پرې وزې نو بیا پاڅي
چې توان او د اهمت لرې پښتونخونهٔ ده؟

طوطي چلنده بشکلې تنکۍ ژبه لري
ناپوهه وي کهٔ څو مړنۍ ژبه لري
اوس څنګه اعتبار پرې باندې اوکړمه زهٔ
هغه چې خپله خوله کښې پردۍ ژبه لري

## اباسین ته

پهٔ زغل دے اباسین د سمندر پهٔ تکل
دا ځکه چې ورکوټے وي د ستر پهٔ تکل
اے قامه کهٔ ژوند غواړې پهٔ ملت کښې شعورک
وي ستورې چې رڼا لري د نمر پهٔ تکل

هر دم دې نوے ژوند وي د سیندونو پلاره
ماحول دې څنګه مړ دے د موجونو پلاره
ګرداب دې پوره تخلیق د نوؤ زړونو کړو هېر
را یاد کړه زوړ ګردان د تاریخونو پلاره

موجونه دي که څو سره په جنګ وي مدام
بېکن په جمعیت کښې څنګ په څنګ وي مدام
ستا خوی په پښتنو کښې پېدا نه شو ولې
هر یو د بل فنا لره نهنګ وي مدام

انکار چې په مسکا وي تسلي واخلي
بیا هم نو تصوّر مې تولې شپې واخلي
ما بنام ته دې زما که چرې داد ورنه که
سخي د انتظار نه به د بیوې واخلي

دنیا څه عجیبه ده د حکمت کور دے
هر څیز ئې اېنه ده د حیرت کور دے
اشیا په یو او بل کښې وي څو جنګ نه کوي
نسیم کښې د ریحا هم د نکهت کور دے

نظر مې چې په تا دے نو بس تول ته ئې مه
خپل ځان ته چې راستون شي نو همه زه ئې مه
قصّې د ته او زه خو زما خوښې نه دي
ما پوې کړه اشنا ته څه ئې او زه څه ئې مه

ACKU

کثرت کښې د تیرو چې چرته کړه نهٔ شي
وحدت نه د ښکلا چې څکښې تېره نهٔ شي
وعدې د هغه یار سره چې کړې وې ما
خاطر د هغهٔ یار چې رانه هېره نهٔ شي

هیڅ دلته اورېدے نهٔ شي د ګل غږ
یخنۍ دے مهره کړے د بلبل غږ
کوم غږ چې مجرد وي اورېدهٔ شي پهٔ څه
کلام کښې اورېدهٔ شي د کابل غږ

کلام سوات ۱۴ ستمبر سنه ۱۹۶۳ء

مقصد وته د سیند غوندې پهٔ دَو اوسېږي
ملّت د چیدارو سترګو نو اوسېږي
پخپله تربګنی کښې چې خپل قام نهٔ شي هېر
پښتو غوندې پهٔ جنګ اوسي خو یو اوسېږي

دره ادم خیل ۲۵ ستمبر سنه ۱۹۶۳ء

باران چې اوشي للمې ګلشني غوندې شي
د حد نه چې غم واوړي خوشحالي غوندې شي
زرغون زما زړګے شولو پهٔ ډېره ژړا
چې تاند شي پشکال د پسرلي غوندې شي

## رسول کریم صلی الله علیه وسلم

د خرنګه رڼا شوه چې تیر یې لاړې
نمر او ختو دستوري نه ډیوې لاړې
اشیاؤ راڅرګند حقیقتونه کړه خپل
ښکاره دچا بشر شو چې پردې لاړې

ظاهر نه وه ترڅو چې حقیقت د انسان
پنهان وه له انسانه شرافت د انسان
څرګند یې حقیقت کړو د وحدت د وجود
ثابت نبی اکرم صلی الله علیه وسلم کړلو وحدت د انسان

تا ودې شول ساړه شوې وو د ژوند بنضونه
مسکې له ګلان شول خونړي وختونه
سلګی په قهقهه شوه د ضمیر بدله
بې واکه په ګډا شول صراحي جامونه

بیړۍ د ضمیر ماتې شوې له جبره اووت
کیف وه چې صدا د "انا الدهر" اووت
هر څیز دجهان خوله لکه صدف پرانستله
څه بربنډ وه چې له ښکلي ابره اووت

ACKU

## سپرلي

سپرلي چې راشي تخېرې کړ بوانونه راوړي
وحشي او پرېشانه نکهتونه راوړي
جولۍ کښې د بهار نوې تحفه نشته دے
چې راشي هم هغه زاړۀ ګلونه راوړي

دا نمر دے که سپوږمۍ نوې رڼا نۀ لري
بې دې نه چې وي نور بېګا صبا نۀ لري
دا زۀ یم چې هر دم نوے تخلیق کومه
فطرت هم هغه زوړ دے ارتقا نۀ لري

سپرلي کښې د ګلۍ نه زړۀ چاودون زده کړه
بیا چارې د شمیم نه د مجنون زده کړه
بلبل ترجماني د ګل د زړۀ اوکړله
وې برک له خندا او چڼو او ژوندون زده کړه

## شاعرته

نبّاضه د وختونو د ملّت حکیمه
شاعره ننګیالیه د وطن ندیمه
ته خاندې او که ژاړې نو ژوندون راولې
سپرلي پسې سپرلے شي د وطن په سیمه

ستا زړه کې زړه د شمعې چې روښانه اوسي
سوزېږي او بلېږي خو خندا نه اوسي
ژوندون يې تل په دار وي د ملت له غمه
تيرو د خوار شا باندې کړيانه اوسي

راپاسه د دختونو نه قلنګ واخله
د فکر او د قلم توره د جنګ واخله
نقشه کښې د وطن که چې کمي وي د رنګ
راپاسه له حالاتو هغه رنګ واخله

ارواح د دې وطن يې تن وطن ستا دے
بيا روح د خپل وطن دپاره تن ستا دے
پښتون نو په رباب او په نغمه کښې نه وي
يو تن وطن او تن دے تن وطن ستا دے

۲۷ اپريل سنه ۱۹۶۵ء

## پښتون

هر څوک څوک ختے شي پرهوتے هم شي
پښتون که پرهوتلے دے ختے هم شي
چې زمکه کښې قوت شته د فنا او بقا
کوم ځين چې ورکوے شي ترې وتے هم شي

بېلتون به څوک د ګل او د ګلۍ اوکړي
کوم فرق به د اوبو او د ډلۍ اوکړي
اسلام پښتونولي چې چا ته دواړه ښکاري
باید هغه علاج د احولۍ اوکړي

ضابط چې په ځېل نفس وي ښه انسان هغه دے
بیا څوک چې ښه انسان وي نو افغان هغه دے
دا راز مې په ډېر جهد له اسلامه زده کړ
هر څوک چې ښه افغان وي مسلمان هغه دے

اوس زه یم پوهه شوے چې هیڅ نه پوهېږم
بیا هم راته زړه وائي چې ډېر ښه پوهېږم
هېنداره شوم د عصر په خواهش او تراش
که هیڅ هم نه پوهېږم په هر څه پوهېږم

لحظه کښې مرګ اوژوندے چې اشنا ښکاري
بس دغه تسلسل راته دنیا ښکاري
زنځیر ښکاري راجمع چې کړې شي سره
ځان ځان ته وي موجونه چې دریا ښکاري

ACKU

# شاعرته

شاعره خدائے دپاره سیاست پرېږدہ
خواهش داقتدار او حکومت پرېږده
ستا ژوند دے دپښتو سره پښتو کړه جګه
خواهش د ممبرۍ او وزارت پرېږده

دښتیا دے سیاست خو ژوند ضرور غواړي
هلکن دد ے دپاره بیل شعور غواړي
تر څو چې خپله ژبه نهٔ وي نشته شعور
حالات درځني ن د علم نور غواړي

هر قام درنه پهٔ علم کښې اوچت تلے دے
پهٔ پوهه پهٔ شعور او پهٔ دولت تلے دے
تا ولې خپله ژبه خپل ادب پرېښود
ن ستا نه حقیقت د سیاست تلے دے

## پېژندګلي

ورو ورو بلد هدم چې د پروانه سره
صیاده شوم اشنا دې د اوزه سره
هر څېن که وه پخوا راته اوس دام نهٔ دے
اشنا شوم د فطرت د هر اندازه سره

## علّامه اقبال

اګاه چې په حکمت شو د قران اقبال
تفسیر د خودئ تمام تر کړو بیان اقبال
ملّت دې اوس په لار د سعادت کوي یون
دے ستورے د اقبال د مسلمان اقبال

## اغیار

نعرې دې د اغیارو د اسلام ایمان
د اهم ورپسې نورې چې انسان انسان
هیڅ نشته اعتبار د هغې خولې ماته
نعرې چې پرې رانه شي د افغان افغان

## اتحاد

تا راوړې اتحاده د ښادئ نغمې
دوران چیلي زړه د ابادئ نغمې
تا رونه د ملّت دې همه سر کړه سره
اوس اورو په تل تل د ازادئ نغمې

بې څه د سرابونو نه په زغل ومه زه
پخپله سراب شوے له هر جل ومه زه
مفهوم راکښې پېدا شو چې ازاد یمه اوس
لوستل نو ېې ممکن دو نو مهمل ومه زه

ګل ګوره د شجر د کلیت نه اوځي
نکهت نو بیا د ګل د جمعیت نه اوځي
هر څیز ده په فطرت کښې ازادي راوړي
کېدے نه شي چې څوک به د فطرت نه اوځي

لږ څېر شه چې مفهوم د حریت څنګه دے
کوم حیثیت یې د افرادو جمعیت څنګه دے
خارج کښې خو ازاد وي خو ګل نه پرېږدي
رجحان په طبیعت کښې د نکهت څنګه دے

که شپې د غلامۍ د چا په سر راځي
بیا پس د ازادۍ نه پرې سحر راځي
دا نه که څو ورسته کاندي عمل د فنا
بیا تیغ په لاس د خاورو نه بهر راځي

دا څوک وه چې یې غبرګ کړو چې رحمٰن یو دے
ګل ګل که جدا بنکاري ګلستان یو دے
پیدا هم له دې خاورې شو بابا ادمؑ
هیڅ فرق پکښې کېدے نه شي انسان یو دے

ACKU

ساه لنډه د بیان شي مخکښې تللې نهٔ شي
تعریف د محمد صلی الله علیه وسلم ته رسېدلې نهٔ شي
دنیا مې د القابو تیت پهٔ تیت کړه خو هم
تعریف یې بې له خدایه څوک کولې نهٔ شي

راغلي یم دنیا ته د عقبیٰ پهٔ تکل
بازار دَ ته خو تګ وي د سودا پهٔ تکل
سودا یوه توښه وي د سفر د پاره
راغلي حقیقت کښې د اشنا پهٔ تکل

رندانو ته سپرلې بې خوده شي راولي
دنیا ته د ګلونو قافلې راولي
فطرت یې خندوي خو پرېشانۍ شي پیدا
هم څېرې کړېوانونه سترګې سرې راولي

مهٔ ستایه پهٔ مخ سپین او پهٔ زړهٔ تور انسان
دا شکلې پهٔ ظاهر کښې خو منګور انسان
سپرلي خوشمې غر ته رنګینۍ راولي
حیوان دے سرے نهٔ شو سري خور انسان

چا وې چې پسرلې نن هغه زوړ راغې
په هغو پخوانو کلونو جوړ راغې
طوفان دے دې واکه رنګينۍ او مستۍ
تړې تښتې د ادم له مينې موړ راغې

دا څوک دوانه ښکارې د کودرغاړې ته
کاکل ېې کړه همه مشک وعنبر غاړې ته
تورخال ېې په وښکې کښې داسې ښکارې حمزه
راغلې جوړ جشن دے د کوثر غاړې ته

سپرلې سره ملګرے لېونتوب راغې
جذبو او ولولو کښې پېغلتوب راغې
هر لورې ته ښکلا ده چې ستونه کوې
ارمان داوېښې شپې او ماته خوب راغې

دننه چرته پاتې کېږي په کاله کښې جونه
ماښام او په سحر کښې په واته دي جونه
راځئ مېنو نن مخ ته پلو نه نيسي
بې واکه په سپرلي او په واده دي جونه

# مینه

جوهر په ائینه کښې د انسان مینه ده
د ژوند لاره ښوونکې په هر ان مینه ده
موقوفه په ځوانۍ او زړبودۍ خو نه ده
فطرت کښې د هر زوړ او د هر ځوان مینه ده

# علامه اقبال

جبریل که ګیرېدے شي د انسان په کمند
بیا پسته به را اونیسي یزدان په کمند
هیڅ شک په دې کښې نشته چې اقبال وییلي
ښکن چې اول ګیر کاندي خپل ځان په کمند

خپل ځان سره مسکے وي په خندا وچ شي
خپل ځان باندې تاوان شي په ښدیا وچ شي
ښدا که دیده ورشي پښتنو کښې چرته
یا شوک ئې کړي کارغان یا په صحرا وچ شي

شرق په ښدارې چې وه شېدا او ده شو
راوینس ئې چې ضمیر کړو د دنیا او ده شو
وې سترګې یے مښودې د اقبال په چیغه
مغرب داسې نشه ورکړه چې بیا او ده شو

## انحضرت صلی الله علیه وآله وسلم

کامل کړو وایه چا اِنسانیت د اِنسان
عالم ئې کړو قائل په شرافت د اِنسان
بل څوک وَه په دنیا د محمد نه سیوا
اِنسان ئې چې خبر کړو په وحدت د اِنسان

اسلام کړې هدایت حیوانیت پرېښ دَه
مومن شه په انسان جارحیت پرېښ دَه
اِسلام خو داسې وائې سلامت اوسه تل
دا هم وائې چې بل هم سلامت پرېښ دَه

پوهان دي په تکل کښې د عرفان پاتې دي
نبیان او مرسلیان سر په ګرېوان پاتې دي
دا واړه خو معذور وه وو د خدائے حبیبه
خپل سوري دي هم داسې په ارمان پاتې دي

تسلیم چې بنه معیار به د ادب جوړ کا
انسان به د ادم ځینې مذهب جوړ کا
لېکن د حیوانۍ عنصر چې اوکړي علاج
شهسوار شي د فطرت ځینې مرکب جوړ کا

بس ورکه ځان ځاني چې شوه قوت راغے
قوت چې راپیدا شو حکومت راغے
پریشانه ذړې نمرشوې چې راپوځائے شوې
پیدا شوه ترې رڼا چې جمعیّت راغے

ستا یو نظر مې اوغوښتو اکسیر مې اوغوښت
سودا مې ستا د زلفو وه شوګیر مې اوغوښت
ستا مخ ته چې شوم څېرېانه دې برندشو راته
شاید چې دهندوانو نه کشمیر مې اوغوښت

حیران یم دکوم حال نه په کوم حال شومه زهٔ
نمرځیه ائینه ستا دجمال شومه زهٔ
لمده چې وه فضا زما د زړهٔ داسمان
ګریان نه دشبنم دبوړې تهال شومه زهٔ

## دحضرت امام رضاپهٔ مزار

الفت دحق اوبیا ستا دبابا غواړم
او بیا مینه دال د مرتضیٰ غواړم
الله بهٔ شي راضي چې ته راضي شې رضا
نور نهٔ درنه دنیا او نهٔ عقبا غواړم

## مولانا جامیؒ په مزار

راغلے یُ جامي نهٔ چرته تللے يُ تهٔ
نهٔ بشکته راکوزشوے نهٔ ختلے يُ تهٔ
حمزه دے چې سلام درته کوي اوکهٔ نا
پښېله چېل مزار لره راغلے يُ تهٔ

هرات ۲، جنوري سنه ۱۹۶۹ ع

## رحمٰن بابا

دهٔ ذرهٔ يُ چې پهٔ مینه دسبحان ژوندے
الفت کښې دنبي اخر زمان ژوندے
اوس ځکه پهٔ هر ځائے کښې پهٔ نېکۍ یادېږي
تل تل بهٔ وي بابا عبدالرحمٰن ژوندے

بے عشقه دې چې کفه عبادت پرېږده
تسبیح مراقبه او ریاضت پرېږده
اشنا پهٔ محبت کښې غېریت نهٔ مني
رحمٰن وائي چې حورې دجنت پرېږده

دارین اوهم بنیاد يُ ورته خام لیدهٔ شي
رحمٰن ته چې ساقي پهٔ لاس کښې جام لیدهٔ شي
شاهان گدا گري دملنگانو کوي
اورنگ دزماني ورته غلام لیدهٔ شي

## رومیؒ او اقبال

مُلّا کهٔ د رومیؒ نه شریعت واخست
صوفي تر ېنه سبق د طریقت واخست
شاهانو ترې رموز د مملکت زده کړل
اقبال تر ېنه پهٔ برخه کښې حکمت واخست

مشام لره د تابه لکه عود شمه زهٔ
فاني چې شم پهٔ تا نو بیا موجود شمه زهٔ
خوږه ګرانه لا لیه لهٔ نظره مشې
پهٔ شان د سپېلني به درته دود شمه زهٔ

## ذاتي ملکیت

ناپوهه دے چې څېل حېثیت نهٔ جوړوي
هم لاره څېله پهٔ لار د فطرت نهٔ جوړوي
اِنسان او پهٔ حېوان کښې خو هم فرق دا دے
حېوان دے چې ذاتي ملکیت نهٔ جوړوي

دعوې د کامرانئ ته بهٔ ستاخهٔ اووایو
دې هسې نادانئ ته بهٔ ستاخهٔ اووایو
زبېرګو کښې شاسترې د جمعیت کوې شو
بیا داسې پرېشانئ ته بهٔ ستاخهٔ اووایو

د جنګ سنهٔ ۱۹۶۵ء پهٔ موقعه

۲۴۸۱

د ژوند د ضابطې به انتخاب اونهٔ شي
ترڅو چې د ښو بدو احتساب اونهٔ شي
منزل ته د مقصد چرې ملّت نهٔ رسي
ترڅو چې په ملّت کښې انقلاب اونهٔ شي

کېدے نهٔ شي هر غم ته چې زهٔ رنځ اووایم
ورځه ته وایه ورا، او زهٔ به جنج اووایم
بهار ته اپوته راته ستاشر شولو خبر
ته وایه ورته جنګ خو زهٔ به ګنج اووایم
سنه ۱۹۶۵ء

انګور ته نم، غنم ته برودت ورکوي
خشخاش کړي سپين ريدي وته حمرت ورکوي
معلومه شوه فعاله يو هستی ده د ربّ
نمریو شانې هر څيز ته حرارت ورکوي

پښتون مُلا چرګک غونډې شملې زده کړې
بيا خو دې د مرز غونډې حملې زده کړې
نېک بخت چې وهٔ تجار او دوکاندار شو هغه
بد بخت د کلالانو نه ګملې زده کړې

میرڅي او دښمني او تلوسې اوګټه
داهرڅه دې وي خبرې خوښې اوګټه
داخل چې کړې زامن په انګریزي مکتب کښې
دوزخ کښې نو غوټې بیا ورپسې اوګټه

## یوحاجي او دهغه زوی

حاجي صاحب کره لاړ دمېړنو هېره
هم لاړې د ننګیالو پښتنو هېره
اسلام خو ئې لاړ بوده چې ئې پېژني نه
کنونټ کښې ئې زامنو کړه ، پښتو هېره

ظاهر افادیت خو د کنونټ به شي
دا زوی خو دې دفتر کښې اکاونټنټ به شي
لیکن چې حاجي پلار ئې ملاقات له ورشي
دخپل بچي په سترګو کښې سرونټ به شي

## ازادي

انسان چې ئې څوڅو رنګه بنادي خوښې دي
انسان چې ئې څوقسمه ابادي خوښې دي
لیکن که وي بنادي او ابادي د جهان
تر واړو ئې یواځې ازادي خوښې دي

مسلم چې خپل نښان د بر نه بر کېښود
بنیاد د ازادۍ یې بې خطر کېښود
کړ پورته یې پلو د ازادۍ د ناوې
زلمیانو په دې ننګ چې مال وسر کېښود

ګل چرته دے چې ویره څوک له خار اوکړي
زلمي له کوره اوچې هله کار اوکړي
ایثار چې څوک اونۀ کړي ازادي چرته ده
لیندۀ چې غشے پرېږدي هله ښکار اوکړي

مضراب مې د ښو د زړۀ په تار مۀ وهه
دا ساز خاموشه شوے په بار بار مۀ وهه
اے ښکلیه خپله یې چې بې لارې نۀ شې
د لارې د زړته وایم چې دا لار مۀ وهه

مستي د پسرلي په زړۀ نوکارې وهي
له سترګو مې خمار د میو دارې وهي
اسمان کښې د لېمو دے زما ټال د بوډۍ
فطرت بې خوده شوے د زړۀ لارې وهي

ACKU

پښتونه ته چې اوسې یو تر بله خوشحال
ستا قام به په دنیا وي تل تر تله خوشحال
طالب که د خوشحال د مدرسې ئې نو هم
خوشحال به نه شې څو نه شې پخپله خوشحال

قدرت بې جد وجهد نه عطا نه کوي
رنگینه آئینه چرې جلا نه کوي
تیاره د قام په ذهن غلامي راولي
سپوږمۍ چې تندر اونیسي رڼا نه کوي

کوم قام ته چې نعمت د حریت راشي
فرحت او مسرت او برکت راشي
پرېشان بخرې یوشي ترېنه نمر جوړېږي
پېدا شي رڼا هم چې جمعیت راشي

حمزه راشه اظهار خو د یو راز اوکړه
ملت د مسلمان ته یو آواز اوکړه
پنجرې د غلامۍ کړې هر طرف ماتې
بیا ټول جهان دې ځل کښه پرواز اوکړه

ACKU

## خوشحال بابا ته

هم تا د فردیت نه جمعیت جوړ کړ
پرېشان دے خو بیا هم دې ملیت جوړ کړ
رهبر د تا پرون زمونږ دننه او صبا
ستا ذهن روڼ تاریخ د قومیت جوړ کړ

جذبه دې د ایثار او حمیت کړه پیدا
شعله دې په خپل قام کښې د وحدت کړه پیدا
یورپ هم چې ترهغې پې خبر وه تر پښه
ستا ذهن نظریه د قومیّت کړه پیدا

سپرلے د ازادئ راغے ګلونه ښکاري
اوس اسپې د مغل نهٔ غبارونه ښکاري
رهبر د قام او هم ئې دي رانجهٔ دسترګو
نن ستا د سیلئ خاپې اوګردونه ښکاري

## شبنم

انجام باندې کهٔ پوهه وے راتلو به وېلې
صادق کهٔ وے د ګل نه بېرته تلو به وېلې
ستن هم د پلوشوئ چې زغملے نهٔ شوه
شبنم کښې کهٔ پښتو وے تښتېدو به وېلې

سپرلے راغے د مینې د اشوبه سره
شو ګیس مست د ګرځوان ښکارې د خوبه سره
نکهت لکه د ګل غوندې ګرځوان کړو خیرې
وخت اوکړه مشوره د لېونتوبه سره

احسان په ځان د ځېلو د پردو نه پرېږدي
پرېشان وي خو عادت د موسېدو نه پرېږدي
ګل اوچ شي ترې ترې شي خو رنګ ئې نه ځي
پښتون د ے چې فنا شي خو پښتو نه پرېږدي

د ځان نه د جهان شومه خوشا شومه زه
جوړ غږ د ځېل وجود شوم په صحرا شومه زه
ماوینه درته د دکړه د پښتو غزله
ستا شونډو پرې راشنه شوه او بابا شو زه

دا ګل غوندې چې ته ښکارې خندان سحره
شاید په جمعیت کښې ئې پرېشان سحره
سپرلي کښې دې هم زه په ښکلا موړ نه کړم
راځې به په ماکله د ګرځوان سحره

ACKU

ادم شوے جوړ له خپله اصله لاړې ولې
یو وخت کښې وایه دوه مفهومه غواړې ولې
اے ګُله شب نمې ، د پسرلي د سحر
دا وایه په خندا خندا کښې ژاړې ولې

اوس کیف و حریت موږ ته انعام بهٔ شي
صهبا د ویښ ضمیر د خپره عام بهٔ شي
سپرلي اووې چې دا مې تنکۍ ده د زړهٔ
غوټۍ بهٔ شي د دې نه او بیا جام بهٔ شي

وریځو د چغ کړې نغارې اوکړې
برقونو د تېغونو شرارې اوکړې
فطرت وې چې د زړهٔ داغونه وړم چرته
سپرلي وې چې دنیا ته اشارې اوکړې

اوس پاڅې مې د زړهٔ نه د توبو کړه لرې
کیفونو او مستۍ د دروازې کړه لرې
ساقي پرېشانه زلفې جام په لاس راشه
د دهر منتشرې فسانې کړه لرې

ورځه وهه وهه نوره دنیا په بهره
لېمهٔ وهلي نهٔ دي اشنا ما په بهره
پښتو ته دې که ژبه د دوزخ اوویل
ظالمه وهې ولې پښتونخوا په بهره

ډیوه کښې دې د سترګو که وي بل نارونه
ښکن غوارې تیرې لکه د غل نازونه
هندکي اوپېرنګي نازونه څهٔ کړمه زهٔ
پښتون یمه کوه راته شړل نازونه

ستاخ ته د سحر ښکلې خندا وائي
زلفانو ته دې شپه وائي سودا وائي
ښائست چې د اشیاؤ دے اضدادو کښې پټ
شاعر هم کله هغه کله دا وائي

لا غم د پښتونوالې دے نشتې پاتې دي
ساقي همه مستې او ولوږې پاتې دي
برېښنا چې پیمانو کښې د صهبا راشي
سیوري مې د څوار لسم ته نولاشې پاتې دي

ACKU

## حمزه

مسعودو کښې حمزه په اشنغر حمزه
موجود دے یو دریم هم دخیبر حمزه
پښتون هغه ملت دے چې راځي به پکښې
تر حشره دحمزه نه هم بهتر حمزه

## صادق شهید

پښتون مېره کېدے نه شي چې لر بریوزي
پیدا شي نور سرونه که یو سر پریوزي
صادق چې تلوچل روح ئې وزلموته ورکه
روښانه سپوږمۍ ستوري شي چې نمر پریوزي

صادق چې ئې ځواني وه دپښتون ځواني
پیدا ئې کړه پښتون کښې دپښتون ځواني
ټپلۍ دقومیت ئې کړه سنګار په وینو
بیا چرته زېږدے شي دمجنون ځواني

## تصویر دچا

تصویر چې دواړه اړخه په یوشان لیده شي
داڅوک دے دوه ناځې لري یو ځان لیده شي
داځیر که له یو اړخ کړي افغان لیده شي
بیا بل خوا ئې چې کوري مسلمان لیده شي

ظاهر کښي دلداري د پښتنو خو کوي
دي زړه خو لړل ئې په خوږو خو کوي
اغیار دے په دې خبر چې پښتو ورانوي نه شي
دښمن که د پښتو دے خو پښتو خو کوي

## ازادي

نن دې ماضي که وران وو م خو اباد يمه اوس
هر څو که په خفګان ومه ډېر ښاد يمه اوس
هر شے د چلي سيمې راته ځيل ښکاري
ازاد يمه اوس خدائ کو چې ازاد يمه اوس

ازاد لکه لوګے له اوره څه معنیٰ ده
پرېشان چې دي له هره لورې څه معنیٰ ده
ازاد شه خو د يو اصول په قيد کښې اوسه
اشنا د ازادۍ نو نوره څه معنیٰ ده

پنځه قامه چې يو شول حريت راغے
اسلام ئې چې محور وه نو قوت راغے
او اوس نو له هجران له غمه ژاړې ولې
اسلام دې چې ترشا کړو قوميت راغے

پخپله زمانه نهٔ وه هرڅه ليدلے
يارانو کهٔ وه ځو صبا بېګاه ليدلے
دا سورے دالله وهٔ چې بهٔ خلقو ليدو
بېکن د سوري سوړے وايه چا ليدلے

## رحمٰن بابا

خاني ده د ژوندون پهٔ ابتدا د رحمٰن
بيا راغله درويشي پهٔ انتها د رحمٰن
تخليق چې يو ځلاندهٔ ئ جهان کړو د فن
بيا راغلله پهٔ زړونو استوئ د رحمٰن

پاک رب لره دے کسئ دچشمان اِنسان
لن اولوله تفسير دے د قران اِنسان
دا ځوک دے چې پهٔ عرش ئ استوئ کړيدهٔ
خود دا به وي شک نشته نو رحمٰن اِنسان

انګريزکهٔ په خپل وخت کښې رانه پريکړه ژبه
مسلم ورليږي لا ذري ذري کړه ژبه
زلمي لا په لټون دي د منصور د مزاج
بادار بې رانزدي تر غرغري کړه ژبه

زلمیه زمانه د تېرو تــو لا ړه
بېدار شه چې داړه وه د تیرو لا ړه
پښتون خو دا منم چې به په نوم پاتې شي
پښتو به پاتې نه شي که پښتو لا ړه

دې سیمې څنګه ښکلي شاعران کړه پیـدا
خټکو خوشحال خان او کاظم خان کړه پیدا
ښکن دا سره بن هم وروستو پاتې نه شـو
مومند و چې حمید او هم رحمن کړه پیدا

دنیـا بانـدې احسان د رب منان اووینه
اعلان یې د یو والي د انسان اووینـه
انسان په اینه کښې د انسان اووینه
انسان په اینه کښې د قران اووینــه

## خوشحال بابـا ته

صاحب که د قلم وے توریالے هم وې
مصلح یواځے نه وې جنګیالے هـم وې
بابا که ستا یه رزم کښې ښکلا وه د بزم
جنګیال که وې هر څو فرهنګالے هم وې

ACKU

## شاعرته

راپاسه په نفاق د پښتنو اوښاره
بې لاره په پرېشانو مېړنو اوښاره
شاعره لکه شمع څېل ځیګر کړه اوبه
روښانه شه په خواوشا تیرو اوښاره

بېلې د قومیّت لره مجنون اوسه تل
اګاه د ملّتونو په ژوندون اوسه تل
پیدا چې کړے خالق د پښتانه په کور کښې
پښتون اوسه پښتون اوسه پښتون اوسه تل

جرګې او مرکې او بدرګې اوستایه
نظمونو کښې دې تل جګې شملې اوستایه
رجحان دې که غزل ته وي پښان د حمزه
که ستا یې شونډې زلفې پښتنې اوستایه

ستا حال دې د ماضي نه بې نیازه نه شي
بې دې نه مستقبل به دې روښانه نه شي
هم ته یې چې په تام کښې بېداري راولې
راویښ به څوک بې ستاله اوازه نه شي

لواړګي ۳۰ اپریل ۱۹۴۷ء

## قاسم علي افريدے

ترهغې ددې قام چې ميړنې ژوندي وي
ننګيالي او بريالي او جنګيالي ژوندي وي
داستانې چې نن ورځ قاسم علي افريدے
تا هم به داسې ستانې چې زلمي ژوندي وي

## خوشحال بابا

شاعر که خوشحال خان وه قهرمان هم وه
هر څو که توريالے وه غزل خوان هم وه
هستي ئې عبارت وه له جلال او جمال
هر څو که ځيني افغان وه مسلمان هم وه

## اسلام او قوميت

حاسد که د انصاف نه خلاف تللے نه وے
والله چې قوميت به ئې غندلے نه وے
اسلام که چرې وے د قوميت نه خلاف
هيڅ قام به د دنيا چرې منلے نه وے

## د خوشحال بابا په مزار

يو ژوند دې د دوام د قبر ګل بنکاري
ملت پرې مېنجور لکه بلبل بنکاري
تخريب د ارمانونو کړي تعمير د مراد
د راز دې د مزار د پاسه ګنبل بنکاري

دې جُز کښې د مزار دې رنګ د ګُل ښکارې
روداد د نمر په دې بخري کښل ښکارې
چې ژوند د پښتون قام له دې مزار نهٔ کښي
پښتون نهٔ دے حمزه وته مغل ښکارې

پیغام دې لا غنچه کښې بوئې د ګل ښکارې
ارمان دې لا سندرې د بلبل ښکارې
وختونه وې پښتون ته برندې سترګې مدام
هم اسپې هم ګردونه هم مغل ښکارې

اِسلام او قومیت کښې یو ترون ښکارې
کالبوت او روح چې دواړه وې ژوندون ښکارې
تصویر دے له یو اړخه مسلمان نیده شي
بل اړخ ته چې وګورې پښتون ښکارې

## مسلمه

شک نشته چې دنیا دې بلا ډېره کړله
بېکس دا زندګي دې تخنګه تېره کړله
ستا ژبه ذوالفقار غونډې وه پاتې نهٔ شوه
مسلمه حیدري نعره دې هېره کړله

ACKU

مسلم چې وي يو بل باندې ننګيږي سره
يو ټمال وي کهٔ يو دار وي خو زنګيږي سره
دښمن شوې ديو بل چې دې مذهب پرېښود
تش لوښي تل پخپلو کښې جنګيږي سره

## جاهل

تعريف چې د جاهل اوکړې فخريږي کنه
هر څو کهٔ ناقابل وي خوشحاليږي کنه
ملګريه چرته تا به وي شناز ليدلے
پوکے چې ورته وکړې نو پرسيږي کنه

مشعل دې لا د پوهې ځليدلے نهٔ دے
ملګريه لا دې ذهن پرقيدلے نهٔ دے
تاپُون اوکړو همه پهٔ رهروانو پسې
رهبر دې لا تر اوسه پېژندلے نهٔ دے

د سرو سپينو الفت کهٔ وي جنون راولي
د سکون مينه څوند پهٔ مېږتون راولي
هر څو کهٔ دهر يو مينه طوفان دے د ځان
ليکن د غنم رنګو زړهٔ چاودُون راولي

# خوشحال بابا

دا چا وې چې منزل راته بنودلے نهٔ شي
دې کرم هغه چې څوک پرې یُون کولے نهٔ شي
ترڅو چې حوادث کهٔ پرې سیلۍ راولي
خو ستا د سیلۍ خاپې ورانولے نهٔ شي

خوشحال لکه نکهت غوندې پرېشان پښتون وهٔ
اغزو کښې هم د ګُل غوندې خندان پښتون وهٔ
دا دوه اړخونه ځلنده دي یو تربله
پښتون وهٔ مسلمان وهٔ مسلمان پښتون وهٔ

فطرت کله بهار کله خزان راولي
هنګام د خوشحالۍ او د خفګان راولي
مقصد دهٔ یو څېز خو پهٔ باطن کښې وي پټ
د بې باغ ته هر یو څېز څېرې ګرېوان راولي

بس، پس له ژوندانه یې یو سراغ پاتې وهٔ
ما لیده چې پهٔ مرقد یې مړ چراغ پاتې وو
ما زړهٔ د مېین ډېر اولټوهٔ خو نهٔ وو
سینه کښې یې رېږدي غوندې یو داغ پاتې وو



ACKU

داڅه که په دیدن کښې ارزانې راولي
بې درده ارمانونه دځوانۍ راولي
احسان به دې سپرلیه هله بار دي په ما
که ورځې هغه تېرې پخوانۍ راولي

سپرلیه چې راوړي دې خندان ګلونه
بیا ولې په خندا کښې دي پرېشان ګلونه
قادرۍ چې ضدېن په یو محل کړې جمع
هم خاندي او هم څېرې کړي ګرېوان ګلونه

## حافظ ادریس مرحوم

بیا سترګو کښې نور چرته چې ئې نم لاړو
منزل شو پاتې خود چې دزړه دم لاړو
ادریس چې رانه تللے پوهنتون تللے دے
عالم چې رانه تللے جوړ عالم لاړو

حمزه اور اورکے وو چې جلوه وه پکښې
سیزل پکښې هیڅ نه وو که شعله وه پکښې
حافظ به عام کولې که دژوند خبرې
بیا هم به دحکمت یوه نکته وه پکښې

عقبیٰ ته د پوهانو کوم رئیس راغے
شاید د نابغو هم جلیس راغے
راځئ چې نوے درس ترې د الفت واخلو
نعرې کړې ملائیکو چې ادریس راغے

پېښور ۱۰، مئ ۱۹۷۰ء

ملګرې زما وائي ليونے يمه زه
داخپل زړه راته وائي مړنے يمه زه
حالات مې که لاس نيسي خو پښتو ييکمه
سوز پرې م خو ګړې م سپلنے يمه زه

شک راشي کله کله چې انسان يمه زه
اشرف د مخلوقاتو که حيوان يمه زه
حيوان غوندې په خوله کښې يو ژبان خو لرم
ليکن په حقيقت کښې بې ژبان يمه زه

پروا مې څه که بد وائي که ښه اووائي
نن خلق که تراخه او که خوږه اووائي
حمزه که د پښتو بې بند وبست او نه کړه
بيا نو مے کول به خدائے زده راته څه اووائي

راپاسه په ملّت کښې دې هنر راوله
د جهل په تیرو د علم نمر راوله
حمزه چې توروښتهٔ دې پیین شو پیینۍ کړه لا
پښتو باندې سحر پسې سحر راوله

پروا نشته دے ژوند به د پنجرې کومه
بلبل یم په ژړا به سترګے سرې کومه
صیّاده وزر پرې کړه ژبه پرې نړده زما
هم ستا په تشکر کښې به نغمې کومه

پېښور ۲۶ فروري سنه ۱۹۷۵ء

## امیرخسرو

سلطان د راتلو خواست کوي ادخواست چا ته
سعدي ته چې قدم رنجه کړي دے خوا ته
سلطان د غزل دا ورته جواب ورکړ
خسرو چې ورسره وي څه حاجت ما ته

مرو زړونو ته د ژوند لري صهبا خسرو
دنیا د شاعرۍ کښې مسیحا خسرو
محبوب الٰهي چې ترک من او بله
وړې زړونه څکه داسې د هر چا خسرو

قابل یم چې خسرو سوې سند دې وائې
هم ترک ئې هر انداز وې سترې سترې وائې
طوطي د پاک وهند شي د سخن په فکر
پخپله ځوري شکرې هم شکرې وائې

دنیا د شاعرۍ ورته کوي چې سلام
او هم په ولایت کښې ئې هیڅ نشته کلام
خسرو وو ولې دے نه وه ناصر خسرو
خسرو هغه خسرو چې وو خسرو د نظام

## سپرے

دربرکاد رنګونو پیرهن سپرے
دردونو ته داړې ورکاندي ځوبمن سپرے
توبت ته د رحمن خوشحال ګلونه راوړي
فخریږي چې راځي په دې وطن سپرے

ننګیالي دي د پښتون د سیمې غره سپرلي
کوربه غوندې سخیان دي میلمانه سپرلي
توئیږي ئې ګلونه څو خندا ئې نه څي
میراني د پښتون کړه پښتانه سپرلي

# پښتو

پښتو د ابتداء نه د انسان ژبه ده
پښتو په رسم الخط کښې د قران ژبه ده
مسلم او نامسلم وائي دا نوري ژبې
بس ځان ته يو پښتو د مسلمان ژبه ده

پښتو ده چې ځځېږي ترې شوکت د اِسلام
پښتو ده ترجمانه د عظمت د اِسلام
ظاهره ده چې مور د ثقافت وي ژبه
پښتو نه پېدا کېږي ثقافت د اِسلام

تا راوړه صراحي خو وايه جام چرته دے
دا نه خو درسره ده وايه دام چرته دے
اِسلام چې درنه لاړو نو پښتو څه کوې
پښتو چې درنه لاړه نو اِسلام چرته دے

## تاتره

ظاهر د تاترې نه دے شوکت د اِسلام
پښتون دے چې ظاهر ئې کړو عظمت د اِسلام
پېدا ارپه يوه غرئي هندوستان کړو همه
منبر جوړ تاتره وه د دعوت د اِسلام

غرځهٔ دے د ازادو پښتنو غر دے
داغر د ننګیالو او مېړنو غر دے
دا لوړ چې لهٔ یو کاله پهٔ بل کال لیدهٔ شي
لوړ شوی د پهٔ کړو غر دے

غوغا لا د فوځونو د اورنګ شته پکښې
تکبیر د مېړنو زلمو د جنګ شته پکښې
اوس هم لړي اهنګ د تاترې بادُونه
اوس هم د خوشحال خان د تورې شرنګ شته پکښې

ورلاندې دےخیبر چې تنګ راتنګ تللے دے
کوم فوځ د دې درې نه بے قلنګ تللے دے
هم داوه چې پخپله خو پهٔ سوات لاړو
سکندر هم ترې دویرې نه پهٔ څنګ تللے دے

راځئ چې تاترې غونډې اوچت کړو وطن
زلمو چې ایشیا کښې یو جنت کړو وطن
تعمیر ئې چې پهٔ خښتو داسلام کړو
اباد او ښېرازه پهٔ پښتون پت کړو وطن

## رحمٰن بابا

عاشق وو په رښتیا د رب جمیل رحمٰن
دا ښکاري په خپل فن کښې چې جلیل رحمٰن
الفت کښې امتیاز د رنګ وبوئ چرته دے
مهمند دے، داوُد زے او نهٔ خلیل رحمٰن

بې غم د مستقبل نه مسلمانه مهٔ شه
بې خوفه د اغیارو له طوفانه مهٔ شه
بلبل غونډې د ګل د ازادۍ اوستایه
ښکن د خوشبوۍ غونډې پرېشانه مهٔ شه

طاقت نهٔ پیدا کیږي د مرکز نه سیوا
موقوف د تن ژوندون خوږي د زړهٔ په درزا
را غونډ شه خو په مثل د کړۍ او سه تل
کوم ځائے چې کوته کیږي دې وي مرکز به د تا

ملّت چې متحد شو جمعیت راغے
پیدا چې جمعیت شولو قوت راغے
قامونه د اسلام په توم چې غونډ شو سره
پنځه حواس چې یو شول حریت راغے

ACKU

پنځه دي چې تفسير يې د اسلام کړے دے
پنځه دي چې تعمير يې د اسلام کړے دے
پنځو کړل لاجوابه د نجران نصارىٰ
پنځه وو چې تشهير يې د اسلام کړے دے

چاته دُعا کوي چاته ښېرې کوي
چالره توري چالره سرې کوي
ښنواريه واوره ' اسره په خدائے بنه ده
ترڅو به خلقو ته اسرې کوي

سمندر د عشق چې شي په ترپکه
حصار به نهٔ شي د غم کوټکه
کهٔ وي د عقل شهسوار سپور پرې
تعليم يې کړے وي له ازبکه

لهٔ تاوه ډکه وي ښځه لنډه
بيا چې د ښځه يې هم وي په پنډه
لکه د مارګې خلاصے پکار دے
ورله ګزاري بويه څو منډه

شهدو شکر شه زهر وګنړه پر شه
چرته بالا شه او چرته زبر شه
بنه به وي داسې چې څوک د ځان تهو کړي
د چا ترحلقه شنواریه تېر شه

حمزه ته خبر د سر په پېغور دے
پروې اېښے ولې تا د زړه کور دے
صحرا نه کړه غوږ د ښهر لور ته
ته یې که نه یې هلته کښې شور دے

چې زړه روښان شي د عشق په لار کښې
تیاره د سبب سوزي په نار کښې
شنواریه چې شي روښانه شمع
لوګے شي ترینه بیا په رفتار کښې

## ژړے او شلغم

بیا راغے ژړے، وار د شلغم شو
صفرا کړه ماته اوړي بلغم شو
مزه ښکر راوړه شنواریه
هر چا لره نن جوړې نل غم شو

دا نوې نوې چې زۀ توبې کوُم
د نفس او زړۀ ترمنځه کویا جوړې کوُم
ناسوت او ملکوت مې پۀ یو رنګ کړل
زۀ یُم لا هغه ، هسې پېرې کوُم

## نسیم

سرخي کړې اشنا او نۀ غازه کړې
زما اسوېلو ترو تازه کړې
غرور مۀ کوه د ګلاب ګُله
نسیم د بهار تۀ بشپړ اندازه کړې

## د ګلاب جواب

نۀ یُ کۀ نۀ یُ ډک یم لۀ بُویه
کوې اسویلي لۀ خپله خُویه
یو بارې باده، نورڅۀ خونۀ یُ
نسیم یادېږې زما لۀ رویه

توبې مې اوکړې زهد پۀ لاس رانغے
چې مې کړې ماتې خوف وسواس رانغے
پرهر د زولن نه اشنا نۀ شو
زۀ بنۀ شوم نۀ بد، مرهم پۀ لاس رانغے

## د نموڅ په وخت کښې دا خيال راغلے وو

بَد چې توبه اوکا ، راضي ثواب شي
نېکنه ثابتې ګناه ئې خواب شي
دين غلط کارو ته هم انعام ورکړي
په سجده سهوه ئې لا ثواب شي

نېک ئې په بدو چې ته تاخير لري
بد ئې چې بدو وته زړهٔ خبز لري
شنواريه غم مهٔ کوه چې کامل پير لري
څهٔ کامل پير لري چې ويښ ضمير لري

## د يورپ جنګ

کال د غشنط دے يورپ کښې جنګ دے
اټلي جرمنو سره تر څنګ دے
هالېنډ او فرانس کړل حملې رالاندې
انګرېز د فرانس سره په ننګ دے

افسوس افسوس دے چې فرانس تباه شو
د ترقۍ ئې راغے بېګاه شو
اټلي هم اوکړه حمله پرې باندې
وطن ترې تللو په صُلح رضا شو



ACKU

ښکلا ن وبل ته تل سترګي مښي وائي
هم په جواب کښې ورته خوار مښي وائي
چې داسې نهٔ وي نو ليوني دي
ښشو ته کوري اوسې ته پښې وائي

## د فاروق انتظار

فاروق رانغے وخت نماز ديګر دے
د سرائے تمبو ته زما نظر دے
نظر مې دروي په کوم يو ګل پسې
دا په خزان کښې د څهٔ اثر دے

خدايه صفا مې کړې زړهٔ لهٔ زنګه
لهٔ کفر و شرک او فساد لهٔ جنګه
محتاج مې مهٔ کړې د ما سوی ته
همېشه تهٔ شې زما په ننګه

الفت د عاشق په زړهٔ ضرور وي
تيارهٔ ئې د غم خنده د نور وي
او به د حيات وي ، ښکاري زهر
تراخهٔ وي شراب خو ئې سرور وي

## کور پهٔ سري (رخانه بدوش)

پښتو کښې ځائے ځائے دي کور پهٔ سري
استوګنې د غم نه ګرځي بري
پهٔ سېل د قدرت تروتازه دي
خبر ترې څهٔ دي د اکور بصري

چمکنې ۱۰ راپریل سنه ۱۹۹۰ء

زلمي ته تورې بدرګه د چین ښکاري
وړې ځاروي ته بيابان شين ښکاري
پهٔ خپل رنګ وي هر څهٔ شنواريه
خو وا ورو ځیلي ته هر يو شے سپین ښکاري

سېزل کمه شول، دوه طرف اُور دے
چې نمر دے ګرم، سوے تک تور دے
چپيا کړي ګل، بلبل پهٔ چيغو
يو زهٔ خو نهٔ يم، فطرت پهٔ شور دے

روښان دې وي مخ چې خاندې خاندې
تيرې د زلفو، چاپېره باندې
پهٔ هر وصال کښې غم د فراق شته
تيارهٔ ضرور وي د ډيوې لاندې

څهٔ حال شي چې راز د عشق په خوله شي
وطن بې د زړهٔ اوبهٔ اوبهٔ شي
د تنګې نه د سیند حال شنواریه
نظر کوه څنګ يې تېرېدهٔ شي

د سړکونو په غاړې غاړې
د بجلۍ د ګنګې ستنې ولاړې
ګودي په شکسته سرې اوچت دے
د دوې پخير شه کهٔ لوې غواړې

د غره لمن ده سرسبزه لاندې
ډکې وریځې راغلې پرې باندې
په شاه لطيفؔ کښې د ډمو رقص دے
که تاروکي دي لهٔ شوقه خاندې

## اسره

کهٔ دې په عمر چاته اسره شي
هغه اسره به دې په وینو سره شي
شنواریه خدائے ته غم د صبا پرېږده
د دنیا کار به کله پوره شي



ACKU

سفر لۀ ځانه ، ځان ته سفر دے
نظر و بل ته ځان ته نظر دے
خیال دې وبل ته ځان وته خیال دے
په ائینه کښې خو هم ستا بشر دے

جانان مې اولید ، جهان رنګین ښکارې
لکه سرۀ زر وې راته سادین ښکارې
دنیا زما شوه عشق کښې بدله
کنځل د اشنا راته ګبین ښکارې

چې ځان ته ځبرشم زړۀ مې شین شین ښکارې
ارم پکښې جوړ دچین ماچین ښکارې
چې نقش شوے پکښې د اشنا صورت دے
هر شے دجهان راته رنګین ښکارې

په تصوّر کښې چې مدعا ده
هغه فنا ده ، هغه فنا ده
سر مې چېل نشته که شته دیار دے
حادث قدیم شو ، حاصل بقا ده

اوسه روښان تل دخدائے لهٔ یاده
تیارهٔ رامهٔ شه، درلره ښادده
یو کوره وینه اوښایه ماته
زما د زړکي ربنها ابادده

ډېر ښهٔ وو ولې بد افریدي شو
لونګ ستا پهٔ حق کښې تورکودي شو
ځان ترې اونغاړه ساده شنواریه
څوک دې چې چپل ګنډل هغه پردي شو

درده دا ولې نن رابېدار شوې
لهٔ کومې لارې پهٔ کومه لار شوې
اے دعویداره د محبت ولې
داسې تر زره بېرته نهاد شوې

پهٔ سترګو زړهٔ کښې مې ځائے شه درده
خلوت جلوت کښې نمائے شه درده
ژړا ژړا شه هئ هائے شه درده
کاروان مراد دے تهٔ سرائے شه درده

زما د سترګو نظر شه دردہ
بیا لکه برق تړې بهر شه دردہ
د زړهٔ دنیا ېې چې ناسوتي دہ
ملکوتي یو خبر شه دردہ

کهٔ راښدار ېې شي دزدہ دردہ
د زړهٔ دنیا ېې دہ سردہ سردہ
د ما سوی غم راته حجاب دے
لکه د ړوند یم لهٔ خپله ګردہ

زهٔ پهٔ ځوانئ کښې ضعیف معظم یُم
پاتې دلارې نه کهٔ پهٔ لار سم یُم
چې ایښے شوے نهٔ پورته کیږي
پهٔ لار د عشق کښې هغه قدم یُم

کهٔ د عالم او د بزرګ زوئ شوي
چې علم نهٔ لري نو ښکله پوئ شوي
چې هنر نهٔ لري دعوه دخهٔ کړي
چې سخوندر نهٔ ېُ نو کله ګوئ شوي

چې راپه یاد شي ښکلې صنم مې
سترګو ته راشي د زړګي نم مې
اوبه دړدنډ مې په یار د مخ څې
نکهت د ګلو په هر قدم مې

## دعشق فالج

دارو دې څه کړم دعشق فالجه
طمع به څه کړم له معالجه
د دې مریض هم طبیب په دې کښې شي
زده کړه چې نه وي له یو کالجه

که عبادت شي که ریاضت شي
په ظاهر کشف او کرامت شي
یا په بدی کښې ضرب المثل وي
معلوم به څرنګه موفقیت شي

چې سرداري کا ، هغه خواري کا
هغه خواري کا ، چې سرداري کا
زمیداري کا ، ثمر يې واخلي
ثمر يې واخلي ، زمیداري کا

په اینه کښې د هستۍ اوګوره
یکښې خپل عکس د نېستۍ اوګوره
مرګ دے که ژوند دے یکښې رنګین ښکاري
د فطرت لوبې او مستۍ اوګوره

په ګل د بلبلو ترانه اوګوره
د رِند کعبه ده مېخانه اوګوره
عقل يې چرته، په مئېن بد مه وايه
بت پرست ګوره او بُت خانه اوګوره

واصل په جوش کښې وي نو سينه نه ويني
بر په بورجل چې شي نو زينه نه ويني
شنواريه اوچې، نسبت له ښځه
ځوک چې خپل عکس ګوري اينه نه ويني

چې واې مه وايه چې نه واې او وايه
چې نه واې ته وايه چې واې مه وايه
چې بد وي ښه وايه تراخه خوانده وايه
تراخه خوانده وايه چې بد وي ښه وايه

# حریص

کاسه د سترګو د حریص پُره نهٔ شوه
د زړهٔ ارام يې د دنيا خوره نهٔ شوه
قانعه صبر کوه بيا هله پسه وا بيه
کهٔ بې حجابه نهٔ شو او مور پرې بوړه نهٔ شوه

ښيه چې په سترګو کښې هر څوک صبا کا
ديار په غم کښې چې واويلا کا
هغه صادق نهٔ دے، صادق هغه دے
چې خوب په ويښه ديار رضا کا

چې څوک ژړا نهٔ کا هغه ژړا کا
چې څوک ثنا نهٔ کا، هغه ثنا کا
مرض غوښتل هم د مرض دوا ده
چې څوک دوا نهٔ کا هغه دوا کا

چې غم بوره کړل، مور دې پرې بوره نهٔ شي
لهٔ توره نهٔ جاروځي، ما ته دې توره نهٔ شي
چې څوک پوره وي د ننګ په کار کښې
جولۍ د سوال به يې هېڅرې پوره نهٔ شي

خدائے زده چې دغه وړېد شړېد شي
شړېد وښتهٔ دې کهٔ سپین وړېد شي
دښمن به چرې پهٔ ښکره خپل نهٔ شي
شنواریه تیرې کهٔ سل پېړې شي

منگریه نورې خبرې وایه
کندهٔ بر دې بس کره شکرې وایه
لکه بلبل چې وي نغمه سرا شه
سندرې وایه نادرې وایه

درله سزا شي خپله جزا ستا
سزا خو خود وي درله سزا ستا
نیکي کوې د بدۍ دپاره
غزا غزا کاندي جوړ پهٔ غزا ستا

شنواریه ماته د ثنا خولهٔ کړه
د بې رنگۍ استاذي ملهٔ کړه
چې یار دې نوم او نښان هیڅ نهٔ لري
د بې رنگۍ پهٔ لار ېې تلهٔ کړه

ACKU

چې مې شرابو وته کاته شي
توبه د زړه نه مې په واته شي
تل ماتول وي، توبه کول وي
د نمر خاته وي، بیا پرېواته شي

لاړې چې هر څوک د خپل حسن کا
مستي په جر جر سکه د خر کا
کیمیا د بل نه وي نه له خپل ځانه
چې بل ېې اوبني نو تانبا زر کا

د زړه نو چې دې بېدلي اوکړه
د عشق ناشونکې بناغلي اوکړه
له خونده ډکې سکه کونځلې وي
د یار شنوارېه کنځلې اوکړه

زیات شولو عمر زما له ډېر شو
په ناپوهۍ او مستۍ کښې تېر شو
اوس چې عاقل شوم نو پس د دې نه
لږ وي که ډېر وي وایم چې ډېر شو

ACKU

دیا جوارېٔ ، ډېرهٔ ډېرهٔ کا
لکه چې ژړنده د جوار زړهٔ کا
اوچه پخه ېٔ د عشق طبخ کا
بیا ېٔ پهٔ مینه خلق خوارهٔ کا

عاشق هغه کا ، چې پتنګان کا
غه لیوني کا چې عاشقان کا
عاشقان هغه دي چې صادقان وي
صادقان هغه وي چې فنا ځان کا

چې شپه شي تېره ، سحر خندا کا
دغه خندا مې ، تل پهٔ ژړا کا
څوک خندروئ وي څوک ژړغوني
څوک دي هغه کا ، څوک دي چې دا کا

کهٔ نوې نوې اشنا جفا کا
ستم نوے نوے پهٔ ما کا
لس نوے نوے ، نورې زړې دي
کهٔ دا پهٔ ما کا نوې پهٔ چا کا

ACKU

جهنډه د سخا چې هر څوک لکا کا
کړي په همّت ئې نه ئې له لکا کا
څوک خندروي وي څوک ژړغوني
څوک دي هغه کا، څوک دي چې دا کا

تل ئې هنره، لاف د نسب کا
نه ئې په دين کا نه په خپل رب کا
چې نه ئې دين وي نه ئې سادين وي
ادب ئې نه کېږي او نه ادب کا

غريو مې تکل نن د ډېر ګريان کا
د تن وطن به وران په طوفان کا
شنواريه نشته په دې کښې شک څه
وريځ چې ګرځي اخر باران کا

چې مرغلرې غواړې غوپې شته
د غم په سيند کښې د خوښۍ چپې شته
فاروقه غواړې که د دنيا ناوې
داسې زلمي سره سختې جوړې شته

ACKU

غني چې هر چا لره څهٔ ورکا
بیا يې زبادنه ورشي پهٔ ورکا
غني يې مهٔ ګڼه، غني هغه دے
غر د نېکۍ چې د پچ وزر کا

چې دروازه شي د کرم بېرته
ما بدبختي کړي ځنې پهٔ بېرته
چې د کريم نه څوک بے نوا لاړ شي
اووايه بياٌ بهٔ نو دروې چرته

چې پوخ پهٔ کار کښې د پاس انفاس شي
ترې مخالف وي چې ناسپاس شي
نهٔ کوي وړلې، خيال اٸينے ته
چې پکښې عکس لهٔ چپه راس شي

داسې بهٔ ښهٔ وي پرې ښهٔ خبر شه
د عاقلانو پهٔ وړنا سر شه
کهٔ سر دې روغ وي پهٔ سر خبر شه
ګني پهٔ غرونو رغونو سر شه

بیا پسرلے شو ، دتن نهاله
نن دې خالي شوه ، د زړګي جاله
مرغان ترې دروي د فریادونو
لهٔ برقه تښتي دچا ترجاله

## عقل

ترڅو چې نهٔ وي ، دعقل رڼې
د خوشحالۍ نشته کرکڼې
هم دحرص چې پهٔ الوتو شي
پهٔ جال بې نیسي د مکرغڼې

خواږهٔ شراب وي پیکښې یشیږي
لوښے د زړهٔ بې ترینه تشیږي
وینه زما ده ، توره یخه ده
رندانو راشئ اوس بهٔ ویشیږي

## څوانه لور

پهٔ کورکښې څوانه دچالورده
پېټه پهٔ کورکښې ، ښکاره هرلورده
پهٔ ساده توب ئې چې غلط نهٔ شي
څوکهٔ ناپوهه پهٔ دړې څلوړ ده

چې محافظ دې شي دبل دتېغ نه
هغه نو ډهال دے مه ګڼه تېغنه[ل]
افت به نه راځي که سته سخي يې
که ځان دې بچ کړو تل د دريغ نه

د ژوند په سيند کښې تشناز د صبر بنه دے
لکه د قدر ، د قدر قدر بنه دے
په چپو باندې چپه شه پورې وځه
ګڼه په تل کښې درلره قبر بنه دے

په فن د مکر و ريا کښې طاقه
د هستۍ شره ، په تهذيب شاقه
د زړه په تاخ کښې ډيوه د نورنه لرې
تور زړه په بدو ، لاړو چې چاقه

چې نفس نه اوړي ، له بده کاره
رنهائي غواړي د ځه د پياره
تر هغه مه کوه اميد د فصل
چې چېل پتے دې نه کړې شُد بياره

---

[ل] تېغنه

د ملک پټې دې مۀ شه بې کوډه
ماته دې مۀ شه د همّت کوډه
د غلامۍ د وینځې نه بچ شه
چرې اثر يې اونۀ کړې کوډه

ناجانه کونه ، ژړا مې واوره
ولې دې يخ دے ، زړۀ سکه واوره
تۀ لۀ غروره ، ګورې اسمان ته
زۀ بنګلوم دې د تلو خاوره

چې خوف او ويره څوک د چل سرکا
دنفس قلابه څرنګه سرکا
عقل رهزن دے' دعشق پۀ لار کښې
شيطان بۀ څۀ کا ، څۀ چې هُنر کا

پوې شه پرې تۀ چې پۀ څۀ رانغلې
څۀ خو راغلے يې ، کۀ څۀ رانغلې
د يار نسبت هم د يار وصال دے
شته دے بېلتون دې کۀ تۀ رانغلې

ACKU

لاړم اجمیر ته غشنط دو کال
سخته کړې وه ، میاشت پشه کال
غلام سرور وو ، بل شریف خان وو
زما ملګري ، ښه مو وو حال

پهٔ سر ہي درد دے ګاډے روان دے
ځم چې اجمیر ته ، زړهٔ ہي خندان دے
قابل ماڼګے لرم ، ملهٔ معتمد لرم
سلامت بهٔ رسم څوکهٔ طوفان دے

کهٔ پهٔ سپر وي کهٔ پهٔ ګتګه وي
کهٔ وي پهٔ توره کهٔ پهٔ څوکه وي
بدن دې بچ ساته ، ګیني نو پوهٔ شه
چې کوم ځائے خوښ شي هغه سکه وي

زهٔ دې قربان شم دهند برساته
پهٔ پشه کال کښې کړې دې ماته
پهٔ فلیره کښې چې ګاډے اودرېد
ښکاره دنهٔ ونه شول ، ځائے پهٔ ځائے ماته

ACKU

دا زړه چې ګرځم په خپل حبيب پسې
د زړه درمان لره چې په طبيب پسې
واڼې چې خلقو پسې ګرځي نصيب خپل
زه دايم ګرځم په خپل نصيب پسې

کوم کاڼي چې په ما رقيب کا
لکه چې ګل ئې په عندليب کا
همه غوبن غوبن وي خو فرياد نه اوري
ځان که تري لري ، او يا قريب کا

ديار له جوره مړشي يو ځل سوزي
چې څوک پخپله سوزي له هغه بل سوزي
پتنګ جل بل شي ، له غمه خلاص شي
بيا پسته شمع اوګوره تل سوزي

نه خو زه شمع يم او نه پتنګ يم
نه پير فقير يم ، او نه ملنګ يم
سوزو ساز نه لرم ، زه حمزه هغه يم
د بې رنګۍ په رنګ کښې رنګ يم

لتې اوسطې بویه، نهٔ دخر کتې
پهٔ جر جر مهٔ مستېږه مهٔ وهه لتې
د سړي توب پهٔ مقام چې ما کتې
نهٔ دې وجود وو اونهٔ دې پتې

اراده کلکه لره، پهٔ پستو مهٔ پستېږه
همّت بلند لره پهٔ خوئ کښې مهٔ پستېږه
پهٔ خوشامدو دچا چې غلط مهٔ شې
لکه چې خروي پهٔ ځرځر مهٔ مستېږه

اجمیر شریف ۱۱ اګست ۱۹۳۰ء

بد پهٔ بدی پسې، توبه فضوله شي
لکه لاهو چې خلی لهٔ څوله شي
نزدې دُرشل ته چې شي تنبه شور نهٔ کوي
وروستی ګناه بنهٔ ده توبه قبوله شي

ګړشه دمینې وباغ ته ګړشه
ګویا بلبل شه له مستی ګړ شه
کهٔ ګوډ اوشل ئې خو تناب اِخراج کړه
پهٔ چیله څُونه کښې دګلو وړ شه

خوږ د زړګي به مې کله کم شي
نه په دُعا شي نه په مرهم شي
پخوا چې کوم کارستا په کرم کېده
اوس به هغه کار ستا په ستم شي

ډېر یادول د یار هېرول دي
کاروان له سرایه تېرول دي
په اندازه یې کارول ښه وي
شکست د تورې ډېر تېرول دي

رقیب چې وینې یې کوکې سپینې
ورته یې مړې شي له واره سپینې
شنواریه مه وینه داچې څه وینې
چې یې د اوښکو په ځای دې وینې

اې د پېمخې د سترګو ډنډه
کله مې خړوبه کړې د زړګي ډنډه
سپېرلې پرې راوله چې ګلستان شي
چې شوه د هجر په خزان شنډه

چې مې په برخه راغې شباب شو
په ویښه مست یم سپرلې مې خواب شو
اوس وخت د نوش دې، ساقي که راوړې
په اور د عشق مې چې زړه کباب شو

ستا مخ د نمر وو، له هجرانه یاره
زه ېې ستي کړم، مې له انکاره
زه دې وصال کښې هم له هجره مرمه
نه چې له عاره او نه له ننګاره

تورې وریځې د چا له غمه
لمده دنیا چې کړې، له خپله نمه
چمن چې خاندي، ستا له ژړا نه
تازه ګلونه وي د تاله دمه

سیالي به څه کا، نهر د ډوړې
تل په قسمت ئې خوراک وي ډوړې
ډوړې به څه اوکا چې خلاصې ئې نه شي
د عقل سترګې، د نصیب سوړې

اوس به مې نوﻟﻲ ته خفګان اوشور راشي
غم چې حصار وو، دغم به زور راشي
سپين وېښته مه اوباسه ، ښځې متل کا
ګڼې په عذر به يې شل نور راشي

په لوړو تندو ، به کله هېر شي
غمونه ډېر ګڼه چې په تا تېر شي
مثال که غواړې نو عجيبه شته
دوژه نږدې شي ، ملايان ډېر شي

پېغورې تل نوے وي هر څوکه زوړ شي
خوږلن سپرغے لرې که اورې سوړ شي
مرهم به څه اوکا ، د شفقت بيا
داغ به ورک نه شي که زخم جوړ شي

ته چې ډاډه يې ، په سپي رقيب
ډاډه شي وږے زړه د حبيب
نمړې د کوکے د طعام مه هېروه
څوک زده؟ رندان زده، خوند د زبيب

چې شهٔ سرور لهٔ کومې يار شو
بخت مې اودهٔ وو چې رابېدار شو
ددې نه زيات به بل کوم کرم وي
چې راضي مانه ، شاهِ ستار شو

نن چارشنبه ده ، زهٔ او سرور
لاړو مرشد ته پاس برابر
پهٔ اجازت ئې زهٔ مشرف کړم
مرهم ئې کښېنود جوړ پهٔ پرهر

پېر او مضبوط شي چې بې غيرته وي
اعتبار نهٔ کړي چې بد سيرته وي
هوښياران وچ وي بدنې ورده نهٔ کا
ډک ئې وکړي ، کهٔ لهٔ شهرته وي

شکر دخدائے دے چې مسلمان يم
دآنحضرت په پاک دين روان يم
مسلم مې ورور دے مانه ترې نهٔ کړم
پرې مهربانه لکه دځان يم

---

لهٔ شاه سرور زما يو دوست ۲ شاه ستار زما شيخ رح

رنځ د هجران مې ښکاري واريځ
کله وصال هم ، کړي يار غوريځ
معلومه نهٔ دهٔ ، خو چې ژوندے يم
لکهٔ مارغهٔ بهٔ ، تل يم پهٔ کوريځ

پهٔ پېروي کښې د خپل صنم
روح مې پېروے خوري د نِعَم
زهٔ يې گويا کړم پهٔ گونگه ژبه
د دنيا عرب شوم ، کهٔ يم عجم

زهٔ علوي يم عشق مې دے خوښ
نهٔ خارجي يم ، لهٔ خويه يخ
زهٔ يم بورا خورم ، د گلو شوکې
دے دې گندگې خوري چې دے گښنځ

لُوگي د شمعې لهٔ مخ چاپېر شول
د خط سره يې نازونه هېر شول
اوس يې د کوکو گبين ارزان دے
چې تور مېنې يې پهٔ مخ راخپر شول

هجران دې بشکلیه، کاڼي په ما کا
د زړه داغونه مې سوا سوا کا
په توره شپه کښې ستوري په یاد کړه
چې تیاره ډېره شي، ډېره رڼا کا

غم د هستۍ مې چې نه هېرېږي
ډېر وسواس ونه، پرې راتېرېږي
چې وند روند پرې د خلقو ډېروي
په لړ باران هم، ختې ډېرېږي

په ریاضت سره چې تن صفا شي
د من د دید نه، پرده جُدا شي
په کثیف څیز خو، پرتو شي سوري
په ائینه کښې عکس نُما شي

تیاره د هجر، په ماتې سر شي
چې دوه خواخوږي مخامخ ور شي
سورے د عکس وي نه د معکوس
دیو په بل کښې ورشي دربر شي



ACKU

قاصد چې راشي د یار له دره
داختر میاشت شي جوړ را د بره
رقیب چې راشي یقین مې اوشي
چې روژه محکښې ده له اختره

## حضرت امام حسینؑ

د نبوي نمر ، د نها امامؑ ه
تیاره دې لرې کړه له اسلامه
پېړۍ شوې تېرې لا به تېرېږي
قصّه د غم به دې نه شي تمامه

میاشت فروري سن یو خلو پښتم وه
زمان خپرې کښې زما قدم وه
زمونږ ټهکه وه مور چې پنا وي
تاریخ مې یاد شو چې دیار لسم وه

ترې بې خبره مه شې اے زویه
د هېندارې نه د زړه ږې زدویه
چې پرې لوګي وي د ګناهونو
نیکي کوه ورپسې اے زما پویه

نهٔ یم غلط حرف چې یاد شوم هېر شوم
نهٔ مشتبه یم چې خلاص شوم ګېر شوم
زهٔ چې دریاب دے دحکمتونو
نهٔ چې سېلاب یم، راغلم او تېر شوم

پهٔ خوند کښې شېریم پهٔ معنیٰ شېر یم
ازاد لهٔ هر څهٔ، خو یار ته ګېر یم
ابتدائي یم، اِنتهائي یم
پهٔ هر یو رنګ یم، زبر او زېر یم

چې بې پهٔ تا شوه، دخاطر مینه
مینه شوه ورانه، دتن سنګینه
جبین چې ایښے د نیاز تاته
چې بهره مومم ستا لهٔ جبینه

ستا پهٔ دولت خو زهٔ پرده نهٔ یم
ستا لهٔ اِمداده پهٔ پرده نهٔ یم
زهٔ دخپل رب یم د تا پهٔ شانې
دبندګانو پرورده نهٔ یم



ACKU

ما وې د زړهٔ کور، دې بې زمانهٔ وُو
ودان پهٔ ما وُو او خپور زمانه وُو
چې زهٔ ترې لاړم هغسې کور دے
نهٔ کور زمانه وو، نهٔ شور زمانه وُو

چې ماته کوړې وچاته کوړې
وچاته کوړې، چې ماته کوړې
تهٔ ماته کوړې، زهٔ تاته کوړم
زهٔ تاته کوړم، تهٔ ماته کوړې

پرېشانې راوړي، خندا پهٔ ګل کښې
نغمه ښې راوړي غم پهٔ بلبل کښې
که پرېشانې ده کهٔ غم، ژوندون دے
د شاپې کوړې غاښ پهٔ کاکل کښې

جرمنه لاړه، حمله دې لاړه
طاقت دې لاړ شو، مزه دې لاړه
اوس بهٔ باران وي پهٔ تا د غم
قوّت دې مات شو، شبه دې لاړه

لواړګي ۲۷، اپریل سنه ۱۹۴۱ء

ACKU

## فاروق ته

فاروقه زړه دې له واوره ویخ شو
د ګودکو ناو دې شاید چې خوښ شو
زموږ له حاله خو خبر نه یې
د فراق غشي مو په زړه ښخ شو

## د ژوند راز

د ژوند له ملکه چې رابهر شوم
راز یې چې پټ وو را غلم پرې سر شوم
او به د ژوند خو زما ژوندون وو
چې ژوند مې مړیم ، هله خبر شوم

چې وریځ راشي ، او باران نه کا
ښائې رحمت چېل ، خو سبحان نه کا
د سرکښانو سره داکېږي
خو عجیبه ده چې طوفان نه کا

له خوږیه توغ یې څومره چې شیک یې
رومانیت لره ، لکه څوڅک یې
ګوري اسمان ته ، پېدا له مزکې
نه لري خاوري هم ، هغه خانک یې

وطنه لاړل ، غرونه دي وران شول
میدان ګرځنګ او غرونه میدان شول
د غر په اړخ چې نظر اوکړم
د سرکونو پرې ښاماران شول

وطنه لاړې خراب تراب شوې
زړهٔ د بخیل شوې په خرڅ کباب شوې
پهٔ پیمانه کښې د انګریزانو
زمونږ د وینو خوانهٔ شراب شوې

ما ورانولو لره اباد کړه
څهٔ تعلق خو راباندې زباد کړه
کهٔ دې شي ویره ، زما لهٔ یاده
تو هېرولو لره مې یاد کړه

د اندهیري نه ، دوه میله لرې
کوم لهٔ ځانه سره خبرې
بهر شو تهٔ نګه د لیلی مجنون دے
پکښې خبرې شته د بے نا درې

بمبئ سنه ۱۹۲۱ء

ACKU

۲۵۶۳۰

لیلی مجنون ہي پهٔ پښتو جوړ کړ
د پښتون شوق ہي د فلم سوړ کړ
د بمبئ ده ، هوا خرابه
پهٔ زلمي توب کښې ئې حمزه زوړ کړ

بمبئ سنهٔ ۱۹۴۱ء

چې وخت تېرېږي ، غم ډېرېږي
تهٔ رایادېږې ، ځان مې هېرېږي
پهٔ تاشوه تېره ، بي بي مېرمنې
زهٔ تېروم ئې ، نهٔ چې تېرېږي

وخت د نماښام ، دروژې اذان دے
وړو جوړ کړے بشکته طوفان دے
اے زما نښې بي بي مېرمنې
شربت د وینو ہي درقربان دے

زما د زړهٔ نه ، قرار دې یوړو
ددې چمن نه بهار دې یوړو
ستا څهٔ شنواري بے واره غم دے
تهٔ شوې بې غمه، چې وار دې یوړو

خیده د ځوانۍ یې د حسرت په لور اوښکا
د ژوند په فصل یې چینجي توره اوښکا
چې بد سیرته وي، صورت یې مه شه دوزي
چې غنم لاړل، په دروزه اوره اوښکا

اشنا مې نقش ونګار ته پاتې دے
پېغمبري ګل، بهار ته پاتې دے
قاصد یواځې دے، خط مې پرلاس نه لري
وهمي زړګیه، سنګار ته پاتې دے

د تا په لوری کښې زما ژړې دي
څوکه قوي مې د خیال وزرې دي
رسېدل تا ته، مفر د تا نه
ستړي خیالونه، خوشې خبرې دي

څه رنځوري ده او څه افلاس دے
قسمت به څه کړم چې ناسپاس دے
طاقت مې ختم د مدافعت شو
اوس نومیدي ده خوف وهراس دے

د حق سپرلیه ، دنیا باغونه کړه
تازه یې بېرته د زړهٔ داغونه کړه
نوے بهار دے راته مسکے شه
د زړهٔ داغونه ، یې چراغونه کړه

## مرشد ته

اے فخرِ علمه زړګے یې جمع کړه
ورکه لهٔ غبر یې ، پرېشانه طمع کړه
د زړهٔ محفل یې مخ روښے غواړي
پکښې روښانه د جبین شمع کړه

ما مستقبل او ماضي راجمع کړل
پرون صبا یې چې د نن شمع کړل
وختونه ټومره کهٔ یې نیاز تلل
لکه پتنګ یې د ځان په طمع کړل

ډېر چې د هجر کړمې د هلے یم
د اوړي ماشو بد بد خوړلے یم
چې وصال او شو ، د مینې شپې دي
زهٔ سړې لوږې ، تبې نیولے یم

ACKU

ارمان مې دود شو ، لاړلو خپور شو
سپرلے مې سيزي ، راته سور اور شو
څواني خزان شوه ، وښته مې سپين شول
دګل رخانو ، راته زړه تور شو

## دپير بابا په مزار

زړه که له وصفه ، لاله ښا غلے يم
ډېرو غمونو ، په زړه داغلے يم
نظر سپرلے ستا ، دبو نيں پيره
په اوچهدو يم ، درله راغلے يم

## دهديرې په غاړه

چې ديمکړې دنيا نه تېر شوې
لاړے له ځيلو ، ځيلوانو هېر شوې
اوس مو دقبر نښنا نې نشته
لکه چې نه وې دنشت پخېر شوې

چې تېر شي هېر شي ، چې هېر شي تېر شي
چې هېر شي تېر شي ، چې تېر شي هېر شي
چې زېر شي ګېر شي ، چې ګېر شي زېر شي
چې ګېر شي زېر شي ، چې زېر شي ګېر شي

# وجود

بې د وجود نه څهٔ نور ادراک نشته
کهٔ مخلوق او منې نو هم بې باک نشته
وجود ظاهر دے ، مخلوق باطن دے
بې لهٔ اوبو د حباب ادراک نشته

ځان ته غاور وو پهٔ فردیت کښې
چې راغلو باغ ته ، شو پهٔ خیریت کښې
ګل ته څرګند یې خپلې خامۍ شوې
چې ور داخل شو پهٔ جمعیت کښې

خاونده زنګ رانه د شک وسواس واخله
دا ځهٔ چې غبر دي ، دا انعکاس واخله
ما کړه خالص چې مولا ته اووایم
راشه اوس تهٔ مې پاس پهٔ نخاس واخله

بوړ تهٔ بهٔ مات شې د څرخ لهٔ سوزه
غوټه چې نهٔ کړې تښتې لهٔ غوزه
عامي پوهېږي بهٔ چاقوجا نه
چې پرې بهٔ نهٔ کړې د مرور پوزه

عامي یو شاعر - چاقوجان - د کامل صاحب یو مزاحیه تخلص

چې نهٔ ښکارېږي داچرته پټ دے
چې نهٔ يې مخ شته او نهٔ يې څټ دے
خبره داده چې شته خو نشته
خو معلومېږي چې چاته سمټ دے

چې په سجده دے که په قيام دے
چې په رکوع دے که په سلام دے
پوره که بېرته که راټوغ شوے
چې غوڅه نهٔ کړي جوړ په ارام دے

بيا درله راغلم د خرما ونې
چې دي بې ماتې د زړګي ستنې
ډېر ياران تللي د ګور په لور دي
ته لا ژوندۍ يې فردوس لمنې

کمپني باغ پېښور ۱۹ ستمبر ۱۹۵۳ء

د حق له تخمه شجر پيدا شو
تيرې بوټي نېږي، سحر پيدا شو
که هغه تخم، دا يې شجر شو
دا يو تفصيل وو، هغه اجمال شو

زهٔ کهٔ ژوندے یم لهٔ مړو بتریُم
دحوادثو نه ، کوروکړیُم
وېښتهٔ مې سپين کړل ، د ډېرو غمُونو
تور مې کمينږي ، اوس بې نظر یُم

کمپني باغ ۱۹ ستمبر سنهٔ ۱۹۵۳ء

ورځ د اقبال وه د اپرېل يو ويشت
شپږ پنځوس نولس ، هغه نجيم راغے
کم ئې کړو کم د اقبال حسين غم
سيماب وئيل چې احمد نعيم راغے

لواړګے ۲۱ اپرېل سنهٔ ۱۹۵۶ء

دا غږ دننه ، بهر دچا وُو
اِحساس دخبر ، خبر دچا وُو
غائب شو نظر ، نظر مې راغے
قربان ترې نظر ، نظر دچا وُو

زهٔ یُم ناتوانه ، غوښتنې ډېرې دي
نظر مې يو دے ، کتنې ډېرې دي
تهٔ پهٔ هر څهٔ کښې راته څرګند شه
زړګے مې يو دے ، بلنې ډېرې دي



ACKU

وي پائنده دي دا دخدائے دین دے
نن پیدا شوے یې نورالعین دے
میاشت دشوال ده ، ورځ یې لسمه
هاتف اواز کړه اختر حسنین دے

لواړگے ۷، اپریل سنه ۱۹۶۰ء

دیدن په ورځ شو اوس پاتې شپې شوې
ښکلي رااوتل ، ماتې پردې شوې
ننو ښکلیو که زلفې پرې کړې
ښه شوه شپې لنډې ورځې اوږدې شوې

## رومي

رومي جلال دے ، رومي جمال دے
جلال جمال چې ، یو شي کمال دے
د اضافاتو نسبت چې ورک شي
بیا انفصال شته ، نه اتصال دے

غازیان چې کله ، سر په تلي راشي
د مرگ استاذي ته ، په هر کلي راشي
څه خو سبب شته ، چې په جهان کښې
پس د تکبیر نه په خوله علي راشي

چارسده ۱۵، ستمبر سنه ۱۹۶۶ء

# ځوانانو ته

اے رہنماګانو د قام ژوندي اوسئ
داچې زلمي يئ ، داسې زلمي اوسئ
د قام دښمن ته د اور بڅري شئ
د قام د پاره اور اورکي اوسئ

د قام ځوانانو ، داسې ځوانان اوسئ
د قام ګلونو ، تازه خندان اوسئ
جذبات مو تُند او هم پښتني لرئ
ولے د زړهٔ نه ، مسلمانان اوسئ

د برندو سترګو ، کاته ئې سم شي
ورته چې سترګې د مئين نم شي
او به چې ګډې کړے شي په شرابو
کيف ئې سهوا شي چې زور ئې کم شي

بې عقلان چرې ، حق ته قرين نهٔ شو
دنيا ئې لاړه ، او هم ددين نهٔ شو
کهٔ تود څاروي لهٔ زړښته مړهٔ شول
خو حقيقت دا دے ، ويښتان ئې سپين نهٔ شو

ACKU

پۀ ائينه کښې ، غېر لۀ ځان ئې
لۀ خپله لاسه پرېشان حېران ئې
اې پۀ محو او نقطو کښې ګېره
هم تۀ زمان ئې ، هم تۀ مکان ئې

څو چې فعال وو ، هومره اوس شل دي
پښتانۀ ګورم ، څومره بدل دي
اوس ئې نو وېره لۀ پېغور څۀ ده
چې بن ئې ډېره برېښونه ګل دي

هيڅ نۀ پوهېږم چې بد کۀ ښۀ وايم
ما ته تراخۀ ښکاري څوکۀ خوږۀ وايم
ژبه مې شته خو ، ژبه مې نشته
ژبه مې چرته چې پښتو نۀ وايم

تۀ انګرېزي وائې کۀ تۀ بهاشا وائې
خوښه دې خپله ، هغه که دا وائې
خو چې رنځور شې نو پۀ پښتو کښې
وئې زما مورې او وئې بابا وائې



ACKU

د غیرتي مسلمان ، ژوندون دې هېر کړه
هغه غښتلے پښتون دې هېر کړه
نن دې چې ورک دے صبا دې چرته
وختونو هېر کړې چې پرون دې هېر کړه

چې وخت په وخت يې ، په زړه کښې تېرې دي
څه راته يادې ، څه رانه هېرې دي
له قامه جار کړه ، خپله ښېګړه
سرې دا يو دے ، خبرې ډېرې دي

مسلمان هغه دے چې داسې زړه لري
چې څه په زړه لري هغه په خوله لري
چې ايښې غوندې ، هر څه پکښې وي
چې بيا يې ګورې نو هيڅ به نه لري

له مسلمانه ، تختونه تلے نه شي
بختونه تلے نه شي ، تختونه تلے نه شي
که مخالف وي ګرځوان يې نيسه
ستا له ګرفته ، وختونه تلے نه شي

ACKU

## دخاطر افريدي په وفات

خيبر ژړيږي چې شاعر يې نشته دے
غزل يې چپ دے، ساحر يې نشته دے
دشاعرانو چې محفل سوړ دے
رامعلوميږي چې خاطر يې نشته دے

فتوې دکفر نه، هسې په ريپ شي
ساده پښتونه، په دوارو ټپ شي
اسلام خو خلقو ته ښودلے تا دے
کفر خو دادے چې لۀ قامه چپ شي

کۀ درته اووايم، چې مسلمان شه
قران رهبر دے، پسې روان شه
نو ته يې نۀ منې نو چل مې دا اوکۀ
چې درته اووايم، چې کلک افغان شه

پکار خو دادي چې دځان غم کوي
ځان دې هر کړے، دانسان غم کوي
څو چې پښتون نۀ شې انسان بۀ نۀ شې
هله انسان يې چې دافغان غم کوي

دانن صبا چې مېلمانه نشته
هوښياران وايي چې پښتانه نشته
مېلمه چې راشي ورته کور به وايي
لخه دې نيسه ، کوربانه نشته

څه شکايت به له پښتون ذات شي
چې دوه يو ځاى شي جوړ ترې بېلات شي
ملګرو پاسئ چې درنګ اونه کړئ
سپېلني راوړئ چې نظر ئې مات شي

دوئ به په نولس نه به په شل کښې وي
که په پردي کښې او که په خپل کښې وي
دا دبر تولي ګوره ، او پښتانه ګوره
يو چې په يو کښې وي، بل به په بل کښې وي

يو چې سم وايي، بل به کاږه وايي
يو چې نيزه وايي، بل به چاړه وايي
تربور که ښه لاس وي، پښتون ئې پرې کړي
يو که خواږه وايي، بل به ترخه وايي

پښتون که ساز وي نو په دې غل شي
وخت د سيالۍ کښې چې د غېرو مل شي
اپيل يې وکړئ ، قامي غېرت ته
دا مسئله که ، هم په دې حل شي

نه به سړے شي ، نه به انسان شي
نه په رښتيا به ، ته مسلمان شي
هم به هغه شي ، او هم به دا شي
خو ترې اول چې سوچه افغان شي

کوره هرڅيز ته چې بيل يې صورت دے
ځان ته يې ذات او ځان ته صفت دے
په يو او بل کښې ، کله شي فنا شي
ضامن د ژوند چې انفراديت دے

مرګ يې په بل يو ، تمام کښې ګډون دے
ژوندون يې د خپلې ويښې ساتون دے
چې پخپل ذات کښې زغملے شرک نه شي
جوړ په معنیٰ کښې ، خدائے هم پښتون دے

## یومغرورته

چې شمله زوړنده کړي ، لکه د دد ښکاري
تشه تمهید کښې منذریه بد ښکاري
لږ صبر وکړه د هر مجلس نه
فریب کوونکیه ، ته راته رد ښکاري

د چاپلوسۍ دې زړه خرخرې کړي
فریب دې ګوړه ، اسپې دې خرې کړي
په چیته پوزه هم ستا قسم دے
د پښتونوالې ، پوزه به پرې کړي

اهن که مُل د اوبو صفا شو
ځلا یې چرته ، زنګ یې سپوا شو
چې یې که اوکړو ، د حرمېنو
که پخوا مار وه ، اوس اژدها شو

په درناوي کښې خو لکه سپږه ښکاري
په وینو څښو کښې ، چالاکه وربږه ښکاري
زه اشاره کړم ، اوته یې اوپېژنه
په ټول مجلس کښې به یې شمله جګه ښکاري

چې اولجه او ډاکه ماران شي
چې خیانت کا ، او شوک ماران شي
چې واکداران شي پکښې داخلق
خدایه په امن دې تول افغانان شي

مغرور ته گوره ، نادر کاروسنه کا
منم چې باز دے ، اوهم ښکارونه کا
خو په څپل کور او په څپل ډېران کښې
دے په څرگوړیو، ښه گزارونه کا

ته په فریب کښې دلس نه شل یُ
لحظه کښې یو یُ ، لحظه کښې بل یُ
ښه شوه چې نه یُ ته په دې سیمه
ته چې په نوې کښې څلورسوه شل یُ

## نارنج

نارنجه څه وایم ، چې ته به څه لرې
درکښې مزوج دې چې بد او ښه لرې
خندا خندا کښې دې کل فریب کا
ظاهر دې خوږ دې ، باطن تراوه لرې

زهٔ دا دوه نښنې د پښتنو پېژنم
دا دوه صفته د مېړنو پېژنم
چې يو يې دين دے، بل قوميت دے
زهٔ يو اسلام او بله پښتو پېژنم

ښه مې خير کړې دنيا فاني ده
ورته راتګ دے، بيا رواني ده
دا خو پيرې ده چې راشي نهٔ درومي
چې ځي بيا نهٔ راځي، هغه ځواني ده

جګ چې مقام يې، له ثريا دے
کهٔ د بل چا وي، وايه د چا دے
چې پاک نبيؐ يې پهٔ حق کښې وائي
زهٔ لهٔ حسينه، حسين لهٔ ما دے

ثابتوونکي د اِلاّ الله دي
خبر لهٔ رمزه د لَا اِلٰـه دي
مظلومان نولس[19] د اهلِ بيتو
نولس[19] حرفونه هم د بسم الله دي

# د سیّد شاه محمّد تقي
# او سیّد شاه محمّد محسن په حقله

کهٔ محتاجان وي ، راشي غنیان شي
دلته مزاج يې د شاه جهان شي
چې د تقي او محسن اګره ده
سل تاج محله دې ترې قربان شي

اګره کرم ایجنسي ۳۰ مارچ ۱۹۲۸ء

# قطعات

---

درلاندې ناست یم دخرما وني
اے طوبیٰ ظلّے ، فردوس لمنې
غلام سرور دے او دویم زهٔ یُم
ستهٔ دتن يې راسپړي غنې

پرده درېږي شول داوښکو بارانونه
يې ګوهرهٔ شول لنړ ياري ارمانونه
اے زما دخوږې مينې خوږه اوره
وړې سېلاب دې صبرې دې سامانونه

زما پهٔ مخکښې زلفې پرانېزه سنګار اوکړه
سبل خو زما دجمع زړهٔ دانتشار اوکړه
نیت مې دیدن دغهو سترګوٌ ګذار اوکړه
سترګې دې اوخورم کهٔ مې نیت وي چې لږ وار اوکړه*

# شاعر

خراب نهٔ وي شعر ښهٔ د هر شاعر وي
کوربه يې دي مېلمه ته هر څهٔ چې حاضر وي
هر کلام يې ائينه د اضطرار وي
د افسون نه واقف نهٔ وي خو ساحر وي

سودائي وي په عالم د شهادت کښې
لکه نمر په معنوي جهان ظاهر وي
پرې باران وي د حکمت د مرغلرو
څهٔ ښکاره کاندي څه پټې کړي باصر وي

لهٔ نيازه بهٔ ګيله پوره په څهٔ کړې
پېش کشې کښې جوړې تهٔ جوړ بهٔ څهٔ کړې
ښکلې لاس دې د جوهر مقابل مهٔ شه
و اخله زهٔ پخپله مرم توره به څهٔ کړې

رخصتيږي غريو نيولي اميد و نه
کړو جنت دې د خيال بلا زما
انتها يې د نياز د ناز په رنګ شوه
ځکه تهٔ کړې جفا وفا زما

ACKU

اوبه ريبي هغه فصل څوک چې کوم تخم کري
په بدۍ کښې نيکي نشته کيدې نه ځيري زمري
يو صفت د ډنګر واخله چې درانه وي پرې وري
زړه سوري له رازه ډک وي شنه وابنه سا يې کوري
چې په خوبه په نياز نه وي تېر تر زهرو وي ستري
اے شنواريه بنه هغه دي
چې کوم ځائے خوري هلته مري

چې هر څوک د پنجتن نه لري ياري
مرګ د روح لره يې داده بيماري
د کور خلق برابر د پردو نه دي
زه اول يم پنجتني بيا چار ياري

ستا په شان هزار هزار د ګل کلي شته
که دې سيال په باغ کښې نه وي نو بدلي شته
که وي تا ته نظر او ربګوونکے
ما ته هم اسويلي طوفان سيلي شته
په بنا ئست او لطافت چې غره نه شې
په صحرا زما د خيال کښې ګل دلي شته

کهٔ یو ثو ورځې د بل وطن فقیر شې
دا یقین لره چې پسته بهٔ امیر شې
یو فردوس د خوشحالۍ دې منتظر دے
خو پهٔ اور کښې د عمل چې لبن نهیس شې

د دنیا تېښتن ته یم پهٔ فکر تللے
ورله څهٔ کاهدي راځي او څهٔ ترې ځي
یو ساعت ئې دروي چې سودا واخلي
خلق داسې شي پرې خوښ چې نهٔ ترې ځي

دهلي سنهٔ ۱۹۳۱ء

د ادب او انکسار پهٔ غرونډو
ئم ترې پاتې زهٔ لهٔ خندېدو
ما کهٔ ځان لیدے خپل قدر بهٔ مې اوکړو
ائینه یم پهٔ بازار کښې د ړندو

محشر نه دي زما د ذرهٔ خانه کښې
لکه پټ چې ګلستان وي پهٔ دانه کښې
چې پهٔ سترګو د وحدت ئې ګورم نشته
هر څهٔ وي خونهٔ وي هیڅ پهٔ ائینه کښې

ACKU

# ژوند

غوره قدرت کړلو جلوت لره ژوند
بویه د مرګ هسې خلوت لره ژوند
حیف چې د ژوند دپاره ژوند غواړمه
نهٔ چې توښې د اخرت لره ژوند
ژوند دے عمل، او عمل ژوند لره دے
نهٔ چې پیدا شو حکایت لره ژوند
د سیند چپه د سیند پهٔ ژوند اوګوره
بویه ژوندون تر، نهٔ هجرت لره ژوند
پهٔ خپل وجود کښې هیڅ هُنر نهٔ لري
دے پیدا شوے کرامت لره ژوند
دے فنا شوے، یو بچے د بقا
پهٔ فنا بیا حُسینؑ امت لره ژوند
زړهٔ د فنا دے چې د رزیږي پرې تل
دے پیدا شوے حکومت لره ژوند

(چې د غرهٔ پهٔ سر کښې نوم تر ماغزهٔ نشته)
چې د غرو تـه ورځې سربهٔ دې مات شي
زور او سره پهٔ پنجه چې ورنـهٔ شي
یو وزریه، د پلار کوربه دې میراث شي

ماشوم پوې نهٔ وي پهٔ اوړي اوپړمني
د ديجان پهٔ ځائے پهٔ سترګو بهٔ دي ښلني
خوږ ځښلو ته تيار دي خبر نهٔ وي
چې اوبهٔ دي دچوښي اوکهٔ لوښني

داغ دې مهٔ شه بدنامۍ په چل تندي
چې وعده اوکړي نکاځ پرې سربندي
هم پهٔ دې دے د انسان او حيوان فرق
يو پهٔ ژبه، د بل تړ پهٔ غړوندي

د وروستيني پهر پېړ کيف کښې دامستي ده دچا
دچرګ پهٔ بانګ کښې دا بدله الستي ده دچا
دشپې په زړهٔ کښې دا جلال دچا جمال کړو پيدا
مخ دسحر ډک له خندا پکښې مستي ده دچا

چې مادي علت دې تا دے لهٔ مني
هسې تل ولې عمل کړې پهٔ مني
تول ديو آدم اولاد دے فکر بويه
د راني دے او کړ ځوک سره بني

دکن لیچ پهٔ ژبه چرته سمېدهٔ
د زیادت لمهٔ نهٔ گوري کمېدهٔ
کهٔ کاتهٔ دي کهٔ وایه د مرګ پېغام دے
دا د ژوند لکه د بوټي دي رمېدهٔ

زهٔ رقیب پهٔ ښو خبرو تېر وېستلم
پهٔ خوږ و کښې شي د زهرو ګډېدهٔ
کهٔ دا ر وغواړې اکسیر هغه تشخیص دے
چې دا اوشي د مرض وي رغېدهٔ

زمونږ زړهٔ جُدا جُدا وهٔ مونږ جدا وو
یو ځائے قلب وو د عربو متحد شول
پهٔ ظاهر خو لا تراوسه جدا ښکاري
حقه دا ده چې تفریق کښې هم واحد شول

## علم

علم څهٔ دے ، د حواسو لغزېدل
لا د ورځې لا حاصله کرځېدل
یا تلاش چې کړي پهٔ شپه خوري تیندکونه
جهل څهٔ دے ، د حواسو لرځېدل

زهٔ يو نم يُم چې د ځان لهٔ نمه نم يُم
زهٔ يو پم يُم چې د ځان لهٔ پمه پم يُم
خوښ هغه به شي چې ډېر په وير په وير شي
زهٔ چې پويه وير پهٔ وير نهٔ يم نو غم يُم
کهٔ بدن مي شو بدن پسته ئ بويه
ګنې زهٔ بدن د ځان کهٔ يُم نو هم يُم

پهٔ خاموش جهان د زړهٔ کښې ئ ګړ شور کړه
دا نوډلن زما د عشق، لمبه جن اور کړه
چې سپرلي پېغمبري ګلونه راوړل
بڼيوې نوې کړه پېدا خالونه نور کړه

شته پهٔ کېړه کښې د کال
هم سپرلے هم پشه کال
پهٔ عمل کښې موندهٔ کېږي
هم ثواب او هم وبال
پهٔ انسان کښې خالق ايښي
بد رنګي او هم جمال
ځکه زهٔ پهٔ مزدورۍ کښې
هم خفه يم هم خوشحال

ACKU

په کونجکه نه ارزیږي فریادونه
زهٔ کامل شوم نو ورک نهٔ شي زهٔ چاودونه
هیڅ حاصل نهٔ کړي په دَو دَو کښې بادونه
بس نو داچې سروهل دوړې بادونه

د رقیب په ښو خبرو غلط مهٔ شه
زهر تل لړلي کېږي په خوانړهٔ
که بد خویه وي، تهٔ هم په هغه شان شه
کږو تُورو ته پکار تیکي کانړهٔ

تمدن کښې یو په بل شته بلوسېدهٔ
دهر خَین ردِ عمل شي رسېدهٔ
لا حاصله بلوسېدهٔ پرېږده شنواریه
که دې خوښ وي په نړۍ کښې اوسېدهٔ

چې ملګري ترینه وړاندې وي خپارهٔ
مشي ګیر چې مخکښې راشي ځلیارهٔ
که وي ویره نو منزل په ډاګه ښهٔ وي
فکر مهٔ کړه د اوږدهٔ او د سارهٔ

چې وي نیک دیو نه ډېر دوه دوښمنا بنهٔ دي
کهٔ یو وېني کهٔ دوه وي چشمان بنهٔ دي
چې خلاف لهٔ شرعې نهٔ وي رواج بنهٔ دے
یوه لار چې ښائي دوه رهبران بنهٔ دي

څوک چې نهٔ وي اموخته دشرک و ذنب
ویره نهٔ کړي دببر زمري لهٔ غرمب
زړهٔ چې اونهٔ چوي دچا، همت پکښې وي
دشکست ویره يې نشته دے لهٔ بمب

پهٔ میدان دېې کوردې کښې ورشه کور کړه
دزړهٔ سترګې دې دېې نشان پهٔ لور کړه
کهٔ همّت دشهادت درڅخه نهٔ وي
اے شنواریه دمنصور ځنې يې پور کړه

دبهـا پهٔ کاسیره ، کهٔ وي امیره
خدائے دې نهٔ کړي محبوبه دچا کاسیره
کهٔ ازاده لکه سروِ دچمن وي
دبدي پهٔ زولنو کښې وي اسیره

د سپرلي لمدې لمدې بې هوشه شپې
مستې مستې دي له ډېره جوشه شپې
رنګيني په مخ د ښغلو پلوشو ده
اې ساقي په داسې وخت بې نوشه شپې

خزان تېر شو اوس نې ويره شي له دام
بيا بلبله باغ کښې ويښ په خرام
سترګې سترګې ې ديدن ته دي ګلونه
د هوا نه کوي تو لو ته سلام

څه په ګرانه وه راغلې اسان لاړ
اخر لاړو شهلا سترګي جانان لاړ
په خنده د دوړ سحر مې له بستره
ويښ د شپې لکه د سروې روان لاړ

چې زما په حق ديار شوه وفا بده
اوس په کومه خوله به وايم حنا بده
زه خوږ من د مينې پندمه کړه واعظه
په بېمنو سترګو ښکې دنيا بده

زړهٔ مې بې څهٔ دے خفه، رضا کوُمه
او کهٔ شپه د بېلتانهٔ صبا کوُمه
بے نیازي د ښائستو سره ښائي
مرور تللے ارمان پخلا کوُمه

د زړهٔ کب مې دې بې جاله ګرفتار کړ
چې پهٔ دنه کښې د وفا دې راحصار کړ
خپل وطن دې ورته ډک کړلو د زهرو
پرې ګهنلیُس دې د غمزو چې ورګزار کړ

زهٔ چې ستا پهٔ مستۍ مست یم مستي داده
او چې ستا پهٔ هستۍ هست یم هستي داده
تهٔ چې ټومره اوچت بنهٔ ې زهٔ ټیټ بنهٔ یم
چې رفعت تر بنه حاصل وي پستي داده

چې پېښې د شریفانو کاندي ډېر شول
ولې کله ذیلان د دوئ پخېر شول
مېرمن توب وینځې شروع کړو ځان تړي ورک شو
چې کاغې د زرکې تلهٔ کړه خپل ئې هېر شول

---

[1] یو زهریلا بوټے

نهٔ دولت دے نهٔ خوراک دے نهٔ جامه ده
دا خواهش دے چې انسان ترې سرګردان دے
یو قانع بې وُو پوښتلے په دې حقله
وې دا دومره مشکل دے چې اسان دے

دګوېوان د خیرو لواوبه بې نهٔ څي
زهٔ اودهٔ یم لیونتوب نهٔ اودهٔ کیږي
کهٔ اودې دې ښکاري یم پرانستې سترګې
د محشر پکښې اشوب نهٔ اودهٔ کیږي
مینې واخستې قبول شوې غافله
څوک په وخت دناوې توب نهٔ اودهٔ کیږي

اوس زما بهٔ تصوّر درځي کهٔ نه
تا بهٔ نوې میاشت زما پهٔ مخ لیده
چې تهٔ نهٔ یې میاشت بې ترې بې کتو کړه
بې لهٔ تا بهٔ بې د چا پهٔ مخ لیده

ملائک هم شول غلط پهٔ دې خبره
چې ګناه پهٔ سرې توب ده زور اوره
ابلیسي اوخکلې توره ده خوځه کا
چې اغوستې ده ادم د توحید زغره

کهٔ پهٔ مزکو مزکې جوړې شوې پټ نهٔ شو
پرې تراوسه دجهد دنیلي سُم شته
بې پروا چې له حاصل او نتیجې وي
اوس چې دواړه ترې څرګند شول هغه هم شته
د مړ روح د ژوند طلب دې پاتې نهٔ دے
کمې شته مسیحا هم نعره د قُم شته

بے کارانو ته څهٔ ښائي ملاستنې
دومره کار کړي چې تیټ ګوري مزکه کښې
پهٔ سرو کښې کهٔ ځان شمیري هسې بد کړي
برابر دي د شودو سره لوښنې

ښهٔ او بد دي څنګ پهٔ څنګ سره راغلي
پهٔ ضمیر کښې د فطرت چې دي اېښکلي
پهٔ تیارهٔ او پهٔ رڼا کښې شپه او ورځ وي
مرګ او ژواک دي یو تر بل سره تړلي

ځان دې وژغوره دکوندې لهٔ هوسه
چې د غبربهٔ لري خیال تر چلهٔ وسه
اے منکریه ترې پهٔ څنګ شه داخوځکه
چې پهٔ یو کټ کښې ښهٔ نهٔ ښکاري درې کسه

۲۵۷۲

چې احساس په هر انسان کښې د قبول دے
بس تکمیل د سړي توب ته دا اصول دے
د فطرت په لاره تلل انسانیت دے
د شهوت په لمسه تلل د نړونو نُول دے

ګناه څه ده لغزېدل د سړي توب
نیکي څه ده ، د فطرت په غېږ کښې خوب
عقل څه دے؟ یوه رڼا ده لړزېدونکې
مینه څه ده ؟ د رسېدلو لیونتوب

ځان ته پوره وسل کوشش د پوهېدو دے
ښه پوهېږمه په دې چې نه پوهېږم
زه لینده یمه د عقل غشي اُویشم
ولې بیا هم یم کږه که راسمېږم

اولې لښتخه اوکه نه د فکر غشي
ولې ژړند د ارادې ده چې راښکله شي
عقل سر د نیاز ښکته کړي چې کار کا
چې لینده ګزار ته جوړه شي کږه شي

ACKU

نشته شک چې بې کاري او کار خوبو دي
ولې کار چې بې مقصد وي بې کاري شي
بېداري او خوب څهٔ دوه څیزونه نهٔ دي
خو چې خوب لره خوب ورشي بېداري شي

حمزه خبر دے کهٔ نن قدر زما نشته
ولې او نهٔ وائي داچې صبا نشته
کومه شپه چې پهٔ بازار کښې شمعې نهٔ وي
خلق وائي چې نن ولې رڼا نشته

کهٔ د اوښي حقیقت غواړې دانه ده
او دانه بیا د تخمونو خزانه ده
پهٔ ذره کښې شته دے راز د کائناتو
نهٔ هغه شته دے نهٔ داشته، بهانه ده

رنګ ترې نه دروي کهٔ ګل وي بے دماغه
بوئي ساکن شي چې مشام ته اورسي
روح د عشق د قدمي تنور دے پهٔ برخه
هسې نهٔ ده چې بهٔ عام ته اورسي

ACKU

چې د عقل ناکامي شي درمعلومه
سړے هله خبردار شي ليونے شي
په مجلس کښې د ګوګل چې اور د عشق وي
هر يو څيز پکښې بې ياره سپېلنے شي

تر ډېر حده دې طالب يمه دلبرې
چې د وېرې نه رمال پوښتلے نهٔ شم
ورسره د وهم کچه هم وه په زنه
چرته لاړو زهٔ دې خال پوښتلے نهٔ شم

ژوندے پاتې په ترياقو د مذهب شي
يو د روح دپاره روګ دے روګ بهٔ وي
پکښې پاتې چې شربت د نيکمه نهٔ شي
دا بې خوندهٔ ګڼے پوک دے، پوک بهٔ وي
خزانې پکښې پرتې دي خبر نهٔ دے
بې خبر ته څهٔ؟ کهٔ خوږ دے خوږ بهٔ وي
د مرګ سوړه ده چې ول ترينه اوباسي
ګيني مار د نفس نو کوږ دے کوږ بهٔ وي

***

ACKU

بے خودي کۀ د خدا د پاره غواړې
ژوند د تن به د بقا د پاره غواړې
د خودۍ په ورکولو کښې سود نشته
ته چي ورک شې خدائے د چا د پاره غواړې

# تیلۍ

تعلق د حقیقت او مجاز څۀ دے؟
دین دنیا چې سره یو شول ودان کور شو
عشق او عقل یو تر بل غوټه پلو شول
په معنیٰ کښې اخرت د دنیا ورور شو
یو د بل په پښو سر او رنها شوه
سر کوزې چې تیلې او کړه پېدا اور شو
لړګے بې لۀ اوره ، اور بې لرګي چرته
چې دوه لاسه یو شو نو د عمل څپور شو
جدائي او ځان ځاني څۀ ده ، خواري ده
چې خواره واره را یو شو پېدا زور شو
عشق او عقل چې یو ځائے نۀ وي تیاره ده
چې د اور لمبه شوه ختمه تیلے تور شو

# حرکت

(۱)

ځېل صفت که د مادې وي حرکت
بې اېلې به ظاهر نه شي دا صفت
حرکت چې شو اېلې وته محتاجه
ګویا دے وے له جمود ه عبارت
حرکت له حرکته صادرېږي
یو علت د بل شي ، بل د بل عِلّت
په اجزاو د مادې کښې جمود پروت دے
بیا په کُل کښې د مادې شو حقیقت
دا اثر د محرک دے چې څه کېږي
قدوسي عقل شو پوهٔ په دے حکمت
حرکت د حیواناتو په یو رنګ دے
مختلفې دي اېلې د حرکت

(۲)

په مخلوق کښې دے نمود له حرکته
حرکت ګویا چینه ده د حیوان
په کالبوت د ارتقاء کښې ژوند دده نه
د رفعت خواهش په روح کښې د انسان
په فطرت کښې اضطراب د نکهتونو
د عادت په رنګینو کښې د رنګونو

داسې څپود دے لکه روح په کائنات کښې
چرته پروت دے چرته ناست چرته روان
چرته دے، چرته الٰی ورته محتاجه
چرته دے بې لاسو پښو چرته جولان
لګېدل د اور خوبې لهٔ اوره نهٔ وي
په جمادو کښې ظاهر شي لهٔ حیوان
هغه تل دبل په لاس کښې به اله وي
د الٰی د حرکت چې شي فقدان

خپل حاجت کهٔ کړې پوره لهٔ خپله ځانه
پسته پوځې په دې رازښې چې غم نشته
لکه غنې دې کوږ بوړکړه دخپل تن نه
ګرفتار دې ښکار په جال کښې څهٔ کم نشته

سترې ژوند دې شو اودهٔ د مرګ په غېږ کښې
د بفش په کال زما خوارې دغسې وې
شپه د قدر وه او هم د جمعې وه
په اسمان کښې وې وریځې ګورې ګورې
چې ګلزار د ملکوت ته شوې روانه
اے زما د زړهٔ د کور د جنت حورې

د رقیب خبرې مهٔ نغوږه اشنا
او رېدې شي غوږ دروغ او هم رښتیا
راشه وایه ږې په مخ صفا صفا
ائینه ښودنه نهٔ کړي شا په شا

بیا څهٔ ډېره موده پس دخرما وږی
درله راغلم چې راوړې ږې یو داغ دے
د مرګي خزان ږې کوږ کړو ږې بهاره
تهٔ خوښهٔ ږې چې په برخه دې لا باغ دے

کمپني باغ پېښور ۸، نومبر سنه ۱۹۴۲ء

لهٔ ژړا او زګارې نهٔ شوې مړاوې سترګې
بوږ مسیح ورته ورکړي دي کجل
پهٔ څیرلې شکسته بد و منځ مېن دے
چې کړي زړونه پرېشان، هغه وربل
دا ابدارو شونډو جل به څهٔ پکار شي
چې ورک نهٔ کړي دمېن د فراق جل
خشک او ترم جوړ کړي ساز د طبیعت نه
چې ږې چیغې شي د اوښکو سره مل

کهٔ پهٔ وینه د کوشش دې شاګرد پوهٔ شي
فخر بویه چې پهٔ بنو نوېونو لوې شي
د کوشش نوله بهٔ ستا بې ځایه نهٔ ځي
تویٔ نهٔ دي کهٔ غوړي پهٔ وریژو تویٔ شي

ټوله شپه چې درته زهٔ پهٔ انتظار یم
ګوره څرنګه غافل یم کهٔ بېدار یم
شرابي سترګې دې واړوه زمانه
اوشوه بس دے بېهوه کړه توبه ګار یم

حکمراني ده ستا د قام د ایښي جوهر
اوس دې چې زنګ پهٔ بدو چارو کړه حیران پهٔ څرېٔ
چې بُت پرست ته دې امصا ورکړه نو ګونګ یٔ کهٔ کوڼ
تهٔ چې پهٔ غنو لېسې روان یٔ مسلمان پهٔ څهٔ یٔ

زړهٔ زما غواړي ژوندون د چا د پاره
ما قبول کړو دا جنون د چا د پاره
پهٔ افق د زړهٔ مې څوک دے مسکے شوے
غریو مې سرکړو پهٔ زنګون د چا د پاره

ACKU

که ذره د راز خبره ورته اوکړي
خوله خولې به ئې ظاهره لکه غر شي
د یو څاڅکي مثال اوګوره د ښځې
لوئے بدن شي ترینه جوړ او را بهر شي

خاموشي ئې ډېره ښه ده مبارک شه
خو چې وائې هسې نه چې بد زبان شي
بند چې موتے وي ترې طمع د کرم شي
څه پکار دي چې تش تور وي چې عیان شي

دولت منه، پښه وخته بندګي کړه
که دې اوګي جامو ته پېوندونه
لکه مېخ چې ټک واهه شي نه خمیږي
ګوتې تن لره پکار دي په بندونه

د ذرې سترګو یې کلکې نورې پېدا کړې
د چا سترګې یې شوې حیر په لور د ذرې؟
ستا په سترګو کښې دا سرې خمارې لیکې
دا په تا باندې یې پورې، پور د ذرې

روژه

همت تل تر تله ځوان ساته مسلمه
په هر حال کښې نوے حال پیدا کوه
حوصله ورکړه ایثار وته په عقد
د هر خال نه ئې مثال پیدا کوه
د عادت مېلمه نهر هم ساته کله
چې کور به نهٔ شي دا خیال پیدا کوه
په کوشش ئې که ته نهٔ شې بدلولے
خو تقدیر ته احتمال پیدا کوه
چې تر حشره ستا کارونه نهٔ ختمیږي
ابتدا د هر دنبال پیدا کوه
د رنګینې ابتدا فریب او نهٔ خوری
اندېښنه ئې د مآل پیدا کوه
په انسان حیوانیت ولې غالب شي
د چېل نفس سره قتال پیدا کوه
مَلَکي وصفونه ستا چې ناقص نهٔ شي
له روژې ئې استکمال پیدا کوه
چې روژه شته نو صحت د روح او تن شته
د فاقې ورته قیفال پیدا کوه
سرخ روئ دي په تعمیر کښې د جهان ده
نوې وینه کال په کال پیدا کوه

پسرلے شو د وطن په بیابان کښې
یو گلشن د ازادۍ ښکاري چشمان کښې
زۀ خو داګنړم چې ژوند بې فردوسي شو
دا وړومبے اختر زمانۀ پاکستان کښې

ستا به نفس شي اے سالکه هله صاف
نفس او هم لۀ طبیعته کړه خلاف
طبیعت خو یو حیوان دے حیواني کړي
همېشه لۀ خپله عېشه کړي طواف

د صفۍ په مخ راځمه کله کله
ګڼې اوس راته بلا دغه رغزي دي
د جمرود د دشت کرکنو بهار راغے
په قسمت کښې د حمزه خو تل اغزي دي

چې بنده د رب غلام د نبيؐ نۀ شوې
لۀ غلامه لا بترې کۀ ازاد ې
تعین د وطن شرک دے پۀ اسلام کښې
هر وطن دے ستا وطن چې پرې اباد ې

داسې داسې د ماغونه دي راتلونکي
چې کۀ ما ته اوکړې خيال زۀ ئ تمهيد يَم
پرورش ته بۀ يې هله باغوان خوښ شي
چې راشين شم، اوس لۀ غمه ناپديد يَم

عادت مات کړه د خپل نفس دې قومات کړه
پۀ خپل لاس د خپل عمل دې شامت مات کړه
چې فارغ شې د عادت لۀ ماتولو
بيا عادت د ماتولو عادت مات کړه

سن عيسوي اووۀ څلوېښت تاريخ لسم وو
اووه مياشت د جنورۍ چهارشنبه
چې وادۀ يې د مراد د پاره اوکړو
ديو لوئ بار نه يې سپکه شوه اوږده

تل ئ مله لۀ شخصيته بې مکرتيا وي
پۀ هغه کښې چې جذبه د انتقام ده
د بنۀ بنت ديوه خو هر چا تخم نشته
د فطرت رنها کۀ غور اوکړې عام ده

# د علامه اقبال په تصویر

تخیل یې د خودۍ ځلونه سپرده
رنګینو یې زیاتوه د مخ جمال
زما فکر په ورشو د حکمتونو
راپیدا کړې ښکلې سترګې د غزال
کم فهمي یې د خودۍ پېښو لاهو کړه
حال د سینه او حباب اووې انفعال
د فطرت جمال یې پورته یو حجاب کړ
ښه یې اولیده جلوه د ذُل جلال
زما سترګو د سرحد د نظرې نه
لیدل اوکړه تر اوسه تر دنبال
زه حیران وُم چې دا زه د څه نه څه شوم
د ناقص په یو لحظه کښې دا کمال؟
د خاکي قدم په عرش د سترګو رپ کښې
کمندونه غورځول په ذوالجلال؟
په فلک د معاني کښې پرواز هسې
هسې زغاښت یې په عالم کښې د مثال؟

معجزه که وي نو بې له دې به څه وي
کرامت که وي نو بې له دې محال
په دې ذکر کښې ؤم ناست په یو هوتل کښې
ما کوه له خپله ځانه هسې سوال
انتقال د معانی وه زما لور ته
که کاته مې مخامخ له یو دیوال
هله پوهه شوم چې فکر مې راغونډ کړ
یو تصویر وو په دیوال کښې د اقبال

## قائداعظم ته

که هر څو ته د خپل تن پاتې ئې سورے
خو ستا سورے د هُما په مسلمان دے
ذلمو جار له پاکستان کړه خپل سرونه
خو قربان د ستا له سره پاکستان دے

دا خو ستا د ننګ اثر وو اے قائده
چې خیبر زما په غږ په نهرو راغے
جوړ ورو ستی رسلګی مې د غه ریفرنډم دے
اوس مر کے په اقتدار د هندو راغے

## د اقبال حسین ولادت

ماضي ته مې په حال پسې جواب لیږلے دے
راځه بشکلے د حال نه مې تعبیر وتلے دے
ګلشن د تمنا دې شو ، هاتف وائي حمزه
نن سبز مبارک اقبال حسین راغلے دے

زړه مطمئن کړې د صفاتو مینه ، ذات وې پکښې
د ذات په مینه منتشر شي زړه ، صفات وې پکښې
زړه هغه دے چې بدي هم حسنات وې پکښې
جهان هغه دے چې کعبه هم سومنات وې پکښې

سن نحوس وو داګست وو څوارلسم
چې پېدا مې شوه په کور کښې جیبه
یو نحوس کښې د اپرېل په نهلسم بیا
بل جهان وته رخصت شوه نجیبه

سپرلي په دې پرېشا دنیا کړه کړوکړوا ځېرې
ښکن چې ماکتل ورته ، یو ګل وو په خندا وو
ما وې چې یار به چرې زمانه شي خو زما شو
تعبیر یې شو دروغ کړم څوخوب زما رښتیا وو

ډېر کله لوږې وي چې پرېشان شي هغه اوړ شي
جمعیت یې تل ژوندی ساتي که زوړ شي
مساوات د بېړ زوېنې چې جوړ نه کا
مساوات به د شکم څرنګه جوړ شي

زړه د ژوند د ارتقاء په دې درزېږي
هر هغه چې د خوراک وي هغه خوړ شي
خوشحالي د اعتدال یې خوښه نه ده
د انسان دی، کله توږ او کله سوړ شي

## خپل شېنځته

چې پخوا به څنګه تا را اړولې
هغه ستړې بې نوا را واړه
چې سکون یې زما ورې ابوالوقته
هغه تېر وختونه بیا را واړوه

قرب او بعد د واړه تا ته برابر دي
مطمئن که زړه په دې شي زما شېنځ دی
فخر علم فن چې ته مخامخ نه یې
یو محور د ارمانونو یې ستا مخ دی

ACKU

## زما فطرت

کله ګورم چې فطرت زما کنجوس دے
نامکمن دے ترې حصول سیاهي پوس دے
کله پاتې شي تک تور د معاني نه
کله کله د اسرارو جوړ قاموس دے

## خوشحال بابا

ولې به زهٔ دومره دماغ نهٔ کوم
نن د سرحد دماغ، دماغ دے زما
چې ما پښتون ته وو مغل راکړے
نن هغه داغ د زړهٔ، چراغ دے زما
چې معلّم وُو د ملّت د خودۍ
هغه باغي اوس د زړهٔ باغ دے زما
وائي که حلق مې شي د تندې نه اوچ
زړهٔ د کوثر نه هم فراغ دے زما
مات ئې کړ خوم د استعمار د مغل
د اتغیل د قام ایاغ دے زما
برقونه هم پهٔ ما ګلان وروي
نوے سپرلے پهٔ باغ وراغ دے زما
د ازادۍ سترګې ځلاندې شوې
جوړ نګولے ئې سراغ دے زما

مهري حکیم خان خټک ۸ مارچ سنه ۱۹۵۳ء

# حاکم شاه باصر

## زما یو شاګرد

چې پخپله ئې یو شے په نصیب نه وي
جوړ پخپله معلومیږي خپل نصیب وه
چې خوبونه ئې ډیوې دشبستان وُو
یوه ستړې غزونې دغریب وه
چې ژړا ئې هم لړلې په خندا وه
د سخن په باغ کښې هغه عندلیب وه

غونځیدلي سپرلي پټ شول پکښې پاتې
کښې ډک له سخن زړے وه باصر
څنګه زر ورته خوب ورغلو اوده شو
دبقا له جنګه ستړے وو باصر

ارمانونه دې مسکي نه شول په زړه کښې
ناپرانستي ریدي پټ داغونه یوړل
ترخه هم دې زرغونه په قبر نه شوه
تا دځان سره رنګین خیالونه یوړل

# داقبال حسین ثاني ولادت

چې راغلې يې په خوب کښې بشارت وو
هغه لاړ خوګوړه داکه نور عين وي
سن عيسوي د نولس سو دوه پنځوس پرې
يو ويشتم دې داګست د خوښۍ زين وي
هم هغه نامه پرې بده مه توکل دے
ګوندې دا هغه موعود اقبال حسین وي

لوار کے ۲۱ اګست ۱۹۵۲ء

نن بحرين ته او مدين ته په موټر کښې
لاړو، داورې ورېدې بده يخنې وه
بيا په پېښور کلي په مټه واپس راغلو
پېښ زوينه مو په تنګ کښې د والي وه

داسې ښکلي سړکونه وو جوړ شوي
تا به وې چې د لوئ ښهر ابادي وه
په هر ځائ کښې مدرسې هسپتالونه
په ښېرو کښې يې د خلقو خوشحالي وه
يو اختر او بل صابر او بل ساقي وو
دوه دو نور اخبار نويس څه ملګيري وه
صوبه دار امير ګل خان زمونږ رهبر وو
ميسره چې ترې مونږ ته اساني وه

ما پهٔ خوم د شیطنت کښې زنګوي
بیا شمشیر راته لهٔ ورایه د ښنګوي
زهٔ چې کړم مدح خواني د اهلِ بېتو
یو ټکو ړے د مروان مې ترنګوي

لهٔ ناڅې کهٔ ئې عالم په خوئ اُمّي ئې
تهٔ ناپوهه چې پهٔ قدر د سړي ئې
چې محب د اهلِ بېتو درنه ترنګ دے
معلومېږي سیّد نه ئې یزیدي ئې

سیّد نهٔ دے چې ئې صافه سینه نهٔ وي
پهٔ سیّد کښې حسد بغض کینه نهٔ وي
چې پهٔ یو لپه کښې ډوب شي څهٔ ئې ظرف دے
پهٔ یو ګوټ چې خالي کېږي چینه نهٔ وي

ځنګه ن پهٔ هر انسان دے دا دنیا
کهٔ برزخ د بل جهان دے دا دنیا
یو عادت پرې مسلط وي خدائے ئې هېر وي
مسلمان لره زندان دے دا دنیا

سېدو شریف ۲۵ مارچ ۱۹۵۳ء

کړه بېګاه مې مېنګوره کښې شپه تېره
وو قسمت مې په دې اب او په دانه کښې
د غريبو په جونګړه کښې تازه وُم
مرغېړن يم په شاهي مهمان خانه کښې

سېدو شريف ۲۰ مارچ سنه ۱۹۵۳ء

ستا د پاره سر تر پايه همه جيب يم
دنيا زهٔ دې دانسته ښکار د فرېب يُم
څوکهٔ ستا خواهش مې نشته دا رښتيا دي
څو دروغ دي چې مېلمه د جهان زېب يُم

سېدو شريف ۲۶ مارچ سنه ۱۹۵۳ء

منتظم چې د شاهي مهمان خانې دے
په خپل کار کښې دے يو کلک غرلے پړے
د کشمير په جنګ کښې څوکهٔ دے ګوډ شوے
امير ګل صوبه دار نهٔ شو په کار ستړے

اے حُسنه درله ښائي په شوخئ کښې سادګي
کامل شو چې کوم نقش په انځور اوکړېده
همهٔ څهٔ پوښتې به مې د نهٔ زړهٔ له اقرار
بيا هم لکه انکار دے چې پرې زور اوکړېده

## يو دوست ته

تهٔ دې مِلّت لره نسيم اوسې تل
مونږ دې تازه لګه ګلان يو پهٔ ستا
ګرانې اسانې دې کاندې شه درته
خود بهٔ اسانې وي چې ګران يو پهٔ تا
ستا د الطافو خو مرهون يُمه زهٔ
هم لهٔ اکرامو دې ممنون يُمه زهٔ

ضبطه چې اوښکې درنه لاړې نهٔ شي
خوند د اِخفا د ارتينو نشته
حمزه خېل کور درته پردے ښکارې
وخت د ليمو د غړيدو نشته
حمزه مِلّت کښې دې ځوانې اوشينده
لا ورځې شپې د زړيدو نشته

ګرد د کاروان دې وم کهٔ څپور شومه زهٔ
پهٔ ښکلې پل دې ورنسکور شومه زهٔ
بوړې احساس مې نن دځان کړے دے
څېلې هستۍ ته چې پېغور شومه زهٔ

ما وې کله بیا مړ مې کړې اشنا مې دے
...... بېرته مسیحا څه

پرېږده چې محفل مې د اشنا شي ګرم
اے رقیبه نن دې په وېنا څه

ډېرې رسوائۍ کړم د چرت ګوته
ګوره چې اوس خولې ته د اشنا څه

ما په زړه چاودون چې چمن ستا اوموند
ګل غونډې اوس نود ترې په خندا څه

۲ اپریل سنه ۱۹۵۳ء

ظلمتونه چې د حال زما په زغل دي
د ماضي مې هم اکر بکر بدل دي
نن زما په کورکښې بل دے که ئې ګورې
چراغونه چې د قام د مستقبل دي

نوي کول د پاره لاس جوړول غواړي
سلیّت سره مذهب ګډول غواړي
کروندګر د اور پکار ده ادیبانو
ولې څه اور اورکې هم کړل غواړي

له اصل کښې دا مصرعه نیمګړے ده

څه که پاس لکه لوګی زه په سما یم
بې ښکالو روان په لوري د فنا یم
ستا د ژوند شمع دې خدائے لري روښانه
خبر دې زه که په تیرو کښې بې نوا یم

د رنګینو نه فضا لېونۍ
د خوشبوئ نه شوا هوا لېونۍ
زما نیاز دې سودائې غونډې کړو
ستا چې دا هسې شوه ادا لېونۍ

## امیر کروړ

د پښتون د جلالت نه جمال څڅېږي
تود که اور دے لوګی سوړ پیدا کوي
د پښتون دا یو کروړ خو په ځائے پرېږده
دا ادب داسې کروړ پیدا کوي

که په نغښته د پښتون دې وه نمځنه
د پښتون دا ادب هسک در باندې ویاړي
د هر ځلق نه ئې بختونه را څڅېږي
ملتونه هم داسې ستوري غواړي

ACKU

وچوبي د سرو نهٔ ده پرې راغلې
د پښتون په سیمه تل د مېړو ځول دے
شته خټکو افریدیو کښې هم غلجو کښې
بیا په واړو کښې ښکاره د لودي کول دے

پېښور ۳۱، جنوري سنه ۱۹۵۴ء

پوې یٔ تصوّر کړمه د ژوند په راز
پاتې چې اشنا ته بې اسرې نهٔ دي
تیرې تورې شپې د وصل چرته دي
لا خو د هجران تورې تیرې نهٔ دي
لا د زړهٔ ګرزندي دي اباد زما
وران شوم خو لا ورانې مې ډېرې نهٔ دي

ځان دې چې ځنل اولید د مېن په اینه کښې
ستا د ښو تهال کښې حېرانۍ اوزنګېدې
مخ دې کړو ځرګند او که دې پټ کړو خپونډیٔ م
خوب کښې د ځوانۍ، مسلمانۍ اوزنګېدې
فرد د رسوائۍ کړه پس، د مینې عدالته
اوشوه کنه اوس خو مې ځوانۍ اوزنګېدې



ACKU

# خپل شیخ ته

چې وو ژوند، هغه نازونه لټوم
خپل نیمګړي نیازونه لټوم
بې نوا سترګې مې ستا پۀ لور څلور شوې
ستا پۀ سترګو کښې رازونه لټوم

پۀ ژړا درپسې شپې شوې د زړۀ شاړې
پۀ خندا دې کړې د زړۀ د افق غاړې
ستا قالب ډَو د ناسوت د قالب سَتر
پسته او پښتنې خلقو چې تۀ لاړې

تا چې وعده د ښکلسم راکړه
بدر نه اووایه چې ځان مۀ خوره
لیدلے چا د ښکلیو نۀ دے نظر
مینه مۀ ژاړه چشمان مۀ خوره

نن جلوې د هندوستان پۀ زړۀ وریږي
پلوشې ئې کل عالم وته رسیږي
د محبوب الٰهي پۀ ډیلي عرس دے
حمزه هم پۀ ښبنود کښې پرې نازیږي

جبه خادم پېګلې ۱۲ دسمبر سنه ۱۹۵۹ء



ACKU

ورځې شپې دي دحضور نظام دعرس
په هر ځېن ېې کړي جلوه محبوبیّت
د محبوب الٰهي لـه بـرکتـه
دے په سترګو کښې مسکے انسانیت

اے دریغه که طاقت مې دادراک پاتې کېدے
بیا ستا دننداره ېې به زما واک پاتې کېدے
بناپسته یو دیدن به دې هم تل وو ماته بس
بلکن زما نظرکه په دې پاک پاتې کېدے

چورلي د فکر د محور نه یقین
زمکه روانه شوه، اسمان اودرېد
اوبنکو تګ اوکړو لېونے ېې نه که
چې راغلو سترګو ته ارمان اودرېد

څو چې ویره ترهه نه وي سم به نه شي
لوئے صفت دے په انسان کښې دځوان
چې یاغي دچل مالک نه شو داحال دے
شول فوځې حکومتونه دجهان

لواړګے ۲۲، اکتوبر ۱۹۵۸ء

یخ د اشنا خوئ مې د زړهٔ سوے نهٔ شو
دود ئې کړو ارمان خو اسوېلے نهٔ شو
بس خو چې پرده اوکړه ستاره تا
داغے پېسرلے خو پېسرلے نهٔ شو
تا مې نظر څو حُله داده کړلو
خوئ د سرو دے چې لړي سپے نهٔ شو

ضابطه کهٔ د اسلام ئې وے منلے
ضابطه د مارشل لا تر څهٔ حاجت وو
مدعي د سړیتوب ، انسانیت دے
خو محور ئې د هستۍ حیوانیت وو

نن سحر مې یو څهٔ بل خبر په غوږ شو
چې معزول د صدارت نه اسکندر شو
نن ایوب د صدارت په کرسۍ کښېناست
کوم چې خوف د بد نظمۍ د وهغه لر شو

۲۸ر اکتوبر سنه ۱۹۵۸ء

## عقل

شي یو طفل چې شي پوخ د انسان عقل
حقیقت دے اوس په دې باندې قائل شوم
بې مقصد کورکي جوړوم ناست یم
چې په عقل عمر پوخ شوم مقابل شوم
۲۶۰۰

ستا په نظر وي بې نظر خوښ یُم
بس په خبر کښې بې خبر خوښ یُم
ستا په دیدن کښې یو جهان پټ وو
اوس په دیدن د هر بشر خوښ یُم

بختورې غونډې ورځې راته بنکارې
چې راغونډ په کراچۍ کښې ادیبان دي
څوک له سنده اوله بنګاله دي راغلي
څوک د خاورې د پنجاب اود افغان دي

نارتھ ویسټرن هوټل کراچي. ۳۰ جنوري سنه ۱۹۵۹ ء

لا اسلام دے چې به مونږ سره نږدې کا
لا زمونږ راغونډېدل په د هریت دي
د افرادو چې وحدت د فکر نه وي
دا خوبونه ټول عبث د جمعیت دي

ته چې قلم واخلې هندکو اولیکې
هم انګریزي او هم پارسو اولیکې
منم وېلے شې پښتو، پښتو نه
پښتو خو داده چې پښتو اولیکې

پهٔ پردو خبنتو پهٔ پردو تېرونو
دخپلې خوښې تعمير ولې کوې
منم چې خوب خو پهٔ پښتو کښې وينې
بيا پهٔ هند کوې تعبير ولې کوې
منم چې فکر پهٔ پښتو کښې کوې
پهٔ انګريزۍ ئې تحرير ولې کوې

## دظاهرشاه دور

نن ظاهر لاړو کابل وته رخصت شو
څهٔ بهٔ دهٔ او اسکندر وې سنجولې
د پښتون د مستقبل بهٔ څهٔ جوړيږي
وې د روغې بهٔ ئې څهٔ پرې غړلې

د پښتو ادب جمال راڅرګندږي
ديو کال نه پهٔ بل کال راڅرګندږي
داڅرګندونې د پښتانهٔ نهٔ دے نوڅهٔ دے
چې هرکال پکښې خوشحال راڅرګندږي

انګور او پائې چې باغ ته اورسي
مے پکار شي چې اياغ ته اورسي
نن پښتو کړۍ خپل مقصد طالبعلمانو
اجزاءِ کُل شي چې دماغ ته اورسي

يوم خوشحال، اسلاميه کالج ۲۳، فروري ۱۹۵۸ء

بیا په خندا خندا کښې راوړي ګله
چې د شبنم نه وفا غواړي ګله
درته نسیم په غوږ کښې څه اوویل
چې د خندا نه په شا لاړې ګله

څنګه قبض دے زما چې نه ماتیږي
په کالونو هم اشنا نه شوم له بسطه
وي افراط که تفریط زما دوړاندې
اماره چې زه وېستلے یم له وسطه

پاک پټن شریف

محمد صلی الله علیه وسلم

دا همه علمونه ټول یوه نقطه ده
د هستۍ ونه فقط یوه دانه ده
محمد صلی الله علیه وسلم کښې هم د دے نقطې تفصیل دے
او علي د دے علمونو دروازه ده

محمد صلی الله علیه وسلم د معرفت هغه نقطه ده
د هستۍ چې هم د دې نه ابتداء ده
دایره چې د هستۍ شوه مکمله
بیا هم هغه نقطه ګوره منتها ده

ACKU

نن مې په شونډو تبسم ښکاره شو
داځکه بې ځایه انقلاب راغے
اوس مې نه ویښه اونه خوب پاتې دے
یار چې په ویښه نه په خواب راغے

نن چې فاروق راته قلم راکه
نوې ې ساه نوے ې دم راکه
د اسې ې نه ې قربان شم د زړه
ماته ې ګویا جام د جم راکه

د فاروق کلے ۲۲ نومبر ۱۹۵۹ء

که نظر مې تېرے کړے پرې خفه یم
دواړه سترګې به قربان ستا په جمال کړم
تورپښتون به بې له دې په بل څه سپین شي
دوه سپرے به درکوم تابه خوشحال کړم

زړه مې استقبال وته راتلے نه شو
اوښکے ې لمو ته رالېږلي دي
ځواني مې سلګۍ کړي په زغم زغم سره
ستا دې تغافل ته مې پالي دي

رو گرځدان له عشقه ، عقله ستا په پل شوم
د تحقیق لار ېې خطا کړه په اټکل شوم
با معنیٰ وم چې فطرت بیا نو لم
چې خواهش زما گرځدان اوکړو مهمل شوم

د جهان په چول ېې زه پښې ابله پښې کړم
د منزل نه پاتې خشکې فلسفې کړم
ستا مثال په تنبېدو دے اوس به ګل شي
عقله لرې شه چې مینې ته نعرې کړم

د امنم چې هر وکړے دې مجنون کړ
دېره ښکلیه چې خوږې بوږې دې د قارون کړ
هم په تا باندې به بار شي دا چل حسن
خپل نظر چې ورته ما نکه پښتون کړ

## د شنوارو عزیزانو سره

د فطرت په مناظرو یم خوشحاله
د سپین غرهٔ د مورګې دې ښکلې لمن کښې
د اهل وال چې راته ناست دې ساده ژوند کا
فردوسي د ے دلته ژوند په دې وطن کښې

پیخه د بروشنوارو ۱۵ جولائی سنه ۱۹۵۷ء

دا وریځې چې په مورګه راخپرې دي
وډانګه دي چې را اوري په شنو ارو
په دې وخت کښې بې د زړه نه ندا راغله
په رښتیا چې زرمیین دي په زرداړو

تود ګل مینه

ستا د فکر ژرنده پخه په ګنا شوه
نو د چینجن دې هم د عقل مشتکې شو
د ژوندون وله په څوړ ده ورته ځېر شه
چا چې نوې د فلک او پېژند سرې شو

تود ګل مینه پخه

## ژوند

هېچرې به وارخطا نه شي په ژوند
هر هغه چې وارخطا نه شي په ژوند
لاس او پښې په ناکامی کښې هم وهمه
چې فالج بې چرته راند شي په ژوند
شېبه د زلفو په رسی ځکه تړمه
انتظار کښې چې صبا نه شي په ژوند
ژوند چې څومره خبر لوڅ وي هومره چپ وي
نوم د بحر به دریا نه شي په ژوند

لوارګی ۲۷ جولائی سنه ۱۹۵۷ء



ACKU

د منګلو جنګ چې وو، نو زهٔ وم دلته
نن کابل ته ځمه ناست یم پهٔ تورخم کښې
خوښ یم زهٔ، د ځپل واکې جشن ته ځمه
کړي ځوانۍ مې غزوني پهٔ قلم کښې

تورخم ۱۸ر جولائي ۱۹۵۷ ء

هغه شپه ډکه جولۍ لاړه ماضي ته
پهٔ علمي څېړنو ځلندې چې حال وو
ادیبان ئې پهٔ دې شپه وو رابللي
مېلمانهٔ وو مونږ کور به زمونږ سیال وو

جلال اباد د میراجان سیال سره

## زرغون شاه ماما
## چې پسته سردار داؤد قتل کړو

د ماما د خوش خلقۍ نه بهٔ څهٔ وایم
که دے څو زمونږ عزیز خو زهٔ ئې ستایم
چې خبر شو د سیال څا ته پهٔ دو راغے
د هغهٔ د ډېر خلوص نه بهٔ څهٔ وایم
د دې سحر مې ډېر شنواري رابللي
راشه چایو ته چې تا ورته اونما یم

جلال اباد ۱۹ر اګست ۱۹۵۷ ء

ACKU

زهٔ نن نهه کاله پس جلال اباد کښېنې
وینم دا چې اوچت شوې ډېر افغان دے
د ماهر سره سحر څمه کابل ته
لا بهٔ اوګورم کابل چې پهٔ کوم شان دے

۱۸، اګست سنه ۱۹۵۷ء

## د کابل پهٔ لار

څهٔ ښهٔ کلیز دوو د موریسید، عمر ئې
چې تموله ورځ وه اشنا سیټ نیولے
د کلیز زړهٔ پهٔ لته بند کښې اوچا وُد
چې ډنډه پل بهٔ ئې وو تیټ نیولے

لته بند افغانستان ۲۰، اګست سنه ۱۹۵۷ء

ښهٔ یا خهٔ اجزا پیدا کړه چې ګُل غواړې
پهٔ تعمیر کښې کچه خښته پکار نهٔ ده
پهٔ زحمت کښې دا نقطه ده چې رحمت شي
د اغزو سره اشنا شه چې ګُل غواړې

دیو لاس نه چړې تیک وتلے نهٔ دے
سترګې دوه دي یو نظر ترې عبارت دے
چې معیار د سړي توب لره پکار دے
اتحاد هغه د دین او قومیت دے

## د پښتو ټولنې د میلمستیا په موقع

د پنځم ښار درود اوبه د ژوند اوبه دي
فردوسي هوا، هوا د ګل بهار ده
د چنار ونې قطار لکه عسکر دي
دلته ټو ورځې استوګنه خو پکار ده

ګل بهار ۶ ،ستمبر ۱۹۵۲ع

وختونه د رومي ملګرتیا پې بنه ده
خو خپل قابي امتیاز مه ورکوئ
وخت چې څه یو ړل هغه ستاسو نه دي
رازونه اخلئ خو راز مه ورکوئ

څه په تدریج او اعتدال سره چې
د کائنات هم پې نظام اوګورئ
انقلابي ذهنیت ډېر بنه نه دے
زور د سیلاب هم پې انجام اوګورئ

کابل ۷ ،ستمبر ۱۹۵۲ع

اے د پښتون ملت ورو بچیو
سره راغونډ شئ چې یو نمر شي پېدا
ستاسو یو فرد دې ایټم بم شي ثابت
چې کوم ساعت ورته خطر شي پېدا

# پښتو ټولنه

ټولنې ډېرې په نړۍ کښې شته دے
د لویو لویو د وړو ټولنه
راشئ لهٔ نمر نه یې را اونښلوُ
دا د وړو وړو نړو ټولنه
بیا نو څادر د ربنا ورې کاندي
د شوخو پېغلو پلوشو ټولنه
نهٔ شي تکمیل د فردیت د کالبوت
وجود چې نهٔ لري تر څو ټولنه
هم وي غومبسې هم د شاتو پچې
شته د ترخو او د خوږو ټولنه
سلیمانی نظام وو پیاټي نهٔ شو
تر اوسه شته دے د مېږو ټولنه
چې سره غونډې شي ټوک ټوک ورېځې
جوړه شي لاندې د شینکو ټولنه
ښهٔ ده پښتو ټولنه ډیره ښهٔ ده
دریغه چې شي د پښتنو ټولنه

کابل د پښتو ټولنې
د پېلمستیا په موقع
۵ سپتمبر ۱۹۵۷ء

ACKU

د مستقبل د جامعې زلمو
منم روزنه د ملت ده پکار
له یوه لاسه تک وتلے نه دے
ښه ملک تیا د حکومت ده پکار

## په چپلو بره شنوارو عزیزانو کښې څو ورځے

د شنوارو د سپین غره له ځنګو مورګو
راروان دي د خوږو اوبو رودونه
دلته خلق همه وار ساده ژوند کا
کرونده کري ښخواني لري رودونه

ده سرک ۱۱ ستمبر ۱۹۵۷ء

له پرونه چې زه دلته یم راغلے
په مسکا راته ددې سیمې فضا ده
غریبیت مې محسوس نه کړو په ماحول کښې
زه ددې یم دا فضا جوړې زما ده

چې مې زړه کوي هوا په طبع راست یم
دا په خپل اصلي ټاټوبي کښې ناست یم
عزیزان شنواري ټول راته راغوښتي دي
خدایه تل یې متحد لره په خواست یم

سپینې خورې ۱۳ ستمبر ۱۹۵۷ء

که ناتوان وي هم چرې نه پاتې کېږي
چې پخه ئې اراده وي هغه ستلے شي
د همّت ځواني له پاکه ربه غواړه
غر لا څه چې پرې اسمان ته هم ختے شي

پېچل غر هزاره ۲۲ اګست سنه ۱۹۶۰ء

څلور میله مو په واوړو کړے پند دے
دا یو اوس را رسېدلے یو پندار سته
د متها ګوجر مسجد کښې زمونږ شپه ده
رواسېږو به جبرو سته صبا سته

پند را هزاره ۳۰ اګست سنه ۱۹۶۰ء

په ځوانۍ کښې هر مشکل هم سهل ښکاري
لکه سمې چې د غره نه نزدې ښکاري
ته که زوړ شې خو همّت دې چې زوړ نه شي
په رښتیا که ته په پښت ئې د شنواري

لکه غر تاتره ۲۴ اګست سنه ۱۹۶۰ء

هېڅ انسان د خپل انجام نه خبر نه دے
بې خبره چې ژوند تېر شي ژوند خوشحال وي
د فطرت دوه انګې بهار خزان دي
دغه ونې چې ښېرا نه کال په کال دي

هر طرف په شاؤ خوا کښې ډيوې مړې دي
باده راشه چې ډيوې مې ګل نيولے
څه په دا چې مې خمار نه پيدا کيږي
هر يو څيز که راته جام د مل نيولے

بري امام ۲۴ اپريل سنه ۱۹۵۷ء

څوک چې د نمر مخ يو شي روښانه شي
وايه شبستان د قمر چرته دے
پښې مې چې بې واکه د تا درته ځي
بيا ولې پوښتې چې مې سر چرته دے

يو عادت دے دا عادت به ماتول شي
د عادت نه ماتول هر يو عادت شي
چې مخلص د انسان نشته له عادته
بيا پکار هغه عادت دے چې رحمت شي

چې منزل د اطمينان به کله راشي
د سکون په طلب ګرځمه پريشان يم
تلون راته غمې د پوهې راکړل
د معنیٰ لټون له ما کړه زه ځې کان يم

بټګرام هزاره ۲۱ اګست سنه ۱۹۶۰ء

د یوم خوشحال په سلسله کښې اسلامیه کالج پېښور ته راولیږلے شو

رومانی جذبه دې ښهٔ ده شاه زلمیه
نو رومان دې د پښتو سره کوه
د خوشحال بابا د قام زلمیه کوله
ژوند او ژواک د ننګیالو سره کوه
اے د قام د مستقبل ځلانده ذهنه
شفقت دې د پښتو سره کوه
د هلال غونډې روان او سه غمېږه
خیال د قام د تورو شپو سره کوه
د هوسۍ غونډې معصومې لره سترګې
خو خبرې د زمرو سره کوه

پېښور ۱۲ / اپریل سنه ۱۹۶۱ء

چې به پې مخیو کښې وفا لټوې
زړګیه ستړوتې جفا لټوې
اے د ناکامه انتظار او ښکې
لارې جوړ سترګه د صبا لټوې
جوړ د وجود په حقیقت نهٔ یې پوهٔ
په کائنات کښې چې خلا لټوې
زړهٔ خولهٔ وخته رانه تاور دے
بیا څهٔ دپاره زړهٔ زما لټوې

د مور پلار په وینه وده د اولاد وي
د ور پښو چینجي ورک شو، خو عیان شو
چې ځواني یې د بابا وي، زوړ وي طفل
چې بابا د غزل زوړ شو غزل ځوان شو

تل م چې د حسن دلبې په طلب
ترېنه پرېشان لکه لوګي راغلم
ستا په ستم او په جفا اشنا
خولې ته د تا شوم اسوېلې راغلم

ته که چې زمانه خیاله بنه ده لاړ شه
زه پوهېږم چې څوک بل به ورسره راشي
دیو ځای نه چې یو لاړ شي بل را دروي
امکان نشته چې پېدا چرې خلا شي

ستا وعدې چې کوم ساعت بدلې شوې
بیا په زړه کښې تتې ملبې بلې شوې
ځکه مخ رونیسې مې د ماښام اوکړ
اوښکې مې شوې تلې ډیوې بلې شوې

ACKU

ستا نشئ سترګې زما اوښکو ته
برندې وي څېرګورې خو تراخه ګوري
ښکلي زړونه ګوري ، ښکلي چوڼ کوي
زړونه په سودا ، ښکلي بانه ګوري

دا به سپوږمۍ ته قهرېدلې زلفې
ما خو لیدې چې موسېدلې زلفې
ستا د بارخو د ښکلو په شوق
یوه له بله جنګېدلې زلفې

چې له حالاتو بربوکې جوړې دي
خدائے زده ضمیر دانسان څنګه به شي
څنګه تېجن شول دهستۍ نبضونه
دا زلمے شوے جهان څنګه به شي
دکهکشاں ستوري بوګن بیولے
اے لارویو کاروان څنګه به شي
یوه قصّه دسړي توب لیکمه
خو نۀ پوهېږم عنوان څنګه به شي
وختونه کاندي دالحاد خبرې
څکه انسان کړي دبېداد خبرې

۲۰۱

# قتیل شفائي ته

د پښتو د بې کسۍ نه بهٔ څهٔ وایم
بې کسي هم یو نعمت دے کهٔ چا ورکړه

کهٔ څوک خپل وهٔ کهٔ پردے چې مقتدر وو
هر یوهٔ ورله تحفه د جفا ورکړه

د بخت ستوري هم پهٔ خوئ ورته شهاب شول
د ویښتلو نه پخوا ئې رنها ورکړه

دا غیرت هم دے یواځې ژبه نهٔ دهٔ
خدائے دې توري وته شرنګ او ځلا ورکړه

دا زړه دهٔ خو همّت ئې لا زلمے دے
دهٔ ژوندي کهٔ څو حالاتو فنا ورکړه

ځنکدن چې پرې راغلے پهٔ کوم وخت دے
خپله وینه، شوه پیدا ورله چا ورکړه

پهٔ شلم قرن کښې هم ورله مونږ چړ کړو
دې حمزه ته هم کاسه د ګدا ورکړه

دا رنځوره اوس قتیل ته هم اسره کړي
ګوره دهٔ کهٔ ورله چرته شفا ورکړه

۲۶۱۷

پېغلې چې غم اوښکې پښتنې کړلې
څود ئې رواداري د پردې کړلې

اوښکې ئې په جام د سترګو اوڅښلې
سترګې چې ساقي رابانډې سرې کړلې

ستا پرونے حُسنه سلامت اوسه
خاورې کۀ څو تالوړې شملې کړلې

## مولانا عبدالعلي مرحوم

سمندر د علم وفن عبد العلي وو
وو لوئې لاس ئې د پښتو څنګه وُربل کښې

کۀ وفا ورسره کړے چېل ژوندون وے
ډېرې پټې خزانې ئې وې په تل کښې

خلق وائي چې وادۀ کښې برکت دے
هم د ښځې په قسمت کښې لوئې دولت دے

اکبرخانه داوادۀ دې بختور شه
خو صحت د اعظم خان دې لوئې نعمت دے

اکبرخان د اعظم خان پلار

راویښ شه ځوانه احتساب اوکړه
لۀ کُل جهانه اکتساب اوکړه

څو زۀ بنیاد درته د علم ښیم
لۀ خپله ځانه اکتساب اوکړه

ستوري د چا نه به مسکا پور وي
تندر چې نمر د عافيت نيولے
په داسې وخت کښې به مغز چرته وي
کوره تيرو چې شش جهت نيولے
په زړه کښې کور د پېر زوئينې چې وه
اوس استحصال او عداوت نيولے
چې به ځلانده وو د روح په رڼا
هغه تيرو د ماديت نيولے
اکسر بکر شول اولجې د نړۍ
نوئ د لېوانو کړي سرې د نړۍ

د مغربي سينې لولې په ليدو
زړه د مسلم شو د اسلام ځينې تور
په جمعيّت يې پرېشاني شوه خپره
په ځان ځاني کښې دي پرېوتي له زور
هغه چې کور يې د دنيا جوړ وه
کور شو يخپله، خپل يې ورک کړلو کور
د تباهۍ د کمر سرته راغے
ورته وه پاتې يو قدم مخکښې نور
چې د رحمت په سيند کښې جوش راغے
په پرېوتو وه ورته هوش راغے



ACKU

د یو قائد د قیادت دلاندې
په اوچه ډاګه ګلستان جوړ شو
سره خپرې ورې جوړې شوې جمعې
په رپ دسترګو کښې کاروان جوړ شو
د ارادو ځینې خامې اووتې
څوک چې ضعیف وه ترینه ځوان جوړشو
مرکزیت ورته اسلام ورکړو
چې متحد شو پاکستان جوړ شو
دغه اسلام ئې ضمانت دے دژوند
هم په دې لفظ ئې حفاظت دے دژوند

چې بې پلاره څه بې موره داسې هم شته
بغاوت له روایاتو ئې بښوه ده
وې منکر به له ځلانده روایاتو
چې د نسل ئې مورثه بوزینه ده

سوزه خندېږه خو رنها اوکړه
ددې تېرو خو څه دوا اوکړه
لکه د شمعې په خندا خندا کښې
په خپل ماحول باندې رڼا اوکړه

ACKU

ته له رحمانه عشق وحال واخله
ننګ او مړانه له خوشحال واخله
ته چې وارث يې د مِلّت زلميه
هم يې جمال هم يې جلال واخله

ما وې شپخه ستا نيمګړې وظيفه ده
پاسه زر د ميخانې بله ډيوه ده
صراحۍ پيالې ته څه وېل پوهيږې؟
وې دنيا خو مسلسله قهقهه ده

فرد

يو چنار ته مې شو پام په شلوزان کښې
سل لاسونه يې راويستي وو دُعا ته

افريديه څه د علم رڼا بويه
دې پرهر د ناپوهۍ ته دوا بويه
ولې خپل پښتني خوي درنه لاړ نه شي
ستا په سر کښې بادامه د غزا بويه

دره ادم خيل ۲۵ ستمبر سنه ۱۹۶۳ء

ما وته مسکۍ چې د تاسترګې دي
بس نو د تاسترګې زماسترګې دي
ماته هريو شے د نړۍ سترګې کا
څنګه دې دوه سترګې بلاسترګې دي

## د اعظم مرحوم د وادهٔ په موقع

وادهٔ بنهٔ دے چې سوا پرې وسوسې شي
عقل ډېر شي چې ئې ډېرې اندېښنې شي
چې د دوؤ نه يو اوزي، يو شي پاتې
په وادهٔ کښې يوله دوؤ چې اوزي درې شي

مبارک دې دا وادهٔ شه اعظم خانه
ستا دا ژوند د بنهٔ نه بنهٔ شه اعظم خانه
تاسو دواړو ته دُعا د حمزه دا ده
ته هغه، او هغه ته شه اعظم خانه

## نوروز

د جنت سېرلي دې جار د زړهٔ له سوزه
د ظهور بهار به کله وي نوروزه؟
بې هغهٔ نه که ته راشې هم خزان دے
خدائے د پاره چې ما هم درسره بوزه

واقعه چې د غديرشوه په نوروز کښې
پکښې شته دے لوئې حکمت که څوک پوهېږي
که غنچې د نبوّت پسا ما لوئې شي
هر ساعت به نوې نوې پېدا کېږي

ومن کنت فرمان اوشو په کوم وخت
په دې وخت کښې چې نوروز د کال ځواني ده
امامت به ئې مدام کلونه سپړي
سلسله ئې د فیضونو لافاني ده

شهادت ئې سبوا جوش د شهادت کړ
مجبوري ده چې بیا سربلند ئے نهٔ شم
سور کفن ئې پرده پوښ د حسرتونو
د لاله غوندې خو داغ بښود ئے نهٔ شم

اوس د چا د خوږ نظر نه نهٔ شرمېږي
چې ساده دے نو مطلب ته نهٔ رسېږي
چې ځواني راشي خپل سوري ته به ځي رشي
چې ماشوم دے د خپل سوري نه وېرېږي

لهٔ فراقه زړهٔ چاودون ئې مدامي دے
خپل غمونه به رهېم چې ئې کړم خوږم
چې پرې زهٔ یم د جنت سنه راوتلے
ځکه زهٔ هم په دبرشوق سره غنم خوږم

خـهٔ عجیبه شپه ده سحر نـهٔ راځي
نن هغه سپوږمۍ چې ږهر نـهٔ راځي
نن چې هسې ځان تـه خبر شوے یَم
ښکارې د اشـنا مې خبر نـهٔ راځي
راغے تصوّر ېٔ پهٔ بیلتون کښې نن
چا وې چې اوچ ښاخ کښې ثمر نـهٔ راځي
لاړو هندو سترګو سره خوبنې شو جوړ
بیرته چې لیمو تـه نظر نـهٔ راځي

## وطن

اے پیاکے مزکے د پیاکانو مزکې
د ننګیالو او مـومنـانو مزکې
چې روایات ې د اسـلام ساتلي
دشهیدانو د غـازیـانو مـزکې

تـهٔ چې دا هسې یما ګران وطن ې
ـلکه نظر ـلکه چشمان وطن ې
مهٔ شه غلط وطن پرست نـهٔ یَمه
دا خو پـهٔ دې چې د قران وطن ې

ځکه نو داسې مېړنۍ ښځهٔ یُمه
ستا د ورشو نه سپېلنۍ ښځهٔ یُمه
د روغو خلقو پهٔ پېغوړ به څهٔ شي
ستا لیونۍ یم، لیونۍ ښځهٔ یُمه

د بهټائي او د رحمٰن وطنه
د فرید خان او خوشحال خانٔ وطنه
توره قلم پهٔ میراث کښې دي ستا
اے د خواخوږي مسلمان وطنه

تهٔ د ننګونو د همّت وطن يې
د جمعیّت او د غیرت وطن يې
د هر مسلم سره وفا کوې تهٔ
بې پته نهٔ شوې تل د پت وطن يې

۱۴ اپریل سنه ۱۹۶۵ء

سوز او خلند تخیل، او حکمتونه
چې دا ټول سره راجمع شول عرفان شو
دے عرفان دې د خودۍ صورت پیدا کړ
دا خودي چې عملي شوه پاکستان شو

ACKU

کوم مارغهٔ د معرفت او د حکمت وه؟
چې پهٔ جال د تخیل کښې دې ګېر نهٔ شو
ستا پېغام خو افاقي او همه ګیر وهٔ
خو پهٔ دې کښې هم پښتون درنه هېر نهٔ شو

مونږ مونده له یو الهام دے ستا له قبره
چې ګلونه مونږه ټول د یو ګلزار یو
اِمتیاز د رنګ و بوئ پهٔ مونږ حرام دے
چې پاللي مونږ هم د یو بهار یو

یوم اقبال ۲۱ اپریل ۱۹۶۵ء

## د محمود غزنوي پهٔ مزار

کهٔ هر څو دې مخ روښانه بت شکني وه
خو خفګان د فردوسي دربانډې داغ دے
پهٔ لوګوئ دیوال خود د خوني تور شي
کهٔ څهٔ هم پکښې بل شوے ښهٔ چراغ دے

## د حکیم سنائي پهٔ مزار

چې روښانه پرې د روم د ملا زړهٔ وهٔ
لږه ما وته هم برخه د حکمت را
کړه روښانه مې دیوه لهٔ خپله سوزه
تېرېدلے یم ، د لارې بصیرت را

ACKU

چې ضامن د قام د ژوند دے، حريت دے
ژوند هغه چې عبارت له جمعيت دے
بې اصوله ازادي خو ورکول کړي
ورته نهٔ ګوري پرېشانه چې نکهت دے

مرغيړن اوربې زما د عشق تازه کړه
په دې خاوره کښې لا تاؤ د حقيقت شته
سنائیؒ د محبت په راز خبر کړم
چې توحيد دے چې پکښې طمانيت شته

مزار سنائیؒ ۲۲ اپريل ۱۹۶۶ء

چې پښتو ئې محبوبه وي پښتون دا دے
چې همه ليلیٰ ليلیٰ شي مجنون دا دے
راشه پوهٔ دې چې په راز د مرګ او ژوند کړم
چې مړه نهٔ شي خپله ژبه ژوندون دا دے

د ژوند قفل به شي ورته ابجدي دے
که ته پورته شوې په ننګ د ازادۍ
که دې توري سره داسې برابر کړل
چې ظاهر شي ترينه جنګ د ازادۍ

روږئ زور په مړه کېږي حمله ورکړے
چې دا ژوند په اصل مرګ دے ژوندون نه دے
ته که ژوند شولې پخپله بیا به پوئ شې
چې هیڅ اصل دخپل اصل مرهون نه دے

چې ئې روح سره جنون او خِرد نه وي
لاخلل دے د سالک په معرفت کښې
متفق به د هر څه سره هغه وي
تضاد ورک شي د عارف په شخصیت کښې

پرېږده چې لږ غونډې خو دم واخلم
بیا به په وړاندې بل قدم واخلم
دربغه چې روح د خوشحالۍ اووینم
چې د غمژنو زړونو غم واخلم

## پښتون ته

عاقبت به ئې بدن شي توري خاورې
په داڅه که نن په سپین محل کښې اوسې
د اسمان ته د غرور نه پاس کتونکي
حقیقت کښې دفنا په تل کښې اوسې

مرغزار سوات ۳ر اپریل سنه ۱۹۶۶ء

چې اتلس[۱۸] کاله مخکښې وم راغلے
زۀ هم ستا پۀ خپر توي ومه اوځوان وُم
نن چې راغلم ستا هم ملا ده کږه تو ته
اوس سپین ږیرے یمه زۀ چې پهلوان وُم

پغمان ۱۹ اګست سنه ۱۹۶۶

بیا هم نۀ وۀ بې نیا زه لۀ بالښته
کۀ عیسیٰ د سر دلاندې کښېوه خښته
پۀ اخر کښې بۀ غوبل شي هم پۀ تا کښې
چې پۀ تا کښې شي زرغون د بنګلا کښته

اوس دې خلق د ژړا نه هم نفرت کړي
دکم عقل سره نۀ شوې رفیق
پۀ زار زار سلګۍ وهل دې لا افت دے
چې پۀ خلقو ئې اثر وي دشهیق

زۀ هم پۀ صحبت د ترخو تریخ نۀ شوم
څۀ شي کۀ بل څوک زمانه خوږ نۀ شو
څوکۀ پۀ حرفونو کښې پیوند شولو
نیغ بۀ همېشه وي الف کوږ نۀ شو

# نهٔ یېکم

نهٔ یېکم زهٔ مترقي غزلې نهٔ یېکمه
رجعت پسند یمه چې دین او هم مذهب منمه
د دین مذهب ټهېکېداران رانه پهٔ دې خفه دي
چې زهٔ اول دین و مذهب او بیا نسب گڼمه
زړهٔ راته وائي چې افغان او مسلمان یا دوه
دغو نورو ده غوښتنه چې انسان یادوه

زهٔ خو ایله یم پهٔ افق د پښتونخوا ختلے
زهٔ افاقي نهٔ یم د نیمې ورځې نمر نهٔ یمه
اوس خو دا سیمه د پښتنو رانه رڼا غواړي
چې ټول جهان کړمه روښانهٔ پهٔ دې بر نهٔ یمه
کهٔ افاقي شوم بیا بهٔ وایم افاقي سندرې
هغه سندرې اوس گڼم د مراقي سندرې

ورځه سندره د انسان کهٔ زهٔ اصول او گڼم
نو بیا چې وینه د انسان توېږي د اڅوک دي؟
کهٔ زلفې پرېږدم د انسان توري تېرې او ژاړم
راته خپل بڼ کښې چې ماران لوېږي د اڅوک دي؟
د عافیت کهٔ څهٔ وجود وي پهٔ جهان کوم دے
چې لهٔ حیوانه وي اوچت هغه انسان کوم دے؟

اوس د انسان انسان نعرې د مهذب تخنبه ده
نو د افغان افغان نعرې د افغان ولې نه دي
بې له اسلامه د انسان په وحدت څوک وه قابل
دې حقیقت وته څېر شوي ځوانان ولې نه دي
که بل مسلک د سړي توب وي ترجمان کوم دے
بې له اسلامه ئې که چرته وي نشان کوم دے

لواړګے ۱۲، اپریل سنه ۱۹۶۷ء

امکان څه دے چې ئې سوال هم پاتې نه شو
سوال ئې څه چې احتمال هم پاتې نه شو
ځواني تللې وه خوشحال ئې لا باقي وه
کراچۍ کښې هغه خیال هم پاتې نه شو

مشاعره اسلامیه کالج کراچۍ

۶، فروري سنه ۱۹۶۷ء

که هر څو یمه ناڅېزه چې سفر کړم
زه به او درېږم د ښو خلقو په صف کښې
د باران څاڅکي چې یون اوکړي له ځایه
یو ګوهر ورځېنې جوړ شي په صدف کښې

چې تاتې خصوصیات شي درنه پاتې
ستا مشکل به د پښتون نامه حل نه کا
دلنډي او د باړې به اوبو لویه
چې اوبه د کراچۍ دې بدل نه کا

ACKU

## يو مُلا

پهٔ ټوکرو د درو يو زوی چې وهٔ لوی شو
اوس یې کور کښې هم قاضي او هم مفتي شو
رشوت خور او حرام خور او فریبي د ے
خدائے زده څنګه دا پهٔ شکل د سړي شو

پښتني ستا کهٔ غر څنګه سترګې دي
ما ته چې وکسي امزرے سترګې دي
چې یې پهٔ خود پهٔ یې خوده کښې کړمه
څنګه هوښیارې لیونۍ سترګې دي

## اباسین

یاره نه کهٔ یو طوفان یې پهٔ ستم کښې
پهٔ همت زهٔ لکه غر د امبیلې یم
اباسین دی کهٔ د طبعې طوفاني دے
ورته زهٔ هم لکه بند د تربیلې یم

تربیله ۲۳ ستمبر سنه ۱۹۵۳ء

نهٔ پهٔ کم یې نهٔ پهٔ زیات یې خو روان یې
ستا بهٔ زور شي هله زیات چې زور دې کم شي
کړې زړغون بهٔ هرې ډډې ته شو رونه
دا بهٔ هله شي ملکن چې شور دې کم شي

تربیله ۲۳ ستمبر سنه ۱۹۵۳ء

ارمانونه چې راډب شي طوفاني شي
بو يه لړ چې کله کله پوره کېږي
اباسين ته بند تړلے شي . خو داسې
چې اوبه کړي څه حصارې څه بهېږي

تربېله

اباسينه نړۀ دې ډک وۀ د مودو نه
ابادېد دپاره اوس به لوټې سبب شې
ستا په ډډ کښې ډېر برقونه ډېرشنکي شته
خولړ دومره صبر اوکړه چې راډب شې

ساه لرونکي ډېر ژوندي شته دے زلميه
خو دا ژوند په حقيقت کښې ژوندون نۀ دے
چې ترهغې دخپل ژوند دعوىٰ اونۀ کړې
چې په ملکښې دپښتو اوپښتون نۀ دے

داهندوان بانه دې څوک شهسواران دي
هم عادت دخون ريزئ ئې مدامي شي
څوک ئ بند پښتون نظر مې ورته اوکړو
دانيزې به ئې له واره سلامي شي

نن مېزبان زمونږه سیدؔ عبدالله دے
مېلمانهٔ یو ، دکونړ پهٔ سلام پور کښې
دا اخلاص دمېلمستیا نه بهٔ څهٔ وایُم
جوړ وختونو مولبلي دي پهٔ نُور کښې

چې ئې لونه وي، داړه درمل ئې اوشول
خو تر اوسه چې زخوړه ده ، پښتو ده
اوس چې عمر ئې پهٔ دار دے مجبوري ده
چې یواځې ئې منصوره ده پښتو ده

څهٔ د پتنګ نه کړې تپوس د ډیوې
او د بلبل چې پهٔ چمن مینه ده
د زړهٔ پهٔ مینه کښې ئې ځلند چراغ
کهٔ درته ځیر شې د وطن مینه ده

د مېړنو کالېزې خود کېږي
د تعمیر خښته چې اول کېږدي
خو زهٔ ژوندي قامونه هغه ګڼم
د مېړنو پهٔ پل چې پل کېږدي

چې ازاد دیو ایئن په قید کښې نه وي
دا بې لارې ازادي ده په لاس نه ده
بلکه دو چې د مادې له قیده خلاص شي
بې مقصده ازادي څه پکار نه ده

متحد چې سره شي پنځه حواسه
ترې پېدا یو مکمل بشکلې انسان شي
چې پنځه جدا جدا قاموننه یو شي
ترې ظاهر په نتیجه کښې پاکستان شي

ځان د پاره ئې یو نوے قانون جوړ کړ
چې را یو شول مسلمان پنځه قاموننه
دریغه دریغه که تر اوسه دا سې یو وے
بلکه یو دے د اسلام پنځه حرفونه

## یو زاهد ته

زاهده ستا څه عجیبه غوندې شر پر بیره ده
چې ورته کورم، په هجوم کله په څوب بیره ده
کله چې کور کندې کندې بلکه خوږ بیره ده
کله اوږده نرۍ نرۍ بلکه لوړ بیره ده
کله دې ډېرې بیرې زانګي په یو بیره کښې
چې ستا د بیرې ده ساري هغه د بڼ بیره ده

۲۶۳۵

چې معیاں د عاشقۍ ئې کامل نۀ وي
سودائي به ورته وایو مجنون نۀ دے
زۀ منمه چې اِنسان جوړېدل ښۀ دي
خو کېدے نۀ شي اول چې پښتون نۀ دے

دا متل خو به هر چا وي اورېدلے
چې دنیا کښې اول ځان دے بیا جهان دے
دا انسان انسان نعرې کۀ وهي څۀ شي
څوک چې غم کړي د پښتون هغه انسان دے

لۀ نظره مۀ شه کوږې ځېل پرې اېښے
لۀ انسانه قربانیږي سپېلنے دے
باوړے ئې دے جوړ کړے روغې پوهې
خبر کۀ ګډې وډې وائي لېونے دے

د پښتون د ثقافت ترجماني کړه
هم په دې به پښتانه په یوۀ لار شي
ته یو څاڅکے ستا د وینې ستا د قام دے
”ګر د ګلو کړه چې سیمه دې ګلزار شي“

زۀ چې شونډې زلفې تورې ستړګې ستایم
زما لور ته د تنقید کوتې نېږې دي
د دوسې نۀ د چینې دي چې یې ستایم
هغه شونډې زلفې سترګې پښتنې دي

د غه نمر هم مشرقي هم مغربي دے
افاقي شي چې پۀ منځ کښې د اسمان شي
د انسان نعره پښتون ته هله ښائي
چې ورو ورو پۀ ارتقا کامل انسان شي

کۀ راتګ د یار زما د زړۀ پۀ لاس شي
دا حرم بۀ د بتانو نه اوزګار شي
دا مئین دے چې د ګل نه مینه زده کړي
او کړېوان یې پۀ سپرلي کښې تار پۀ تار شي

کۀ هر څو وایۀ چې پروت دے پۀ نجف کښې
یو جهان د محبّت مې کړو محسوس
مضطرب یم پۀ تلاش کښې د سکون یم
دلته کیف او مسرت مې کړو محسوس

که طاقت د هضمولو دې سوا وي
بیا یې خوره د نعمتونو څه کمې دے
له دې غمه چې فریاد کوې خبر شه
چې دې دا د پښتوانۍ خوشحالۍ قے دے

په هر څه هر څه کښې خوند یې منم
خو بیا اوچت له هر څه تا وینمه
زه کله کله چې اشنا اووینم
یقین مې راشي چې دنیا وینمه
دا خو دروغ وو چې خلکان مې لیدو
دلته رښتیا شول چې زه تا وینمه
ځکه یې زه په دیدن موړ نه شومه
بیا هغه نه وي چې یې بیا وینمه

څو موده مې قومیت او اسلام دواړه
یو د بل نه به په ښنته او په دوشول
چې کوم وخت مې ترې خارج جارحیت کړ
دواړه یو بل ته ترغاړه وتل یو شول

ACKU

چې ئې ورکه پرېشاني ده په خندا کښې
دا ګلونه چې همه څېرې ګرېوان دي
که رڼېږي څو مُسکي وي ترا خره
که ئې اوګورې څېرې د مسلمان دي

مړه څو نهٔ وه، ولې ګُل ئې وهٔ نیولے
دا ده بیا روښانه شوې دا دیوه ده
دې ژوندي پرې د ادب روایتونه
هغه څٔر ده ، دا بېره ادبیه ده

د ضیاء جعفري دائره ادبیه ۱۸/اپریل سنه ۱۹۶۸ء

چې کهوټه روپیه له ما کړه تا قبوله
په نظر کښې دې خامي ده لا صرافه
غل زما د زړهٔ دې هیڅ په کوته نهٔ کړو
ستا په فن کښې لا خامي شته دے عرافه[1]

پښتونه څهٔ به درته اووایمه
چې ارتقاء کښې د تا څهٔ حصّه ده
اوس دې ګرمي کښې استمرار نشته دے
اوس دې غصّه فاسفورسي غصه ده

---

[1] عراف - چې غل معلوموي په عربي استعاره کښې



ACKU

په دوستۍ کښې څهٔ ښېګړې بدې نهٔ دي
حیف خو دا دے چې دا ښهر وو بیا ړنګ شو
څو که وردې کړې په غوټو پسې غوټې
غوټې ښې وې ډېرې ښې وې خو تار ړنګ شو

وې به بې شک، خو مالیدلے نهٔ دے
خاوند د بیت چرته پېتې نشته دے
دوستان خو ډېر دي هم دوستي ډېره ده
دوستان خو شته دے خو دوستي نشته دے

د ایران افغانستان په سرحد باندې
ده په خټو کښې راګېره سو لاره
حیات خان دوئ همت وکړو کړه ئې تشه
لار صفا شوه مونږ خلاص شو له خوارۍ

اسلام قلا ۳۱ جنوري سنه ۱۹۶۹ع

چې شیطان د نفس په مرسته کښې حد اوکړو
جوړ منزل د مدینې رانزدې کېږي
ترون مېړه د ګمراهۍ هم هله زور شي
سپین سحر د هدایت چې راخلېږي

تهران ۵ فروري سنه ۱۹۶۹ع

داسې زور دے د حاجیانو دلاریو
چې به وار د تیریدو به ډیر مشکل شي
په بندر د سعودي عرب یو جمع
لویه خدایه که منزل زمونږ کامل شي

زرکاني ۹ر فروري سنه ۱۹۶۹ء

دلته ترک او پښتانه شته هم عرب دي
سعادت د ښکلي حج به در حاصل شي
خدایه زړونه ئې روښان په اتحاد کړې
لکه یو دي چې مدام ئې یو منزل شي

زرکاني ۹ر فروري سنه ۱۹۶۹ء

حیران تللے زه د پاک الله په کړه یم
چې په پاک حرم د پاک الله کښې زه یم
خدائے دې تل لره زما بخته بیدار ه
زه له ډیرې خوشحالئ ګویا اوده یم

مکه مکرمه ۱۲ر فروري سنه ۱۹۶۹ء

د شیطان په زړه تمناګې راختلي
دا خیمې چې دي وهلے مومنانو
د محشر منظرئې دلته دے جوړ کړے
کفنونه کړل د د بر مسلمانانو

منئ ۲۹ر فروري سنه ۱۹۶۹ء

کهٔ سمبول دې د شېطان وویشت نوڅهٔ شي
لا د نفس د شېطان پاتې دمي ده
تسلسل غواړي چې رسم حقیقت شي
بس د نفس پهٔ تزکیه کښې داکمي ده

حمزه ممه چې لوئ کار دې اوکه
طوف، سعي ، رمي جمار دې اوکه
ولې کهٔ نفس ته دې کېږه کړه پهٔ خولهٔ
نو زهٔ بهٔ اووایم چې کار دې اوکه

منیٰ ۲۹، مارچ سنه ۱۹٦۹

دا پېونتوب دے اوکهٔ جوړ شومه زهٔ
چې داخفا نه پهٔ افشا نوښ یُم
چې مخ او زلفې ئې حمزه نهٔ وینم
نهٔ پهٔ صبا نهٔ پهٔ بېګاه نوښ یُم

ستا د نظر لهٔ یو کسڼ بچه امان
سمې زندې د تا پهٔ سترګو کښې دي
مستې ، مستې د خپلو سترګو وینې
څهٔ بېدارې د تا پهٔ سترګو کښې دي

مدینه منوره ۸، فروري سنه ۱۹٦۹ء



ACKU

# دحضرت حمزه رضؓ په مزار

چې مړه شوه ستا په وینو د ځیګر
مسلمانه پس د هغه نه هنده شوه
بیا یې ستاسو ماشومان لهٔ تېغه تېر کړل
وروستو پاتې دهندې چې اولاده شوه
اے حمزه تهٔ یې سردار د شهیدانو
جوړ کوثر او تسنیم ستا پاکه خوله شوه
ستا لهٔ هغې توري تندر داسمان جار
چې برېښنا یې دکفار دسترګو شپه شوه
اے دپاک نبيؐ کاکا ، دالله شېره
دپښتون درته حاضره قافله شوه
مونږ سلام کوو، سلام زمونږ قبول کړه
مونږ به ښهٔ شو، ستا دعا کهٔ راسره شوه
پهٔ دې کانو بوټو خاورو مو سلام دے
پهٔ دې مزکه هم چې ستا پهٔ وینو سره شوه
سپارښتنه زمونږ اوکړه پاک نبيؐ ته
ستا هستي مو هغهٔ پاک ته وسیله شوه
مور او پلار یې چې نوم ایښے ستا پهٔ نوم دے
کهٔ سبب دمغفرت یې دا نامه شوه؟
زهٔ به ځان ته بختور دجهان وایم
دین دنیا بهٔ زهٔ ګڼم چې راسره شوه

## د ترکي حکومت پخواني دبل ډبې

د ترکانو د جوړ کړي دبل ډبې دي
لا تر اوسه مدينه کښې دي ولاړې
استمراري لري فريب د پېرنګيانو
مسلمانه، لا به نور هم ترې اوژاړې

مدينه منوره ۹، مارچ سنه ۱۹۶۹ء

## د تهران نه د مشهد په لار

څو که جشن د نوروز کړي په دا څه شي
ايرانيان چې د علی رض په لاره نه ځي
همدردي د مسافرو سره نه کړي
يو قدم ورله د خدائے په لاره نه ځي

په طلب د اطمينان کښې انسان ورک دے
جوړ د ده نه په جهان کښې جهان ورک دے
په دې څه شي که جهان ئې مسخر کړ
لا ناکام دے چې د ده ځينې ځان ورک دے

جبرائيل دې که راګير کړو ښکار دې ماته
چې لا ته وتلے نه ئې له صفاته
خپل کمند دې په يزدان باندې ګزار کړه
اے مومنه چې ستا اصل دے له ذاته

## دسوات په مرغزار کښې

ساړې زیړه، شا بربنډه او سر توره
اوخړېدې تر ملا ښکته ځنګېدله
چې دسپین محل نه ښکته ورته ځیر شوم
دګونګهټ په شانې توره ځلېدله
زهٔ ورو ورو چې ورته راغلمه لهٔ پاسه
نو بې ډېره دنږدې نه اوکتله
ورې سترګې لنډ باڼه او توره یو زه
چې را ښکته ئې په شونډو نګېدله
تنګ تیډې بپاس ئې داسې وهٔ اغوستې
بهر پټه خو دننه ښکارېدله
دوه درې نور هم ورسره تورګونګټان وو
دوئې په دې هغه په دوئې به نازېدله
وریته غوښه مو ملګرو. ورله یوړه
دم په دم چې په سیخونو وریتېدله
دخوراک نه پس روان شول بې سلامه
شکریه ئې په مونږ نهٔ پېرزو کېدله

ما وې خدایه دا په مونږ حکومت کا
تا پښتون کړو دوئ ته هسې ذلیل خـله
ندا راغله چې پښتون خو پښتون نهٔ دے
چې ئې لاړه د پښتو کـړله بـدله
اوس لهٔ خدایه شکایت دې لاحاصل دے
چې دا چاره تا پخپـــله قبـلوله
کهٔ زمرے وې خو نن تهٔ باري قچر شوې
داغیارو دپنډونو لاندې زغــله

تهٔ خالق ئې د وختونو کهٔ پوهیږې
چې مضرابه سندره اېږ نهٔ وي سازونه
ستا عمل دے چې لمحې ترې پېدا کیږي
ستا لهٔ ضربه پېدا کیږي اوازونه

زهٔ یو لفظ یمه پخپـه لـرمـه تکي
کهٔ واحد یمه خو نـهٔ لـرم وحدت
ورمبے پـ ده چې پښتو ترې عبارت دے
چې هم ژبه هم تهذیب دے هم غیرت
چې نهٔ پوه او نهٔ پېغور پرېږدي هیچا ته
هم پتنګ د پېرزو ئې هم د پت

که همه دنیا شوې نو جهان ئې
که ملک شوې نو عقبیٰ ته نګران ئې
دے مومن خو عبارت ددین دنیا ته
که دا دواړه دې مخروج کړهٔ نو انسان ئې

هغه کیف چې دے دړوند کومه باده کښې
اوس دے پاتې په هوحق نه په تسبه کښې
په دې وخت کښې غنیمت زما کده دے
دا باده شته په خانقاه نه میکده کښې

بدبختي ده چې تقلید د تا عادت شو
شنه دې پاتې فطرتي صلاحیّت شو
د مِلّي ژوندون دې تخم زرغون نه شو
ستا په برخه معرفت او نه حکمت شو

تصوّر ئې چې په داسې لاس و سم دے
چې مشین دے که ادم دے که عالم دے
د دې خلقو په ایمن کښې امن چرته
چې اساس ئې د اخلاقو په شکم دے

ACKU

# د پاک وهند دستمبر د جنګ په موقع

د ازل نه ستا په برخه غلامي ده
ستا په برخه هندو باره غلامي ده
په پتلون کښې دې فطرت څو بدل نهٔ شو
ستا د پاره خو ننګ ماره غلامي ده

په زنار به دې هیڅ کله غلط نهٔ شم
د اکهٔ دام وي د غافل د پاره دام دے
ستا دعویٰ د اهنسا څهٔ پته نهٔ ده
پټ په زړهٔ کښې دې خنجر په خوله دې رام دے

شغال کوره چې زمري ته ئې کواښ اوکړو
عجیبه ده ، مزکه چرته ، اسمان چرته
لاس طوبیٰ ته د پیپل بندګان اچي
د امثل دے هندوان چرته توتان چرته

د مسلم د فولادي یقین قلا ده
پاکستان خو څه د شکو کمر نهٔ دے
دا خو بس یوه څپېړه د ابباش وه
لا هندوې دیرغل نه خبر نهٔ دے

شا ستري چې د اوله نه لا سپک وه
چې درنو سره په جنګ شو نو لاسپک شو
تېتمکې وه ، ماتې لا ورپسې تېته کړه
تېتمېدلو تېتمېدلو ان چې ورک شو

د زمري دپاره دا خو شرم او عيب دے
چې را پورته شي په سپي بانډې ګزار کا
خو چې غاپي نو له خوبه ئې اوباسي
خود ئې سر په يو ګېېزه تار په تار کا

## کشمير

استعمار دے په خپل مکر وروستلے
ور داخل د مار په خوله کښې بوره شطان دے
په کشمير کښې که هندو دے ننو تے
نو اخر هم دا جنت د مسلمان دے

چې کړ ليچ مې شو بهر د ارادې نه
د ملّت په شيرازه کښې سمون راغے
روڼ صبا مې کلک يقين ته شو تر غاړه
زمانن ته موسيدلے پرون راغے

فلسفه ځو د مکان او زمان داوه
دے د نقص نه کمال وته غورزنګ
د پښتون زمان مکان څۀ وو خبر ئې
یو دا سرائے بل خوشحال د ننګ پتنګ
بیا رجعت وُه د زمان هم دې مکان ته
وُه راغلے ځو ددې صدئ په رنګ

مشاعره سرائے اکوړه خټک

چې منشا ئې سرلوړي د پښتانۀ وه
خدائے هغه ننګیال پیدا کړو په دې کور کښې
بې مقصده نکه دود پرېشانه نۀ وُه
کۀ ئې ژوند وُه جمعیّت لره په اور کښې
په مفهوم دازادئ ئې پښتون پوهې کړو
کۀ ځپله وُه بندي په رنتهمبور کښې

اکوړه خټک

تش به پاتې دا دفترشي هیڅ به نۀ وي
کۀ دخان ادب بهر شي د پښتو نه
دا رنها ځو هم ددې یوې ډیوې ده
دا چې خیژي پښتونخوا کښې د ډیوو نه
میړني به پکښې هر کله موجود وي
دا ځنګل به خالي نۀ وي د زمرو نه

ACKU

پهٔ بهیر کښې د وختونو دانن ورځ
یو جهان پهٔ سر اخستے چپه راغله
د مِلّت د نوي ژوند تاریخ پهٔ لاس کښې
ښکته پورته لاندې باندې خپره راغله

اتحاد مې راپیدا شو د تنظیم نه
مکمل چې ئې تنظیم شو حریت شو
حریّت ئې د مِلّي حواسو ژوند شو
د مِلّي حواسو ژوند عظیم قوت شو

## رحمٰن بابا

نو مے گل ئې لا تر اوسه پیدا نهٔ کړو
د تخلیق پهٔ زړهٔ چاودون شو سپرلي سترې
خوسخن د رحمٰن داسې یو سپرلے دے
چې څو څو ئې لولي نوي ګلان سپړي

استوٰی د عرش دپاسه حقیقت دے
مجاز هم د حقیقت دوهم نمود دے
راشه زړهٔ د ښپښتون ته نظر اوکړه
او به وینې چې رحمٰن پکښې موجود دے

دپښتو او د اسلام دي دوه عنصره
یو کالبوت ترینه جوړ شوے دکانه دے
بې د دوئ نه ئې احیا ممکنه نه ده
خوشحال خان ئې دے دماغ ، رحمن ئې زړه دے

## د اقبال مردِ مومن

مرد مومن دے د اقبال هغه فرد
چې وي په کل کښې هم د کل نه بهر
چې تجرد سکه نکهت اولري
چې وي په کُل کښې هم د کُل نه بهر

لکه تخم په یوه دانه کښې
د لوې ونې چې مضمر وي وجود
په ارتقاء کښې شي د ونې فنا
چې شي کامله نو پېدا کړي نمود

دین د دنیا نه چې جدا وینې ثوک
هغه احول غونډې ، دوه یو کوري
دا دوه چې یو شي بیا دوئ نشته دے
سترګې که دوه دي نو شے یو کوري

نهٔ سرخېل شوم د ملکرو نه سرتيپ
چې په وس کښې مې موټرشته دے نهٔ جيپ
ساده نهٔ يمه سويپر راته معلوم دے
نو زده کړے مې تراوسه نهٔ دے سويپ

## خېبرافريدي

امکان نشته چې بهٔ تل پهٔ يوه لار وي
ترڅهٔ وخته کهٔ عاشق وي کهٔ معشوق
د انسان د ناشکرۍ نه بهٔ څهٔ وايم
ضِد راواخلي د رازق سره مرزوق
بغاوت ئې جوړ اجل د شخصيت وي
د فطرت سره خرد ئې شي مدقوق
څهٔ فريب دے چې حقوق د رب ئې ياد وي
ولې هير د بندګانو کړي حقوق
چې توحيد ئې د نبي له برزخ نهٔ وي
بې حُرما نه سودا نشته پهٔ دې سُوق
د خالق د معرفت دعویٰ راواخلي
بې خبر د سرچينې نه د مخلوق
ستا پهٔ حقله انتخاب زما ناقص وه
شوه معلومه چې کامل وې د فاروق

لواړګے ۸ر اګست سنه ۱۹۷۱ء

## دسید ضیاءُ جعفري وفات

دحمزه نه تللے هوش په دې صدا دے
دا سروش دے کهٔ خپل زړهٔ ېې په نوا دے
ترې به هغه زړې سترګې هيرې نهٔ شي
وي به تل کهٔ نوے غم ېې د ضياء دے

سنه ۱۹۷۰ء

زما هم او سو ځيدل درې دوکانه
دويم ځل او سوزيدو بيا لوا ړ ګے
دا د اعمالو مکافات او ګڼه
چې دے په غم کښې نن صبا لوا ړ ګے

## خاطر افريدي مرحوم

د ځوانئ سپرلے ېې تېر لکه خزان شو
چې بلا د ز ځوړ ى د پرې سلمنه شوه
د قدرت ستم ته ګوره چې مرګ راغے
هغه وخت چې د غزل شونډه دې شنه شوه

چې لذت ېې د مصري وه په وينا کښې
داجل تراوهٔ ېې وڅښل خاطر لاړ
انګازې به ېې دشعر تل ژوندى وي
تللے نهٔ وي، د دنيا نه کهٔ شاعر لاړ

کابل ۵ جون سنه ۱۹۷۰ء



ACKU

د خټک او دراني امتیان پرېږدی
بالاتر له همه وارو خوشحال خان وه
چې په ننګ ئې د افغان ترله توره
که اول وه که اخر وه خو افغان وه

دا خاصه د ښه افغان ده که ئې لټوې
چې خوشحال وه ښه افغان ښه مسلمان وه
د بشر د سعادت په سلسله کښې
که ئې فن ته نظر وکړې ستر انسان وه

مغربي او یوناني حکمت چې وکوت
دربه نه کړي بې دماغه سراغ دواړه
عربي حکمت، حکمت د ے حقیقت کښې
شي روښانه پکښې زړه او دماغ دواړه

چې صفت د ر کښې د صبر پیدا نه کړي
چرې دې ته دوژه مه وایه فاقه ده
هیڅ حمله به په تا نه شي له عقبه
دا چې ستا د دین ښنکر لره ساقه ده

۲۸ رمضان ۱۳۹۰ هـ

# میمونه

دا ناشونکې که د کړو وه دکړو نه وه
شېرعالم پښتو کړله ، پښتو نه وه
د دې پر شرم نه غیرت دې سرټیټ کړے
دے ستم ته حق حیران پښتنې پت دے
که مرګی د شهادت ته هرکلے وُ
که په پت کښې هر کلفت ته هرکلے وُ
میمونې ئې نمونه کړله قائمه
په تاریخ کښې د پښتون به وي دائمه
دا بې نیازه زمانه څه هسې یون کا
صبا نن کړي او د نن په ځائے صبا کا
که کرم وي ترجمان ئې دستم وي
پټ په هره خوشحالی کښې ئې یو غم وي
خوب خندا ئې په ښادمنو پېرزونه ده
خوشحالي ئې په مینو پېرزو نه ده
کله خوله چې چا خندا ته کړله جوړه
زمانې ورله په مخ ورکړه تسوړه
لا ئې پنړه ده ترا وسه د غم شخړه
ګواهي کړي پرې فضاله با جوړه
که بوډا اوکه ماشوم د پښتانه دے
لوئې ستم د شېرعالم ئې لا په زړه دے



ACKU

باجوړ خوې لاځنځ چې پښتونخوا کښې
انګازه ئې لا خپره شوه په دنیا کښې
لافاني شوه واقعه ښکلې رنګینه
چې شوه یک په پښتنې پېغلې وینه
که وفا وه که عفّت که سخاوت وُ
که جرات وُ که ایثار وه که عصمت وُ

(۳)

میمونه په پښتونخوا کښې بې نظیره
په ټولې د ښکلیو پېغلو کښې امیره
په راتګ به ئې مسکی شول غاړې غرونه
وو جلب کښې ورسره به بهارونه
په کلي به ئې چې سوره پرېوتلو
په درو ورو به شوله ګل په موسېدلو
چې منګے په سر ګودر ته تله په لاره
میمونه به د ملګرو وه سرداره
تګ په لاره به ئې د زړګي په انداز کړو
پښتنو سترګو ئې ښکار لکه د باز کړو
لطافت ئې له زعفرانو مزاج اخست
په ښکلا ئې د کشمیر نه خراج اخست
لکه حوره د جنت وه په سیرت کښې
پرښتې غونډې پېغلې په عصمت کښې

## دکوئټې بلوچستان د هیواد اخبار دیو

## نظم جواب

اقتصاد د ژوندون اصل اساس نهٔ دے
ذریعه د یو سیځلي ژوندانهٔ ده
چې مقصد ئې کړلو جوړ د ذریعې نه
عقیده ئې پهٔ دوام د ژوندون څنهٔ ده؟
چې معیار د سړي توب ئې کامل کړو
د دولت ناوې د هغهٔ پهٔ کالهٔ ده
پاک، غنم د سړي توب کړه خره باد کړه
پاتې برخه چې د بوسو شي د خرهٔ ده

## حاجي محمّد خان شنواري ته

محمّد او د محمود پهٔ برکت دے
چې حاصل د اتفاق ورته نعمت دے
متحد چې سره دي څلور عنصره
پهٔ حیات کښې ترې پیدا ځکه وحدت دے

چې موقع پېښه د غم شي خوشحالي کا.
د غسل پهٔ خوند چې سم شي خوشحالي کا
چې کالیزه د انسان شي جشن کاندي
عجیبه چې عمر کم شي خوشحالي کا

## ضیآء جعفري مرحوم

کۀ ضیآء لۀ موږه تللے پۀ داخۀ شي
چې موجود دي ترینه زړۀ او نظر دواړه
نمرکۀ پرېوت پۀ ظاهر پرېوتے نۀ دے
چې روښان لـري اختر او قمر دواړه

تاریخ څۀ دے ، ارتقـا دہ داشیاؤ
دنګه ونه پېـدا کېږي ددانې نه
زۀ ماضي یمه دحال پۀ مرتبه کښې
پېدا کېږي زمانه دزمـانې نه

## شفیق مرحوم سابق صدر اعظم افغانستان

پۀ دښتیا چې نن مې ډېرلۀ نزدې اولید
دي منزل کۀ هرڅو لرې بنۀ رفیق دے
دانسان داحـترام پۀ سلسله کښې
او چې قدر دفنکار کوي شفیق دے

نن لاهور وته ددې دپـاره لاړم
چې دقلم څو سندرې مې لیکل وو
دشکم خواهش پۀ ذهن باندې کړ دوي
نو دخپل معیار نه ښکته کوزیدل وو

۱۳ ر ستمبر ۱۹۷۱ء

پهٔ صحیح معنو کښې هغه تشکر دے
چې بېخي ادا کول يې ناممکن شي
هغه هم مشاهده کښې راتلے نهٔ شي
کهٔ هر ګوره يو اخلاص ددې ضامن شي

زهٔ چې خيال کرم چې يوازې يَمه پاتې
پهٔ دې پوهٔ شم چې سبحان دے راسره
هم پهٔ دې سره دا راز راته ښکاره شو
چې سبحان دے، ټول جهان دے راسره

## د عبدالصادق کاسي پهٔ مرګ

دا عادت دې پاک الله ورک کړه فلکه
چې زغمے نهٔ شي دچا عيش وراحت
ستا د ژرندې نه پهٔ امن هغه کس وي
د تيرک سره چې مل شي د وحدت
ستا هېڅ کهٔ د بدن ښېرازه دَل کا
دل کوے نهٔ شي دانه د شخصيت
د صادق دځوانئ مرګ نونور بهٔ څهٔ وهٔ
د بابا پهٔ زړهٔ يې تېر شو قيامت
خدايه دا به يې وي څرنګه زغملے
د يتيم عبدالظاهر پهٔ زړهٔ هيبت

ستر خوا خوږے چې د قام او د مِلّت وهٔ
یو پېکر ؤ د مذهب او د سیاست
څنګه ښکلې نمونه وه پاتې نهٔ شوه
پهٔ ښکلا کښې د صورت او د سیرت
ګویا تندر پې خبر د شهادت وهٔ
چې د لواړګي پهٔ شنواړ شو دهشت
تعریفونه د مرحوم او دُعا ګانې
هر طرف ته دې پهٔ کور او پهٔ محلت
چې حمزه د تاریخ فکر وته څېر شو
لهٔ هاتفه ندا راغله پهٔ سرعت
یا عطا وه د مېوند د شهیدانو
یا صادق لره يې ورکهٔ شهادت

سنه ۱۳۹۲ھ

دے یرغل د اردو ژبې چې زیاتیږي
چې يې شاته قوّت نشته پښتو لاړه
شهباز هم د الوت لاره کړه بدله
خراړه ځکه پهٔ سندرو نغمو لاړه

کهٔ مومند دے کهٔ کاکړ دے
درانی دے کهٔ غلجے دے
اپریدے دے کهٔ خټک دے
اورکزے کهٔ یوسفزے دے
خوګیانی دے کهٔ بنګش دے
بیټنی کهٔ مشوانی دے
سلارزی کهٔ ترکانی دے
کهٔ ترین کهٔ اڅکزی دے
دا خو واړه یو پښتون دے
اندامونه هم دتن دے
خو چې زړهٔ دے دشنواری
پهٔ دے واړو کښې کاسي دے

ACKU

خپل ولي چې وه پهٔ ما او پهٔ فطرت کښې
اشنایئ وه ازلي ، رانه لانهٔ ړه
چې ازمونه مذهبونه رانه لاړل
خو یوه پښتونولي رانه لانهٔ ړهٔ

شخصیت چې مرکب وي خوندهٔ ور وي
لکه یو چې شي موږ او بادام دواړه
دفطرت مخالفت بهٔ دي فنا کا
سره یو ساته پښتو او اسلام دواړه

چې مغلوب حیوانیت کا انسان دا دے
چې غالب انسانیت کا انسان دا دے
کمو ډاکے د جبلت چې وي حیوان دے
تصرّف چې په فطرت کا انسان دا دے

## د دوران خان د وفات تاریخ

چې د ښو پښتنو سرؤ
ننګیالے او دِلاور ؤ
په ټولي د اتحاد کښې
قبائل کښې روڼ اختر ؤ
په جمادي الثاني کښې
ورځ اتوار ئې مقرر ؤ
دوران خان لاړو عقبیٰ ته
د مرګ غشے برابر ؤ
په تب جنه زمانه کښې
په څلور طرفه شرؤ
چې رحلت ئې په دې کال شو
داسې ځوان له بختور ؤ

۱۳۹۳ ھ

ACKU

لهٔ اووُ منزلو تېر پهٔ ځان کړۀ کړه
چې حاصل درته دښکلي يار جبين شي
پهٔ خارج کښې درته ښکاري اووهٔ رنګه
خو پهٔ نمر کښې چې راغونډ شي همه سپين شي

## حضرت امام رضاؑ

دامام علی رضاؑ د در پهٔ خاوره
بختور دے کهٔ څوک وينې وي کهٔ اوده وي
دا رانجهٔ يې بې خطا غوندې علاج دے
کهٔ کوري يې وي دستر ګو کهٔ د زړهٔ وي

مشهد شريف ۴ اکتوبر سنه ۱۹۷۳ء

ستا دا التفات خو اشنا ډېر ښهٔ دے
چرته ګستاخي راکښې پېدا نهٔ شي
غم يې ښکلي نهٔ کړي کهٔ رښتيا نهٔ شي
هغه څهٔ وعدهٔ شي چې بيا بيا نهٔ شي

دا اميد لهٔ پښتنو ځلميو نهٔ وه
چې پهٔ کړه وړهٔ کښې بهٔ جوړ تړې جينا کې شي
دا د ځت د ښځنهٔ دې څو مره ښکلي ښکاري
لږ څه نور يې هم اوږدهٔ کړه چې لکې شي

د شمشیر او د سنان پښتانه څه شول
حیف چې لاړل بندیوان شول د مرګې
په اولاد کښې یې لا اوس هم غنیمت دے
بوړ په مخ یې د وښتو کړل تبرګې

ږیره څه تللې وه ، بریت هم پسې لاړل
اوس د پېغلو اداګانې کا ځوانان
یو نښان پکښې پخوا د سړو هم وه
چې یې وو د پوزې لاندې دوه مچان

جیناکۍ د زمانې دې ژوندۍ اوسې
زلمي هم دې په امان وي له مرګې
جینکو اوس دې ښکلې زلفې پرې کړې
زلمو بوړ ورته په مخ کړل تبرګې

نن چې هغه ښکلې راته نه ښکاري
ځکه دا ساعت راته لیمه ښکاري
څو چې بېداره د مئین زړه یې وي
بخت یې هم هغه هومره اوده ښکاري

گویا چې همه واړه یې خپل اوکړهٔ
څو چې تعریفونه یې د بل اوکړهٔ
خواست یې ورته چیف چې نن له خولې اووت
خپل پښتني هوډ ته یې کنټرول اوکړهٔ

هیڅ خبر نهٔ دے په کار د درویشانو
چې واعظ کوي انکار د درویشانو
پس له مرګه د واعظ پښتنه نهٔ شي
خو بازار وي په مزار د درویشانو

برکت لري کردار د درویشانو
چې رحمٰن کړلو اختیار د درویشانو
هر یو ګل یې د اسرارو یو دفتر دے
لا به څنګه وي ګلزار د درویشانو

فردوسي وائي ما کړو رستم داستان
ګني یو پهلوانکے وو د سیستان
بیات وروستمه زهٔ په خپل موټي کښي
چې مقام وو د ایبکو سمنګان

ACKU

ورته تخت د رستم وايي دلته خلق
پخوانو خلقو پرې ايښے خپل نښان
خو زهٔ وايم چې اثار دي دهنديانو
لګشته دے چې اثار ئې په باميان

سمنګان ۳۰ر فروري سنه ۱۹۷۲ء

ائینه د سړیتوب ځکه ځلیږي
ورته راچې شي جوهر د ازادۍ
تل اختر چې د ملّت ئې پرې مسکے وي
همېشه دې وي اختر د ازادۍ

بدي څهٔ ده، لغزېدل د سړي توب
نیکي څهٔ ده، ځلېدل د سړي توب
د اقبال د پېغام نور څهٔ مطلب نهٔ دے
خودي څهٔ ده، پېژندل د سړي توب

د مومن کاروان لهٔ وخته بې پروا دے
چې ئې وخت د هر نفس نه پېدا کېږي
افقونه سندره ایزې پهٔ ژوندانهٔ کا
چې کوم غږ ئې د جرس نه پېدا کېږي

د اقبال نه بي ټپوس اوکړو په خوب کښې
څۀ مثال هم شته په عشق کښې د هنر
د مِلّت حکیم مسکے شو وې نکهت دے
چې په ګُل کښې وې دننه هم بهر

## غوړي

د سوچه غوړو په حقله دا متل دے
چرې هضم به د سپي نۀ شي غوړي
غوړي چرته، اوس د ډالډې بادشاهي ده
هضم کيږي هم د سپي هم د سړي

## چيني

چيني ګرانه شوه چې ورکه شي لا بنۀ ده
چې مرض ترې د شکرې پېدا کيږي
حکومت د تدبر نه کار اخستے
د وړو وړو نه سترې پېدا کيږي

## نو خورو بۀ څۀ

د خوراک چې غم او نۀ کړې خوراک ډېر دے
لا کيکونه لا داڼې د ګُل ګلو خوره
دګېډړو دښمني خو پکښې شته دے
ورشه ډېرې دي کرکڼې په ورشو خوره
کۀ دا هم درنه پوره نۀ وي نو ځوانه
څو چې نۀ دي ارزاني خپله پښتو خوره

# وطن

ځوک چې بُت وائي وطن ته پوهه نهٔ دي
پهٔ خوله دا، اوخدائے زده څهٔ ئې وي پهٔ زړهٔ کښې
دبلالِ حبشيؓ شعرونه شته دے
چې ويئلي د مکے پهٔ بېلتانهٔ کښې

قوميّت وطنيت هغه بنسهٔ نهٔ دي
چې لري جارحيت پهٔ طبيعت کښې
اسلام چرې د وطن مخالف نهٔ دے
خدائے پېدا ئې محبّت کړو پهٔ فطرت کښې

محبّت دخپل وطن د ايمان جُز دے
هغه نهٔ دے مسلمان چې ئې غدار دے
دے چمن ته چې پهٔ بدو سترګو ګوري
هر يو ګل ئې د اغيار دسترګو خار دے

دا څو ذوق دے دبنګلا چې ئې پرېشان کړي
دې چمن ته ئې بې واکه داروان کړي
هم خبر ئې سکه ګل هم بې خبره
چې هم خاندې هم ئې ته ځيرې ګرېوان کړي

پهٔ چیو د فطرت سیند دے نه درېږي
بې اختیاره کائنات پکښې بهېږي
ولې تهٔ ، سکه د کل مهٔ شه انسانه
چې مسکے شي بیا يې خوله نهٔ راټولېږي

کهٔ انسان انسان نعرې وهم ګویان یُم
نو چې خپل کردار ته اوګورم حېران یُم
کهٔ غالب پهٔ تقاضو د جبلّت شوم
هله پسته بهٔ منمه چې انسان یُم

هم رهبر دي هم وختونه غلچکي دي
خو منزل ته پهٔ ډېر فکر تلل پکار دي
اے د خپل ماضي بې ځایه مخالفه
کله کله پهٔ شا هم کتل پکار دي
د دوستانو د تللو حاجت نشته
کهٔ پوهېږې د خپل ځان تلل پکار دي

ښهٔ ده نو وایمه چې ضد کوې تهٔ
خو بیا به نهٔ وایې چې بیا اووایه
تا وې هغه وایه ، ما هغه اووې
اوس دا يې پرېږده هغه ، دا اووایه

داوهي چې د شهوت درته بېوزي
خبر نهٔ يم تابهٔ کوم طرف ته بوزي
جهنم بهٔ شي راته درته دوه ګزه
کهٔ تهٔ نفس وته ورته شوې دوه ګلوزي

تهٔ کهٔ جادو د شاعرانو د تقرير نهٔ منې
زاهده ښکاري چې کلام کښې به تاثير نهٔ منې
د دابرې نه ماورې زاهده وايه څهٔ دي
کهٔ کائنات هغه اجمال لره تفسير نهٔ منې
عقله هستي درنه پهٔ ژوند کښې پابندي غواړي
دا بهٔ دې ښخه د جنون وي چې زنځير نهٔ منې

چې التفات ئې د الفت پهٔ ابتدا غواړي
مئينه تهٔ پهٔ ابتدا کښې انتها غواړي
زړګيه وايه چې دا څنګه کيفيت دے د تا
درڅخه هيڅ د دنيا نشته خو دنيا غواړي
بوږ حقيقت د زمانې نه شوې واقف زاهده
لهٔ ما چې نن ته بې پروا او بې صبا غواړي
ښتهٔ نو دروغ دې يکښې نهٔ وي د وصال پهٔ بها
سر بې درجار دے کهٔ ئې ښکليه پهٔ رښتيا غواړي

۲۶۷۱

ACKU

## د اکرام الله ګران د واده په موقع

پوهې دې شي ارباب د غزل
بېرته شو بل باب د غزل

ژوند شولو نغمو وته جوړ
سر چې شو رباب د غزل

ګرانه مبارک دې شه نن
شو جوت نصاب د غزل

دربه کړي هوښیاره نشه
دا نوي شراب د غزل

ګرانه ، درته ګران دې نه شي
دا غزل ، جواب د غزل

لوله اوس ، چې تا لیکلو
خپله خپل کتاب د غزل

جوړې ترې د ژوند اوبه شوې
پاتې شو سراب د غزل

ما اووې هاتفه وایه
غواړم آب وتاب د غزل

وې که لا پخوا شوے وے
وو به لا شباب د غزل

پړانګ چارسده ۳۰ ، اکتوبر ١٩٧٥ء

١٣٩٥ھ

٢٦٧٢

# جمال خان بابا

چې بشکاره راته مزار د خان جمال شو
څهٔ به وايم چې بې څومره زړهٔ خوشحال شو
د فقير بابا ورشو کښې زړهٔ هوا کا
ګرد د زړونو موصفا درک موملال شو

مزار فقير بابا خټک ۴ اپريل سنه ۱۹۷۶ء

پهٔ دې ځائے کښې عجيبه غونډې جلال دے
چې جلال ئې هم لړلے پهٔ جمال دے
چې وجدان دېو سالک پرې نهٔ مړينږي
بهادر بابا مزار کښې عجب حال دے

مزار بهادر بابا ۵ اپريل سنه ۱۹۷۶ء

د پېغلوټې د بنګلا دا کيفيت وي
لکه نوې پسرلي کښې ونې ګل شي
چې ګلونه شي راپېښې سره د حسنه
د يو خوا نه راپيدا ورته بلبل شي

انبياء چې پهٔ دنيا څومره راغلي
څهٔ ملګري ئې لهٔ جنګه زغلېدلي
نود معيار د قربانئ ئې مکمّل کړ
د حسين اصحاب چې نهٔ دي تښتېدلي

زهٔ بهٔ څهٔ یم او سلام بهٔ زما څهٔ وي
چې ملک او مرسلان ورته سلام کا

ستا پهٔ غم کښې بهٔ امامه درباري کړي
تر قیامته بهٔ چشمان درته سلام کا

چې معیار د قربانۍ دې مکمل کړهٔ
تل ضمیر به د انسان درته سلام کا

د نقطو لمحو لهٔ تېده بالاتره
کهٔ مکان دے کهٔ زمان درته سلام کا

۶، محرم سنه ۱۹۷۶ء

## خوشحال بابا

دَم دې ډېر د مونږ دَم پهٔ دَم راکړهٔ
ستورې د سخن د تا قلم راکړهٔ

وران کاندي نقشونه د قدم سیلۍ
ستا سیلۍ نقشونه د قدم راکړهٔ

روح دې تل خوشحال او سه خوشحال بابا
ډېر څهٔ دې کهٔ راکړهٔ، هم دې کم راکړهٔ

امید ونه ډېر پیدا شول پوره نهٔ شول
نهٔ شرمېږي لا هغسې پیدا کېږي

لوئې فریب د ژوندانهٔ نه سوا نشته
راشي مرګ چې ټو د ران ئې افشا کېږي

۲۵۹

## د محمد شریف خان د وفات تاریخ

لاړه د پیسځلے مسلمان
هغه پښتون هغه ښهٔ ځوان
حکیم ګهړه پهٔ خاوړه نن
لړلي تا ځکه زلفان
هغه رفیق د حوار حمزه
چې شاه ستارؒ ته وو ډېر ګران.
چې یو پیکر وهٔ د غېرت
یوه برېښنا وه د ایمان
وهٔ پهٔ عطا لکه سېرلے
پهٔ خوئ خصلت وو ګلستان
ما وې هاتفه راته نن
کال د رحلت ئې کړه عیان
وې شپه جمعه، میاشت د رجب
چې شو فردوس ته روان
تورو تیرو باندې د قام
"سبا" محمد شریف خان

۱۳۹۴ھ

# قطعات

## (۲)

### پرېشان خوب ته

اے دیار د پرېشانو تورو زلفو خوبه راشه
اے بلا بلا وهلیه راشه لړزما بلا کړه
بیا مې بوزه یو کرت د معصومې ښکلې دنیا ته
څنګه مونږ به یو د بل سره شوقه مشغولا کړه
رڼېنې مې بې شماره کړه نصیب د روح په کور کښې
هله سود زما به کېږي یار په هر شکل نما کړه

د خدائے له وېرې خدائے زده که زهٔ منع له زنا وے
زهٔ یمه د روند سړے، او زنا وي د سپک سړي کار
کوم کار کښې ملا ښکلې د الهام چې نازلېږي
پوهېږي عالمان پرې چې وي هلته څهٔ د سپي کار

بکواس خوشي خبري هم به لاڼي کړي سدا
تش اوکښه کم ظرفه، لکه ډول کوي سدا
صفت يې تلّون وي عاري شوے له سکونه
سپک څيز په حرکت کښې راولي لږه هوا

افسوس چې په سرخئ اوسفيدۀ يې کړي بې خونده
ددې زمانې ښځې غنم رنګ نمکي مخ
فيشن داسې بلا ده فطرتي حسن يې ورک کړو
پالنه به کړي څه چې شي مليار د چمن ېخ

بې حايه وي دکورلوښي چې ښځه وي پوهړه
زړۀ وړه شي څيزونه د خوراک ترېنه وړي مږه
دځيل فضل پالنه چې کوم يو زميدار نۀ کړي
ميلمه وي پرې دښې ورځې خواري نيستي اولوږه

په سيند کښې مرجونا وهي غوټې چې غواړي دُر
کوشش دې چې شعارشي مرتبه به دې شي جګه
وجدان دې چې بېدارشي نو ادراک به دې صحي شي
په شيه کښې عجب نۀ ده چې په بهره نيسي ورنه

خند اخو د ژړا نه پیدا کیږي داوښل شي
د بلا ربې غلامۍ ځینې ځینږي حریت
تپوس د ګناه مرکړه ، دنېکۍ باز ترې پیدا کړه
دنیا کښې د عمل نه د دوزخ واخله جنت

جاهل دجهالت ځینې ، عالِم لهٔ علمیته
هر دم هره لحظه کښې بهٔ راوباسي ندرت
منزل کښې څنګ پهٔ څنګ شي ترقي کښې سنهٔ اوبد
دهر یوهٔ مجاز سره لازم وي حقیقت

تاثیر وي پهٔ صحبت کښې هیڅ پهٔ دې کښې نشته شک
چې مل دخربوزې شي خربوزه ترې اخلي رنګ
بیان بهٔ ئې زهٔ څهٔ کړمه افت دکاردولو
پهٔ تشو یادولو هم نشه راولي بهنګ

کهٔ توریمه نوڅهٔ شي پهٔ اوصافو یې نظر کړه
بوړا وي تل پهٔ ګل اوپهٔ سینو پراتهٔ لونګ
کړي منګ دې زلفې زلفې اورابځه دې سترګې سترګې
خالونه چې مدام لري شاهان زېر د قلنګ

ACKU

خوږ ونه وي خواږه او د ترخو نه وي تراخهٔ
د صلحې نه وي صلح او د جنګه نهٔ وي جنګ
عاشق معشوقه يو وي څو نسبت کښې غېرښکاري
بې رنګه نه بې رنګه او د رنګه نهٔ وي رنګ

غوغا کړي پېغوړونه پهٔ اخر کښې ورته ژاړي
وسلې دي پهٔ سرې ئې ازمېئ چې خپله ښځهٔ
کهړې د ساعت شه چپ له استقلاله دا به چپ شي
نينه کهٔ شي د بهٔ بهر له خپل اصوله مهٔ څهٔ

سالک د عشق پهٔ جوش کښې له هر څهٔ وي بې خبر
پهٔ خود کښې شي چې سد ئې شي دلارې مانعات
پتنګ پهٔ جوش کښې هيڅ نهٔ وي خبر شمعې ته ګوري
پروازِ د عشق د جوش ئې پهٔ ښيښه کاندي سر مات

تهٔ چې شوې بدل د زمانې سره
څهٔ به کړم اشنا چې زهٔ بدل نهٔ شم
يو ځائے کړه مسکا د استفهام سره
هغه حال څو نهٔ يمه چې حل نهٔ شم

دے تکمیل د شخصیت په قربانۍ کښې
که د مال که د منال وي که د سر
د ښې بوټي تربیت د اوبو غواړي
نظریه غواړي د وینو اوبه خوړ

هاشمي زلمو چې حق د قربانۍ دے
نمونه ئې کربلا کښې راته پرېښوه
انسانان که وي اتلس زره قامه
دے اتلسو زلمو ئې پوره کښېنوه

دا یواځې د امام خصوصیت دے
یو ملګرے ئې هم سر په ماتې نه شو
که حبیب اتیا کلن پرې ځان قربان کړو
شش ماهه اصغر هم وروستو پاتې نه شو

دا شناهرې سختې ته غاړه کښېږده
په اخر کښې به ئې واړه د نرمۍ راشي
سپرلے بیا هم په راتلو دے فکر مه کړه
ترینه پس که په تا وخت د ګرمۍ راشي



ACKU

د محمّد ګل مومند مرحوم خبره
موږ چې پښتو لرونو څه نه لرو؟
دويمه داسې ورپسې خبره
او که پښتو نه لرو بيا څه لرو؟

## خاطر افريدے مرحوم

چې خاطر پرې د همه دوستانو ګران وه
پرېشانه کښې چې د ګل غوندې خندان وه
خوږ خاطر چې يې خالي ؤ د ترخو نه
ځکه اِسم مسمے ؤ مصري جان ؤ

## ايوب صابر

د پښتون مجاهد روح دے خدائے ورکړے
بې نيازه کښې د بېدل غوندې شاعر دے
حوادثو که هر څو دے د پېر ځپلے
خو ايوّب هغه ايوّب دے چې صابر دے

د همّت خبره وايه ، نه د عمر
بې همته که سړے وي ناسړے دے
که يې پسين وږښتې په برېتو کښې پېد اشول
خو صابر چې لاهمّت لري زلمے دے

جوړ هغه بابا نانک دے ددې عصر
د اردو ادب دعوئ ده چې زما دے
پښتو دواړه وروڼې توري کړې له قهره
وې اردو ته خو بیا اووایه د چا دے؟

## خوشحال بابا

انګازه ئې د الوت شوه دلته پاتې
د تا روح که په فلک د جلال کښېناست
کوم شاهین چې تا پاللے وو خوشحاله
پس دستانه په منګل د اقبال کښېناست

په کالبوت د پښتانه کښې دې انسان ته
د خودۍ او د غیرت درسونه ورکړل
کشید شوي د جلال او له جماله
تا د میو داسې څک جامونه ورکړل

ننګیالیه هغه ستا د سیلۍ خاپې
بس زمونږ د نامرادۍ نه سیلۍ یوړل
نه ستا علم نه ادب راغلو په مونږ کښې
د حالاتو سېلابونو بڼ لۍ یوړل

پېښور ۳۱، جنوري سنه ۱۹۷۸ء

## جهانزیب (والئ سوات)

دوه کاله پس مې جهانزیب اولیدو
محل یې هغه دبدبه یې نه وه
دومره مې زړه پرې باندې اوسوزېدو
خدائیګو چې حد او اندازه یې نه وه

مینګوره ۱۷ اپریل ۱۹۷۸ء

مشرانو ته چې کشر تیټ جبین کړو
خدائے هغه له مشرانو بهترین کړو
کچې کوتې چې ځان کم ګاڼه له نورو
وزته کوره خدائے په برخه یې نګین کړو

دین دنیا مې دي دوه سترګې نظریو دے
قلندر د مرګ او ژوند نه مزاج اخلي
مستقبل به په کمند کښې د حال ګېر وي
چې مومن وي د ماضي نه خراج اخلي

## علامه اقبال

د جهاد چې پکښې هر کله کمې شوه
دملت د ژوند د پاره جلال راغے
چې خودي د مسلمان شوه خوبولې
ویښ اقبال د مسلمان شو اقبال راغے

نابغه ورسره بیا مردِ مومن هم
چا وېل چې دا پخپله پېدا کېږي
د قدرت عطا اقبال وه دې مِلّت ته
ستر که ورخو کله کله پېدا کېږي

په خپل قول کښې صادق او په زړه راست یُم
د اخلاص له غوړو ډک یم هغه ماست یُم
د بې ننګې کور په ښهر د منډانو یُم
هیڅوک نهٔ رانږدې کېږي ځان ته ناست یُم

## صادق دوست

هر چا لره صادق دوست چې پېدا شي په دنیا کښې
خوشحال ئې په صحبت اوسي هر څوک که دے خفه وي
ځمزه د صادق دوست به د ترځه وصف بیان کړي
چې کوم څوک له هرې دردې اوځکي خوږه وي

په هر خوار و غریب مهٔ کړه ګمان د کمینه
ځکه وي همه نهٔ وي هر یو د شاتو مچ
صحبت د عالمانو وي باعث د منفعت
شو ده په شرو مبو تو منه شي پېدا شي ترینه کوچ

عمل بې شکله ښهٔ دے نو موقع او محل غواړي
لیدے نهٔ شي کابل کهٔ مېږے اوخېژي پهٔ پچه
غصّه بهٔ ضبط نهٔ کاندي کم ظرفه کم همته
پهٔ باد د پشه کال د چا خوله بهٔ نهٔ شي وچه

هم عقل کړي د عشق پهٔ هدایت هدایت عشق ته
تل پند کوي د شاه پهٔ هدایت شاه ته وزیر
دا نشته هیڅ امکان ورتیښي لره هیڅرې
چې پرښن څهٔ بې پرتوه د رڼا کاندي نظیر

لالچ کښې هوا او باسي سړے له سړي توبه
بې صبره، بې حیا او پهٔ ښتې بهٔ وي ککړ
هر څوکهٔ د هر چا کړي خوشامد خوغني نهٔ شي
مشهور دے دا متل چې نهٔ هضمېږي د سپي غوړ

خودي ښکلې شوې پهٔ فطرت کښې د انسان ده
څوک وائي پهٔ سېلاب کښې د بکرې نه اور لاړ
تادیب او سرزنش پهٔ بد فطرته اثر نهٔ کړي
بدي بهٔ ترې یو نهٔ سي کهٔ زر حُله ورکړې جاړ

خوشحال وي چې بند ناست پخپله خوښه وي کوټه کښې
بندي ئې چې دوه ورځې کړي حکمي تیار په جنګ شي
کالونه که بېلتون وي د اشنا خو پروا نهٔ وي
وصال ته منتظر چې وي دوه ورځې سړے تنګ شي

تصویر د پاسه جوړ چې شي تصویر نو شي خراب
دماغ داسې کېمره ده چې هر شے پکښې موجود وي
حمزه که هزار ځله اشنا اوګوري په سترګو
خواهش د تصوّر چې اوکړي نقش پرې نابود ي

قلم مې رابهر کړو رباعي چې ما بیکله
ناساپه تور هندو مې په نخرو په مخکښې تېر شو
بندش مې داسې اووت له دماغه جوړې نهٔ و
یو شکلے خیال راغلے وو، بېکن راځېنې هېر شو

## توره هندوه

پهٔ خنګ به کړځېده ماته ئې نهٔ کړو التفات
زهٔ خان د پښتنو، هغه هندوه تکه توره
ما ځان کړو بې نیاز خو یو ورځ پهٔ خندا راغله
زهٔ هم شوم له مُسکے بې نیازي مې نهٔ وه نوره

ACKU

## دنیا او خواهش

خواهش او طلب مهٔ کړه ددنیا ، دنیا بهٔ راشي
پهٔ زور او په کوشش بهٔ روښان نشي دبخت ستوري
چې نن ته مخامخ شي نو وي سوري بهٔ دې شاته
چې ځت کړې ورته ، مخکښې مخکښې ځي بهٔ درنه سوري

کهٔ څوند دبرې کوزې دنیا اخلې نو تیار شه
پهٔ منځ ددنیا اوسه پهٔ معنیٰ کښې کهٔ ئې لوټه
لذت کهٔ دوصال دې په زړهٔ اووې نو خبر شه
عاشق شه نصیحت کړم داشنا دنوم پهٔ غوټه

پښتونه مسلمانه دیورپ پهٔ رنګ کښې رنګه
تهذیب دې مغربي شو ، ذهنیت دې بدل نهٔ شو
کاردغهٔ چې کړو اختیار دزړګي تک نو څپل ئې هر شو
تابع شوې دمغرب ، ولې غربت دې بدل نهٔ شو

## پښتون ته

پښتونه زهٔ حیران یم چې پیدا په څهٔ فطرت ئې
شامله درسره وینم دعمر بدحالي
عادت دې شوه ژړا ، زړهٔ دې خالي نهٔ شوله غمه
غا بهٔ شي وریځ چې داوبو نه شي خالي

لهٔ بنارهٔ ماسپینین لاړو پاٹندې للمې ته ګوره
رښتیا دې وي شاعر پهٔ حقیقت کښې سودائي
ګرمي ده ، باسولي خاصه دا رشنې چاڼې پخې کړې
پرې بنهٔ موطبیعت شو ، پکاریږي اشنائي

ملا ګوري ۲۳ ستمبر سنه ۱۹۳۹ء

وارهٔ لوئ ملا ګوري دي یکتا پهٔ ظرافت کښې
دیونه یې تپوس کړو ، پهٔ ګرما وي څهٔ حالونه
هلک د مدرسې شو پهٔ خندا جواب یې راکړو
ګرمي خو دېره نشته ، خو پهٔ شپه نهٔ شي خوبونه

پهٔ ثابت کښې چې رسید شو لوړې مېنې ته مونږ واړه
معلومه شوه داخلق دي یکتا پهٔ سخاوت
مجنون هلک د کلي ترخوا مونږ چې ستړي لو
خاوند یې لا پهٔ کور کښې وهٔ چې سپي یې وکړو سُت

شهید مینه کهٔ کنده د دوزخ ده نهٔ پوهیږم
ګرمي ده پکښې قهر ده او به ګوري کهٔ څوک راشي
ګرمي پهٔ زوره زوره چې ساه اخلي له دهشته
جنون راشي پرې ، چک پهٔ اندامونو وهي ماشي

وړه غونډۍ دره دکم شلمان په مخه راغله
حساب ئې کۀ کړې خلق پکښې اوسي يو لپه
سړو نه ئې مچې د شاتو نۀ شي خلاصېدلے
اوسپي ئې دسوي سري ترځان ړومبے لۀ غپه
۲۶ ستمبر ۱۹۳۹ء

کومل کښې مې چې اور د محبت بلېږي شپه ورځ
رښتيا دي چې پۀ عشق کښې اندېښنې راپېدا کېږي
واعظه کۀ هر څو کوې پند ونه اثر نۀ کا
تنور چې کله ګرم شي دوډۍ پکښې پخېږي

ستا زلفو کور دعقل او دخِرد کړو زماخپور
بې حاله يم، دسې هم راته اوس ښکاري منګور
تيارۀ زما د زړۀ کړه ورله تورې د تاعشق
رښتيا دي چې رغېږي تل دا ورسوي پۀ اور

## دخرما ونه

بيا راغلو درله مونږ دوه کاله پس دخرما ونې
منګي دي دارهټ همه وختونه نشته شک
ورمېږ حمزه دې څنګه وۀ دنن حمزه دې څۀ رنګ
اول وۀ تش نسکور منګے چې اوس راغلو دے ډک

# قرض

د قرض اخستل خو ډېر اسان وي چې ښکارېږي
بیا پسته ډېر مشکل ئې شي سړي ته خلاصول
عادت د هر یو کار خو پېړ اکېږي په اسانه
خو بیا ئې وي له ځانه ناممکن جدا کول

دیو سړي معلومه کمزوري چې وي بل چاته
تېرېږي تړې په ځنګ ، نهٔ کوي یون د دهٔ په لار
صحبت د چا کهٔ خوښ نهٔ وي د تا چپ له حیائ
اسان ئې دے علاج ورله یو ځله ورکړه پور

اثر بهٔ د بدکارو د صحبت په ما او نهٔ شي
مثل دے چې لعلونه په ایرو کښې نهٔ پټېږي
خواهش هوا حرص کړي په هغو اثر چې سپک وي
چپې کهٔ د سیلۍ وي خو رنهانهٔ ځاسیلېږي

## فاروق ته

ګرمي وي کهٔ یخني وي خو څوک نهٔ پرېږدي ملګري
کهٔ قید وي خو چې خلاص شي چې هم جنسو ته مارغان
غمونه د نیمګړې دنیا څهٔ کوې فاروقه
سحر وختي راځه مونږ ه جنګل ته یو روان

۳۱، جون سنه ۱۹۳۹ء

زهٔ ګرمۍ یم تبنتولې، تهٔ زمانه څهٔ خبر يې
یو نوکم دي پروګراموته بل مې تاب دګرما نشته
شم قربان دې چې اوجانهٔ چې يې تهٔ او افتخار کړې
زړې شته دي خرواروته، ولې پوست دخرما نشته

دربهیو داټرېکټه ۱۲ جون سنه ۱۹۸۰ء

ما ډېر ډېر فریادونه ډک له سوزه ورته اوکړل
زړهٔ یخ بې مروته دیارنهٔ شو ترا ره کښې
پهٔ زور کهٔ شي ګرمي دپښه کال نووي محفوظه
هغه واوره عاقله څه پرته وي پهٔ څاره کښې

ببګاه مې دخپل زوي نه دسبق اوکړه پښتنه
چې نهٔ ورتلو غصه شوم، ډېر مې دوهلو وران
بیا پسته چې خفه وم تسلّي مې ورکړه زړهٔ ته
هر څوک پهٔ غم غصّه کښې ګزاره کړي پهٔ ځان

ګرمي هم ورو ورو زیاتیږي اوکمیږي هم ورو ورو
یو دم که اوړې ژمې وي نو خلق بهٔ وو مړ
ورو ورو چې سړې دوست کړي تړي یو دم مهٔ جدا کیږه
قانون باندې روان شه دفطرت چې نهٔ شې پړ

ACKU

د عوٰی د علمیّت یې نهٔ ده کړې معترضه
دماغ یې سلامت پهٔ خرافاتو نهٔ دے دړ
شاعریَمه زما د علمیت سره څـهٔ کار دے
خوراک دے زما مغز، کار یې نشته دے پهٔ هل

خوارۍ او غریبۍ کښې یار اشنا له سړي تښتي
مرض دیم چې اولګي پهٔ ځا، وښته یې رېـږي
پیدا کړه خودي ځان کښې بې خودۍ کښې دې څهٔ سود دے
خبرشه پهٔ هجوم د زور اورو اوبهٔ خیږي

فرق یې د حرمت نهٔ وي بدان کهٔ اوکوري قرآن
خیر دے رقیبان کهٔ پهٔ دیدن وي د اشنا شاداب
بشکل کهٔ کړي نظر د رقیبا نو لب دیار څهٔ شي؟
چرته چې موندهٔ کړي شیریني ورته راځي ذباب

ګوښه کهٔ یې د زړهٔ پیمانه سترګې اشنا اوسي
رِندانو، پهٔ محراب کښې دکعبې ساقي ولاړ دے
مولا چې دے کریم، نو ښهٔ نعمت یې هم کریم کړو
راځئ چې نوش کوو، بغیرله دې جهان ویجاړ دے

ACKU

لسم وه د رجب کال وه غشخ لاړم ډیلي ته
د عرس د خواجهٔ نه پس چې مل مې شو سرور
درګاه ته د محبوب الٰهیؒ لاړم سلام ته
خواجه حسنؒ خلعت د خلافت کړو را د بر

ډیلے ۱۵ اګست سنه ۱۹۴۸ء

اووایُم چې بیا بهٔ دې بیا نهٔ منم خو بیا منم
څو ځله بیا بیا اووایې ماته خو بیا نهٔ راځې
ستا صبا صباشي خو رانهٔ شي څهٔ صبا دې دے
وایې چې صباته بهٔ راځم خو صبا نهٔ راځې
هیر دې داسې هېر وي چې دیادو نه سوا دې وي
چې پهٔ هر طرف پهٔ کور زما پهٔ خطا نهٔ راځې

بنهٔ اوبه دي څنګ پهٔ څنګ سره راغلي
پهٔ خمیر کښې د فطرت چې دي اښکلي
پهٔ تیارهٔ او پهٔ رڼا کښې شپه او ورځ وي
مرګ او ژوند دي یو تربل سره تړلي

داغونه د مسجد پهٔ زړهٔ مې بې شماره ایښي
حیران یم پهٔ دې کار چې چا د چا دپاره ایښي
محراب پهٔ جماعت کښې د بدعت نهٔ څهٔ کم نهٔ وهٔ
هر څهٔ چې دي چا ایښي دائې ټول بې کاره ایښي
تورخم مسجد
۲۶۹۳

دوه کارونه دوه خواهشه په یو وخت نه پوره کیږي
لکه دوه سوي اورونه کا او دوه ښځې شا په شاوي
که په دین دنیا دې سترګې وي د زړه نو لا حاصل دي
یوه سترګه چې کوږ غواوي بله هم په هغه خواوي

د بدۍ نه مه ویریږه ښه به اورې چې ښه وایې
و زبان ته یې راپیږنده هر هغه چې په زړه وایې
د نېکۍ بدل نیکي ده ، د بدۍ بدل بدي ده
هم هغه به بېرته اورې په ګنبد کښې چې څه وایې

طائفه د شاعرانو که وي ستا په خیال کښې ګرمه
د اسې بویه په خپل زړه کښې کړه په خوله خبره سمه
که دولت لرې قارون یې زه د تا نه بې نیاز یم
نه ته زیات یې د سړي نه ، نه زه کم یم له ادمه

انکار چې د حسین وه د بیعت نه د یزید
هم دا په حقیقت کښې وه تفسیر د لا اِلٰه
ثابت یې د اِسلام حقانیت کړلو په وینو
بنا د لا اِلٰه ورکړو ثبوت د اِلّا اللّٰهَ
و نولس مظلومان د اهلِ بیتو شان یې ګوره
او نولس دي حرفونه هم پوره د بسم اللّٰه


ACKU

# پهٔ خوب کښې

ما وې چې دا اوده قام بهٔ زما په چغو ویښ شي
معلومه شوه ما غږ کړو خو بولو ته پهٔ خوب کښې

نو حه د مفلسۍ ده چې مې اوښکې ساتي ویښې
جوړ نهٔ شومه پهٔ عمر هم بدلو ته پهٔ خوب کښې

غفلت یې داسې یار دے چې یې ستائي پهٔ دښمنه
اشنا ته لکه څوک ورشي کنځلو ته په خوب کښې

ما شوم د ایشیا به د یورپ نه څهٔ ازاد شي
ورکړے یې ګوډۍ ده لوبولو ته پهٔ خوب کښې

چې ټوله شپه مې ستا پهٔ غم کښې وینې وې ژړلې
بیدار وم مرغلرې توبولو ته پهٔ خوب کښې

سترګې ډکې شوې لهٔ خوبه، ډیوه هم پهٔ رپېدو شوه
جوړ نمر مخے اشنا راغے، کهٔ نسیم د سحر نهٔ وي

چې د چا حسن نصیب شي، ځواني تېره شي عبثه
دومره محو وي پهٔ ځان کښې چې له ځانه خبر نهٔ وي

هیڅ شک نشته پهٔ دې کښې چې دښمنه شته پهٔ عشق کښې
خوښکاري پهٔ مثال ورته د ګلو، د غنې

هر څو کهٔ ګلستان دے خو د غنو نه هم ډک دے
بې له دې بهٔ عقل څهٔ کړي چې اخلاص کړي له دښمنې

تاریخ دے پنځلسم میاشت دهٔ د مارچ څلورنجي
پهٔ ورځ د سه شنبه کښې نوے نمر ختلے دے
یو ول ئې له مراد وهٔ دویم ول ئې لهٔ اقبال
اوس پرے د هستئ ہي مکمل غرے دے

ګلونه یو او بل ته د خندانه ښتېدل
بویونه یو تر بل د پانو خواته پټېدل
وارهٔ وارهٔ څهٔ بوټي پهٔ جنت کښې د پغمان
چې سر به ئې رااوویست لمبېدل او غمبېدل
پغمان ۳۱، اګست ۱۹۳۸ سنهٔ

ښې شکله دامنم چې ایله ښن اوګرځېدو
ښري ښري اوبندهٔ اوبندهٔ او پلن اوګرځېدو
اغزي موخفه نهٔ کړل کهٔ موکړو د ګلو سبر
دربښم دې نهٔ نازین ي چې پرستن اوګرځېدو
۳۱، اګست ۱۹۳۸ سنهٔ

پغمان کښې پهٔ ګلانو پهٔ سبزه او پهٔ اوبو
پهٔ ګټو پهٔ تبزو پهٔ شګلن اوګرځېدو
یو باغ د ظاهر شاه دے که توته دهٔ د جنت
مونږ دې فاني دنیا کښې پهٔ عدن اوګرځېدو
۳۱، اګست ۱۹۳۸ سنهٔ

# د اقبال حسین وفات

زما د هغه خوب تعبیر دا غم وه چې اقبال حسین د ۱۵ مارچ سنه ۱۹۲۹ء ورځ
د راتګ د پاره غوږ کړه او د مئي میاشتې په ۲۸ تاریخ ئې د سفر کړو په سر کړه

اته ویشت دے د مئي د هغې د ه دغه ورځ
دغم یو نوے غشے زما زړه ویشتلے دے
غلمان وائي یو بل ته شو جنت په نوي رنګ
نن سبز مبارک اقبال حسین راغلے دے

نن يې یار د زړه نه کوز شو چې ستا نوم زما په لب دے
چې مقام د مينې وران شو اوس په سر کړه ادب دے
لکه نور ته ئې کاندې ما ته هم مخاطبه کړه
کيني سر به هغه نور شي چې د دې نه ځه مطلب دے

زه خيل ځان هم نه وينم تا به ځنګه او وينم
ته يو بيل غوندې جميل ئې کړې پرده داسې نه
حسن دومره پرې حجاب شو چې کتل ورته ممکن وي
عشقه دومره مضطرمه شه چې بهر شې د سينې نه

شوه نن راته معلومه چې وي ژوند په اعتدال کښې
نهٔ تل په بيابان او نهٔ استوګنه بهٔ په باغ
چې شور د حد نه زيات وي هم کمزورې پرې دماغ شي
په ډېره خاموشۍ کښې هم کمزورې شي دماغ

بادهٔ د سپرلي چې مې راوښۀ کړو خوبونې ژوند
وهٔ زما لهٔ ګرمو او لهٔ يخو بوږنېد لے ژوند
څوکهٔ د فطرت نه مرور وهٔ خوشحالا يې کړو
رام يې کړو يخپلو رنګينولهٔ ترهېد لے ژوند

مياں مريد بابا پچګئ ۱۰ مارچ ۱۹۵۳ء

په مجاز چې غلط نهٔ شې دا ظهور يې حقيقت دے
دا چې اوس دي افشا کاني دا هم واړه وو رازونه
حمزه دا په حقيقت کښې د هغهٔ د مخ رڼا ده
اشارې يې فردوسي دي چې مُسکي شول مجازونه

پايندې للمې نه لاړو زرياخان سره موشپه کړه
دوېم ځل مې قسمت وهٔ چې راتلم په لوړه مينه
سحر کښې يې د تللو اجازت راته رانهٔ کړو
وې ما خو مېلمستيا لاکړې نهٔ ده اوشوهٔ کښېنه

شهید مېنې ته بیا راغلمه شپاړس کاله پس
اختر شته، نهٔ فاروق شته، نهٔ ماهر شته راسره
داکنده د دوزخ عمر آخان دے تړې وتلے
اوس واک د سیلو خان دے بنهٔ ښکاره پهٔ دې دره

۲۷ نومبر سنه ۱۹۵۵ء

مچې بهٔ تړې د شاتو خلاصېدے شي او کهٔ نه اوس
خوسپي يُ رسوي سرې ته ځان وروبې لهٔ غېه
بیا شپاړس کاله پس د حمید خان کلي ته راغلم
هغه شلمان چې خلق پکښې اوسي يوه لپه

۲۷ نومبر سنه ۱۹۵۵ء

یا پښتون لهٔ ځانه ورک دے، یا پهٔ خپل نظر کښې سپک دے
څهٔ خوشته دے پهٔ دا منځ کښې چې سکون مې د زړهٔ ورک دے
تا به وینبه کړم یا ډوبه، وخت د چړه دے پښتون سیمې
دواړو کښو ته مې ځبر شه، یو امو دے بل اټک دے

برزخ کښې مې فضا د کراچۍ ده منعکسه
راخپوړ زما د ذهن پهٔ دنیا کښې دهریت دے
باغونه راتوکېږي مې، ذرغون پهٔ اماره کښې
سپاهي چې زهٔ د چشت یمه، قام مې جمعیت دے

## ببرستم احمد شاه مرحوم ته

د ژوند په راز خبر په دې پوهېږي خزان راشي
قدرت چې کړي تشکل دګلستان د بدلولو
شاعر لکه بدل چې کاندي کړه وړه د خپل نظم
ورپېښ چې ضرورت شي د عنوان د بدلولو
سپړلې دې ستا مرض شي د پښتو ادب په سیمه
هم دا دې یو سبب شي د رجحان د بدلولو
اِحساس په مشرانو کښې پیدا د قومیت دے
دا زېرے د قدرت دے د افغان د بدلولو

په غره کښې دې هوا او که اوبه پکښې ژوندون وي
نن لاړو حیدرۍ ته کله کوز او کله ختي
لا س نه وي بچي چې لونړي واخستم په مخه
شیران راله وراته کړه چا ویشتلي وو دوه چتي

حیدري باغ ۵ ستمبر ۱۹۵۹ء

تخلیق کوي د مینې مخ او زلفې چې بربنډ وي
پیدا د جنسیت او لطافت ترمنځه ختړ شي
ښکن بې حجابي چې شي سوا له مخ او زلفو
د مینې لطافت په حیواني غبار کښې پټ شي

هېنداره چې په لاس کښې د پرون اونیسم زه
ښه بد به راته ښئي د مِلّت په هر قدم
د نن د تقاضو نه ېې که خلاص کړلو خپل ځان
شک نشته چې به ختم شي زما د صبا غم

پاک سپېشل جمهوریت میا والي ۱۸ دسمبر سنه ۱۹۵۹ء

هجرانه خبر زما دې که وختونه اوخواړه
تا هم زما له وصله ګزارونه اوخواړه
چې ذهن مشالونه د فطرت او غورځول
حالاتو بې اختیاره تیندکونه اوخواړه

روان د دسمبر په څوارلسم د کراچۍ نه
په پاک جمهوریت کښې چې سپېشل د ایوب خان دے
ځائے ځائے دي تقریرونه سوال جواب دے د عوامو
دوره د بنیادي جمهوریّت ده که طوفان دے

کامل چې شي ادب نو د مِلّت د کالبوب زړه شي
او زړه یو ضمانت دے په کالبوت کښې د ژوندون
مِلّت چې مکمل شي سادګي پکښې پیدا شي
تش ښکاري ایښې غونډې باطن کښې نندارتون
هر شے که په نړۍ کښې ایښې ته مخامخ شي
جواب کښې ایښه هم هغه شے کړي رابیرون
کابل ۴ ستمبر سنه ۱۹۵۷ء

ترڅو چې وي ادب قبیلوي نوځان په ځان وي
یوځان به شي منمه خوچې یو مرکز ته راشي
لښتي سَرپه سندرو په دَو دَو رسي ولو ته
ولې چې یو له بله ګډون اوکاندي دریا شي

ستا وینښ که لاشعور شو نوبه پوي په حقیقت شې
خلاف وي له فطرته چې څوک وائي بله ژبه
پردکه ژبه غالبه شي پیدا چې زنګوري شي
بیا وائي وي ادب او وي بابا په خپله ژبه

د خیالونو جزیره مې د وحدت لاندې تشکیل کړه
که کثرت مې د ماحول شي، طوفانونه به څه اوکا؟
د هستۍ د دائرې نه بالاتر د ساقي جام کړم
که مېچنې غوندې چورلي، اسمانونه به څه اوکا

د تهېد نه دي عادت چې پښتنې سترګې دي
خو اے د حُسن کوربه دغه مېلمنې سترګې دي
شوخو ککیو دې د زلفو نه کړه بورې کړې
اوس خو په هر نظر مېن ته ذولنې سترګې دي
ستا د ښو غشو لیند و وروځو له شوقه اشنا
د شهادت د پاره ستا په لور کږې سترګې دي



ACKU

وائې چې جدّي کښې اجتماع د اتو ستوریو ده
جوړه شهٔ غوغا کړه په دنیا کښې نجومیانو

وائې چې قیامت به شي په دغو دریو ورځو کښې
تمق وهئ لاسونه، پورې خاندئ انسانانو

مونږ به ورته د لو دجدې دلاندې راولو
څومره چې طوفان يې وي په دې بوکه کښې ور به شي

نشته دے قیامت چې په نړۍ کښې څوامام شته دے
ویرې چې اخستي دي کوم زړونه هغه سپک به شي

لوارګے ۲ فروري سنه ۱۹۶۲ء

تا چې زلفې راخپرې کړې مستې سترګې دې کړې پورته
نور څو هیڅ رانه اونهٔ شول ما ویځو ته نعرې کړې

دلبرې درته ما زده کړه، زهٔ دې هبر کړمه د اولې؟
بنیاد پټ شي چا چې پورته عمارت ته منارې کړې.

د اتندر د مُسکا دې د رقیب شي مبارک
دے بس مې تصوّر دې په ما ګرانې سترګې دي

ځوانې د تخیّل به دې حمزه وي مدامي
تل تل يې تصوّر کښې چې ستا ځوانې سترګې دي

زور د مینې کوره ، چې زما شولې ستا سترګې
اوس په هر یو مخ کښې راته ښکارې زما سترګې
تا چې رانسودلې وې هم دا دوه دهر څپا وې
تا چې رانه پټې کړې اوس څرته د چا سترګې

نا پوهه وې پخوا به د دیدن په وخت کښې راغلې
اوس پوه چې شوې اوښکې پښتنې ولې راځې
بس هغه یوه شپه وه چې نظر ې رانه واخست
اوس ختم انتظار دے نو دا شپې ولې راځې

د سکاڼ اشنا په غم کښې ترسکونې اوښکې راغلې
د سرو لبو په غم کښې ې ګلګونې اوښکې راغلې
بېلتونه له مودو مې وې په سترګو کښې ساتلې
د باندې ستا له جوره زما جونې اوښکې راغلې
بند ونه د حکمت په مخه یوړل عاشقۍ
خالي ې د زړه کور کړو ، افلاطونې اوښکې راغلې

نه خورمه چغلي زه ائینه یم بې ریا یم
ثوک چې مخامخ راته کوم څیز کړي هغه وایم
هیڅ مناسب نه دي ښکلیه یاره چې دې ستایم
هغه به دې ستایې چې ستا نه دې زه خوستایم

خپل حسن چې نهٔ لري پهٔ بل مینږدے نهٔ شي
اور کهٔ وي پهٔ چاکښې نو بې اوره بلېدے نهٔ شي
مینه بې فطرت وه، حادثو بې نظر تت نهٔ کړو
سترګې د ماهي داوبو منځ کښې پټېدے نهٔ شي
څنګه شوګېره وه چې پسخاک ئې د وصال کړو مل
راغے اشنا راغے زما سترګې غړېدے نهٔ شي

ستاګوابښ کړې زما ښکلیه اشنا داسې وارخطا
توېدے نهٔ ستېدے شي چې حېراني اوښکې دي
د ښکلیو پهٔ نظر کښې کهٔ ارزاني وي نو څهٔ
توپیر ي چې الفت کښې پهٔ ماګراني اوښکې دي
فریاد ئې لاسهوا شي اشنا ستا پهٔ دلاسو
ناپوهه دي، نازبینې ماشوماني اوښکې دي

څهٔ شي کهٔ سبب دې د غرور ښکلي ځواني ده
د اوره بې نیازه، د ختونو روانی ده
څو کرته خپله مدعا شوه راته یاده
هره شوه چې ن دې د خبرو ارزاني ده

درياد به وي زمونږ د وصل شپه وه موسېدلې
برېښنا مې هره اوښکه پښېښته وه موسېدلې
يو رنګ به د رقيب په مخ راتللو بل به تللو
ساقي چې ستا په لاس راته کاسه وه موسېدلې
هر څو به کړې مابلې بيا به بېرته ډېوې مړې شوې
ښمو کښې د مستۍ يوه لمبه وه موسېدلې

مېوه چې شي پخه نه شي وېشتې شجر په کټو
کچه چې وي راړې وزې له شجر ثمر په کټو
وياڼې د محبت کړې د ښاپست ولې بسبرازې
هجرانه ولې ډلې د وصال شجر په کټو

ستا نه راتګ به څوان په تنهايي کښې زما غم کړي
داځکه خو اشنا زما د کور لارې زړې شوې
چې تا راته کولې، باورې وې ستا خبرې
چې زړه راته هم هغه کړې رامخکښې وسوسې شوې

مه پټوه مخ رانه رڼا مې د مخ لاړه
زه هم يو بخرے اشنا ستا د انسکو يم
څومره ستا په لور چې په تکل د الوتو شوم
هومره زه پوهېږم چې خپل ځان ته په راتلويم

ذوق مې د جمال په ننداره هره مړېږي نه
خدائيګو سړې توب کښې جوړ زما برخه وافره ده
لا څو د ناظر سترګې غړېږي پکښې شکس دے
ډله د ښکلوالو مې هر څو که ښې باصره ده

ورک له خپل جهان ئې خپل جهان ته رو پس شه
ورک مه شه نظره خپل چشمان ته راواپس شه
ته به هله ته شې چې داواښې چې زه يم
هر څه هم په تا کښې دي خو ځان ته راواپس شه

لاهې د جهان په رنګينو پسې سر شوې
اے چې د خودۍ نه بې خبر وې کور و کر شوې
تا د لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه سبق چې هېر کړو
ځکه خو مرېئے ته د ظفرل او د سنجر شوې

پوره ته شه تقدير دې بيا بدل د مسلمان کړه
بيا تازه داستان د ابوذرؓ او د سلمانؓ کړه
راوله زلزل د کفر و شرک په برجلونو
زور دې د ايمان لکه علي شاهِ مردان کړه

ACKU

ته ئې د ازادو الوتو ځينې حصار کړې
سترګو لره جوړې چې کولې درته اغيار کړې
اے د اسلام بازه، په پردې منګله ناسته
خپل ملت دې هم کړو د پردو د پاره ښکار کړې

مړه کړه د مرګ ويره چې دنيا دې راژوندۍ شي
سوے د عشق پکار دے چې دې وينه ګرندۍ شي
بويه څۀ تدبير په دام کښې نښتيه مۀ پرېږده
ستا په اضطراب سره به لا کلکه زندۍ شي

## حضور بادشاه جان ته

دربار دې هغه ورځې پخوانۍ رايادوي
بې خوده غونډې شپې بې د ځوانۍ رايادوي
زلميه د ترمذ، هغه سکون د طبيعت مې
د سيند غونډې د طبع روانۍ رايادوي

تهذيب ئې د پښتو لۀ مغربي لولى جار کړو
خوئې بوئې او هم لباس ئې مغربي رامعلومېږي
حېران شم چې خبرې په پښتو کوي نو وائم
ډک شوے تېکلي دي چې پۀ ډډ کښې ئې غرېږي

ترڅو چې دا وانخلم، په هغه کښې مزه نشته
چې کفر ورسره دے نو اسلام دے ځکه ښکلے
له يو بله دي ښکلي مخ او زلفو ته ئې ګورم
سحر چې پکښې پټ دے نو ماښام دے ځکه ښکلے

ځائې دې چادزړهٔ په کور کښې لـــرم
توبه دې راشي پسې تلے نهٔ شمه
چې خوشحالۍ هم ستم ګـړې شــوې
نور دې اشنا غمونه وړلے نهٔ شمه

قوّت له اتحاده د قوت نه ازادي ده
د ژوند په راز به پوهه شي قرآن خو اولوله
وتې شې ته د مزکې او اسمان دې يو کوټ نه
لَا تنفـذونـه اِلّا بِسُلْطٰن خو اولوله

راوستے ځنګدن چې په کوم قام دے کړنو چارو
چې ژوند وي پکښې پاتې غزونې اوکړي تېغ شي
د مزکې طاقتونه خو د تخم دانه زمول کا
تحريک د ازادۍ د ژوند ئې اولمسوي تېغ شي

ACKU

دا مزار، دا خلق وايي دعشا دے
وي که نه وي خو تاثير يې جلي دے
فيض يې شته په هر مقام کښې چې سخي دے
دے خاتم د ولايت هغه ولي دے

بلخ مزارشريف ۲۷ اپريل سنه ۱۹۶۲

## دمولانا جامي دعوی

گويند که مرتضی علی در نجف است
در بلخ بيا ببين چې بيت اشرف است
جامي نه عدن گوئې نه تحت الجبلين
خورشيد يکے و نور او هر طرف است

عادت خو دې د برمات کړلو خلاصه نه شوي له عادته
يو راز په دې کښې پټ دے که يې زده کړې له قدرته
عادت ورکول نه دي، په قبضه کښې يې ساتل دي
بنه پوې به هم له دې شي د فطرت له نهايته

اوکړو يو تپوس مې د بشکلانه، وايه څه يې
وې چې ماله ځانه چې جدا کړې لاته يې
ستا دا تصوّر مې رسوي که خطا باسي
چا وَته چې اوکورمه، وائم ته خو نه يې

شاعر په بل هېواد کښې وي د قام دستګوکسي
شاعر په پښتونخوا کښې لېونے او ملنګ وي
ښکاره ده چې راغونه وي پتنګان په بله شمع
پښتون عجیبه څیز دے چې د مړې شمعې پتنګ دے

پاسه پاسه نما فکره، بل کړه نوي چراغونه
پسرلے چې راشي راوړي، هم هغه زاړه ګلونه
په ژړا ژړا کښې خاندي د ژوندون رازونه سپړي
د دنیا په دې چمن کښې څوړند سر همه ګلونه
هم هغه نرګس لیچن دي هم هغه ریدي زړه چاوَدي
نه څه نوے بصیرت شته نه څه نوي شته داغونه
د شیراز له هواګانو د ژوند رازواخله راوېښ شه
د سعدي له ګلستانه واخله نوي الهامونه

وه ېته له رومي کښه ورځنه یوه نکته وه
ککرې غوندې چې نه وینې خپل ځان وینې جهان
ښکاره شوه داله زړه درته د شمس له برکته
او شمس د دې ذرې له برکته شو عیان

ACKU

## په ټانک کښې د پولټیکل افسر محسن علي خان سره زه او اجمل خان مېلمانه وو

ګوره په یو وخت کښې په موسم کښې څومره فرق دے
چرته په فطرت کښې ده سختي چرته نرمي
دلته یم راغلے د محسن سره مېلمه یم
لا په پېښور کښې ده یخني دلته ګرمي

ټانک ۱۱ مارچ ۱۹۶۶ء

لرې کړه د اېښے چې دې پروت دے د ملّت په څټ
ایښي چې اغیارو د ملّت د حریّت په څټ
ماتې زولنې د عناصرو کړه ترې اوځه
جغ د اقتدار دې پاسه کېږده د فطرت په څټ

ګل نه د عشرت لکه نکهت شه خورماخور اوځه
اوشلوه دامونه د حالاتو ترې په زور اوځه
موج د پښتني جذبې دې تل په حرکت لره
سینند د حوادثو نه بهر لکه د شور اوځه

ګل غوندې که خاندې خو تېره لکه اغزے اوسه
یخه حوصله خو د دښمن په زړه کښې سوے اوسه
څوکه زمانه ده په قواؤ خزان راولي
تل تر تله ته د پسرلي غوندې زلمے اوسه

مِلّته جمعیّت دې د خاطر ولې معدوم دے
خبر ئې چې په تا د پرېشانو ولې هجوم دے؟
نو واوره هغه دا چې دې مرکز له سره نشته
که چرته په نړۍ کښې وي موجود نو وایه کوم دے
دا مزکه ستا د لوبو ده غونډسکه که پوهیږې
تسخیر د کائنات خو مقدر د تا په نوم دے

کراچي ۱، مئ ۱۹۶۲ء

ستا غم که ډېر اسان دے کله شته او کله نشته
هر څو که په ماګران دے کله شته او کله نشته
بس یو زما ژړا ده چې کوم وخت ئې ګورې شته دے
خو ستا مینه باران دے کله شته او کله نشته

اوس که ایښې غونډې حېران یم خفه نه یم
خپلې سادګۍ چې تماشه د جهان راکړه
اے سپرلیه، مانه دې ګلونه له تا غوښتي
ما ته د پرېشانو زړه چاودونکو نېنان راکړه

لوړے وې تر لوړو ستا د فکر او د وجدان لوړې
ځکه چې وې تا ته ښکاره شوې د افغان لوړې
تا نه شو زغملے د مغل د اس د سوم غبار
ګرد غونډې خودې وته وې ستا د کهکشان لوړې



ACKU

ستا د ښولهٔ امتحانه بې سم زړهٔ وهٔ پخوا
د ډېرو ښکليو وه خوښ شوی ، چا کړ لې نهٔ وُ
تهٔ وې چې ډېر ورته نژدې شولې چې پټ شومه زهٔ
کښې نو عکس بې د ائين نه ښتښېدلے نهٔ وُ
د اوښکو تله معياري نهٔ ده زما پهٔ نظر
کهٔ دې تللو زما غم دې پرې تللے نهٔ وُ

طيبٰی د تا د قد بې شوه امسا د شخصيت
فطرت نهٔ بې شکونه وسوسې شولې فنا
ماران د فرعون نفس يې همه واړه ونغړل
هيڅ نهٔ شوه پرې درنه لکه امسا شوهٔ د موسیٰؑ

تخليق پهٔ هره ساه د گل ورينو لمحو بويه
ستا ژوند بهٔ تل بهار وي خو معمار شه د وختونو
زامن چې د وختونو وي ، وختونو کښې بهٔ ورک شي
وختونه ځان کښې ورک کړه او تهٔ پلار شه د وختونو

زلميه پهٔ وختونو کښې بهېږي وايه ولې
وختونه خو هم تهٔ پېدا کولے شې راستون شه
دا گرانه دومره گرانه نهٔ ده گرانه چې ښکاريږي
اسانه ده اسانه ، تهٔ خولې غونډې پښتون شه

# خوشحال بابا

ستا سیلۍ ښودلې دي پښتون ته د منزل نښې
هغه، چې سیلۍ ئې د وختونو ورانوے نه شي
جنس د خوشحالۍ حاصلول ئې بې مفهومه دي
قام چې خپل کاروان د ستا په لار روانوے نه شي

غیرت ورسره پت د شجاعت سره حکمت
چې د اخلور عنصر وي ترې جوړېږي خوشحال خان
هغو ته ئې راښکلے په الفاظو کښې تصویر
د چا په ویښو زړونو چې ورېږي خوشحال خان

وارۀ زما ځان دے په نړۍ کښې چې افغان دے
وارۀ زما ځان دے ځکه سر بې ترې قربان دے
کرم نۀ یم شنوارے لۀ په زړۀ کښې رانږدې وي
ځکه چې شنوارے خو بیا ځان زما د ځان دے

ویره دې په مخ کړي چې ئې شور ته مخامخ شي
څۀ وائې لۀ سینۀ چې ئې زور ته مخامخ شي
تاؤ د زړۀ بې نۀ کوري ویرېږي د لوګي نه
تنګ شوي د لوګي نه چې لا اور ته مخامخ شي

ACKU

## رحمن بابا

داللمي دپښتو به يې تازه وي په وريځ
تراوسه لا مسکى پکښې بريښنا ده د رحمن

ماضي يې چې تراوسه مخ رونېږي کوي د حال
مشعل د مستقبل چې ده ، انشا ده د رحمن

تل تل به پرې نازېږي د مضمون نوي الهام
په عرش زمونږ د زړونو استوى ده د رحمن

## ليوني

تېروته د خرد ، په تماشه دي ليوني
دې روغوته چې ګوري په خندا دي ليوني

فارغ له خپل پردي ، له ما او تا دي ليوني
ګوښه دي له هرچا ، خو د هرچا دي ليوني

وينا کوي صفا چې د هوس نه لري بوی
تل تل د اينو غوندې ګويا دي ليوني

زلميه ، ستا د قام د بره تګ دي دوه عنصره
ممکن نه ده بې دې نه چې عيان شي په جهان

د قام نامه وننګ ، او پېرزوينه په انسان
دماغ د خوشحال خان او زړه پيدا کړه د رحمن

بس دغه پرده ده چې له هر څه شومه ګوښې
ما ته شوه ښکاره چې نه وصال ؤ نه بېلتون ؤ
زړه په محبت کښې، نه هغه ؤمه، نه دا ؤم
چا به وې چې روغ ؤ چا به داوې چې مجنون ؤ

هغه هم زمانه وه چې په سيمه د کابل کښې
هر خوا ته اورېدل شول تکبيرونه اذانونه
او دا هم زمانه ده چې پغمان کښې راته ښکارې
برېنډې لوڅې ښځې، شرابونه کبابونه

پغمان ۲۸ جولائی

لږ په پښتنې تهذيب خو ننګ اوکړه پښتونه
داوره د حکمت چې درته او وايم يو ټکے
ته خو بيا انسان يې، لږ د مار نه راشه زده کړه
رنګ يې بدل نه شي که بدل کاندي پوستکے

په علم او په هنر که انحصار د ترقۍ دے
هغه په پښتنې لباس کښې هم حاصلېدے شي
تقليد د غېر، په هر څه کښې د ذهن غلامي ده
خپله وي ډېوه، په هرو تېلو بلېدے شي

د وزير محمد په قبر مشاعره
کابل ۹ اګست سنه ۱۹۶۳ء



ACKU

لا شخصیت مې د ے کمکے ، افاقي شوے نه دے
زه وړه خوله ، لویه خبره ، چې انسان ستایمه
بو یه چې چلند شي اول د قام د ژوند نبضونه
ځکه بې هر څه شاته کړي دي افغان ستایمه

ستا په دید مې ښکلیه شوې سترګې د سبا سترګې
ستا نمر ځیه ولې شوې داسې وارخطا سترګې
واک د ستا د سترګو اوس، واک زما د سترګو دے
زور د محبّت ګوره ، ستا سترګې زما سترګې

حیف دے چې دا هسې رنګ بې پته ته بې زه ورکړو
زړه که لاړو ، لاړو ، غم خو دادے چې پښتو لاړه
اوس چې په وقار کا ته کوې بورې چنګېزې شوې
څرنګه شوخي د هغو سترګو غلچکو لاړه؟
پسته ګل د ځان سره مسکے شو سر بې ښکته کړو
خدائے زده ورته څه اووې سبا په تیندکو لاړه

هیڅ نه پوهېږمه چې څنګه به دې ستایمه زه
ته د دې وړونه اوچت بې چې څه وایمه زه
څپله ستاینه بې غندې چې دې ستاینه کوم
وایم که نه وایم په دې کښې وارخطا یمه زه

ACKU

## د امیرالمومنین په دربار کښې

تندر د اسمان غوندې برېښنا د ذوالفقار دې وه
فخر خیبري زلمي کړې ستا په ذوالفقار علي رض

تا چې په ګردن بانده د ابن عبدوار او که
زیات د ثقلین له عبادت وه ستا ګزار علي رض

بندې دروازې مې د زړه تالره راوړې دي
ته چې باب د علم کړې حضرت نبي روښان علي رض

څکه وار خطا دې حاضر شوے په دربار کښې یم
ارمې چې بیا راولې، که ما کړو خطا وار علي رض

بیا د زړه له سازه مې نغمه د بلې پورته کړه
بیا هغه مضراب په لاس کښې ورکړه دستار علي رض

بیا هغه زلمي دې د ترمذ سکه ځلانده نمر
کړې د تورو زړونو په افق څپاره انوار علي رض

خدائے درکړو شرف چې په خپل کور کښې ئې پیدا کړې ته
بل شرف دې دا چې په خپل نوم ئې کړې نامدار علي رض

زوج ئې د هغې کړې چې ټوټه وه د رسول د زړه
پلار شوې د هغوئې چې له اسلام شول نثار علي رض

السلام اے هغه چې نبي درته مولا اووې
ته د مؤمنانو مؤمنانو شوې سردار علي رض

السّلام اے هغهٔ چې نبیؐ درته خپل ورور اووې
اے چې دې قوت کړو دکفارو تادیهٔ تار علیؓ
ډومره خوش قسمته دے حمزهؓ چې پهٔ نجف کښې نن
خدائے ورته وراوښودلو ستا ښکلے دربار علیؓ

نجف اشرف ۱۸ مارچ ۱۹۶۹ء

## د حضرت امام حسینؓ پهٔ مزار مبارک

اے هغه چې تهٔ ئې لهٔ نبیؐ نبيؐ لهٔ تا نه
اے چې مور او پلار نبيؐ پهٔ تا قربانول
اے د حوصلے همّت مرانې دننګه غره
ستا سره د غره خپل تندے ؤو ماتول
اے هغه ، معیار د قربانئ دې چې اکمل کهٔ
خیر مے ، د اسلام د ائینې دې وز دوبل
اے تهٔ د بتولؓ پهٔ مقدسو شودو لوے
برخه دې ؤ پاک نبيؐ پهٔ دوش ووسپرېدل
تهٔ وې چې پاکان دې پرې اتلس قربانې کړل
چې پرې بنیادونه د اسلام ئې نرول

اے چې قافله دې شوه تالا پهٔ دې مقام کښې
راغله ستا سلام ته ، قافله د پښتنو ده

تاته وسیله مو د قیدي زین العباده
مونږ ته نظربویه زمانه د زولنو ده
لرے افتونه چې زمونږ ددین دنیا شي
راکړه محبّت چې وظیفه د مېړنو ده
ستاسو پهٔ اُلفت کښې چې هم سوځو هم کړېږو
خوښه زمونږ دغه مشغله د سپېلنو ده
مونږ ته هم جذبې د قربانۍ نه برخه راکړه
بس دغه ارزو د ښکلي دین د لېونو ده

اے چې دې احسان پهٔ سري توب دے تر قیامته
اے د قربانۍ د دوه لیمو نظر حسینؓ نه
مست چې د انسان ضمیر پهٔ میو د دنیا شو
تا داېې خبر کړو پهٔ ایثار خبر حُسینؓ نه
غوټه ستا جبین چې شو، تیرې وبوږنید ې
رادې وړ د رشد او هدایت سحر حسینؓ نه
تږ شوې لهٔ عباسؓ او لهٔ اکبرؓ او لهٔ قاسمؓه
لاس شول درنه غوځ او هم نظرځیګر حسینؓ نه
جاردې لهٔ مېړانې چې دې هر څهٔ قرباني کړل
ټیټ دې د ګمراه پهٔ مخکښې نهٔ کړو سر حُسینؓ نه

هره خوا ته خپره پرېشاني او ځان ځاني ده
پاتې په مسلم کښې جمعيت او نهٔ طاقت دے
مړې د ذرّه ډېوې شولې تيارهٔ ده په محفل کښې
تللے د لوګي غوندې الفت او اخوّت دے
مرسته ئې حاصله د صليب او د کرچې نه
وينو چې پښتي ئې د عيسیٰؑ همه امّت دے
خپل مهدیؑ ته او وايه چې راشي دې دجال ته
او ګنې دوران د فنا لور ته دا ملّت دے
عرض بې په اخر کښې درته دا په ډېر نياز دے
پورته دې هر لوري ته نښان د "بې نوا" شي
ستا د ديد ارمان ئې چې په زړهٔ وړے عقبیٰ ته
داسې الفاظ نشته وضاحت ئې چې له ما شي
ګېر يو په تيرو د ابتلا کښې اے امامه
پورته دې نقاب کړه د جبين نه چې رڼا شي
وايه مصطفیٰ او مرتضیٰ او مجتبیٰ ته
هم پاکې بتولؓ ته دا تيرې چې وار خطا شي
بيا هغه ساقي هغه محفل وي هغه مے وي
بيا هغه ماښام هغه رندان هغه صبا شي

کربلائے معلّٰی ۱۸ مارچ ۱۹۶۹ء

دملّت محفل به هله په تا تود وي
له خپل سوزه چې پڅل کوي هم سوزي
په فلک دسړي توب شه را دبره
افاقي شه لکه نمر دنيمې ورځې

اے دخپل حيوانيت له لاسه تنګه
خونه تا دسړي توب کړه ګډه وډه
خپله مزکه دې ترکومه بناښته کړه
چې په لور دې دسپوږمۍ اخستې کړه

زه دا نه وايم چې لاس ترزني کښېنه
پاسه بوخت په تسخير کښې دجهان شه
خو تسخير خو وظيفه دحيوان نه ده
که دې خوښه کامراني وي نو انسان شه

غبر له خپله ځانه يم دمينې په منزل کښې
دار له خپله ځانه يې په هره مرحله شي
ستا دسادګۍ نه اکتساب دزيرکۍ کړم
هيڅرته چې نه شي زده کيدے هغه يې زده شي
اوښکه پښتنه چې مخامخ يې شي وتاته
ستا له تغافله په راتلو وي خوستنه شي

ډېر دي د وختونو اړيکي خو په پروا نه يُمه
جال هم چي له ځانه سره وړے شي هغه باز يُمه
نوري د ژوند لارې مې پيدا کړې چي مې لارې شوم
بنه شوه بې لارې چي اوس له لارې بې نياز شومه

شپې د فراق نه بې خبره، لا د خوبه يمه
غشي دې مه وله سحره لا د خوبه يمه
هم اوده شوے په ډېر نول او ډېره ډېره ژړا
څه! د يار خياله د زړه سره لا د خوبه يُمه

پوڅې مې چي څوک نه کاندي د مرګ په کشالو بانې؟
روغه زمانه راځي د ژوند د کشالو سره
ماته اشنا ته د بې پتې ولې پېغور کوې
لا خو تعلق د زړه مې شته دے د پښتو سره
لاس دې زما لاس کښې دے خو فکر دې بل خواته دے
داسې ګرځه بره څوک کوي د پښتنو سره؟

او د ډېره وخته، مرنتوب د مېړنو اووينه
ننګ په خپل دين او خپل وطن د ننګيالو اووينه
سوز د قربانۍ د نظر ماتو سپېلنو اووينه
سوزي خو ګړېږي ته د اشوق نو د زلمو اووينه

عیبونه د چا مهٔ څرګندوه که عقل مند یٔ
ظاهر ي بهٔ هر چاته، پټي ستا خپلي پردي شي
لهٔ خپلو ګوتو واخله نصیحت کهٔ تهٔ پوهېږې
یوه چي چاته نیسي څلور تاته راګرځي شي

دښمن ته بهٔ هم ستا کوي هم داسي لکه تاته
هر چا کښې چي راغلے وي عادت د خوشامندو
یو کار چي پهٔ رشوت یٔ د پیسو کولے نهٔ شي
اوباسي هغه کار بهٔ پهٔ رشوت د خوشامندو

سترګو کښې چي اب د حیا نهٔ وي نو ځنګیږي وي
مسکي چي سره د بي لوزه وي نو انګرېزي وي
ځونه کهٔ پهٔ کور وي خو چي وخت د سغلتوب راشي
خواوشا کښې هسي فضاګاني عطربېزي وي

ما بهٔ چي د ځان کاوهٔ لټون تهٔ بهٔ مي اوموندې
ښکلیه اوس چي زهٔ د تا لټون کوم خپل ځان مومم
میني عجیبه غونډي هوښیار جنون راکړے دے
نهٔ رانه ورکیږي چي پکار مي شي ګرېوان مومم

یو ځل چې التفات ورته اونهٔ شي پهٔ ستنه وي
بيا سترګو لره نهٔ راځي چې اوښکه پښتنه وي
بس یو نظر پهٔ کونج د سترګو هم رالره بس دے
د ځان سره نمر راولي ذره کهٔ پلوشه وي
څهٔ بوږ کا دسرې نه، تصرف د مينې کوره
عجب غوندې مخلوق چې نهٔ خوشحاله نهٔ خفه وي

زهٔ د زمانې د حقيقت سره يو شوے يم
نور دي چې پهٔ ذو دي د رواني زمانې سره
بې لمسونه ستا خود نمائي پاتې کېدے نهٔ شوه
ستا افسانه راغله ، چې زما د افسانې سره

پهٔ مرګ چې تهٔ زما د انتظار دشمعې خاندې
کهٔ خدائے کوي پهٔ وينو بهٔ ذر اوژاړې سحره
صهبا به د تسکين هم تږېنه اووينې خبرشه
مخلص خوشه دهغو مستو سرو سترګو نظره
راښکونکے ولې حُسن دپېغلوکې وي لهٔ پېغلې
د بدر نه ئې اوغواړم جواب کهٔ لهٔ قمره

خاموش انسان ته کله څهٔ وينا منسوبيږے شي
اشنا زما پهٔ سوال چې څهٔ اونهٔ وې داڅهٔ کار دے
خو دا هم حقيقت دے چې دې حال کښې کله کله
هم دغه خاموشي ده چې پهٔ اصل کښې اظهار دے

څهٔ شي؟ پروانه کهٔ تهٔ دشمعې دقانون يې
زيات چې د ذردار ځينې اجرت غواړې مجنون يې
غوښې ئې ستا او خوړې هډونه دې شو پاتې
اوس درپورې خاندې هم او وائې چې کارتون يې

## دقلندر موند دوادهٔ تاريخ

بنهٔ دې کهٔ وې چا درته ويېلي چې ځيرک شه
زهٔ خو درته وايم چې دخدائے فضل ته څک شه
پام کوه دې سيند کښې غړيدلې سترګې اوسه
ځان ده نخوښې ځينې ساته هغه سمک شه
نوے پهٔ هنر دشهسوارۍ کښې کهٔ هر څو يې
فن درته حاصل پهٔ دې ډګر کښې د ازبک شه
غر غوندې سختيو د حالاتو ته محکمه
"کلکه قلندره عروسي دې مبارک شه"

۱۳۹۲ھ

راشه که د اورې د انسان د شرافت خبرې
د هاشمي نبي سپېڅلي د حکمت خبرې
لکه دوه سترګې چې لیدل کړي نوښې یو کوري
داسې ئې یو کړې د دنیا او اخرت خبرې

د نصاراؤ پادریانو ته داوایمه زه
چې ناممکنه ده اسلام به په شا اوتمبوي
که په ښتیا د بعلم خره وي خبرې کړې
نو د مریم د لرګي بت به سترګې اوځمبوي

## خوشحال بابا

بندې چرې ستا په زړه کښې نه شوې دروازې دننګ
ستا د شخصیت نه لګېدې شي اندازې د ننګ
تل د قام په پلو کښې به ګرځي دازادۍ ساقي
خېژي ستا له قبره چې تر اوسه انګازې د ننګ

——**——

دروازه که په ظاهر د حکومت شوه درته بنده
نو پاک رب دربانده اوکړو بې مثاله یو انعام
مملکت ئې د باطن کړو، اهلِ ښتو ستاسو بنده
تر قیامته به یادیږې په درود او په سلام

بې علمه سړے داسې مسافر دے په دنيا کښې
د شپې چې ابادئ ته راشي سرائې نه پېژني
بې علمه سړے راخوشي محفل ددې جهان ته
بېکن داسې پرېشان وي چې خپل ځائے نه پېژني
بې علمه که ځان پوې کښي دالاې بې علمي ده
دا نورجهان خوشحال کوې چې خدائے نه پېژني

## غم

کراني که راغله ډېره ښه ده غم مه يادوئ
دا ذره چاودلي، زړه چاودون لرې چې هر شي ښه دي
د خوابه ژوند نه د جنت ئې راويستلي يو مونږ
لا په مزه کښې که تراخه لکه کنډيوشي ښه دي

ستا ښو چې سم سم دي ويشتلي رغېدے نه شي
ستا په يو ګزار چې کاږه شوي سمېدے نه شي
دکې مې دستړګو کړې کاسې دغوستړګو چې
اونو شئ مېنو په نو شلو کېدے نه شي
نه چې شوې مسکے کيله مې راغله خدائے دې خېر کړي
ستړګې رانه واړوه چې جوړ ترې اسوېلے نه شي

ښکاري د اصله يې ده د بې واکه لغزشونو ده
ن چې ساقي راکړه پيمانه په پيمانه پسې
ښکاري چې ښکلا او مينه دواړه ارتقاء کوي
اوس راځي ارمان په هغې تېره زمانه پسې

واعظه بند کا، که څوک دروي دوزخ ته يا جنت ته
ديو عمل به اورګټي د بل عمل ګلونه
ليکن د فرښتو هم انجام اوښيه چې څه دے
جزا به يې وي څه چې کوم يې کړي خدمتونه

د رسالت او ولايت او د عظمت سجده
چې شوه معيار د مسلمان د عبديت سجده
يکښې راجمع شوے سجدې د انس وجن و ملک
چې کړه ادا زمونږ امام د شهادت سجده

موقوف يې جمعيت په نزديکت د قيامت شو
امت شو منتشر چې امامت يې قبول نه کړه
عرفان يې ممکن کله وه چې نمرته کتل ګران وو
يو بد روه د هغه حيثيت يې قبول نه کړه

د شعر په ادب او سادګۍ او شیرینۍ کښې
سلطان دے پوښتنې سیمې په فرش باندې رحمٰن
او بیا زموږ په زړونو کښې داهسې رنګ ښته دے
چې څنګه استویٰ لري په عرش باندې رحمٰن

وا چې شي کوم موج د مستقبل پکښې فاني شي
نهٔ چې شته سبا ئې هغه نن راغلے دے
شمع د ضمیر کهٔ په سلګو وه په خندا شوه
صدر د انسان د انجمن راغلے دے

محل ئې چې بدل وي نو نسبت ئې هم بدل شي
اشنا د تا جلوه ده کله هلته کله دلته
مسجد کښې وي لهٔ خوفه مې کالهٔ کښې دستي نه
هم دا یوه توبه ده ، کله هلته کله دلته

کهٔ فاسق وي کهٔ مشرک وي کهٔ کافر کهٔ منافق وي
په اولاد به ساقط نهٔ شي احترام د والدینو
کهٔ د خپل اولاد د قتل مرتکب شي کوم پلرونه
اخستل په شرع نشته انتقام د والدینو

ACKU

هره ورځ که کوئ تاسو سل ښکلې په دې دنيا کښې
دا يوه نيکي ترې ښه ده، مور و پلار سره چې ښه کړئ
د لوې خدائ فرمان ته غوږ کړئ که يقين مو په دې کېږي
که هڅه درسره اوکړي خو چې اُف ورته اونه کړئ

خو افسوس چې په دې سيمه کښې تهذيب د فرنګ راغے
پلار د زوئ مقام ته راغے او د پلار په مقام زوئ شو
د مور پلار سره به مينه بيا په کوم سبب پېدا شي
د چوسنۍ سره عادت شو د ډبلې په پيو لوئ شو

اوس نو حال د ملّت دا دے که پوهانو ته ئې ځير شې
مېرني پښتانه ژبې غرقوي په انګرېزۍ کښې
نه سندهي نه پنجابي وي نه اردو وي نه پښتو وي
د جلسې بلنه هم اوس، ورکوي په انګرېزۍ کښې

* * *

# محمد یوسف خان اورکزئی (مرحوم)

یوسف څه وه یو مثال وه په صفت کښې ورلموته
د یوسف نه مقتبس وه په حیا او په عصمت کښې

داسې ښکلے امتزاج ئې دین دنیا ته ورکړے
چې هیڅ فرق ئې لیدے نه شو په مذهب او قومیت کښې

د مذهب په لیونو کښې، بل دده نه هوښیار نه وُ
وه جذبه به ئې روانه، د خرد په قیامت کښې

ډک د رحم زړه ئې څه وُ، د توحید بله ډیوه وه
یو پیکر وُ د انوارو، په صورت او په سیرت کښې

دا څه راز دے چې د داسې پاکو خلقو عمر کم وي
چې قانون د منافع د بقا شته دے په فطرت کښې

او که نه چې ګل وي ښکلے په څل بڼاخ نه پاتې کیږي
چې باعث د اضافې وي، د هارونو په زینت کښې

سره ورک ئې یو تربله، شرافت په نجابت کښې
ښکلا دا ده چې ئې ګډ وي، ملاحت په صباحت کښې

اولا دا دچا پهٔ حق کښې چې دنیا لکه دګل وي
نو عادت د الوتو وي، دنکهت پهٔ لطافت کښې

د ایلې غونډې شو پورته، وچ پڅلے لهٔ دې ډنډه
کهٔ قدرت ورګزار کړے، ددنیا پهٔ غلاظت کښې

خدایه پاکه لکه تا چې ورهٔ یوسفٔ ته عطا کړے
کړے نصیب دحمزهٔ هغه حلاوت پهٔ عبادت کښې

والد ښو نه اولاد هم په دوه ډوله پیدا کیږي
دیوه نه ابوجهل ، او د بل نه محمّد شو
د ښکې او د بدې دوي ترجمان دا دواړه قسمه
یو په لاره د شیطان شو، بل په لاره د احد شو

سخ د هغو والد ښو چې پیدا داسې زامن کړي
په ناموس باندې د دین او د ایمان چې قربانیږي
لکه دا چې بل حسین به تر قیامته پیدا نه شي
یزیدان خو به هم داسې تر قیامته پیدا کیږي

زړکیه چې هستې د ناوې زلفې دې غوښتې
اوس ځان ته خولې څیرشه چې پریشانۍ او که نه
زاهد درنه پېوس کړي چې مسلم یې او که نه
حمزه ترې پېوس اوکړو چې افغان یې او که نه

ښکلي به شونډې هم پرې کښېږدي یقین دے زما
ورته له خاوړو د مئین، که پیمانې جوړې شي
د محبت د تصرف به درته څه وایمه
خومره چې پټ وي هومره لا ترې افسانې جوړې شي

د جدائی شپه نو سپرلي د تصوّر لري ستا
زهٔ د شپې اوښکې لکه ګل پهٔ روڼ سحر تویوم
و اخله چې زړهٔ د تا د ذوق پرې تقویت او موي
یا قوتي وینه پهٔ کاغذ د زړهٔ ځيګر تویوم

نن چې اجنبي غونډې راګورې حېرانېږ مه
یو ناساپه راغلو څنګه ستا د بدلېدلو وخت
لا نو د پښتو د ناوې سرځمه کول شته دے
خدائګو چې لا نهٔ دے د حمزه د زړېدلو وخت
یام کوه پېغلوکې چې نقاب پهٔ مخ راخپور نهٔ کړې
لا راغلے نهٔ دے ګور ے ، ستا د شرمېدلو وخت

اوس یم بې خبره د منزل او مرحلې نه
فکر بغاوت کړے ، زما د ارادې نه
نوے احترام وُه پهٔ قسمت کښې د بتانو
زړونو کښې مېشته شول چې بهر شول د کعبې نه

راغلې بِسْمِ اللّٰه پهٔ ابتدا وه پهٔ قرآن کښې
دوېم ځل وُه تکميل د بِسم اللّٰه پهٔ کربلا
شامل وو پکښې نولس[۱۹] مظلومان د اهلِ بېتو
او نولس[۱۹] هم حرفونه دي بې شک د بِسْمِ اللّٰه

# بادشاه گل الفت

ما وېل، کله هاتفه، بادشاه گل له دنیا تېر شو
کال یې اوښیه چې غم یې، د زړګي نه راچاپېر شو
هاتف اوې چې یې غم شو زړه چوونکے د یارانو
۱۳۵۶ھ
په یېنده د اجل غشي، یې په زړه کښې تېر و بېر شو
ورځ سعیده دوشنبه وه د لیندې اته ویشتم وُ
بختوره هغه مزکه چې الفت ترې لاندې زېر شو
دي عالي افکار یې پاتې د حکمت پکښې ورې دي
که دا گل یې باغ د فکر د حکمت د باغ بچېر شو
د پښتو ادب تاریخ ته، حمزه یاد به همېشه وي
عجیبه چې دا به وایم چې الفت له خلقو هېر شو

۱۹۷۷ء

هر یو انسان ویني په یو نه یو محل کښې ښکلا
بیا کړو د اضد د بدرنګۍ د چا نظر پېدا
ته د غمزو پېدا کوه دا نوي نوي غشي
زه به کوم درته اشنا نوے نظر پېدا
ښکلیه تېرې وبون ښدې زما د زړه په افق
یو تبسم دې علاېې کړې د سحر پېدا

* * *

# حضرت امام حسینؓ رضؓ

ستا د کربلا د استقلال ته به زۀ څۀ وايم
دے د شکو پړے چې هيڅ اغږلے نۀ دے
څوک به چې په څنګ شو، تا ګزار پرې نۀ کړلو
زور کښې دې جلال وُه خو جمال دې تللے نۀ دے

د ایثار د اسمعیلؑ نه ابتدا او زیږیدله
لۀ حسینؓ نه تکامل او انتها او زیږیدله
لور لۀ موره پیدا کیږي لۀ دیوې شي دیوه بله
کۀ ئې ګورې د کعبې نه کربلا او زیږیدله

پاک حسینؓ بۀ سر د حق نه، ولې نۀ قربانولے
احترام د بیت الله ئې پۀ سرشت کښې وُه راغلے
پۀ کعبه کښې ئې نيکۀ حجرِ اسود وُه نصب کړے
هم بابا ئې پۀ حرم کښې د کعبې وُه زیږیدلے

چې راغلے د قران پرې، ایتونه دي ناطق
پۀ حسینؓ د طهارت ئې نښانونه دي ناطق
قرانونه دو صامت چې پۀ صفین کښې پۀ نېزو وو
پۀ کربل کښې پۀ نېزو دي، قرانونه دي ناطق

# فرد

هر ګوړ کله پیچوم وي پیچوم وي کله خوږ شي
غم غم وي په الفت کښې داغم وي مسرّت شي

ما ځځه بې سوزه څه نشته اوته غواړې وفا
ځاے دنکهت نه وي بلبل کښې په ګلانو کښې وي

سوزش خو نشته خو چې ژاړمه سبب دادے
چې زوړ سنّت دعاشقانو رانه پاتې نه شي

ما په مستۍ کښې یار ته لاس کړو دادب په تندي
په بې خودۍ کښې دخودۍ بې ځان کښې رنګ اولید

عشق په سینه کښې هیڅ نقوش د ماسوا نه پرېږدي
عکس به ځلا کښې دمرات څه خرابي کړي پیدا

عشق بې نه پرېږدي غمونه، بې له یاره په سینه کښې
له عکسونو څه نقصان وي، ائینې ته په جوهر کښې

په ډېر ناز یې تصوّر راتګ منظور کړ
د فراق زړهٔ ېې قرار د وصال اوموند

چې د عشق لیون اباد وته رانهٔ شي
خپل خِرد به دي لټون کړي موند به نهٔ شي

نن چې ته هسې په سترګو کښې مسکې شوې
د زمري زړهٔ ته دې کښېوه غړځنې

تا ته چې رقیب وه چغلي کړې ماته څیر یې
اوس ګوره سترګې، که په تور او سپین خبر یم

غشي د شوق څهٔ کړم ملا مې خم شوه دیندې پښان
ګزمې د غمونو ژړوي د سرینډې پشان

چې سودا د زړهٔ په مال د مینې اخلي
وایه زلفې زنځیر ولې راکوي

خاموشي د عافیت جوهر دی ژبې
بې نیامه توره نخښه وي د جنګ

ستا د زلفو تصوّر بې د دنیا حرصونه ورک کړل
دا روښانه حقیقت دے چې تیاره شي بچان کښېني

جوړ په راز د ژوند خبر دا یوسفزي دي
چې سپین بږیري پکښې ډېر او ځوانان کم دي

ګړهیاله . یکم جون سنه ۱۹۷۲ء

زما زړهٔ خوستا د عشق اور اورکے دے
سوزول او سول يې نښته دے دنها ده

تا جفا اِنتقامي کړه، نهٔ لهٔ نازه
څکه مانه هم جذبه د وفا لاړه

کراماً کاتبین هم په لمتون کښېې وُو زما
زهٔ داسې کوښے کړے وُمه غم د بېلتانهٔ

نن دې چې پرېشانه شو زلفان پهٔ مخ
ښهٔ ښکاري پرېشاني د پرېشان پهٔ مخ

نور ملګري څهٔ کړمه چې وخت بې وخته نهٔ وي
جاد د خپل قسمت نه چې زمانه جدا نهٔ شو

تحفه راته د صبر او د رضا اورسېده
د مینې او بڼې ترې ته غذا اورسېده

تراخه د بېلتانه دې د وصال خوږو کړه هېر
فراق د اشنايۍ دې څه بې خونده غوښتې دے

ستا ګرمي د تصور مې شي پکار په بېلتانه کښې
اور که نسخه د دوزخ ده خو په زړه کښې جنت دے

پاتې به په پرده نه شي که پټ شي په پرده کښې
ستا بې پردګۍ همه پردې دې پېدا کړې

نه دې غوښتے شرم نه دې غواړمه زه
ډار مې له دې دے چې ته ما غواړې

زړونه تل داسې د رندانو وي پخپلو کښې
څنګه چې دانې وي د انګورو په ګنګورې کښې

هر څو دې پتوس ډېر وي ترېنه مینه نه جوړېږي
رنځور دې طعام خوري خو ترېنه وینه نه جوړېږي

په خندا کښې ولې ته زمانه مرور شوې
غوړېدلې لکه ګل وې، د کلۍ غوندې راغونډه شوې

څنګه بوږنېدلې شپه د هجر ځنډېدنې شوه
سترګو مې دستورو نه مسکا وتښتوله

پښې د نظر مې شوې په لاره پولې
که ستا نظر ته رسېدې څه به وو؟

ته لکه بهار مې چې د زړه په جهان راغلې
ژوند مې ورته مخکښې لاس په نام ودرېدو

ناست یې تصوّر، د زړه د سترګو په تمبو کښې
څري محبّت د ارمانونو په ورشو کښې

زړه مې ستا غشو د اسفند غوندې کړ
اوس به تل ډک په یو وصال اوسي

هر څوک اسوېلي مې څه ناڅېره درته ښکاري
یوه ټوټه ورېځ کړي په شپه کښې فضا پېټه

۲۷۴۳

پیاله دې تویېنده کړه ډکه زما
ساقي دا نن نوے کوم څنګه دے

چې عاشقۍ وته بې ابه ننهٔ شي
غمه، ګوهر د زړهٔ مې تا غواړي

خدایه، ورلېږې دې وي سیلۍ داسوېلیو
سوم چې د اشنا مې د زبېرګي سره راځي

د عقل نه بهر کړه کړ لېچونه کهٔ هوښیار بې
فطرت ټولې کړې لاړې پخپله سموي

سپرلیه، د خندا ډکه جولۍ لرې مټمه
ورشو د پښتونخوا دې کله هم له خندا شنه کړه

هم دې ادم، ترجماني د خپل وجود کړې ده
چې بې ښودنه رنګ پهٔ رنګ د خپل نمود کړې ده

زلمیه، ښناخ د مستقبل بهٔ ضرور
کوي د تا نه د ثمر پوښتنه

ACKU

ساقي ستا نو کرم وَه پهٔ زِندانو زنګېدليو
ښکن زهٔ چې تر اوسه يم هوښيار ولې نهٔ زانګم

لاړ مې ستا دکور پرېښوه لهٔ قصده ځوځو ځله
بيا چې فکر اوکړمه هم ستا دکور پهٔ لاړ يم

مينه چې پېدا شي هلته سم کارونه څهٔ کا
پېښې چې وي سترګې ښخ پهٔ لاړه نهٔ شي يون

مات مې کړو رباب اوجام دميو مې نسکور کړو
غم دپښتون قام مې دماضي لهٔ سترګو پور کړو

اکو ښکو بهٔ کړي دستوريو بدل
سترګو ته اوښکې پښتنې راغلې

چې بد وي هغه نېک شي چې دحد پهٔ هور تېر بد شي
دچا قابليت چې ترحد تېر شي ناقابل شي

اوس څنګ بهٔ پهٔ منزل دلېوني کښې پېدا نهٔ شي
اغزو، پهٔ روغو خلقو کښې زما پاڅې لمن ده



ACKU

د غم جرړې ، پهٔ ژړو کښې د عېش وي
پهُل پهُلک نو زرغونېږي پهٔ اوبو کښې

حُسن او محبّت ته جدا ځا اووې
دا پهٔ خطا داسې خطا ځا اووې

ما ته ملتفت وي کهٔ رقیب ته وي هم وي به
یو ځې وي ښکاره نو دوه مخونه د سپوږمۍ دي

سبا پهٔ مخ ورته تتوړه ورکړه
جوړې کلی به لهٔ ګلزاره څهٔ وي

خود بهٔ دې ترش وي داستان د مینې
چې دې خوږې کړے عنوان د اوښکو

پهٔ ازل کښې حُسن او عشق دا وعده کړې
چې لهٔ یو بله بهٔ چرې نهٔ بېلیږو

تهٔ چې یې ، نو واړه بد ښیزونه بهٔ مې ښهٔ شي
تهٔ چې نهٔ یې واړه ښهٔ ښیزونه بهٔ مې بد شي

نفس په ضابطه لره چې پخ شي د حرصونو نه
بنده چې وي خوله ننه وتے نه شي ځان پکښې

خوښ مې که اشنا دے خو رقیب پرې بلوڅه نه کړي
نه راځي ځان ورته چې چرته پاپیته[1] وي

سحره ورو ورو دې نفس مه اخله زړشه ښکاره
چې ساه لنډه مے دې کړو زما د انتظار په شمع

دا چې زنګ دې ما سولی دے، ترینه اوې زدویه پاسه
در ښکاره به شي چې څه وي ستا دزړه په ائینه کښې

وسواس وهلے نه شي یَر، چې مینه زړه ته راشي
هوا داخله کور کښې، ماشي ونښلي په جال کښې

د کائنات په هر بخري کښې نظر شو پېدا
چې سترګې تیتې اننګوته دې حیا راغله

کاته مې څه وو، چې بنو دې غشي اوغورځول
دې قاتلانو د بل چا نظر لیدلے نه وه

---

[1] یوه مېوه ده



ACKU

چې ښکلي په خندا دي، په ښو پورې خاندي
ناپوهه دي د تندر په دنيا ئې اعتبار دے

اوس ئې څوک کاروان د رنګينو لوتلے نه شي
سرې سترګې روان د ښيستانه دي پسرلي

زما په خيال کښې هغه ښکلے باوفا غوندې راته
ددې جهان د نورو ښکليو نه جُدا غوندې راته

کم به وه وحشت چې ايښې ته مخامخ شومه
هر څه مې خپل اولوستل نو سترګې مې مهلې وې

تل وايمه دا چې ته ريښتينے په وعده ئې
شم به دروغژن که دا دروغ مې ريښتيا نه کړې

داسې ښکلا چرته، چې پخوا به مرور شو
ګوره حمزه پام کوه چې نن ئې پخلا نه کړې

څو به دې بې لوظه وي بې پته هندې سترګې
تل به يو پېغور درته کوم چې پوښتنې شي

چې لوټ د عافیت په هر منزل کښې قافلې دي
مشعل د ضمیر مړ شو د حالاتو سترګې سرې دي

اوښ رقیب یې اوتاړهٔ په قبر چې اوس پوې شوې
بنایئ چې دا هسې دروغژن خوبلیّهٔ شي

زېرې د سپرلي ستا د خندا هرهٔ برېښنا لرې
تندر په ملّت د افغانانو د اعدا لرې

مهٔ تله وېنا یې د منطق په تله تهو له
هغه ژبه زده کړه چې منطق یې ترجمان دے

لږ ډېر کوه نظر چې ترے ستا د التفات یُم
وېرېږمه چې چرته یې صهبا ته نهٔ شي مخه

چې امتزاج یې د نفرت او محبت لیدلے
عشقه لهٔ تا یې هم سِوا لیدلي ستر موجونه

تا ته کهٔ نظر کوم نو هم دې لیدلے نهٔ شم
قرب را ته بُعد شولو ستا، تهٔ مې بانه یې

خواهش د دید مې ستا په لیدو نه چې لاړې درشي
دا چا وې چې محفل ته شمع راغله رڼا لاړه

دے چې د مئین په انتظار وه خندېدلے
خوله د سحر گوره چې شلېدلے گرېبان دے

سره له قهره ئې بار خو شول اوس پنا غواړي له زلفو
ځئ چې سیورې ته ورتښتو راغله تکنه غرمه شوه

زړه مې چې کاڼے کړو ستا د عشق یوې موجې
راشه که ئې گورې اوس د ځنگرنه سوا شوې

ترخو دې په خندا کړم د رقیب په زړه تیاره شوه
نسیم چې راشي پرانېزي گلونه ډیوې مرې کا

زه له دې دواړو بل جهان جوړوم
نه په تیاره نه په رڼا یمه زه

ماته شه راځه چې ائینه دې کړم د مینې
حسن دې د حسن نه سوا ښکاره کوم

ACKU

ستا دامتن د وعدې خوشحه مهمل نه وُ اشکیه

ویل کوې دا شان چې خپل الفاظ ترې انکاري دي

حُسن دې که تت شو، زړه ئې راښکون پکښې لاشته دے

راشي په سکروتو که خوبلن تاوُ ئې محسوس وي

هغه مسئول شي څوک چې مقبول شي

خود چې مقبول شي هغه مسئول شي

کائنات د یزدان زړه دے، او زه ذره د کائنات یم

بیا یزدان زما په زړه کښې راته وایه چې زه څوک یم

د هغه یار په انتظار کښې داسې محو شومه

چې د یارانو په نظر کښې منتظر ښکارم

سترګې د کلیو چې دنیا ته نظر اوکړي

اوبو نیني مخکښې او بیا ورو په موسیدو شي

پیتاوُ دې د وعدې دے، ژړے ستا د انتظار دے

نمر خیه که ته راشي که رانه شي زه پرې پایم

ارمانه چې څو ته ئې انده ښنو سره ترغاړه
الفت به وي زما د اسوېلو سره ترغاړه

ځان دې کړلو پټ زه دې ښکار کړمه شک نشته
اوس نو وار زما دے تا به پټ ځان به ښکاره کړم

زه په چل غزل چې لا تر اوسه قانع نه یم
مور چې پرې څوک نه شي هم هغه اصلي لذت دے

او به ئې د کوترې غوندې څښلې ما لیده له
هر څوک ته ترږے نه وم خو او بو ته مې زړه او شو

تېر به په تا نه خورمه نمر مخیه زه
تول رنګونه ستا د بې رنګۍ نه دي

داسې نېکۍ هم شته چې بدي وي پکښې پټې
سورے په دنیا کښې د تېرو نمائنده دے

وحشت مې لکه ستا د هوسو سترګو قرار نه کا
په خیال د تا د زلفو زولنو ئې خپلومه

ACKU

* * *

اے درده زړهٔ سوخته شو، ځیګر ته رسه
سودا شه، جنون شه او سر ته رسه
حمزه شه، جوهر د ګل حکمت نه وځه
مرهم شه د ځان او پرهر ته رسه

* * *

عاشق چې شنهٔ خالونه د دلبر نهٔ وینې
پسرلے کهٔ دې، خو ګل د پیغمبر نهٔ وینې
بې یاره کهٔ قاصد راغے حمزه، نو څهٔ پرې
اختر کېنې خلق نهٔ ګوري اختر نهٔ وینې

* * *

تارک ګوشه نشین، غم د ژوندون کړې ولې
کېد ونکې حقیقت، لهٔ دنیا ستون کړې ولې
دنیا د زبور ډکه ناوې او ته یې زلمے
ناشکره داسې ته د نعمت خون کړې ولې

* * *

حمزه تا عبادت په څهٔ بهانه پرې اېښے
جنت دې په بدل د میخانه پرې اېښے
بابا زمونږ پرې اېښے په یوه دانه وُ
څهٔ کفر دے کهٔ ما په پیمانه پرې اېښے

خوراک چې مکلف کوي ، نوکرې خوبونه
تکلیف دشب خېزې وړې په فاقه مېړونه
حمزه کهٔ د جوارو ډوډۍ خوري څهٔ وشو
ځوزان ې وي خوراک چې وړي درانهٔ بارونه

* * *

بې شمعې رسېدل نهٔ دي منزل ته اسان
پرې باسي دکمره نه سړے وهم وګومان
کوشش د ترقۍ چې کړې بې علمه حمزه
معلومه شوه د شپې پهٔ غشو ولې ځان

* * *

منم چې غېرتي ې پهٔ جرګه ې بنهٔ ځوان
ملک ې ، لرې پولې پټي هم نوکران
حاتم د زمانې ې ، خو دا وائي حمزه
سر بنکته پهٔ ګرېوان کښې کړه چې ې مسلمان ؟

* * *

زهٔ هغه ابتدا یم چې دنبال نهٔ لرم
یم داسې زمانه چې میاشت وکال نهٔ لرم
حمزه چې دکمال مې څهٔ پروا ونهٔ کړه
اوس بهٔ زهٔ تل تر تله یم زوال نهٔ لرم

***

دنیا کښې هغه کس به سلامت پاتې شي
چې ژوند یې وي ساده کم یې حاجت پاتې شي
حمزه چې د غمو بوټي بې بنا خه وي
پنځو نه د مارغانو امانت پاتې شي

***

بې ځایه چې خرڅ نهٔ کړې، عدالت دغه دے
عامل پهٔ کفایت شه مشقت دغه دے
حمزه کهٔ ته نکي شې دولتمن به نهٔ شې
چې کم دې ضرورت کړې او دولت دغه دے

***

زاړهٔ خیالات بدل، نوي کړه ځان کښې پیدا
تفسیر د "موتوا قبل ان تموتو" شو دا
پهٔ زمکه کښې حمزه چې دانه نهٔ شي ورسته
شین بوټے به ز دکاله کښې تړې نهٔ شي نما

***

حسرت زما پروجبے هغه منظر لټوي
صورت د تېرو ورځو ، دا نظر لټوي
حمزه خو لا مور نهٔ دے ، د خنجر پهٔ اوبو
دردونه یې مارهٔ شو، بل پرهر لټوي

***

بوت نهٔ وُ، نو ودانه مې کعبه کړه څکه
چې مئے نهٔ وو، نو ما مراقبه کړه څکه
اوس جام چې د وصال شو، د حمزهٔ په نصیب
زاهده د توبې نه مې توبه کړه څکه

***

درد و نه چې غذا نهٔ کړې پرهر دې څهٔ دے
مېلمه چې پرې بلا نهٔ وي، نوس دې څهٔ دے
حمزه چې انتظار یې اجابت نهٔ کوي
تهٔ څهٔ یې؟ اسوېلي دې څهٔ؟ اثر دې څهٔ دے؟

***

لهٔ خوفه دې لهٔ کاره انسان پاتې نهٔ شي
په کار کښې د فطرت دې حېران پاتې نهٔ شي
بې وهمه څهٔ دوېرې حقیقت دے حمزه!
دا شرط چې اراده کښې نقصان پاتې نهٔ شي

***

حمزه به څهٔ پوښتې چې، د څهٔ یار ئې وموند
هجران وُکه د شپې ورځې انکار ئې وموند
د شپې ورځې غمونه په خندا شول بدل
چې ذرهٔ د زړو وچاودو، قرار ئې وموند



ACKU

***

کم سن دے څهٔ غرور بهٔ شي دلبر نه جدا
بوهر نهٔ وي، د نوي جوهر خنجر نه جدا
حمزه صبر کړه بار به خپل جمال شي پهٔ یار
میوه چې شي پخه، شي د شجر نه جدا

***

حمزه چا لره غم چا لره نم ورکوي
عالم کښې چا ته زیات وچا ته کم ورکوي
د خپل راحت د پاره، دا ستم بنهٔ نهٔ دے
دا زهر دي چې زخم ته مرحم ورکوي

***

چې تندر آواز وکړي نو برېښنا وي پکښې
جانان په ما منت چې کړي، خندا وي پکښې
راځي سیلۍ پهٔ ځکښې لهٔ بارانه حمزه
ساړهٔ چې اسویلي وکړم، ژړا وي پکښې

***

د عشق اور مې له سترګو، کړل روان رودونه
ګرمي د پشه کال، وروي بارانونه
پیاله چې د وصال غواړې لهٔ یاره حمزه!
لهٔ ځانې کټوري غواړې په کوم عقلونه

* * *

سرسبز مې پهٔ نسیم شول د سبا ګلونه
نفس دې ډک د مالګې کړل تازه زخمونه
ترکومه منتظر به دې حمزه وي اشنا!
ساته پهٔ نمکدان کښې د مینو زړونه

* * *

روژه ده چې پرې جل د ریاضت ماتوې
بیا زور پهٔ دغه جل د ضلالت ماتوې
عادت د نفس قوت دے او قوت یې بدي
عادت به په نېکۍ شي چې عادت ماتوې

* * *

پهٔ وخت کښې د وصال ، سترګو ته نم راځي
چې ځوانه خوشحالي شي ، هله غم راځي
وحشت مې زبان بند کړي، چې حال وایم حمزه!
پرهر چې پهٔ خندا شي ، نو مرهم راځي

* * *

خواهش نهٔ شه خالي ، ستا به دلبر شي هله
خسوف چې شي تېر لرې ، روڼ قمر شي هله
حمزه! شمع زینت شي ، په سر اور بلوي
ګوګل د رباب ، تش پهٔ نغمو سر شي هله



ACKU

* * *

عاشق دبل په خوله بجواب بهتي نهٔ ګڼي
اوبو کښې چې وي عکس هغه قمر نهٔ ګڼي
حمزه! ديار دټشې خولې خنداڅهٔ پهٔ کار؟
باران چې ورېږي څوک پرخه دسحر نهٔ ګڼي

* * *

چې عشق وي اوږدا نهٔ وي، څهٔ شان وي پکښې
درياب هغهٔ ته وايه، چې طوفان وي پکښې
حمزه! دشريفانو خلقو کار دے ژړا
درنه چې وي وريځ هله باران وي پکښې

* * *

چې پرانسته ګل خوله، نو پهٔ منقار شو ټکه
مارغهٔ چې آواز وکړلو، نو ښکار شو ټکه
خوله پټه بهتري ده، فريد وائي حمزه!
ګويانه چې منصور شو نو په دار شو ټکه

* * *

خواهش پهٔ رياضت شي، فنا يا که سوا؟
آتش کړي پهٔ وهلو دبکر کښې دنها
خواهش چې شي غائب، نو پېدا کيږي دوباره
چې پرې دديوې سر شي، نو بل سر کړي نما

***

نا پوهه دے احساس چې د بنهٔ ذات نهٔ لري
یو علم د ادب ځان کښې صفات نهٔ لري
حمزه! سزا جزا ده، د درنو پهٔ برخه
سپک څیز ته مقناطیس هم التفات نهٔ لري

***

اے عشقه پوهه نهٔ شوم، یې بقا کهٔ فنا
یو رنځ یې حقیقت کښې، کهٔ قضا او دوا
پسرلے دے لهٔ یوې سترګې، خزان لهٔ بلې
خندا یې د وصلت، کهٔ د فرقت یې ژړا

***

اتش د شمعې، شوق د پتنګ نهٔ بدلوي
د زړو اصلیت، څېرې رنګ نهٔ بدلوي
حمزه! د غېر تهذیب څهٔ کوې، مار وګوره
بدل کړي زوړ پوستکے، خو رنګ نهٔ بدلوي

***

تل تل چې پرې نشتر وي، هغه رګ یمه زهٔ
پهٔ سر چې د اوبو وي هغه ځګ یمه زهٔ
حمزه! چې د اشنا نغمې راځي ورلره
بل هر څهٔ ته چې کوڼ وي هغه غوږ یمه زهٔ



ACKU

***

ځان مهٔ نغاړه زمانه ، کوره خونهٔ یم
تیندک به په ماؤنه خوري موړه خونهٔ یم
ته څو دغم په تېلو کښې بهٔ سوځې حمزه!
انسان یمه ظالمه ، پیکوره خونهٔ یم

***

خوشحال یم توري زلفې دلربا مې وموند
ښائسته لکه قمر دے ، خوبلا مې وموند
حمزه ! چې بد قسمته له ازل ومه زهٔ
دنیا لره چې راغلم بې نوا مې وموند

***

اشنا به شي دشمن هم کهٔ دسرلري څوک
دنیا کښې چې اخلاق ښکلي بهتر لري څوک
هر څوکهٔ مار دښمن دے ، دسرو حمزه!
امیل یې کړي یو دم کښې چې منتر لري څوک

***

حمزه! څهٔ شي په داکه مال وزر لري څوک
مالک دتخت وتاج وي او لښکر لري څوک
پهٔ سترګو کښې جوهر چې د حیا ښهٔ لري
ترې تښته په دنیا کښې کهٔ کوثر لري څوک

---

ـهٔ زما د پیر لقب

* * *

پسرلے شولو ، مرغان دې چې ګلشن ته درومي
رندان دې میخانې دخوا چمن ته درومي
خواهش د امانت ، دکوټې ور پرانست
توبې کوي شکرونه ، خپل وطن ته درومي

* * *

تل شپه ده د خوارۍ د په تا سحر رانهٔ غے
اختر دې بد په فال چیرې اختر رانهٔ غے
ورځ چې باران راوړي نو بربښنا وي پکښې
افلاس دې ژړوي ، پکښې اثر رانهٔ غے

* * *

اول دشریفانو دوه جوهر ، علمونه
جرأت او شجاعت دیني ، ملّي جوشونه
اوس دا د شرافت دے ، معیار شوے حمزهٔ!
چې ښغلو سره کاندي ، په هنر رقصونه

* * *

حمزه! بس کړه نور مهٔ کړه دښمن غمونه
بې خونده شي چې تېر شي د هر څیز وارونه
ولښتان یې ښشي ، سپور دکندکې په ګاډي
په پښو کښې دچوړې وي کرمچې بوټونه

ACKU

***

اے شیخه! داسې غیر مذهب شوې ولې
عالم یې، نو ببرلکه درب شوې ولې
شیخ ووې، په خندا هسې مسترته حمزه
انسان یې، نو لغړ لکه دکب شوې ولې

***

ناصحه! نور دې نهٔ اورې حمزه پندونه
پهٔ ډاکه غورزوې، داېې بها لعلونه
بې ځایه ولې مامنع کوې لهٔ ژړا
ترڅو بهٔ اباسیند ته ورکوې بندونه

***

ذاړهٔ شول تورې زلفې کچه شنهٔ خالونه
رنجو په دنداسه د ښځو زینتونه
داوخت دے دتهذیب داېې سینګار دے حمزه!
پنډې برېنډې، غوښې ښتهٔ، برېنډ مټونه

***

تهذیب وهي تند دے، ګڼې پهٔ شور ولیدو
حمزه! ددنیا هرکار مې نسکور ولیدو
داڅوک دے چې زینت کړي ددوزخ په جنت
ګلاب مې دتهتي دپاسه څپور ولیدو

* * *

تهذیب نوره دنیا پاس په اسمان کښېنوي
صورت يې کوم، په عقل کښې افغان کښېنوي
د ربړ کړي کوټ پتلون په چونه سپین بوټونه
حمزه! په ځاے د بړېتو دوه بچان کښېنوي

* * *

پسرلي ستوماني وورسته زېړ کړے رانه غے
زړه وچاوُد دغوټۍ خو اسوېلے رانه غے
ګروان به زړه هم وشلوم د ګل غوندې
ورشو ته که د زړه مې پسرلے رانه غے

* * *

اشنا که ستا دیدن مې په قسمت نشته
د ر وايې خلق، دې ستر ګو ته حاجت نشته
ظلمت دے بې له دې هم، په ظلمت کښې بنه یَم
امید چې د رنها نه وي، ظلمت نشته

* * *

غم غم شوم خو د غم سره اشنا نه شومه
څو څو ځله ورک شوم، خو ورياد نه شومه
بلبل غوندې د بڼم په بهار او خــزان
پرېشان شوم لکه ګل، خو بې نوا نه شومه

***

اشنا! تهٔ په خندا اوسه ګويان بنهٔ يمه
تازه لکه دګل اوسه پرېشان بنهٔ يمه
اباده ميخانه ستا دځوانئ دې وي تل
محفل کښې دې دجام غونډې ګردان بنهٔ يمه

***

حېران پاتې يم زهٔ يمه تمثال دچا
مرات چې دهستئ مې وايي حال دچا
بوم د وجود کهٔ خبر لوڅ کړم زهٔ
هر قال مې بنهٔ ونغوښېږه چې دے قال دچا

***

سرې سترګې تل پهٔ شونډو رند دے ګرزم
پرېشان يم کهٔ پهٔ وروکه ګرېند دے ګرزم
قايم دے زما ژوند په پردي ساه باندې
ګرم نهٔ يم، خو يم ګرم چې زهٔ ژوند دے ګرزم

***

سنګې دغلامانو دافشا څهٔ په کار
طوفان چې راپېدا نهٔ کړي، اخفا څهٔ پهٔ کار
د انجل تر پېغلتوبه په نظر کښې بنهٔ ده
خپل کور چې په کار نهٔ شي، په بېديا څهٔ په کار

***

ساده ساده کاته ، د غرڅنو زده کړه
بیا سترګې جوړول د شنو زمرو زده کړه
چې سترګې تیټې نه کړې د هیچا په کتو
هیچا ته تیټه مه وایه پښتو زده کړه

***

اقرار چې په مسکا وي تسلي واخلي
بیا هم نو تصوّر مې تولې شېې واخلي
ما بنام ته دې زما که چېرې داج ورنه کړ
بیګي د انتظار نه به ، ډیوې واخلي

***

دنیا څه عجیبه ده د حکمت کور دے
هر څیز یې اینه ده د حیرت کور دے
اشیاء په یو او بل کښې دي خو جنګ نه کوي
نسیم کښې د ریحا ، هم د نګهت کور دے

***

په تا مې چې نظر وي نو بس تول "ته" یمه
خپل ځان ته چې راستون شم نو همه "زه" یمه
قصې د "زه" او "ته" خو زما خوښې نه دي
ما یوې کړه اشنا ته څه یې او زه څه یمه

***

تيارهٔ کښې دکثرت چې چېرته کېږه نهٔ شي
وحدت نه دښکلا چې ځکښې تېره نهٔ شي
وعدې دهغه يار سره چې کړې وې ما
خاطر دهغه يار چې رانه هېره نهٔ شي

***

ماحول چې نن بدل شو، دي خيالونه بدل
دې نوي حال مې کړل ذاړهٔ حالونه بدل
څهٔ کيف دے تېرې ورځې رايادېږي راته
ماضي نهٔ فنا کېږي، شي کالونه بدل

سوات - ۱۳ - ۴ - ۶۳

***

صورت مې منعکس شو په وجدان دزړهٔ
مېږي مې دېښې لاندې گرفتار په فنا
فرياد مې چې ددهٔ په گوش وهوش واورېد
وې شکر چې مې مل شوه، په لټون کښې قضا

***

سرسبزه مې هستي وه په الفت داشنا
اگاه نهٔ ومه زهٔ د بېلتانهٔ له جفا
واعظه طعن مهٔ کړه کهٔ مې صبره يمه
لړگے چې شين په اور سوځي، نوکاندي زړهٔ

***

کم ظرفه وي حاسد په چا اثر نهٔ لري
محروم چې لهٔ بصر وي نظر نهٔ لري
دکھتو نه را اوځي زر بهـا چې لري
لښ تاؤ سره چې اور واخلي جوهر نهٔ لري

***

عاشق شي معشوقه او چې معشوق شي عاشق
چې يو وي نو ترمنځ يې د نسبت وي خندق
د مالګې کان کښې، ګټه هم شي مالګه حمزه!
ناقص چې شي ملګري دکامل نو شي حق

***

عاشق خو يم ددې نه زهٔ انکار نهٔ کوم
اشنا کهٔ رضا کښې ي نو تلوار نهٔ کوم
کهٔ نهٔ کړي التفات نو زهٔ هم يمه غيور
چې دے نهٔ کوي زهٔ هم هغه کار نهٔ کوم

***

لهٔ يو طرفه عشق نهٔ وي ، دامهٔ کړه ګمان
دا اور دے چې شي بل په التفات د جانان
کوم ځين چې ځلا نهٔ لري په خپله حمزه!
هرګز به پلوشو به د نمر نهٔ شي روښان

***

مارغهٔ ته مارغهٔ مهٔ وایه د ږ نه جدا
دماغ به څهٔ دماغ وي د هنر نه جدا
مذهب او سیاست کښه لازم ملزوم
میوه نهٔ وي هیچرې د شجر نه جدا

***

پښتونه د اسلام پهٔ مینه ګرم اوسه
عفت لره مدام، لرې له شرم اوسه
چې تار دې د ژوندون شلوي دښمن کړه تېرې
دا واوره د ورېښمو غوندې نرم اوسه

***

پرکار هم چې کار ختم کړي وزګار شي لب
سختئ نه پهٔ فراغ کله بیمار شي لب
وحشت دے که سودا ده چې زیاتېږي هر دم
باور بي نهٔ دے کم به دا انکار شي لب

***

هېڅ یوه نهٔ شوم چې څهٔ دے (خو) شوا خون لرمه
ژوندون لکه هوسۍ په مېږتون لرمه
یم قیس په بې خودۍ کښې، پهٔ خودۍ کښې لیلی
مضطر لکه پرکار یم او سکون لرمه

***

ساکښ په دوارو سترګو کښې طوفان لرمه
ارمان د وریځو چې کړي باران لرمه
وریځ د اوښکو زما بهر نهٔ راځي
ما څهٔ کړې، عناصر ډک مان لرمه

***

لباس کښې د مغرب چې جینکۍ وینمه
دا وایم ګلستان کښې لوټکۍ وینمه
د هیبت سره بوتان د لوړو پوندو په پښو
حیران شم چې په غوږ کښې یې چمکۍ وینمه

***

مرهم شته، خو لا زخم مې جوړ شوے نهٔ دے
هر څو که شته اوبهٔ تاؤ مې سوړ شوے نهٔ دے
یو ځل په کال وسر کښې مې کهٔ یاد کړې نو څهٔ
په څاڅکي اوبو ټوک چیرې موړ شوے نهٔ دے

***

حاجت چې ورته نهٔ وي، اختیار دغه دے
محتاج د کیف چې نهٔ وي، نو خمار دغه دے
حمزه! د بل په طمع چې یو کار و نهٔ کړې
په ځان اعتبار وکړه، اعتبار دغه دے

* * *

څه درومه زهٔ خوستانهٔ يم غلام توبې!
کوم کوه بهر مې شه لهٔ حــام توبې!
پسرلے بنکلے وريځې اوځواني ده زما
کړه زړهٔ دبوډا لکانو خپل مقام توبې!

* * *

په خلهٔ مې توبه نهٔ راځي، توبه خدايه
چې نهٔ راځي دا څهٔ راځي، توبه خدايه
توبه بهٔ پسرلي کښې دحمزه نه نهٔ شي
توبه لهٔ توبې نهٔ راځي، توبه خدايه

* * *

پسرلے دګلو وخت اوشراب اوتوبه
ساقي او سترا ني د رباب او توبه
واعظ جوړ دځوانئ بهار ليدلے نهٔ دے
مشفقه محبوبه او شباب او توبه

* * *

ګل ستړګه کښې نن پرخه دسحر نهٔ لري
مرغان داسې په پردي چې بستر نهٔ لري
يارُ به! دا اثار دپسرلي خو ښـهٔ دي
دځبنلو دتوبې پروا څيګر نهٔ لري

* * *

اثار د توبې وائې مے نوشي بنهٔ نهٔ ده
ناپوهه پهٔ ځواني کښې بنګ نوشي بنهٔ نهٔ ده
حمزهٔ وائې همز ولې دي ځواني او مستي
د دې دواړو پهٔ څهٔ هم اغوشي بنهٔ نهٔ ده

* * *

وصلت بې خوده کړے بیا جنون را غے
تېر غم د امام[1] بیا لکه پرون را غے
تړي پاتې ارمانونه د شهید وو حمزهٔ!
مرګے پهٔ ننواتې د ژوندون را غے

* * *

نا بینه کړې خپله مدعا لټوي
عروس د شهادت لره حِنا لټوي
زلمي د اجابت غواړي، سینګار د عصمت
حِنا ته د معصوم وینه قضا لټوي

* * *

داښې لمدې لمدې دي او مدهوشه فضا
پهٔ میو د شمیم باندې بې هوشه فضا
پسرلي تښې پرانستي دي ولاړ دے حمزهٔ
خوبونه د جنت وینې ګل پوشه فضا

---

[1] مطلب امام حسین رض دے

* * *

جمال چې دچا وینم ، نو هم ستا وینمه
کاته که چا ته نهٔ کړمه، هم تا وینمه
تیارهٔ ده که رڼا اوکه ګناه نیکي
هم ته او ستا صفت ، سبا بېګاه وینمه

* * *

یو سیند یمه دعشق ، خوشوروشر نهٔ لرم
دلبر لرم پهٔ کور کښې ، خو محشر نهٔ لرم
واعظه داګومان کړه تصوّر دے زما
چې ځان وته نظر کړم ، پهٔ تن سر نهٔ لرم

* * *

ګروان باندې مې بې سببه نم دڅهٔ دے؟
دې چولي بیابان باندې، شبنم دڅهٔ دے؟
نهٔ وجه دژړا اونهٔ سبب شته دغم
زړګیه! راته وښیه داغم دڅهٔ دے؟

* * *

چې زهٔ څهٔ ورته وایم، هغه نهٔ کا اوځي
پهٔ ما درقیبانو زړونه ښهٔ کا اوځي
رویونه چې دخدائے کرم ورته ځکښې حمزه!
دباد پهٔ خوله یو دوه خبرې وکا اوځي



ACKU

***

دتللے چې هر چا ئمه ، بستر ورکوم
هر څوک چې راته بد وائي نو زر ورکوم
یم هغه ونه څوک مې چې په کڼو ولي
خپل سیوري ورته زهٔ او هم ثمر ورکوم

***

یو ځل چې لاړشي بیا هغه هوس نهٔ راځي
چې ووځي، نو بیا هغه نفس نهٔ راځي
خفګان مې مدامي نهٔ دے، راځي او دروي
او بهٔ لکه په ځوړشي او واپس نهٔ راځي

***

الفت داسې شے نهٔ دے چې پرې څوک شي رسوا
دازړهٔ دے ورته راځي شي نو کاسندي ژړا
او بو کښې او ازونه او ښکالو شته حمزه!
تېرېږي چې په کڼو نو پېدا کړي صدا

***

مشام لره دستا به لکه عود شمه زهٔ
فاني چې شم په تا نو به موجود شمه زهٔ
لالیه! په ماګرانه لـهٔ نظره مهٔ شې
په شان دسپلني بهٔ درته دود شمه زهٔ

***

سواد د تورو زلفو دې سودا راولي
انداز دې کتے نهٔ شم خوږ ړا راولي
سرخم دې تورو سترګو ته اجل ویمه
بلا لرې دا داسې چې قضا راولي

***

ځواني چې راشي ځان سره ادا راولي
صهبا نشه د ځان سره همرا راولي
شنواریه چې یار راشي نوشي کور دې ودان
پسرلي بوټي ګلونه په صحرا راولي

***

چې نهٔ څښمه زهٔ چاۍ نو پیالې څهٔ پکار
دریاب کښې چې سفر نهٔ وي، جالې څهٔ پکار
انسان لره یو قوت، دویم جونګړه ده بس
نوکر، خدمتګاران، لوړې بنګلې څهٔ پکار

***

الفت هغه ګڼه چې مل له سوز وي سان
باغ څهٔ دے چې ګل وي د بلبل نهٔ وي اواز
حمزه! چې اشنا لرې کړه بیلتون در څخه
اوس لګ ته د مثال یې کړه سرخم د نیاز

***

یو څیز په حقیقت کښې دے عذاب او ثواب
خواهش چې نه وي یو دګنه لطف و عتاب
رحمت دے ، خو واعظه درته څه به وایم
بارش چې اېوته کړي، نو ترې جوړ شي شراب

***

نیکي کړه چې زوال دې نه راځي په شباب
خوانده به وي عسل که څوک یې وخوري په خواب
نېکان چې شي فنا بیا شي پیدا حمزه!
باران چې وکړي ورک شي خو بیا راشي سحاب

***

ناهله به لوی نه شي په لقب او خطاب
سرخاب نه وي تپوس که لري پر د سر خواب
بې علمه یو کالبوب ګڼه چې روح نه لري
بې ملکه ریاسته څه بادشاه او نواب

***

ظالم که وي غره په خپل قوت باندې
مظلوم د خدائے په فضل او په رحمت باندې
لیدلي فرعونان دې هر د مستئ سترګو دي
چې راشي په صولت ، ځي په حسرت باندې



ACKU

* * *

ړومبے دېدن شراب وي بې هوشي راولي
ړومبۍ بوسه دلبو مدهوشي راولي
ړومبۍ ګپه چې وېي د ډوډۍ واخلي
د نفس په شوږو شر کښې خاموشي راولي

* * *

د سرې شنې پهٔ لیندهٔ کښې جلوه ګر یمه زهٔ
سرخې یم کهٔ باران د ځېل بصر یمه زهٔ
فاني چې د فراق یم ، د وصال دهٔ بقا
ظلمت د پارهٔ غشے د سحر یمه زهٔ

* * *

خرد وایئ چې پورته شه عمل دے ښکار
یقین وایئ سکون کښې څهٔ خلل دے ښکار
خرد وایئ سکون پهٔ انتشار کښې وي پټ
یقین وایئ چې بس خو تور وربل دے ښکار

* * *

پهٔ سینه کښې د هستۍ لکه د شور یمه زهٔ
د موج پهٔ زړهٔ کښې پټ چې څومره ځور یمه زهٔ
ؤم څاڅکي ، خو عالم ؤ د نیسان راکښې پټ
ورکېږم ، ادانهٔ شوم هغه پور یمه زهٔ

ACKU

* * *

زۀ چا یمه ویلې ، هغه چا ویلې
زۀ هغه یم ویلي ، هغه ما ویلې
دنیا کۀ افسانه وي چې پاک رب ویلې
پاک رب یو حقیقت دے چې دنیا ویلې

* * *

انګرېز دمات قوت مارغۀ تۀ پر جوړوي
جهاز د رعب ې مات ، ورله وزر جوړوي
جرمن مشت وکړېوان ایله د روس سره دے
مورچې دي لۀ ښخوانه په خېبر جوړوي

۳ ر دمارچ سنه ۱۹۴۱

* * *

خال نۀ بد دي د سینګار سامان یې کوڼ پاتې شو
حمزه راځه زړوړ د تهمت تو ر پاتې شو
د ابنۀ شوه لۀ ځړېدېې غلاف لرې نۀ کړ
بې داره شه په سوړه کښې منګور پاتې شو

* * *

یو رنګي چې کوم رنګ وي په ښۀ رنګ لیدۀ شي
سینګاریۀ ائینه د حسن زنګ لیده شي
تعریف چې د بدرنګي د ښائست کوي څوک
لا یو یۀ دوه لۀ مخکښې نه بدرنګ لیدۀ شي

***

شکرې پهٔ سرو لبو دلربا وائي
نن نهٔ کوي حیا ، صفا صفا وائي
انکار کړي د یارۍ نه پهٔ بښیوو نخرو
اکثر خلق پهٔ ټوکو کښې رښتیا وائي

***

بینا سترګو زما ګویو بشر لیدلے
هغه یې هم ړند نه ، خو یو نظر کتلے
چې سترګې زما خپل وړي نظر خوړې
کهٔ سترګو ورسې زما نظر خوړلے

***

کړي ناز خو پهٔ ټکل د حجاب شوے نهٔ دے
چړې خو تیره وي ، خو قصاب شوے نهٔ دے
بنا ئست کښې یې کمې لا د ځوانۍ ویمه
دولت لري ، صاحب د نصاب شوے نهٔ دے

***

زهٔ هغه شاعر نهٔ یم چې دروغ وائي
دروغ هم بیا هغه چې بې فروغ وائي
حمزه دے اشنې غوندې بې رویه او رښیا
دانه چې د چا پیوته به دوغ وائي

***

خلوت ته یې لاړ نهٔ مونده بهراوده شو
ظلمات کښې شو ستومان دیاد په در اوده شو
قانع شو جوړ خضر د حیات په چینه
لږ مو کښې داشنا زما نظر اوده شو

***

زاهد کړه ګېډه ډکه په بستر اوده شو
سپې د ونې او نهر دچا په در اوده شو
راویښ شو یو بې غمه چې سحر راغې
بل تول شپه په غم کښې وُسحر اوده شو

***

داخلق زړهٔ چاودون ته موسیدل وائي
برهمې پرېشانئ ته خند بېدل وائي
روداد دمیٔن زړهٔ زما دګل هسې دے
حالت ته دفنا یې غوړېدل وائي

***

مضراب بې د بنو د زړهٔ په تار مهٔ وهه
داسان خاموشه شوے په بار بار مهٔ وهه
اې بنکلیه! خپله یې دې چې بې لارې نهٔ شي
دلارې درته وایم چې دا لاړ مهٔ وهه

***

مستي د پسرلي په ځړه نوکارې وهي
له سترګو مې خمار د ميو دارې وهي
اسمان کښې د لېمو د مے زما تمال د بوږه
فطرت مې خوده شوے د زړه لارې وهي

***

وريځو د چغ کړې نغارې وکړې
برقونو د تېغونو شرارې وکړې
فطرت د وې د زړه داغونه ورم چېرته
پسرلے څوچې دنيا ته يې اشارې وکړې

***

اوس پاهې مې د زړه نه د توبې کره لرې
کيفونو ته، مستۍ ته دروازې کړه لرې
ساقي پرېشانه زلفې جام په لاس راشه
د دهر منتشرې افسانې کړه لرې

***

په زړه يو اسويلے د دې ملت راولې
دا ابر، زما خدايه د رحمت راولې
مسکۍ لکه برېښنا په ځان ځانۍ کړې مونږه
باران له ژونده ک د جمعيت راولې

***

شک نشته هیڅ په دې کښې مسلمان یُمه زهٔ
د لوارګي باشنده یُمه ښهٔ ځوان یُمه زهٔ
هرګز به فنا نهٔ کړمه قامي امتیاز
ژوندون مې هم په دې دې چې افغان یُمه زهٔ

***

مشرب زمونږه یو دین وایمان یو دے
کهٔ بره دے کهٔ کوز همه افغان یو دے
کړو مشت اوګړوان مونږه اقتدار د فرنګ
هیڅ نشته اختلاف پکښې هر شان یو دے

***

پښتون لهٔ سره تېر دے قربانۍ پېژني
زمرې غوندې پهٔ سیند کښې روانې پېژني
پوهېږے د اتحاد نعره پښتون کړې ده
دنیا جمال الدین افغاني پېژني

***

پښتون د ځان سره عالي نعمت راوړے
ساده یې ایښې غوندې فطرت راوړے
جوهر یې دے د قام دپاره سر ورکول
قربان چې یې غیرت او جمیت راوړے

***

عالم کښې د اسلام به اتحاد شي پېدا
شيرين چې د اسلافو هغه ياد شي پېدا
پښتون تېشه په لاس کښې دي تيار ولاړ
دا مه وايه چې د ربغه که فرهاد شي پېدا

***

يو څو قدمه کوره د هر چا سره ځم
اشنا سره اوهم د ناآشنا سره ځم
ناپوهه نه يم خو کله ناپوهه شمه
لاچاره په دنيا کښې د دنيا سره ځم

***

زهٔ لا رم تنهايي ته، خو تنها نهٔ شومه
ما ځان له هر څهٔ غوڅ کړ ولې ستا نهٔ شومه
راوښيه کوم رنګ دې طلب وکړم اشنا
نيم عمر لاړ خو پوه په مدعا نهٔ شومه

***

تقدير مې د خپل ځان سره پخلا ونهٔ موند
قسمت له غرېوه ډک مې په خندا ونهٔ موند
ملګريه! خدائے دې غم د رځني بيل کاندي
په دې چې غم شريک مې په دنيا ونهٔ موند

* * *

تا نهٔ وینم لهٔ ځان چې تېرېدے نهٔ شمه
بیا ځان سره هم زهٔ خوشحالېدے نهٔ شمه
درواېې خله خرد ، راته عطا کړه مینه
اوس نور خو په دې حال کښې پاېېدے نهٔ شمه

* * *

تا غم زما سېوا کړ ، خو سېوا دې نهٔ کهٔ
تا زړهٔ زما خطا کړ، خو خطا دې نهٔ کهٔ
لېمهٔ زما تېرو د انتظار سپین کړل
څهٔ ښکلې شپه دې راکړه خو سبا دې نهٔ کهٔ

* * *

پوېیان یم ستا د مینې دغرهٔ سرته به ځم
همت مې نارینه دے نهٔ چې بېرته بهٔ ځم
بې ستا نه بل دیدن په ځان حرام کړمه
کهٔ ستا دیدن ونهٔ شي نو هم چېتر بهٔ ځم

* * *

نیلے زما دشعر په جولان دے نن
جوړ خیال مې لهٔ زمینه پهٔ اسمان دے نن
رفعت ته زما ستورو کړلې سترګې بکې
یوګرد زما دلارې کهکشان دے نن

ACKU

★★★

مشکل دے چې اوس سم شي دعادت کنډېچ
کنډېچ شوي د ذهن، د فطرت کنډېچ
دا ډېر ډېر تهذیبونه باوې ړي شول ورته
دا دے د بنیادم د طبیعت کنډېچ!!

★★★

مسلم ته نظر وکړه ځان په ځان کرځي
هر یو د خپل آئین لاندې حیران ګرځي
هر یو ځان ته وحدت او جمعیت وائي
لیکن په درې اویاؤ کښې پرېشان ګرځي

★★★

ډېر ډېر که افقونه وي، شفق یو دے
مسلم دې رنګ په رنګ وي خو سبق یو دے
حیران یم چې حق څنګه تعدد کړي قبول
دا حق دي درې اویا واړه که حق یو دے؟

★★★

نن ضبط هې لکه زړهٔ د بې قرار وُبهېد
را ډوب شو، دلیمونه انتظار وُبهېد
یخنۍ په تېرېدو تېرېدو وکړه ګوزار
هنګے وکې فطرت ترېنه بهار وُبهېد

* * *

غوږ کښېږده معلومېږي چې اسمان ډُغورېږ
لږ داوره چې څه وائي پسرلي وُګړېږ
ډېر ډېر زړونه جدا لکه د څاڅکو اوسي
ښکن په دې نظام لکه باران وَورېږ

* * *

قدرت ده عمل دپاره وار جوړ کړه
باران له څاڅکي څاڅکي يې يو تار جوړ کړه
هر څيز خپله هستي کړي په يو وخت ښکاره
او وخت يې داشياؤ له اظهار جوړ کړه

* * *

ستا نوم مې په خوله راغی اسويلی دې نه شي
يو عرض درته کومه، خو زېړګی دې نه شي
کوم شی چې زما سترګو کښې ستا رنګ لري
لا شی به ورته وايم هغه شی دې نه شي

* * *

اشنا! ته خو پوهېږې چې بلبل څه وئيل
بيا بېرته په خندا کښې ورته ګل څه وئيل
ښکن په تا بهار، چې د ځوانۍ راغی
حمزه ته دې جواب کښې تغافل څه وئيل

ACKU

* * *

دا ماردِ نفس به کله په کوتک سم شي
هر څوځ چې کړي له ځایه هغه دم خم شي
یا بین د محبت دے او یا سوره د مرګ
بې دې نه څو حرام شه که ې خم سم شي

* * *

د غم په وینو ښکلې افسانه ده زما
حسرت د ژوند په لاس کښې پیمانه ده زما
د زړه په پرهرونو مې انګور راغے
سوری سوری بهېږي میخانه ده زما

* * *

قربان دې شم له سترګو غړځنے دې کرمه
اشنا په نظر مه شې سپېلنے دې کرمه
ستا واخلمه بلا، د دې هوښیارو سترګو
هم دا مې وه کمې چې لېونے دې کړمه

* * *

تل تل ستم جفا کړه، عنایت مه کوه
هم هېڅ نظر په ما د مرحمت مه کوه
پرېږدې مې که مې وژنې هر چې ته کړې ښه دي
هر څه کړه درله ښائي خو نفرت مه کوه



ACKU

★ ★ ★

جذبه به ستا د مهر او د رحمت لړزوم
احساس به دې د لطف او عنایت لړزوم
دا ځائے د سخاوت دے پۀ ملامۀ نیسه
ایوان به دې پۀ چغو په حسرت لړزوم

★ ★ ★

هیڅ پوهه پۀ دې نۀ شوم چې څۀ ستا په زړۀ دي
ځان هم نۀ خبروې چې څۀ زما په زړۀ دي
سیند څۀ زده چې مطلب د سمندر به څۀ وي
ماڅۀ زده وي چې څۀ د دلربا په زړۀ دي

★ ★ ★

حیران یم چې بندیز د انتشار څۀ به وي
زړګے مې چې کړې جمع، هغه لاړ به څۀ وي
د استانه صدقه ستا د لویې غواړم
ستا زړۀ چې پرې خورسند شي هغه کار به څۀ وي

★ ★ ★

ستا مخ کښې رنګینې مې د بهار لیدلې
د زړۀ د ګل قبا مې تار په تار لیدلې
د سرو او سپینو پرک یې پرهېښولے نۀ شي
د ستر کو مې برېښنا ستا د رخسار لیدلې

ACKU

***

لېلئ د ارتقا چې ستا څرېدکومه ده
سندور دکومې وېښې دي ، درېدکومه ده
څنځېر چې د انسان داخوت جوړېده
ماغږ کړې دېښتون په کښې، کرېدکومه ده

***

فطرت راوړو دفتر ، خوګړه په شور لاړو
پسرلے څه ؤ خوږئ يې کاره اور لاړو
يې غاښو ګل چې نه شو تلفظ کوے
مقصد لکه نکهت ترې خور ماخور لاړو

***

کاروان د رنګينو له مهاره نيسه
داجنس دپرېشانيو وړه بهاره نيسه
مسکي مې لا داغونه ګخواني دي دزړه
په مخه دې ګلونه ، څېله لاره نيسه

***

پسرليه! تاچې مخ داسې خندان راوړے
روداد ووايه، تادکوم پرېشان راوړے
هم ستا دې مبارک وي دازړه چاوُدي ګلان
مازړه دخپل زړه چاوُدي خوشال خان راوړے

***

ما وې ماته به نهٔ کړم، دا زهيره توبه
بيا دا چې کړې ما، په سينه ږيره توبه
ښکن د پسرلي لهٔ مستو سترګو توبه
نن ښکاري د ګروان مې هره څيره توبه

***

توبه مې څکه شاته کړه، توبه خدايه!
برېښنا د مخ يې ماته کړه توبه خدايه
هر څوک هٔ زهٔ توبه توبه ناري وهمه
توبه وائي ما، ماته کړه! توبه خدايه

***

حمزه د تعلق د اختتام نخښه ده
دا ګونجه يې وجدان ته د يو دام نخښه ده
او س ګوره يې چې دومره نازېږي به په يار
تندے يې څهٔ صفا د استفهام نخښه ده

***

نرګس وې نظرلاړ، چې تماشا راغله
ريدي وې چې دنيا څهٔ ده سودا راغله
مقصد خوېيې دا داغ وُ چې رسوايي کړله
فطرت چې تخنولمه خندا راغله



ACKU

***

د غم او د ښادۍ لۀ کناره ووتم
ستا عشق کښې د هستۍ لۀ کناره ووتم
اوس ستا په ننداره کښې مې ژوندون خوښ دے
هر څوکۀ لۀ دې نورو نندارو ووتم

***

فطرت د رهبرۍ کۀ څۀ هنر راوړو
ماهم یې هر تکل لره نظر راوړو
لا مونږ دیو او یل نه یې خبر پاتې یو
هم دې بې خبرۍ د چا خبر راوړو

***

یم خاوره خو کارونه د ګلزار کومه
کشته یم خو بنېګړه د بیمار کومه
ستا زخم د عصیان دې خبر لوڅ نۀ وي
مرهم غونډې ساکن او سم خو کار کومه

***

داتګ دے کۀ راتګ دے ورته یون وائي
هر څوکۀ ورته "نن" "سبا" "پرون" وائي
هوهو! چې په تګ کښې کله خوب ورشي
معلومه شوه، هم دې ته به سکون وائي

***

ښکارېږي راته داچې حسابېږي به نه
عاشق که ګناه وکړي، عذابېږي به نه
ښکارزن چې د ښائست وي محترم دي مدام
بازان چې کله مړه شي کبابېږي به نه

***

ګل ګل ته د مسکا راوړي سبا پېغام
ظلمت ځپلو سترګو ته د رڼا پېغام
هم داسې د پښتون د اتحاد په غرض
راوړے وسرحد ته بې نوا[۱] پېغام

***

ارام دې د دنيا په مېږتون راکړه
خواهش د لوې طلب دې د مجنون راکړه
قربان دې د خندا نه د اسرارو شمعې
تا ما ته د پتنګ غوندې ژوندون راکړه

***

خوشحال که دولتمند وي خو پرېشان به وي
هرڅوکه جمع زړه وي، سرګردان به وي
ګلشن کښې يو سحر شبنمې ګل وپوښته
په دکه خله به خاندې خو ګريان به وي

---

۱ے زما د مرشد لقب



ACKU

***

د خیال له انقلابه واقعات وزیږي
بیا پس له واقعاتو حادثات وزیږي
د خیال په ښه اوبد باندې موقوف دے نظام
دا خیال دے چې ترې ګټه او بائیلات وزیږي

***

باران چې وشي للمې ګلشني غوندې شي
چې غم ورسي حدته خوشحالي غوندې شي
زرغون زما زړګے شولو په دېره ژړا
چې تاند شي ښه کال د پسرلي غوندې شي

***

اوس دائم د بېلتون له کتارو ووتم
اشنا کړم تماشا، له تماشو ووتم
نور هیڅ نه وو، شراب وو چې اشنا مې ولید
واصل شوم ورسي چې له لمبو ووتم

***

ما پرېږده څه سلګۍ مې د مستۍ پاتې دي
یو څو ګوټه نور غواړي څه مستې پاتې دي
ساقي د حقیقت لوږې لاست نه کوي
لا شوق د محبت کښې څه پستې پاتې دي

لوارګے - ۲۵-۷-۱۹۵۴ء

ACKU

***

اشنا پکښې تا خپل ښکلي لېمهٔ ولیدل
هم تا پکښې کاکل ښکلي بانهٔ ولیدل
احساس خوائېنې هم وکه، ستا د وجود
دا وائې لهٔ حېرته چې ما څهٔ ولیدل

***

دا څهٔ چې د لوړتیا او د پستئ قیصه ده
دا څهٔ چې د نېستئ او د هستئ قیصه ده
دا راز مې د صهبا په پیمانه کښې وموند
دا ټوله ستا د سترګو د مستئ قیصه ده

***

را پاسه په کثرت کښې فردیت وګټه
بیا ورک شه په ملّت کښې ملیت وګټه
عالم شوې، مبارک شه خو لا کار پاتې دے
غایت د علم دا دے چې حکمت وګټه

***

کوم قام کښې چې احساس د فردیت راشي
ژوندون اجتماعي شي کلیت راشي
راغونډ چې شي بخري متحد شي سره
لمر جوړ شي تړې رڼا او حرارت راشي

***

# توحید او رسالت

***

کثرت هله څرګند شو چې وحدت راغے
وحدت هله معروف شو چې کثرت راغے
راتګ د هر کمال د محمد صلی الله علیه وآله وسلم سره وو
صورت کښې د انسان ؤ چې رحمت راغے

***

بابا د رسالت او امامت راغے
خاوند د خلافت او ولایت راغے
صاحب د هدایت او شفاعت دا دے
حامل د سرېتوب د نهایت راغے

***

عِلّت د سرېتوب نه د پستۍ لاړو
نن رنګ یې د لهو نه د مستۍ لاړو
پرتو د چا د عکس ؤ هېڅ وېلے نهٔ شم
حېرت د ائینې نه د هستۍ لاړو

ACKU

***

خپل ځان سره مونس احدیت نهٔ شولو
تر څو یې چې محمد صلی الله علیه وآله وسلم وا احدیت نهٔ شولو
عرفان د محمد صلی الله علیه وآله وسلم ؤ ډېر له عقله اوچت
تر څو ابالحسن یې چې وحدت نهٔ شولو

***

خپل عرض به پهٔ نیاز، له زړهٔ د باندې کړمه
دانه چې به د اوښکو چینې تاندې کړمه
کاسې چې دلېمو ږې دې حضور کښې د ستا
تر وې اوبهٔ نهٔ بښائي چې دروړاندې کړمه

***

افسوس بهٔ پهٔ دې څهٔ کړم چې بندې یُمه زهٔ
د اخپل قصور زما دے چې یاغي یُمه زهٔ
تا نفس لهٔ سرکښئ چې راته ډک راکړې
خو دستا پهٔ مدعا څمه عاصي یُمه زهٔ

*

صلی الله علیه وآله وسلم

# میلادالنبي

داځرنګه رڼا شوه چې تیرې لارې
نمر وختو دستوریو نه ډېوې لارې
اشیاؤ راځرګند حقیقتونه کړه خپل
ښکاره دچا بشر شو چې پردې لارې

* * *

ظاهر نهٔ و ترڅو چې حقیقت دانسان
پنهان و لهٔ انسانه شرافت دانسان
ځرګند يې حقیقت کړ، د وحدت د وجود
ثابت نبي اکرم کړلو وحدت دانسان

* * *

تاوده شول سارهٔ شوي وو د ژوند ښضونه
مسکي نکه ګلان شو خونړي وختونه
سلګۍ پهٔ قهقهه شوه دضمیر بدله
بې واکه پهٔ ګړا شول صراحي جامونه

* * *

بهرېد دضمیر ماتې شوې لهٔ جبره ووت
کوم کیف وچې صدا "دانا الدهر ه" ووت
هر ځین دجهان، خله نکه صدف پرانسته
څه برېښ و، دنیسان لهٔ ښکلي ابره ووت

لوار ګے ۲۵ جون سنه ۱۹۶۴

# د خوشحال خان بابا مزار ته

۲۶ مارچ ۱۹۷۹ء

پښتونه چې ته اوسې يو تربله خوشحال
ستا قام به په دنيا وي يو په سله خوشحال
طالب که د خوشحال د مدرسې يې ته هم
خوشحال به نه شې، څونه شې ځيله خوشحال

***

اوس کيف د مسرت مونږ ته انعام به شي
صهبا د وينې ضمير به راشي عام به شي
پسرلي ووې چې دا مې ننګې ده د زړه
غوټې به شي ددې نه اوبيا جام به شي

***

يو ژوند دے د دوام، د قبر ګل ښکاري
ملّت پرې مجاور، لکه بلبل ښکاري
تخريب د ارمانونو کړي، تعمير د مراد
دا ران دے د مزار د پاسه کېنل ښکاري

***

دې جز کښې د مزار دې رنګ د ګل ښکاري
رويداد د لمر په دې بخري کېنل ښکاري
چې ژوند د پښتون قام، له دې مزاره مې
پښتون نه دے، حمزه ته خو مغل ښکاري

***

پیغام دې لا غنچه کښې، بوی د ګل ښکاري
ارمان دې لا سندرې، د بلبل ښکاري
وختونه دې پښتوته، برندې سترګی مدام
هم اسپې هم ګردونه هم مغل ښکاري

***

وختونه به ستا یاد له یادو هېرنهٔ کا
پیدا به بل افغان د تا په خېر نهٔ کا
تا خښته داسې ایښې چې فنا نهٔ لري
تېرېږي زمانه، خو تا به تېر نهٔ کا

*

ACKU

# د
# دوهم لوئ جنګ د صلحې تاثیر

(جمرود - د مئ ۱۲ - ۱۹۴۵ع)

تمثال د سرې توب لره لا رنګ پاتې دے
لا هېر يې د فطرت په ښيښه زنګ پاتې دے
کره وره کښې امن راغے خو لا ژوند نشته
حاجت شو نورو وينو ته لا جنګ پاتې دے

***

شو ستون د جنګ خزان خو لا پسرلے پاتې دے
زړه ډک دے د غوټو خو اسوېلے پاتې دے
دنيا د خوشحالۍ چمن ته تلے نه شي اوس
په پښو د عافيت کښې لا اغزے پاتې دے

***

اور کم شو په يورپ کښې خو لا باد پاتې دے
خاشاک د ماديت او استبداد پاتې دے
يو دود د اسوېلو په مستقبل کښې وينم
جل بل دے مړيې توب لا يې فرياد پاتې دے

***

جنگ خلاص شو خو خاشاک د استعمار پاتې دے
اور مړ شو د خوبنونو لاندې انګار پاتې دے
څو ساه د مادیت په باد چې اخلي انسان
دنیا لا جهنم ده هم یې نار پاتې دے

***

# دَ
# صَابر شینواري پهٔ مرګ

*

تنکۍ ځواني ، صابر یوړه لهٔ ځانه سره
غنچه ځي ، پټې سترګې ، د خزانه سره
نیمګړې د نیمګړې دنیا باغ وګنه
اننکلے یې خمیں دے دارمانه سره

***

چې مینه لهٔ یارانو څخه شوې وه ستا
کهٔ تومنه د ژوندون به څخه شوې وه ستا
وادهٔ ته هم ایسار نهٔ شوې صابره ولې
ښیوه د کوڅې حورې خوښه شوې وه ستا

***

داغونه مې د ستا د مینې ورې اشنا
ستا باغ د ځوانۍ ګلونه سپرې اشنا
راتلونکے دے بهار ، زهٔ پهٔ زندان کښې یمه
پهٔ خونه کښې مې هر سوري جوړ کړې اشنا

***

# زلموته سوال

٭

يو سوال درته کومه اے زلمو زلمو!
مِلّت د پښتانهٔ کښې مېړنو زلمو
داغېن د مستقبل دے د حمزه په ژبه
ژوندي کړئ خپل ادب خپله پښتو زلمو

٭٭٭

چې پرې نهٔ وزي په بنکته پښتنو، پښتو
کړئ جگه تر اسمانه مېړنو پښتو
کړئ سور دا سې تارونه دمِلّت د رباب
چې هره پرده غږ کړي چې پښتو پښتو

٭٭٭

محفل کښې د پښتون چې بله شمع وينم
هر کس له خوښې ډک دوبنانه شمع وينم
پرېشانه پتنگان د استعمار د تيرې
اعجاز به وي د چاچې يې راجمع وينم

٭٭٭

***

پردی ژبه په خپله خوله کښې څه ښکاري
وېنا د بل په ژبه خوښه نه ښکاري
په خپله خله پردی ژبه د بل خبره
لږ فکر وکړه بد اوکه به ښه ښکاري

لواړګے ۸ اګست ۱۹۵۶ء

***

زلمو د "حال" غوږو "د استقبال" ګلونو
زر زر را مفصل شئ د اجمال ګلونو
خپاره مو دفترونه کړئ د ضبط او نظام
وږې مو راخېږي کړئ لکه جال ګلونو

# اباسيند ته

*

په زغل دے اباسيند د سمندر په تکل
دا ځکه چې ورکوټے وي د ستر په تکل
ا مے قامه که ژوند غواړې په مِلّت کښې شه ورک
دي ستوري چې رڼا لري د نمر په تکل

***

هر دم دې نوې ژوند وي د سيند ونو پلاره
ماحول دې څنګه مړ دے د موجونو پلاره
ګرداب دې جوړ تخليق د نويو زړونو کړېږي
رايا د کړه زوړ ګردان د تاريخونو پلاره

***

موجونه دې که څو سره په جنګ وي مدام
ېکن په جميعت کښې څنګ په څنګ وي مدام
ستا خوئ په پښتو کښې پيدا نهٔ شو ولې؟
هر يو د بل فنا لره نهنګ وي مدام

## د
# افغانستان د استقلال جشن

*

پښتونه د سيالۍ او د بنادۍ ورځ ده
نن ستا د بنهٔ ملّت د ابادۍ ورځ ده
فرعون که دُ دښمن نو ستا يې حق منلے
دا ستا د حريت او ازادۍ ورځ ده

پېښور ۲۷ مئی سنهٔ ۱۹۶۶ء

***

# نوے تخلیق

دا لمر دے کۀ سپوږمۍ، نوې رڼا نۀ لري
ږې دې نه چې وي، نور سبا ږګاه نۀ لري
دا زۀ یم چې هر دم نوے تخلیق کوُمه
فطرت هم هغه زور دے ارتقا نۀ لري

* * *

پسرلي کښې دګلو نه زړۀ چاؤدون زده کړه
بیا چارې د شبنم نه د مجنون زده کړه
بلبل ترجماني دګل د زړۀ وکړله
وې پرک لۀ خندا وچوه او ژوندون زده کړه

لواړګے ۳ مارچ ۱۹۶۵ء

* * *

ګُل حال د پرېشانۍ د بوي په دم وئۀ وي
حمزه د جمعیت په باب څۀ کم وئۀ وي
وې لمر ته سترګې دګل غږېږ پرېږدي
روېداد د جدایۍ چرې شبنم وئۀ وي

***

غوټۍ وي د ګرېوان د څیرولو وخت دے
پټه راز چې د بهار دے د سپړلو وخت دے
بلبل ووې همدغه د بدلو وخت دے
نکهت ووې چې نه د الوتلو وخت دے

***

که ګټه ده هغه ده چې تاوان یې نه وي
ارمان د هغه څه کړې چې ارمان یې نه وي
پسرلے به څې راځي چې د فطرت دے غلام
پسرلے د زړه پکار دي چې خزان یې نه وي

***

# شاعره

نباضه د وختونو د مِلّت حکیمه
شاعره ، ننګیالیه د وطن ندیمه
ته ژاړې او کهٔ خاندې خو ژوندر اوبې
پسر لي پسې پسرلے شي د وطن په سیمه

* * *

ستا زړهٔ دے ، زړهٔ د شمعې چې روښانه اوسي
سوزیږي او بلیږي خو خندا ئــه اوسي
ژوندون يې خپل په دار وي د ملّت له غمه
په شا وخوا تېرو باندې کریا نــه اوسي

* * *

را پاسه د وختونو نه قلنګ واخله
د فکر او د قلم توره د جنګ واخله
نقشه کښې د وطن چې څهٔ کمے وي د رنګ
را پاسه له حالاتو هغه رنګ واخله

* * *

* * *

يې روح د دې وطن او تن وطن ستا دے

بيا روح د خپل وطن د پاره تن ستا دے

بېلتون خو په رباب او په نغمه کښې نهٔ وي

يو تن، وطن او تن دے، تن وطن ستا دے

* * *

خبر يې هغه څوک دي چې سبحان نهٔ مني؟

بيا پسته محمد صلی الله علیه وآله وسلم هم يې قران نهٔ مني

پښتونه د حمزه د خلې نه دا واوره

دا هغه بدنصيب دے چې احسان نهٔ مني

* * *

ACKU

د
# خپلې محبوبې په غم

چې وخت دې تېرېږي، غم دې ډېرېږي
ته رایادېږې، ځان مې هېرېږي
په تا شوه تېره، د زړه مېړ مني
زه تېروم یې، نه چې تېرېږي

* * *

وخت د ماښام د روژې اذان دے
ورو جوړ کړې، لاندې طوفان دے
محبوبې ګرانې تږې وفاتې
شربت د وینو مې در قربان دے

* * *

زما د زړه نه، قرار دې یووړ
ددې چمن نه، بهار دې یووړ
ستا په شینواري، بې واره غم دے
ته شوې بې غمه، چې وار دې یووړ

پېښور ۱۵-۹-۱۹۷۲ع

# زلموته

د سيند غونډې مقصد وته په دوا وسېږئ
د قام د ځيناکو سترګو نـو اوسېږئ
ځمپله تربګنۍ کښې چې خپل قام نه شي هېر
چېو غونډې په جنګ اوسئ خويو اوسېږئ

***

چا ته دعا کوې ، چا تـه ښېرې کوې
چا لره توري ، چا لـره سـرې کوې
شينوآريه ! واوره اسره په خدائے کړه
تر څو به خلقو د تـه اسـرې کوې

***

پراتـه وي سترې تـل له ولاړو
ځان لکه ژبه سـاتـه له داړو
شينوآريه ! بل څوک به دې په کار نه شي
تـالو خولوند وي ، په خپـلو ډيارو

***

***

وخت نمازیگر دے، چې په تلوار دے
زړګے مې بې تا ، ډېر ناقرار دے
جوړ ما یادوې ، دخپر دې یادشي
ترمیانه زموږ، دزړونو تار دے

***

سمند دعیش چې شي په ترپکه
ایسار به نهٔ شي دغم کوتکه
کهٔ وي دې عقل شه سوارېږې
تعلیم یې کړے وي لهٔ ازبکه

***

متوکل چې وي هغه پسخاک نهٔ لري
فلک صفت وي په کور کهٔ خاک نهٔ لري
شینواریه ! ویره لهٔ غماز څهٔ کړې
زړچې صفا وي لهٔ اوره باک نهٔ لري

***

شهد و شکر شه، زهر و ګندېر شه
چېرته بالا شه او چېرته زېر شه
سبهٔ به وي داسې چې څوک دې توکړي
دچا ستر حلقه شینواریه تېر شه



ACKU

***

تهٔ دوصال او فراق پهٔ باب کښې
مهٔ کړه تحقیق یې پهٔ خوند عذاب کښې
د انعام زېرے د سزا ویره بهٔ وي
هله چې حال یې وي پهٔ حجاب کښې

***

لهٔ بحره ووتې لکه ګوهر شه
ذره پرېشانه وي لکه د نمر شه
طالب العلمه اوس چې کامیاب شوې
لکه رهرو وې ، هسې رهبر شه

***

کهٔ جمع غواړې ، نو خرڅ دې جمع کړه
چې خرڅ دې جمع شي ، د جمعې طمع کړه
تېل دې بې کاره دي چې بې لهٔ کاره دي
محفل دنیا غواړي روښانه شمع کړه

***

د یار پهٔ سر کښې غرور حواده
زما پهٔ زړهٔ کښې عجزو وفاده
د زورورو دوستي ده ګرانه
د ماشي نهٔ شي یاري لهٔ باده

***

***

خر و حمزه ته سر په پېغور دے
پرې اېښے ولې تا د زړهٔ کور دے
لهٔ صحرا غونې کړه د ښهر لور ته
ته يې کهٔ نهٔ يې هلته کښې شور دے

***

د برق صفت شه لهٔ سترکو تېر شه
چې نهٔ جاروزي، د ورځو پېر شه
يار ته بهٔ هله رسې شينوآريه
لهٔ خپله ځانه بخپله هېر شه

***

چې زړهٔ روښان شي دعشق په کار کښې
تيارهٔ د سبب سوځي په نار کښې
شينوآريه چې شي روښانه شمع
لوګے شي ترېنه بيا په رفتار کښې

***

بيا راغے ژمے وار د شلغم دے
صفرا کړه اوړې ماته بلغم دے
مزه ښشکر راوړه شينواريه
هر چا لره نن جوړې نل غم دے

***



ACKU

***

د انوې نوې چې زهٔ توبې کړم
د نفس او د زړهٔ ترمنځ جوړې کړم
ناسوت، ملکوت مې پهٔ يو رنګ کړل
زهٔ يم لاهغه هسې پړې کړم

***

سرخې کړې اشنا اونهٔ غازه کړې
زما اسوېلو تروتازه کړې
غرور مهٔ کوه د ګلاب ګله
نسيم د سبا تهٔ بنېرازه کړې

***

تهٔ يې کهٔ نهٔ يې ډک يم لهٔ بويه
کوې اسوېلي لهٔ خپله خويه
يو باد يې باده نورڅهٔ خو نهٔ يې
نسيم يادېږې زما لهٔ رويه

***

توبې مې وکړې زهد پهٔ لاس رانهٔ غے
چې مې کړې ماتې خوف وهراس رانهٔ غے
پرهېز د زولن نه اشنا نهٔ شو
نهٔ بنهٔ شوم نه بد مرهم پرې راس رانهٔ غے

***

***

زړګيه ولې داسې په شور يې
سر او تندے وهې، ولې نسکور يې
اشنا که نشته خيال خو يې شته دے
وحشي ته ولې اوس له خپل کور يې

***

بل مې په زړۀ کښې شول چراغونه
د اشنا تنګ کړل تازه داغونه
پسرلے چې لاړشي واوره شينواريه!
د پانړو ګلو ډک شي باغونه

***

يار چې کم سن وُ ما انتظار کړ
اوس چې دې ځوان شو ځکه مې يار کړ
شنواريه ! ګل چې جوړ له غوټۍ شو
بلبل پرې ځکه بيا جوړ کوکار کړ

***

بد چې توبه وکا راضي ثواب شي
نيکي ثابته ګناه يې خواب شي
دين غلط کاروته هم انعام ورکړي
په سجده سهوه يې نور ثواب شي

***

۲۸۱۶

ACKU

* **

نیک یې په بدو چې ته تاخیر لرې
بد یې چې بدو وته زړه خیر لري
شینواریه غم مه کوه چې کامل پیر لرې
څه کامل پیر لرې چې ویښ ضمیر لرې

* * *

نېکان و بل ته سترې مشې وائي
هم په جواب کښې ورته خوار مشې وائي
چې داسې نه وي نو لېوني دي
پېشو ته کورې او سپې ته پشې وائي

* * *

خدایه صفا مې کړې زړه له زنګه
له کفرو شرکه ، د فسادو جنګه
محتاج مې مه کړې و ما سواته
همېشه ته شې زما په ننګه

* **

الفت د عاشق په زړه **ضرور**
تیاره یې د غم خندا **د نور**
اوبه د ژوند وي خو **ښکاریا**
ترخه وي شراب ، خوږ یې سرور

***

پښتو کښې ځائے ځائے دے کور پسرلۍ

استوګنې د غم نه ګرځي ببرې

په سيل د قدرت تروتازه دي

خبر ترې څه دے داکور بصرې

***

برناته تورې ، پرې د چين ښکاري

وږي ځاروي ته بيابان شين ښکاري

په خپل خپل رنګ وي هر څه شنواريه!

خو واورو تللي ته هر يو شے سپين ښکاري

***

روښان دې مخ وي چې خاندې خاندې

تېرې دې زلفې چاپېره باندې

په هر وصال کښې غم د فراق شته

تياره ضرور ده د ډېوې لاندې

---

ـه خانه بدوش

***

حال څهٔ شي چې راز د عشق په خوله شي
وطن مې د زړهٔ اوبهٔ اوبهٔ شي
د تنګي نه د سیند خال ته ګوره
نظر کوه څنګ یې تېرېدهٔ شي

***

د سرکونو پهٔ غاړې غاړې
د بجلۍ د ننګې ستنې ولاړې
ګوري پهٔ ښکته سرېې اوچت دے
د دوي پهٔ څېرشه کهٔ لويې غواړې

***

د غرهٔ لمن ده سرسبزه لاندې
ډکې ورېځې راغلې پرې باندې
پهٔ شاه لطیف کښې د ړمو رقص دے
کهٔ تاروګي دي لهٔ شوقه خاندي

***

کهٔ دې پهٔ عمر چاته اسره شي
هغه اسره به پهٔ وينو سره شي
شينوآريه! خدائے ته غم د سبا پرېږده
د دنيا کار بهٔ کله پوره شي

***



ACKU

* **

سفر لهٔ ځانه ، ځان ته سفر دے
نظر وبل ته ، ځان ته نظر دے
خیال دې وبل ته ، ځان وته خیال دے
پهٔ ائینه کښې هم ستا بشر دے

* **

لن تعلق هم د دنیا غم لري
انقلاب نښه چې څوک ترې رم لري
بوتې به هغه قلمي نهٔ شي
پاس په تنه چې ښاخونه کم لري

* **

سپرل کښه سول دوه طرف اوردے
چې لمر دے گرم سوے تک تور دے
چپیا کړي د گل ، بلبل پهٔ چغو
یو زهٔ نهٔ یمه ، فطرت پهٔ شور دے

* **

درده دا ولې نن رابېدار شوې
لهٔ کومې لارې ، پهٔ کومه لار شوې
اے دعویدار ه د مرهښت ولې
داسې ستر زره بېرته نهار شوې

* **

***

پهٔ ستړګو زړهٔ کښې ځاې شه درده
خلوت جلوت کښې نماځه شه درده
ژړا ژړا شه هیهاې شه درده
کاروان مراد دې ته سراې شه درده

***

زما د سترګو نظر شه درده
بیا لکه برق ترې بهر شه درده
د زړهٔ دنیا مې چې ناسوتي ده
ملکوتي یو ، خبر شه درده

***

کهٔ رابېدار مې شې درده درده
د زړهٔ دنیا مې ده سړه سړه
د ما سوا غم راته حجاب دے
لکه د ړوند یم لهٔ خپله ګرده

***

زهٔ پهٔ ځوانئ کښې ضعیف کړم یم
پاتې لهٔ لارې ، کهٔ پهٔ لار سم یم
چې ایښے شوے ، نهٔ پورته کېږي
د عشق پهٔ لار کښې هغه قدم یم

***

***

کهٔ د عالم او د بـزرګ زوې شوې
چې علم نهٔ لرې نو څنګه پوې شوې
چې هنر نهٔ لرې دعوې دځهٔ کرې
چې سخوندر نهٔ يې نو کله ګوې شوې

***

چې راپه ياد شي بنکلے صنم مې
سترګو ته راشي د زړګي نم مې
اوبهٔ د ژوند مې دمخ په ياد څې
نکهت دګلو پهٔ هر قـدم مې

***

دارو دي څهٔ کړم دعشق فالجه
طمع بهٔ څهٔ کړم لـهٔ معـالجه
ددې مريض شي طبيب پهٔ دې کښې
زده کړه يې نشته لهٔ يو کالجـه

***

چې سـرداري کا ، هغـه خواري کا
هغـه خواري کا ، چې سرداري کا
زميندارې کا ، ثـمـر يې واخـلي
ثمر يې واخـلي ، زميندارې کا

***

***

په اينه کښې د هستۍ وګوره
پکښې خپل عکس د نيستۍ وګوره
مرګ دے که ژوند دے پکښې رنګين ښکاري
د فطرت لوبې او مستۍ وګوره

***

په ګل د بلبل ترانه وګوره
د رند کعبه ده ميخانه وګوره
عقل يې چېرته په عاشق بد مه وايه
بت پرست ګوره بت خانه وګوره

***

واصل په جوش کښې وي سينه نه ويني
بر يه بر جل چې شي نوزينه نه ويني
شينواريه! وځي نسبت له منځه
څوک چې خپل عکس ويني اينه نه ويني

***

چې وايې مه وايه، چې نه وايې ته وايه
چې نه وايې ته وايه، چې وايې مه وايه
چې بد وي ښه وايه. تراخه خواږه وايه
تراخه خواږه وايه، چې بد وي ښه وايه

***



ACKU

***

کاسه دسترګو د حریص پوره نهٔ شوه
د زړهٔ ارام یې د دنیا خوره نهٔ شوه
قانعه صبر کوه بیا پس لهٔ هغه وایه
کهٔ بې حجابه نهٔ شو او مور پرې بوړ نهٔ شوه

***

شپه چې پهٔ سترګو کښې څوک سبا کا
دیار پهٔ غم کښې چې واویلا کا
هغه صادق نهٔ وي، صادق هغه دے
چې خوب پهٔ ویښه دیار رضا کا

***

چې څوک ژړا نهٔ کا، هغه ژړا کا
چې څوک ثنا نهٔ کا، هغه ثنا کا
مرض غوښتل هم د رنځ دوا ده
چې څوک دوا نهٔ کا، هغه دوا کا

***

چې غم بوره کړل، مور دې پرې بوړ نهٔ شي
لهٔ توره نهٔ جاروزي، ماته دې توره نهٔ شي
چې څوک پوره وي د ننګ پهٔ کار کښې
خولۍ د سوال به یې چېرې پوره نهٔ شي

***

***

کله به دغه ورېده شرېده شي
شرېده وېښتهٔ دې کهٔ سپین وږېده شي
دښمن بهٔ چیرې پهٔ ښوخپل نهٔ شي
شینوارېه ! تېرې کهٔ سل پېرېده شي

***

واعظه نورې خبرې وایه
گناه پر دې بس کړه، شکرې وایه
که بلبل شه ښیوه بیان ته
سندرې وایه، نادرې وایه

***

درله سزا شي خپله جزاستا
سزا خو خود وي درله سزاستا
نېکي کوې د بدې دپاره
غزا غزا کاندې پهٔ غزاستا

***

شینواریه ! ماته د ثنا خلهٔ کړه
د بې رنګۍ استاذي ملهٔ کړه
چې یار دې نوم او نښان هیڅ نهٔ لري
د بې لارۍ پهٔ لاره تلهٔ کړه

***

***

چې مې شرابو وته کاتهٔ شي
توبه د زړهٔ نه مې په واتهٔ شي
تل ماتول وي، توبه کول وي
د نمرخاتهٔ وي بيا پرېواتهٔ شي

***

لاړې چې هر څوک د خپل هنر کا
مستي پهٔ جر جبر - لکه د خر کا
کيميا لهٔ بل نه، نهٔ له خپل ځانه
چې بل يې وښيئي نو تامبه زر کا

***

زيات شولو عمر زما لهٔ دېرشو
پهٔ ناپوهئ او مستئ کښې تېر شو
اوس چې عاقل شوم ددې نه پسته
لږ وي کهٔ ډېر وي وايم چې ډېر شو

***

د يار جوار يې اوړهٔ اوړهٔ کا
لکه چې ژرنده د جوار زړهٔ کا
اوچه يې پوخ کړي پخلي د مينې
بيا يې پهٔ مينه خلق اړهٔ کا

***

۲۸۲۶

***

مئین هغه کا، چې پتنګان کا
غه لیوني کا، چې عاشقان کا
عاشقان هغه دي چې صادقان دي
صادقان هغه دي چې فنا ځان کا

***

چې شپه شي ستړه سحر خندا کا
دغه خندا مې ستل په ژړا کا
څوک په خندا دي څوک په ژړا دي
څوک دي هغه کا، څوک دي چې دا کا

***

که نوې نوې اشنا جفا کا
ستم نوے نوے په ما کا
لس نوې نوې، نورې زړې دي
که دا په ما کا، نوې به چا کا

***

جنډه د سخا چې هر څوک لکه کا
کوي به همت نه يې له لکه کا
دولت چې خو سانه کړي سخي دے
منګل د سخا به يې ملا کلکه کا

***

۲۸۲۷

★★★

تل بې هنره لاف د نسب کا
نهٔ يې پهٔ دين کا ، نهٔ پهٔ خپل رب کا
چې نهٔ يې دين وي نهٔ يې سادين وي
ادب يې نهٔ کيږي او نهٔ ادب کا

★★★

غريب مې تکل د ډېر ګريان کا
د تن وطن بهٔ وران پهٔ طوفان کا
شينواريه ! نشته پهٔ دې کښې شک څهٔ
وريځ چې ګرځي اخر باران کا

★★★

چې مرغلرې غوارې غوټې شته
دغم پهٔ سينه کښې د عشق چپې شته
فاروق چې غواړي د دنيا ناوې
داسې زلمي لره سختې جوړې شته

★★★

غني چې هر چا لره څهٔ ورکا
بيا يې زباد نه ورشي پهٔ ورکا
غني يې مهٔ ګڼه ، غني هغه دے
غر د ښکلي چې د مچ و زر کا

★★★

***

چې دروازه شي دکرم بېرته
ما بدبختی کړې ځنې په بېرته
چې دکریم نه څوک بې نوا شي
وواېه بیا به چې درومې چېرته

***

چې پوخ په کارکښې دیاس انفاس شي
ترې مخالف وي چې ناسپاس شي
خیال یې جوړ نه وي وائینې ته
چې پکښې عکس له چپه ، راس شي

***

داسې به ښه وي ، ښه پرې خبرشه
دعاقلانو په وینا سرشه
که سر دې روغ وي په سرخبرشه
ګني په غرونو رغونو سرشه

***

بیا پسرلے شو دتن نهاله
خالي دې شوله د زړګي جاله
مرغان ترې درومي د فریادونو
له برقه تښتي دچا ترجاله

***

***

نن پهٔ غصّه کښې چې داسې زيړ يې
چا زيړې کړې چې پهٔ ملاتړ يې
دښمني مهٔ کوه کهٔ عقلمند يې
غاښ به دې مات شي مهٔ چيچه تړې

***

تر څو چې نهٔ وي د عقل رڼې
د خوشحالۍ نشته کر کڼې
څه د حرص چې په الواتهٔ شي
په جال يې نيسي د مکر غڼې

***

لذيز شراب وي پکښې ايشيږي
لوښي د زړهٔ مې ترې ته تشيږي
وينه زما ده، توره يخه ده
رندانو راشئ اوس به ويشيږي

***

پهٔ کوز کښې څوانه لور د حيا لور ده
پيته پهٔ کود کښې ښکاره هر لور ده
پهٔ ساده توب يې چې غلط نهٔ شې
څوکهٔ ناپوهه په درې څلور ده

***

***

چې دې حافظ شي دبل دتېغ نه
هغه خو ډال دے، مهٔ کښه تېغنه
آفت بهٔ نهٔ راځي کهٔ تهٔ سخي يې
کهٔ ځان دې وساتې تل د دريغ نه

***

دژوند پهٔ سيند کښې شناز د صبر بنهٔ دے
لکه د قدر د قدر قدر بنهٔ دے
پهٔ چپو باندې چپه شه پورې وځه
کښه پهٔ تل کښې درلره قبر بنهٔ دے

***

پهٔ فن د مکر وريا کښې طاقه
د هستۍ شرمه پهٔ تهذيب شاقه
د ذرې پهٔ طاق کښې ډيوه د نور نهٔ لرې
تور ذرې پهٔ بدو لارو ځې چاقه

***

چې نفس دې نهٔ اورې لهٔ بده کاره
دنيا يې غواړې دخپهٔ دپاره
ترهغه مهٔ کوه اميد د فصل
چې خپل پټي دې نهٔ کړې شد ياره

***

***

د ملک پتې دې مهٔ شه بې ګوډه
ماته دې مهٔ شه د همت ګوډه
د غلامۍ د وربځ نه بچ شه
چې موشره يې نهٔ شې ګوډه

***

ناجانه کونه ژړا مې واوره
وبې دې يخ دے زړهٔ لکه واوره
تهٔ لهٔ غروره ګورې اسمان ته
زهٔ بښکلوُم دې د تلو خاوره

***

چې خوف او ويره څوک د خپل سر کا
د نفس کلابه څرنګه سر کا
عقل رهزن دے د عشق په لار کښې
شيطان بهٔ څهٔ کا، څهٔ چې هنر کا

***

پوې شه پرې تهٔ چې په څهٔ رانهٔ غلې
څهٔ خو راغلے يې، کهٔ څهٔ رانهٔ غلې
د يار نسبت هم د يار وصال دے
شته جدايي ډې کهٔ تهٔ رانهٔ غلې

***

* * *

کهٔ په سپر وي کهٔ په ګټکه وي
کهٔ وي پهٔ توره کهٔ پهٔ چوکه وي
بدن دې وساته ،ګني نو پوه شه
چې کوم ځائ خوږ شي هغه سکه وي

* * *

زهٔ دې قربان شم دهند برساته
پهٔ پېښه کال کښې ګرمي ده ماته
پهٔ (فليره) کښې چې کال مې ووربېد
ښکاره ډنډونه شول ځائ په ځائ ماته

فليره ۴ - ۸ - ۱۹۷۰ ع

* * *

دا زهٔ چې ګرځم پهٔ خپل حبيب پسې
د زړهٔ مرهم لره چې پهٔ طبيب پسې
وائي پهٔ خلقو پسې ګرځئ نصيب خپل
زهٔ دائم ګرځم پهٔ خپل نصيب پسې

* * *

کوښې کاښي چې پهٔ ما حبيب کا
سکه چې ګل يې په عندليب کا
همه غوږ غوږ وي خو فرياد نهٔ اوري
ځان کهٔ تېرې لرې او يا قريب کا

* * *

***

د یار لهٔ جوره مړ شي یو ځل سوځي
چې څوک بخیله سوځي له هغه بل سوځي
پتنګ جل بل شي لهٔ غمه خلاص شي
بیا پسته شمع وګوره تل سوځي

***

نهٔ خو زهٔ شمع یم او نهٔ پتنګ یم
نهٔ پیر فقیر یم او نهٔ ملنګ یم
سوز و ساز نهٔ لرم ، زهٔ حمزه هغه یم
د بې رنګۍ پهٔ رنګ کښې رنګ یم

***

لتې او سطې بویه نهٔ د خره کتې
پهٔ جرجر مهٔ مستېږه مهٔ وهه لتې
د سړی توب پهٔ ځائے چې ماکتې ته
نهٔ دې وجود وُ او نهٔ دې بتې

***

اراده کلکه لره ، پهٔ پستو مهٔ پستېږه
همّت بلند لره پهٔ خوئې کښې مهٔ پستېږه
پهٔ خوشامدو د چا غلط مهٔ شه
د خرهٔ پهٔ مثل پهٔ جرجر مهٔ مستېږه

***

***

بد په بدو پسې توبه فضوله شي
لکه لاهو چې خلې له خوله شي
نزدې درشل ته چې شي تمبه شورنه کوي
وروستو گناه ښه ده توبه قبوله شي

***

گړ شه د مينې ، و باغ ته گړ شه
د بلبل غوندې له مستو گړ شه
که گوره اوشل يې خوناب اخراج کړه
په خپله خونه کښې د گلو وړ شه

***

خون د زړگي به مې کله کم شي
نه په دعا شي ، نه په مرهم شي
پخوا چې کوم کار ستا په کرم شو
اوس به هغه کار ستا په ستم شي

اجمیر ۱۱-۸-۱۹۵۰ع

***

چې ځواني راشي ادايې و شور وي
خپله خبره بې ضده نه نور وي
شينواريه! ځوان خو په مستو ښه ښکاري
ښه ښکاري سروې چې بادې ښور وي

***

***

ځوانانو لره خواهش دوا وي
زړو لره غم ژړا قضا وي
شنې پاڼې په بادمستۍ تازه شي
پرڼوځې وچې ، سر په غوغا وي

ډيلي ۱۵-۸-۱۹۷۰ع

***

دا د لويېږ دې چې لاڼې کاندې
پوې شوم په عقل پورې دې خاندې
مقابل مه شه د زړه خاوند ته
برج يې د لوړ غرۀ په ملن باندې

***

ډېر يادول د يار هېرول دي
کاروان له سرايه ژر تېرول دي
په اندازه يې کارول ښه وي
شکست د تورې ډېر تېرول دي

***

رقيب چې وينې يې کوکې سپينې
ورته يې مړې شي ، له واره سپينې
شينواريه ! مه وينه داخبرې چې وينې
چې ځي د اوښکو په ځائے دې وينې

***

***

اے د پېغې مخې د سترګو ډنډه
که مې خړوبه کړې د زړه ډنډه
پسرلے پرې راوله چې ګلستان شي
چې د بېلتون په خزان ده شنډه

***

چې مې په برخه راغے شباب شو
په ویښه مست یم پسرلے مې خواب شو
اوس وخت د مېو دے ، ساقي راوړه
په اور د عشق مې چې زړه کباب شو

***

زه دې لمر مخیه له هجره یاره
ستي په عشق دې کړم بې انکاره
زه دې وصال کښې له هجره مرمه
نه چې له عاره او نه له ناره

***

تورې وریځې ، د حیا له غمه
دنیا لمده کړې له خپله نمه
خندا د چمن ستا له ژړا ده
تازه ګلونه دي ستا له دمه

***

۲۸۳۷

ACKU

★★★

سیالي به څه کا ، نهر د دوړې
تل په قسمت یې خوراک وي دوړې
دوړې به څه وکا چې خلاصې نه شي
دعقل سترګې د نصیب سوړې

★★★

اوس به مې ځلي ته فغان او شور راشي
غم چې الیسار و د غم به زور راشي
سپین وهښته مه باسه ، شځې مټل کا
ګني په عذر به یې سل نور راشي

★★★

په لوړو تندو به کله هېر شي
غمونه ډېر ګنه چې په تا تېر شي
مثال که غواړې ، نو عجیبه شته
دوژه نژدې شي ملایان ډېر شي

★★★

پېغور تل نوے وي ، هر څوک ئې زوړ شي
خوږلن سرغړي لري که اوریې سوړ شي
مرهم به څه وکا ، د شفقت بیا
داغ به ورک نه شي که زخم جوړ شي

★★★



ACKU

***

تهٔ چې ډاډه يې پهٔ سپي رقيب
ډاډه شي وږے زړهٔ د حبيب
وږي د کوکې د طعام مهٔ هېروه
څوک زده، رندان زده، خوند د زبيب

***

اکثر چې پير وي بې غيرته وي
اعتبار نهٔ لري چې بدسيرته وي
غيرتيان وچ وي بدن يې ودهٔ نهٔ کا
ډک يې وګړي کهٔ لهٔ شهرته وي

***

رنځ د ېېلتون دې زما واريز
کله وصال هم کړي يار غوريز
معلومه نهٔ ده خوچې ژوند ے يم
لکه مارغهٔ بهٔ تل يم پهٔ کوريز

***

پهٔ پيروي کښې د خپل صنم
روح مې پير وي خوري د نعم
زهٔ يې ګويا کرم پهٔ ګونګه ژبه
ګويا عرب شوم کهٔ يم عجم

***

***

لوګي دشمعې لهٔ مخ چاپېر شول
دخط سره يې نازونه هېر شول
اوس يې دکوکو ګبين ارزان دي
چې تور ميږي يې پهٔ مخ را ډېر شول

***

فراق دې يارهٔ شنډې پهٔ ما کا
د زړهٔ داغونه سوا سوا کا
پهٔ توره شپه کښې ستورې پهٔ يادکړه
چې تيارهٔ ډېره شي ډېره رڼا کا

***

غم د هستۍ مې چې نهٔ هېرېږي
ډېر وسوا سونه پرې راتېرېږي
چې تنګ راشک پرې دخلقو ډېروي
پهٔ لږ باران هم ختې ډېرېږي

***

پهٔ رياضت کښې چې تن صفا شي
دځان ددېدنه پرده جدا شي
پهٔ کثيف ځېن خو پرتو وي سوري
پهٔ آئينه کښې عکس نما شي

***

***

ستیرې د هجر په ماتې سرشي
چې دوه خواخوږي مخامخ ورشي
سوري د عکس وي نه د معکوس
دیو په بل کښې ورشي دربرشي

***

قاصد چې راشي د یار له دره
د اختر میاشت شي جوړ را دبره
رقیب چې راشي یقین مې وشي
چې روژه مخکښې ده له اختره

***

د نبوي لمر ، رښا امامه
تیاره دې لرې کړه له اسلامه
پېړۍ شوې تېرې لا به تېرېږي
قصه د غم دې نه شوه تمامه

***

وه فروري کال یو څلوېښتم و
زمان څېرې کښې مې قدم و
مود چې جوړېدې د یورپ جنګ و
تاریخ مې یاد شو چې دیارلسم و

***

***

چې تېرشي هېرشي ، چې هېرشي تېرشي
چې هېرشي تېرشي چې تېرشي هېر شي
چې زېرشي کېرشي ، چې کېرشي زېر شي
چې کېرشي زېرشي ، چې زېرشي کېر شي

***

ترې بې خبره مهٔ شې اے زویه
ژړې د زړهٔ لهٔ هندارې زدویه
چې پرې لوګي وي د ګناهونو
نیکي کوه پسې اے زما پویه

***

نهٔ یم غلط حرف چې یاد شوم هېر شوم
نهٔ مشتبه یم چې خلاص شوم کېر شوم
زړهٔ مې دریاب دے د حکمتونو
نهٔ چې سېلاب یم راغلم او تېر شوم

***

پهٔ خوند کښې شېر شوم ، پهٔ معنیٰ شېر یم
ازاد لهٔ هر څهٔ خو یار ته کېر یم
ابتدائي یم ، انتهائي یم
پهٔ هر یو رنګ یم ، زبر او زېر یم

***

ACKU

***

چې مې په تا شوه د زړګي مينه
مينه شوه ورانه د تن سنګينه
جبين مې اېښې د نياز وتاته
چې بهره مومم ستا له جبينه

***

چې ماته ګورې، وچا ته ګورې
وچاته ګورې، چې ماته ګورې
ته ماته ګورې، زه تاته ګورم
زه تاته ګورم، ته ماته ګورې

***

پرېشاني راوړي، خندا په ګل کښې
نغمه سنجي راوړي، غم په بلبل کښې
که پرېشاني ده که غم ژوندون دے
د شانې ګوره غاښ په کاکل کښې

***

جرمنه لاړه، مزه دې لاړه
طاقت دې لاړو، حمله دې لاړه
اوس بارانونه به په تا د غم وي
قوت دې مات شو، شېبه دې لاړه

لواړګے ۲۷-۷-۱۹۴۱ء

***

چې ځان ته ګورم ذره مې ښین ښین ښکاري
ښکښې ادم جوړ دچین ماچین ښکاري
چې ښکښې نقش د یار صورت دے
دجهان هر شے راته رنګین ښکاري

***

د ژوند له ملکه چې رابهر شوم
رازیږي چې پټ ؤ راغلم پرې سرشوم
او به د ژوند خو نما ژوندون ؤ
چې ژوندے مړیم، هلته خبر شوم

لوارګے ۱۰-۷-۱۹۷۱ء

***

چې وریځ راشي او باران نه کا
ښائي خپل فضل خویزدان نه کا
د سرکښانو سره داکیږي
خو عجیبه ده چې طوفان نه کا

***

له خویه تږوغ یې، څومره چې شیک یې
روحانیت لره سکه څو څک یې
ګوري اسمان ته، پیدا له زمکې
نه لري خاورې، هغه ښانک یې

* * *

وطنه لاړل ، غرونه دي وران شول
مېدان کرنګ او غرونه مېدان شول
د غرهٔ پهٔ ارخ چې نظر وکړم
د سر کونو پړې بناماران شول

* * *

وطنه لاړې خراب تراب شوې
زړهٔ د بخیل شوې پهٔ خرڅ کباب شوې
پهٔ پیمانو کښې د مغربیانو
زمونږ د وینې خوانهٔ شراب شوې

لوارګی ۳-۸-۱۹۴۱ء

* * *

ما ورانولو لره اباد کړه
څهٔ تعلق څو رابانده زباد کړه
کهٔ دې شي ویره زمالهٔ یاده
نو هېرولو لره مې یاد کړه

* * *

د اندهېرې نه دوه میله لرې
کوم د ځانه سره خبرې
دلته شوتهنګ د لیلیٰ مجنون دے
پکښې خبرې شته د ے نادرې

* * *

***

لیلیٰ مجنون مې په پښتو جوړ کړ
د پښتنو شوق مې د قلم سوړ کړ
د بمبۍ دَه هوا خرابه
په زلمي توب کښې يې حمزه زوړ کړ

بمبۍ ۱ دسمبر سنه ۱۹۴۱ء

***

خيد د ځوانۍ د حسرت په لور ونګه
د ژوند په فصل يې چينجي تور ونګه.
چې سيرت نهٔ لري، صورت يې مهٔ شه روزي
چې غنم لاړل په دروزه اور ونګه

***

ستا باغ د ځوانۍ ګلونه سپړي اشنا
داغونه مې ستا د مينې وړي اشنا
راغلے دے بهار زهٔ په زندان کښې يمه
په کور کښې مې ډېر سوري جوړي کړي اشنا

***

اشنا مې نقش و نګار ته پاتې دے
پيغمبري ګل بهار ته پاتې دے
قاصد يوازې دے خط هم پهٔ لاس نهٔ لري
وهمي زړهٔ يې سينګار ته پاتې دے

***

۲۸۴۶

***

درلاندې ناست یو ، دخرما ونې
ا ے طوبې ظلې فردوس لمنې
غلام سرور دے او دوېم زهٔ یم
سته د تن مو راسپړې غنې

کمپني باغ پېښور ۲۳ - ۱۲ - ۱۹۴۲ ع

***

دعشق دردونو چې څوکثرت وکړ
ما د مرهم نه هومره نفرت وکړ
په مدامي ژړا ځکه خوشحال یم
ارمان مې ډېر عیش وعشرت وکړ

***

څو چې دنفس په وژلو متړنهٔ کا
وران چې لهٔ میانه دهستۍ خټه نه کا
صوفي هغه دے چې زړهٔ صفا لري
کنه د صوف چینه بهٔ يې عیب پټ نهٔ کا

***

چې دعرفان په ښکار پسې وتم
دګمراهیو په جال کښې کښېوتم
راز دلوړتیا مې هم هله وپېژاند
چې مې یقین وشو چې لاړم پرې وتم

***

***

ډوډۍ خوند ناکه د دروېزې نهٔ ده
د جوماتونو د دروازې سنهٔ ده
صحت چې نهٔ وي دماغ یې څهٔ وي
د طالب ګېډه د اسدازې نهٔ ده

***

پهٔ قسم قسم مې پرزوې تهٔ
څهٔ ډول ډول مې غور زوې تهٔ
اے بې قراره زما قسمته
داچېرته چېرته مې ګرزوې تهٔ

پچګۍ ۲۹ - ۹ - ۷۷۱۹ ع

***

د حق سپرلیه! دنیا باغونه کړه
تازه مې بیرته د زړهٔ داغونه کړه
نوې بهار دے راته مسکے شه
د زړهٔ داغونه مې چراغونه کړه

***

د ښکلیو ښکلیه زړګے مې جمع کړه
ورکه لهٔ غېږ مې پرېشانه طمع کړه
د زړهٔ محفل مې مخ دونې غواړي
ېکښې روښانه د جبین شمع کړه

***

***

د تا پهٔ لورو کښې زما ژوړې دي
څوکهٔ قوي مې د خيال وزرې دي
رسېدل تا ته مفرد تا نه
ستړي خيالونه خوشې خبرې دي

***

بې وجود نه څهٔ نور ادراک نشته
کهٔ خلق ومني ، نو هم يې باک نشته
وجود ظاهر دے ، خلق باطن دي
بې لهٔ اوبو ، د حباب ادراک نشته

***

پورته فلک دے او زهٔ په ښکته يم
دا غلت خيال وُ ، اوس پوه پهٔ پته يم
هغه هستي يم ، چې پهٔ فلک شوم
اوس لاندې ښکارم کهٔ څو اوچته يم

لواړگے - ۸ - ۸ - ۱۹۷۲ء

***

باران ته پروت يې ، د ځان ژړا کړې
شبنم د غم جوړ ، ته وار خطا کړې
لکه دران پهٔ گوگل کښې پټ اوسه
کني کهٔ اوښکه شې ، ځان به فنا کړې

***

***

لړګي له خپله اوره جلیا دي
چې داسې نه کېږي هغه خطا دي
زه به د بل نه ولې ګیله کړم
څه چې په ما دي، هغه له ما دي

پېښور ۳۰-۱-۱۹۴۷ع

***

بلبل د زړه مې بیا په کوکار دے
صحرا کښې د خیال نوے بهار دے
شینوآریه! صحرا ښکاري جنت جوړې
اشنا په کور کښې سر په سینګار دے

***

ما مستقبل او ماضي راجمع کړل
پرون سبا مې چې د نن شمع کړل
وختونه څومره که بې نیاز تلل
لکه پتنګ مې د ځان په طمع کړل

***

ډېر چې د هجر ګرمۍ وهلے یم
د اوړي میاشتو، بد بد خوړلے یم
چې وصال وشو، د مني شپې دي
زه سړه لېرې تبې نیولے یم

***

* * *

ارمان مې دود شو ، لاړلو خپور شو
پسرلے مې سيزي راته سوړ اور شو
ځواني خزان شوه وېښته مې سپين شول
د ګلرخانو راته زړهٔ تور شو

* * *

جانان مې وليد جهان رنګين ښکاري
د سرو په شاڼي راته سادين ښکاري
دنيا بدله شوه زما په عشق کښې
ښکنځل د اشنا راته ګبين ښکاري

* * *

چې د نيمګړې دنيا نه تېر شوې
لاړې لهٔ خپلو ، خپلوانو هېر شوې
اوس مو د قبر نښانې نشته
لکه چې نهٔ وې ، د نشتا په خېر شوې

ورهٔ هديره - لواړګے ۷،۸ - ۱۹۴۸م

* * *

په ضبط مې څهٔ شي چې وعدهٔ دې تېره شي
چې سوز مې زيات شي ژړا برسېره شي
لازم دهر ځيز عکس العمل دے
اکثر باران شي ، چې ګرمي ډېره شي

* * *

* * *

زهٔ کله وران شم ، کله ودان شم
بېرته ودان شم ، کله چې وران شم
یا مې تعمیر کړه که تنګو یې مې
یا خو مې پرېږده چې بیابان شم

* * *

نهٔ په کعبه کښې ، نهٔ بت خانه کښې
نهٔ په زمزم کښې نهٔ میخانه کښې
نهٔ مې په زړهٔ کښې ، نهٔ په لېمو کښې
خوشې طلب کړم په ویرانه کښې

* * *

نهٔ مې ملک کړه ، نهٔ مې حیوان کړه
نهٔ مې ټول عشق کړه نهٔ مې عصیان کړه
زهٔ مسلمان یم اوسط مې خوښ دے
زما خالقه ما خو انسان کړه

* * *

ځان ته غا ورو په فردیت کښې
چې راغلو باغ ته ، شو په حیرت کښې
ګل ته څرګندې خپلې خامۍ شوې
چې ورداخل شو په جمعیت کښې

* * *

* * *

همه قامونه لوټے او واړهٔ جوړشول
څوک د وخت ټبې څوک يې ليمهٔ جوړشول
ستالهٔ غيرته يوه پوښتنه کوُم
پښتو نه وايه چې لهٔ تا څهٔ جوړشول

لوارګے ۵، ۸-۱۹۵۳ء

* * *

جوړ نن پهٔ نوي ستم دې مټ کړ
چې خاموشيو دې راته څټ کړ
اوس کهٔ ويږي ، مزه يُې نشته
دنغمې حسن الفاظو پټ کړ

* * *

دحق لهٔ تخمه شجر پيدا شو
ددې شجر نه ثمر پيدا شو
د محمد صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم وُ کهٔ رحمت راغے
د مبتدا نه خبر پيدا شو

* * *

د باطل زړهٔ کښې خطر پيدا شو
سترې بوګنېږي سحر پيدا شو
ضمير مُسکے شو د انسانانو
سترګې پيدا شوې نظر پيدا شو

* * *

***

د یو زړهٔ لار چې د بل سره شي
په تګ راتګ یې د خیال پخه شي
په کارولو نوي زړېږي
چې نهٔ کارېږي لاره زړهٔ شي

***

هغه جبین وُ او دا یې خال وُ
هغه یو ذات وُ، دا یې جمال وُ
کهٔ هغه تخم دا یې شجر شو
د غه تفصیل د هغه اجمال شو

پېښور ۴ - ۱۲ - ۱۹۵۵ع

***

غم د جهان یم، په جهان بار نهٔ شوم
خوښ په جهان وم چې د چا یار نهٔ شوم
د خوب په خېر خو، در تلے شم ستر کو ته
خېر کهٔ د ستر کو دې انتظار نهٔ شوم

***

لږ خو وزګار شه ځان په کار مهٔ وژنه
همدغه ځان دې یار دے یار مهٔ وژنه
وخت د ارام کښې کار حرام وګڼه
د پلټه لاندې چېړې مار مهٔ وژنه

***

***

داغـن دننـه بهـر دچاوُ
احساس دخبر، خبر دچاوُ
غائب شو نظر، نظر مې راغې
قربان ترې نظر، نظر دچاوُ

***

زهٔ یم ناتوانه غوښتنې ډېرې دي
نظر مې یو دے، کتنې ډېرې دي
تهٔ پهٔ هرڅهٔ راته څرګند شه
زړګے مې یو دے، بلنې ډېرې دي

***

دیدن پهٔ ورځ شو، اوس پاتې شپې شوې
ښکلي را ووتل، ماتې پردې شوې
ننو ښکليو، کهٔ زلفې پرې کړې
ښهٔ ده شپې لنډې ورځې اوږدې شوې

***

ACKU

***

کله کوړم چې فطرت زما کنجوس دے
ناممکن دے ترې حصول سیاهي چوس دے
کړقهٔ پاتې شي تش تور د معاني نه
کله کله د اسرارو جوړ قاموس دے

*

پهٔ مینه دے نمونځ انتظاره روا شو
سبا شو سبا شو سبا شو سباشو
چې هر یو ته وایُ پهٔ لیمو کښې ستا یُم
پهٔ دې څنګه پوۓ شم چې اشنا دچا شو

***

ستا دپاره سرتر پایه همه جیب یُم
دنیا زهٔ دے دانسته ښکار د فریب یُم
څوکهٔ ستا خواهش بې نشته دا رښتیا دي
خو دروغ دي چې مبلمه دجهان زیب یُم

سیدو شریف ۲۵ ۳/۵۳

***

ظلمتونه چې د "حال" زما پهٔ څغل دي
د "ماضي" مې هم اکر بکر بدل دي
نن زما پهٔ کور کښې بل دي کهٔ ئې ګوري
چراغونه چې د قام د مستقبل دي

لواړګے ۲۰ ۸/۵۳

★★★

دا دویم اقبال حسین هم رانه لاړو
شپږ[۲۶] ویشتم د مئی راوړو نوے غم
ډېر مې بنخ کړل خو پرے دومره زهیرنهٔ وم
کړم لهٔ کوره يې بهر پهٔ غرونو سم
ما يې مرګ لیدلے نهٔ شو لاړم شنی ته
د ژوندون تاسیس مې شوې لهٔ ماتم

لواړګے ۶/۵۹ ۴

★★★

★

نوي کهول دپاره لاړ جوړول غواړي
ملیّت سره مذهب ګډول غواړي
کروندهٔ د اوړ پکار دهٔ ادیبانو
ولې څهٔ اوړ اورکي هم کړل غواړي

لواړګے ۸/۵۳ ۲۰

★★★

تکے د مطلب یمه تر څوچې مې وران نهٔ کړې
یاد لره اشنا چې هېروله نهٔ شې ما
زهٔ بهٔ ستا خبرې ته بې وزنه ولې وایم
ما خو دومره اووې چې تللے نهٔ شې ما

لواړګے ۹/۵۳ ۱

* * *

اوس دایم د بېلتون له کتارو اووتم

اشنا کړم تماشا له تماشو اووتم

نور هیڅ نهٔ وُو سراب وُ چې اشنا مې اولید

واصل شوم ورپسې چې له لمو اووتم

لوارګے ۲۵ ۷/۵۸

* * *

ما پرېږده څهٔ سلګۍ مې د هستۍ پاتې دي

یو څو ګوټه نور غواړې څهٔ مستۍ پاتې دي

ساقي د حقیقت لوړے لاس نهٔ کوي

لا شوق د محبت کښې څهٔ پستۍ پاتې دي

لوارګے ۲۵ ۷/۵۸

* * *

شونډې خود د ازادۍ ناوې پرې سرې کا

چې د قام په غم کښې څوک مېده مېده شي

عرفِ عام کښې خوږوستګے وي د غــز

چې د اوښې نه جدا شي دنداسه شي

توکل مېنه ۱۹ ۹/۵۷

* * *

***

اشنا پکښې تا خپل ښکلي لمهٔ اولیدل
هم تا پکښې کامل روڅې بانهٔ اولیدل
احساس خو ائینے هم اوکه ستا د وجود
دا وائې پهٔ چرت کښې چې ماخهٔ اولیدل

***

*

دسکاڼ اشنا پهٔ غم کښې ترسکوني اوښکې راغلې
دسرولبو پهٔ یاد کښې ئې مې کوني اوښکې راغلې
بیلتونه لهٔ مودې مې وې پهٔ سترګو کښې ساتلې
بهرته ستا لهٔ جوره زما جوني اوښکې راغلې
بند ونه د حکمت پهٔ مخه یو ړل عاشقۍ
خالي ئې د زړهٔ کورکړو افلاطوني اوښکې راغلې

*

***

پښغلې چې غم اوښکې پښتنې کړلې
خود ئې روا دارې د پردې کړلې
اوښکې مې پهٔ جام د سترګو اوڅښلې
سترګې چې ساقي رابانديې سرې کړلې
ستا پړونے حسنه سلامت اوسه
خاورې که څو تا لورې شملې کړلې

***



ACKU

***

تهذيب يې د پښتو لهٔ مغربي لولۍ ځار کړ
خوئي بوئي او هم لباس يې مغربي را معلومېږي
حيران شم چې خبرې پهٔ پښتو کوي نو وايم
ډک شوي تېکلي دي چې پهٔ ډډ کښې يې غرېږي

۱۵ ۵/۶۴

***

ترڅو چې دا وانخلم پهٔ دغه کښې مزه نشته
چې کفر ورسره دے نو اسلام دے ځکه ښکلے
له يو بله دي ښکلي چې يې زلفو مخ ته ګورم
سحر چې پکښې پټ دے نو ماښام دے ځکه ښکلے

***

ځائے دهر چيا د زړهٔ پهٔ کور کښې لرم
توبه دې راشي پسې تلے نهٔ شمه
چې خوشحالۍ هم ستمګرې شولې
نور دې اشنا غمونه ورے نهٔ شمه

***

قوت لهٔ اتحاده د قوت نه ازادي ده
د ژوند پهٔ راز به پوهه شې قرآن خو اولوله
وتې شې تهٔ د مزکې د اسمان دهر يو کوټ نه
لا تنفذون الا بالسلطان خو اولوله

*

۲۸۶۰

# د محمود غزنوي په مزار

کهٔ هر څو دې مخ روښي بُت شکني وه
خو خفګان د فردوسي درباندې داغ دے
په لوګو ئې ديوال خود د خوني تور شي
کهٔ څهٔ هم پکښې بل شوے بنهٔ چراغ دے

***

هر څو کهٔ څهٔ ختے شي پرېوتے هم شي
پښتون کهٔ پرېوتلے دے ختے هم شي
چې مزکه کښې قوت شته د فنا او بقا
کوم تخم چې ورکوے شي تېروتے هم شي

۲۸ فروري سنهٔ ۱۹۶۶ء

***

عاقبت به ې بدن شي توره خاوره
په دا څهٔ کهٔ نن په "سپين محل" کښې اوسي
دا اسمان ته د غرور نه پاس کتونکي
حقيقت کښې د فنا په تل کښې اوسي

مرغزار رياست سوات ۳ ۲/۶۶

***

* * *

مرغېږن اوري زما د عشق تازه کړه
په دې خاوروکښې لا تاؤ د حقیقت شته
سنائيُ د محبت په راز خبر کړم
چې توحید دے، چې پکښې طمانیت شته

مزارِحکیم سنائیُ غزني ۴/۶۶ ۲۲

* * *

چې پښتو ئې محبوبه وي پښتون دا دے
چې همه لیلے لیلے شي مجنون دا دے
راشه پوئے دې چې پهٔ راز د مرګ او ژوند کړم
چې مره نهٔ شي خپله ژبه ژوندون دا دے

لوارګے ۶/۶۶ ۳

* * *

د ژوند قفل به شي بېرته ابجدي دے
کهٔ ته پورته شوې پهٔ ننګ د ازادۍ
کهٔ دې توري سره داسې برابر کړل
چې ظاهر شي ترېنه جنګ د ازادۍ

لوارګے ۷/۶۶ ۱۰

*



ACKU

***

غیرت ورسره پت د شجاعت سره حکمت
چې د اخلور عنصر وي ترې جوړېږي خوشحال خان
هغو ته مې راکښلے په الفاظو کښې تصویر
د چا په وینو زړونو چې وړېږي خوشحال خان

***

چې اتلس کاله مخکښې وم راغلے
زه هم ستا په خبر قوي وومه او ځوان ووم
نن چې راغلم ستا هم ملا ده کږه توته[1]
اوس سپین بږیرے یمه نو چې پهلوان ووم

لغمان $\frac{8}{66}$ ۱۹

[1] دې توت ته ما په ۱۹۶۸ء کښې هم مخاطبه کړې وه.

***

غازیان چې کله سر په تلي راځي
د مرګ استاذي ته په هر کلي راځي
څه خو سبب شته چې په جهاد کښې
پس د الله نه په خوله علي راځي

چارسده $\frac{9}{66}$ ۱۸

***

ورو ورو بلدېدم چې د پروازه سره
صیاده شوم اشنا دې د اوازه سره
هر څېن راته پخوا که وه اوس دام نهٔ دے
اشنا شوم د فطرت د هر اندازه سره

لواړګے ۹ ۱۰/۶۶

***

اوس دې خلق د ژړا نه هم نفرت کړي
دکم عقل سره ته چې شوې رفیق
په زار زار سلګو وهل دې لا افت وي
چې په خلقو ئې اثر وي دشهیق

***

زهٔ هم په صحبت د ترخو تریخ نهٔ شوم
څه شي که بل څوک زما نه خوږ نهٔ شو
څوک که په حرفونو کښې پېوند شولو
ښغ به همېشه وي الف کوږ نهٔ شو

لواړګے ۲۹ ۱۲/۶۶

***

ویره دې په مخ کړي چې ئې شور ته مخامخ شې
څهٔ وائې له سینه چې ئې زور ته مخامخ شې
تاؤ د زړهٔ مې نهٔ کوري ویرېږے د لوګي نه
تنګ شوې دلوګي نه چې لا اور ته مخامخ شې

لواړګے ۱ر جنوري ۱۹۶۷ء



ACKU

***

طیبي د تا د قد ﭘې شوه امصا دشخصیت
فطرت نه ﭘې شکونه وسوسې شولې فنا
ملدان د فرعون نفس ئې همه واړه دي نغړولي
هیڅ نهٔ شوه ﭘرې درنه لکه امصا شوه دموسیٰ

لواړګے ۱۸ جنوری ۱۹۶۷ء

***

امکان څهٔ دے چې ئې سوال هم ﭘاتې نهٔ شو
سوال ئې څهٔ چې احتمال هم ﭘاتې نهٔ شو
ځواني تللې وه خوخیال ئې لا باقي وه
کراچۍ کښې هغه خیال هم ﭘاتې نهٔ شو

مشاعره اسلامیه کالج کراچي

***

کهٔ هر څو ئمه ناڅیزه چې سفر کړم
زهٔ به اودرېږم د ښو خلقو ﭘه صف کښې
د باران څاڅکي چې یون وکړي لهٔ ځایه
یو کوهر ورځنې جوړ شي ﭘه صدف کښې

## خوشحال خان ته

تا نهٔ شو زغملے د مغل داس د ستم غبار
ګرد غونډې ﺨودې وته وې ستا د کهکشان لوړې
لوړې وې تر لوړو ستا د فکر او د وجدان لوړې
ځکه چې وې تاته ښکاره شوې د افغان لوړې

*

* * *

ستا د سیلۍ خایي دي پښتون ته د منزل نخښې
هغه، چې سیلۍ ې ډکړدونو ورانوې نهٔ شي
هېڅ د خوشحالۍ حاصلول ئې بې مفهومه دي
قام چې خپل کاروان د تا پهٔ لار روانوې نهٔ شي

## اقبال ته

اګاه چې پهٔ حکمت شو د قرآن اقبال
تفسیر د خودۍ قام ته کړ بیان اقبال
مِلّت دې وس پهٔ لار د سعادت کوي یون
دے ستورے د اقبال د مسلمان اقبال

* * *

ملّت چې متحد شو جمعیت راغے
پیدا چې جمعیت شو نو قوت راغے
قامونه د اسلام پهٔ نوم راغونډ شو سره
پنځه حواس چې یو شو حریت راغے

۱۴ مارچ

* * *

زاغان چې تړې بهر شول نو چمن شو زما
خالي چې شو لهٔ غېره، انجمن شو زما
هم دا زما وطن ؤ خو وطن مې نهٔ ؤ
هندو انګرېز چې لاړل نو وطن شو زما

لوارګے ۱۶ مارچ

***

ستیرو ته د خرد په تماشا دي لېوني

دي روغو ته چي ګوري په خندا دي لېوني

فارغ له خپل پردي له ما او تا دي لېوني

ګوښه وي له هر چا خو د هر چا دي لېوني

وېنا کوي صفا چي د هوس نه لري بوئ

تل تل د ائينو غوندي ګويا دي لېوني

***

نعري دي د اغيارو د اسلام ايمان

دا هم دي د اغيارو چي انسان انسان

هېڅ نشته اعتبار د هغې خولې ماته

نعره چي پرې را نه شي د افغان افغان

***

*

راغلے يم دنيا ته د عقبیٰ په تکل

بازار وته خو تګ وي د سودا په تکل

سودا يوه توښه وي د سفر د پاره

راغلے حقيقت کښې د اشنا په تکل

جلال اباد ۲۹ رمئ

# د سیّد عبدالله د مېلمستیا په موقع

نن مېزبان زمونږ سيد عبدالله دے

مېلمانه يو د کونړ په سلام پور کښې

د اخلاص د مېلمستيا نه به څۀ وايم

جوړ وختونو مو لمبلي دي په نور کښې

سلام پور ۳۱ مئی

* * *

بې عقلان چرې حق ته قرين نۀ شو

دنيا ئې لاړه او هم د دين نۀ شو

که تور څاروي له زړښته سره شول

خو ده ښکاره چې وښته ئې سپين نۀ شو

لواړګے ۲۹ جون

* * *

بس دغه پرده وه چې له هر څۀ شومه کوښے

ما ته شو ښکاره چې نۀ وصال ؤ نۀ بېلتون ؤ

زۀ په محبت کښې نه هغه ومه نۀ دا وم

چا به وې چې روغ ؤ چا به داوې چې مجنون ؤ

*

# فرد

د کائنات په هر بخري کښې نظر شو پیدا
چې سترګې تېتې اننګو ته دې حیا راغله

***

اوس یې څوک کاروان د رنګینو لوټلے نهٔ شي
سرې سترګې د وان د پښتانهٔ دي پسرلي

*

کم به وه وحشت چې ائینے ته مخامخ شومه
هر څهٔ مې خپل ولوستل خو سترګې مې مهملې وې

*

تل وایمه دا چې ته رښتینے یې وعده یې
شم به دروغژن که دا دروغ مې رښتیا نهٔ کړې

*

داسې بشکلا چرته چې څوا به مرور شو
ګوره حمزه پام کوه چې نن یې خلا نهٔ کړې

*

# فرد

مستقبل خو هله روڼ شي د قامونو
چې يې حال ته بوګنېدلې ماضي ياد وي

★

حسن او محبت ته جدا چا اووېے
دا يې خطا داسې خطا چا اووې

★

خود به دې ترش وي داستان د مينې
چې دې خوښ کړے عنوان د اوښکو

★★★

خوږ مې که اشنا دے خو رقيب پرې بلوڅه نه کړي
نه راځي محان ورته چې چرته پېيته[1] وي

★

سحره ورو ورو دې نفس مه اخله زړه شکاره
چې ساه لنډېږي دي کړو زما د انتظار په شمع

★

وسواس وهلے نه شي پرچې مينه زړه ته راشي
هوا دا خله کور کښې ماشي ونيلي په جال کښې

---

[1] پېيته د خټکي غوندې خوږ مېوه ده. خو محچ پرې نه کښېني.

# ستا صفت

پهٔ ګلو نو کښې خندان دے ستا صفت
په بلبلو کښې ګریان دے ستا صفت

روح د میو په وجدان دے ستا صفت
ما به څوان کاندې چې څوان دے ستا صفت

شهسوار د تخیل شو زما سترے
نا تمامه بیابان دے ستا صفت

د هجران سختۍ په ما کاندې اسانې
څکه ګرانه په ما ګران دے ستا صفت

لکه نمر چې وي په تخر کښې د بخرې
داسې ما څخه سبحان دے ستا صفت

جوړ سپرلي د مخ مې ستا په زړهٔ وربزي
چې لهٔ سترګو مې باران دے ستا صفت

هر وښتهٔ مې ستا ثنا لره زبان کړهٔ
خو تر اوسه مې ارمان دے ستا صفت

زما سرو او ښکو ته او ګوره ګلرخه
په ژبان مې د مژګان دے ستا صفت

آئینې ته مې نظر دے حیرانیږم
څه صفا ښکلې عیان دے ستا صفت

تا قران دچا په وصف دے ویلے
که هر څو کړے قران دے ستا صفت

جمعیت کۀ د حمزه د خاطر او کړې
نۀ ده ښه چې پریشان دے ستا صفت

---

الٰهي د خاکسارانو ښۀ مشرب را
خاکروبې د خاکروبانو د یثرب را

ګه په سینه د عرفان ما بې لاسو ښو کړه
غریدلې ستړې تل سکه دکب را

چې منزل او قیام دواړه ښکلې ورک شي
چې حاصل یٔ وي طلب هغه طلب را

په هر حال چې وي سرخم بني هاشم ته
هر نسب چې یٔم خو فخر پۀ نسب را

چې تاثیر یٔ د مسیح شي ستا له ذکره
ما حمزه ته هغه ژبه هغه لب را

---

★

خدایه مونږ ته پاکه برخه دایمان را
مونږ ته علم غوره پوهه د قرآن را

پل په پل چې د مقصد منزل ته ورشو
محبت د محمد صلی الله علیه وسلم اخر زمان را

په تعلیم زمونږه زړونه نوراني کړه
په رڼو دامتیاز مو تور چشمان را

ددنیا په باغ موکړه خندان ګلونه
خیال په بوی پسې نسیم غوندې پرېشان را

ډېرو جنبو لعنت زمونږ نه ورک کړه
ښه جذبه د رورولۍ دمسلمان را

اسلامي جهان راغونډ په یو مرکز کړه
نور جهان چې کړي روښان هغه جهان را

ماحمزه ته یثربي باده خاوندده!
په ښاغلي پیمانه کښې دافغان را

★ ★ ★

*

الٰهي دګل چمیا په حق د راز را
ستا ثنا ته د بلبل غوندې اواز را

چې اله سوزه مې رګ رګ لکه د تار شي
هر نفس لره زما نفس د ساز را

بل په هیڅ د زړه کلی نهٔ مسکی کیږي
د نسیم طناب په لاس کښې د حجاز را

چې د روزې ترینه څې د ناز د عطرو
د زړهٔ ګل لره زما هغه نیاز را

نامه بر د زړهٔ کونتر د خپل برجل کړه
د همّت قوي وزر سترګې د باز را

په ژړا خندا مې ستا محفل نصیب شه
د زړهٔ شمعې ته زما سوز و ګداز را

که هر څو همه هم ته یې خو ته ته یې
ما حمزه لره نظر د امتیاز را

★

چې علّت دے د عِللو ستا وجود
دهٔ هم ستا نه کارخانه د هست وبود

هر یو څیز دے مجموعه ستا د صفاتو
یې هم ته د هر وجود سره موجود

چې نزول واحدیت وته تا وکړهٔ
په دنیا د امتیاز کښې شوې معبود

تجلّی دې د وحدت چې په چا اوشوه
هغه وائي بل مې نشته دے مقصود

چې نقطه احدیت دې چا محسوس کړهٔ
بې له تا به بل څهٔ نهٔ کړي موجود

هم معبود ئې هم مقصود ئې هم موجود ئې
دا په دې چې تهٔ له وصفه ئې ودود

کهٔ شاهد اوکهٔ مشهود وې بې لهٔ خلقه
پس لهٔ خلقه هم شاهد شوې هم مشهود

کهٔ هژده هزار عالمه دے حجاب شي
په اتلس زره رنګه دے نمود

اے هغه چې ستا انکار هم یو اقرار دے
اے هغه چې ستا عدم هم دے وجود

ستا دهست همه اثر دے چې ښکارېږي
په هستۍ کښې حرکت دے که جمود

په رنګ رنګ دې چې ثنا کېږي راضي يې
دا يهود ! او نصارئ ! او دا هنود

د هريت شي چې عرفان له حده تېر شي
ګويا شي له ډېره رشکه نه حسود

چې نعمت له حده واوړي زړه پرې تنګ شي
رنګ د زيان پيدا کوي چې ډېر شي سود

د مخلوق د دل تنګۍ په يک رنګۍ کښې
په کثرت د رنګ يې وي د زړه کشود

چې نه ستا نه څوک جدا دي نه ترې ته يې
بې نيازه څوک مقبول او څوک مردود

امتيا ن د ښکو بدو خو زما دے
ګنې دود څه د ګنه ګر او څه دعود

د رحمت صيقل د شته دے اميد وار يم
دے مرأت مې د هستۍ ګناه آلود

وسيله مې محمد صلی الله علیه وسلم او اهلِ بيت دي
شته اميد چې عاقبت مې شي محمود

د هغوئ د مينې اور مې دې تازه وي
د لوګي په څېر يې ته مه کړې مفقود

ستا قانون ته چې فطرت ئې سرنګون دے
عفوه بویه که حمزه نه کړي سجود

---

که خطا راسره مل ده لکه سورے
ته ئې سپک لکه د سپوږي کړې وجود

لکه سپورے چې مې وي خو زما نه وي
کړه ګناه مې د هستۍ له اوره دود

ګناه څه ده خو غفلت د ستا له یاده
هر تقصیر دے د غفلت څخه مولود

دیو د نفس ته کړوره د سلیمان را
ستا ثناء ته راکړه لحن د داؤد علیه السلام

لا خوستا وي او لا ستا د حبیب صلی الله علیه وآله وسلم ذکر
لا کلمه د شهادت او لا درود

زما ضبط دې یو طوفان په نفس شیطان شي
مات قوت کړي د دې عاد او د ثمود

کړې بدې وته مې غږ د نیکۍ ما شي
کړې انجام د سرکشۍ مې د نمرود

محبت د اهلِ بېتو مې روزي کړې
دې جنت ته دې زما اوشي خلود
کړې په شرع مې تارونه د عمل سُر
کړې پیدا د حقیقت ترېنه سرود

پوخ زما بې نوائۍ د ذهن رنګ کړې
د زړهٔ ګل مې خبر لوڅ کړې په کشود

---

ے بې نوا زما د مرشد لقب دے

# رخسار د محمد صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم

شادابه تر قیامته دے گلزار د محمد صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم
تفسیر د والضحیٰ دے سپین رخسار د محمد صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم

موسوم شو په طٰهٰ او په یٰسین او په لولاک
سر خم ئې په قدم شول عرش کرسي لوح او افلاک
مثبت دے د واللیل د زلفو تار د محمد صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم
تفسیر د والضحیٰ دے سپین رخسار د محمد صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم

حضرت چې د سپین مخ نه کړه اوچت شال د یٰسین
ذرې د کائنات ئې رنګینه شوې له جبین
شامل له عناصرو شول انوار د محمد صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم
تفسیر د والضحیٰ دے سپین رخسار د محمد صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم

یو شپه لیلة القدر ئې کړه عطا ورته اعزاز
تر وارو انبیاوُ مو حضرت شولو ممتاز
اللہ جل جلالہ خپله رضا کړله کردار د محمد صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم
تفسیر د والضحیٰ دے سپین رخسار د محمد صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم

حمزه سر د نیازئ لره تل په در کښې خم

حضرت ته وسیله چې بې نوا کړې نښته غم

غم خور دے د امت ال اطهار د محمد صلی الله علیه وآله وسلم

تفسیر د والضحیٰ شو سپین رخسار د محمد صلی الله علیه وآله وسلم

سنړي کوتل ٨/٣٨ ١٧

---

ستا رفو دے لطف ته چاک د ګریبان څهٔ دے

ستا د کرم شمعې ته رنګ د شبستان څهٔ دے

وا په تبسم چې شي ستا فم نازو ادا

ستا د ملاحت په مخ رنګ وي د شرم و حیا

ناز او ادا هر جدا بېله معشوقه وي ستا

چرته د سپرلي بنائست رنګ د ګلستان څهٔ دے

سترګې دې تل پُر وي ترې مې وي الستي پکښې

راز و نشیب او فراز عالم هستي پکښې

فخر په مستۍ دے تل کوي مستي پکښې

ستا دُر د ندان وته لعل د بدخشان څهٔ دے

ستا په کوم ملا چې ما بسته کړه منزل وته
ستا په طلب ما ږه دو تلهٔ کړم هر محفل وته
کله لیونو په شان لاړشمه ځنګل وته
ستا دیوانه ګانو ته دشت او بیابان څهٔ دے

ذره ذره ستاد مخ شمعې لګه نمر کړله
پُر دې لهٔ انوارو دا خانه د عنصر کړله
جذبه د عاشق پتمه تا په چغو سر کړله
تا ته کهٔ سجده اوکړم او وایه نقصان څهٔ دے

سجدهٔ په د پر شوق سره تا ته چې اشتر کوي
ستا په حق کښې کم کوي هر څهٔ چې بشر کوي
قدرو احترام دِ تا هر شجر حجر کوي
حق دادب ستا په ځائے تو ان دیوانسان څهٔ دے

حِس په کائناتو کښې ستا له رنګ او بو نه دے
رس په ممکناتو کښې ستا له ابرو نه دے
سوز په عاشقانو کښې ستا له جستجو یه دے
ستا عَلَم د غلوته بل دچانبان څهٔ دے

ستا دکمال او جمال ائینه ده شش جهت
ائینه دشش جهت ستا د ثنا او صفت
ستا په ثنا او صفت وضع شولو هر لغت
ستا چې ثنا کړي په ځائے حمزه ناتوان څهٔ دے

* * *

# سلام

دا یو سلام یوسه

دا یو سلام یوسه

اے وروره مهربانه

یثرب ته شوې روانه

فرقت کړمه پریشانه

بس یو پیام یوسه

دا یو سلام یوسه

شاهنشاه عرب ته

اطهر بلند نسب ته

طٰهٰ حبیب دربﷺ ته

بس یو سلام یوسه

دا یو سلام یوسه

دا بې کسي وکلفت

دا درد و سوز وحشت

دا عیش بې مسرت

ACKU

دا صبح و شام یوسه
دایو سلام یوسه

مئے نه د عشق خالي
جام بکا سفالي
درتا د شاه عالي

داتش هي جام یوسه
دایو سلام یوسه

دا وایه اے خلیله
حمزه کړو غم علیله
دے بې نوا وسیله

داپاک نام یوسه
دایو سلام یوسه

دهلي ۱۹ ستمبر ۱۹۳۸ء

★

فطرت یو تبسم دے په عرفان د محمد صلی الله علیه وآله وسلم
یو کیف دے پسرلے د ګلستان د محمد صلی الله علیه وآله وسلم

څرګند د دوئ له نوره شو یو والے د وجود
هر څيز شو ائینه ځان ته حیران د محمد صلی الله علیه وآله وسلم

پوئے نهٔ شو څوک په سر د لي مع الله وقته
بس دومره چې مېلمه به د یزدان د محمد صلی الله علیه وآله وسلم

یو ګل د تجلّي نه د رخسار ئې شفق دے
جنت یوه نقشه شوه د دامان د محمد صلی الله علیه وآله وسلم

خالق ئې چې پرې عشق کښې کړ توحید و ته نزول
خپل سوړے په انوارو شو قربان د محمد صلی الله علیه وآله وسلم

برزخ لهٔ نقش ورنګه چې وي پاک هغه پکار
امّي ځکه لقب شو په قران د محمد صلی الله علیه وآله وسلم

هر شے د کائنات لکه صدف شو وازه خوله
راخور چې په دنیا کښې شو نیسان د محمد صلی الله علیه وآله وسلم

راجوړه سلسله شوه د اشکال الٰهي
پیدا چې کړې رب زلفِ پرېشان د محمد صلی الله علیه وآله وسلم

حمزه هره ذره به ئې د ثنا کړي د دنیا
ته شوې که ثنا ګر شوه بیان د محمد صلی الله علیه وآله وسلم

---

ACKU

# رَحمَةُ لِلعٰلَمِین

په دماغ کښې د انسان لکه خیال د محمد صلی الله علیه و آله وسلم

په جلوه کښې د قدرت ښکاره جمال د محمد صلی الله علیه و آله وسلم

سرچشمه او منتها ده د کمال دے محمد صلی الله علیه و آله وسلم

غم موځه دے چې حبیب د ذوالجلال د محمد صلی الله علیه و آله وسلم

خپل امت له پښتې او هم دېوال دے محمد صلی الله علیه و آله وسلم

په ظاهر خو دے آدم په حقیقت کښې خدائے خبر

دے چې ځان ته لښتر وائې مونږ هم وایو دے بشر

ده تخین د پاره دے، دے مبتدا او هم خبر

د عالم په ژبه قال د او په قال کښې دے اثر

د صوفي او مجاهد په زړه کښې حال دے محمد صلی الله علیه و آله وسلم

را پېدا ئې چې هستي شوه نو نیستي ځکه هستي شوه

چې د دوئې په لاره نه شوه که هستي وه خو نیستي شوه

پېدا او ښت د دوئې غرض و، ندا ځکه الستي شوه

تر قیامته په آدم کښې ئې ځائے او موندو مستي شوه

اروا حانو ته تحفه ئې کړو وصال د محمد صلی الله علیه و آله وسلم

ACKU

په ګوربو کښې که هیبت په بتکده کښې شو دهشت
په تیرو د شرک کښې نور په زړه د کفر کښې وحشت
شو خشوع د عبادت او په دعا کښې اجابت
رنګیني په بسرلي کښې په ګلانو کښې نکهت
لا تر اوسه په اذان کښې د بلال رض د محمد صلی الله علیه وآله وسلم

وائي راغلم لاتمم مکارم الاخلاق
چې د کفر وشرک مو او باسم د غاړو نه اغلاق
دالست د ورځې هیر چې درته یاد کړمه اسباق
پرې ګواه دي د قران او د حدیث همه اوراق
ساقي کوره د تسنیم او د زلال د محمد صلی الله علیه وآله وسلم

راخر ګند د حضرت په برکت حیا وفا شوه
د چا ستر ګې شوې روښانه د چا زړونو کښې رڼا شوه
هر یو زړه د تقوی ځائے شو په ناراچي بربښنا شوه
چرته صدق و دیانت شو چرته جود و هم سخا شوه
ترې نمرونه شول نما هغه مثال د محمد صلی الله علیه وآله وسلم

بنیادي رکن ئې راوړو د اخلاقو دې دنیا ته
هغه څه وُ؟ نو توحید! چې ښکته نشي ماسوا ته
ائینه شو د اخلاقو شو حیران خپلې جلا ته
که عاصي وُ په زړه تور هغه ئې اوښتو رڼا ته
په ګناه باندې سبب د انفعال د محمد صلی الله علیه وآله وسلم

ACKU

تل اثر او اجابت وُ ، د دعـــا د انبیاءُ

وسودا د انبیاءُ مـــدعا د انبیـــاءُ

دے زمونږ یوازې نه چې دے اقا د انبیاءُ

ګُل له نوره ئې پیدا شو دے بابا د انبیاءُ

حمزه څهٔ شي کهٔ د تولو په دنبال دے محمد صلی الله علیه وآله وسلم

---

ACKU

ستا قدم په هر قدم چم په چم چمن چمن
جوړ کوي یو عرب عجم یو وطن وطن
د حکمت له مینکو پور د هر چا لمن لمن
د یثرب د بڼ هوسۍ په هر دم ختن ختن

د مذهب شو نوبهار کړي بلبل د دِل نوا

سبا راوړې د نکهت په غوټو ګلستانونه
که پریانو په ماشوم اوکړو زړې د ځوانونه
شو هنګام د غوړېدو خبر که شته پرېشانونه
ګل اوده کړي په اغزو د سپرلي سرګردانونه

وچې کلکې ژبې کړې د لیمه په نم ثنا

چې په کور د جنت باغ راسمسور شو دهاشم
د حورانو بنه مجلس جوړ په کور شو دهاشم
په عالم کښې د بقا نوم ورخور شو دهاشم
فاني عمر چې د لاړ باقي نور شو دهاشم.

ځار له داسې ابتدا ځار له داسې انتها

لارې لارې شول انوار له اسمانه تر زمین
قاصدان دیو قدیم شو حارث ته راقرین
شوې سجدې په خپل مقام هر جبین شو بیا جبین
او نیولاس له نقاشۍ نقاشان چې و د چین

داسې نقش یې کړو جوړ چې زائل به نه شي بیا

# هاشمي نبي صلی الله علیه وآله وسلم

پهٔ تیارهٔ کښې د دنیا ستا د نور چې شوه برېښنا
پرې تهذیب شولو مُسکې د ظلمت زړهٔ په درزا
تهٔ شوې ابر د رحمت مرچمن شو په خندا
دړوندون او بهٔ شوې توې چې راسر دې شوه تنا
رنګ او بوئې د معرفت سلسلې کړلې بنا

هر یو تاخ ته دې د زړهٔ شمع راوړه د عرفان
دا تیرو نیولې عرش ستا له نوره شو روښان
کُل جهان دې کړو روښانه چې څرګند شو په فاران
د ښکانو د زړهٔ دم کا فرانو ته طوفان
چې الحاد دې کړو لاهو دیاهو شوې پرې دریا
دتیرې درومې ستا چې مقصد دَ پرزول
بیا دځان سره به ځنګ دَ دسورې ګرځول
په خرمن د زندقې ستا چې برق وو غورزول
د قیصر او د کسرئ د کورونو لړځول
چرته مرګ وته وې ژوند چرته ژوند وته قضا

چې ظاهر شي په انسان د حارث د قديم راز
ځکه درکړلو الله د معـراج درته اعـزاز
شو رفعت د کرد په ځېر چې براق اوکړو پرواز
کهٔ براق ؤ که رفرف ستا د عشق له سوزه ساز

پهٔ اسرئ او شو تکميل د قوسين او ادنیٰ

داسې ځائے ؤ، نهٔ ؤ ځائے يو مکان ؤ لامکان
يو حجاب ؤ، لاحجاب ؤ، تر منځه اوبزان
يو طرف ؤ، بې طرف يو نشان د بې نشان
يو وصال ؤ، څنګ وصال؟ چې دوه جوړ شي يو کمان

وے چې راشه يارہ اوس پرده نشته هيڅ له تا

هلته اوسول پړې د عقل هلته غوځ شو سر د عقل
هلته خاورې زر د عقل هلته هيڅ هنر د عقل
هلته لړ شو بر د عقل هلته ورک نظر د عقل
هلته هيڅ گذر د عقل هلته هيڅ خبر د عقل

هلته هيڅ شو لا رو هيڅ، هلته حس شو بې بقا

شو مرأت د کثرت مات يو شو عکس او معکوس
شو ناظر او منظور يو په يو رنګ نام او ناموس
حجاب ورک شو د دوئ چې ترميانه ؤ محسوس
په وصلت کښې څهٔ حاجت د رهبر او د جاسوس

هغه' دا به چرته وي، دلته هغه شته نهٔ دا

جدائي په ابتدا په اوسط کښې ملاقات
په اوسط کښې بيا جدا په آخر کښې ملاقات
کله وړل کله راوړل نعمتونه د حيات
د عاشق او معشوقې دي يو بل سره سوغات

د صلوٰة او طيبات د درود او د ثنا

زما زړهٔ صدف صدف ته وريځ ې د نيسان
کړه عطا طرف طرف د الفت دُر او مرجان
زما زړهٔ هدف هدف د حيدر غشي مژګان
مدينه نجف نجف په هر خوا کړه نمايان
د حمزه فقير صدا د حمزه غريب صدا

# معراج

هغه نن دهغې شپې، چې نامزد شو په سبا
لا چې هېڅ نه وه پيدا ابتدا د ابتدا

چې موسوم شو په ازل يو احساس د هستۍ
يو اساس د هستۍ په تېرو کښې وه برهښنا

هغه نور او عقلِ کُل چې عِلّت دې، د ممکن
چې صورت دې، د ممکن چې بابا دې د هرچا

کليت کښې شو ښکاره، کړه پاک رب ئې ننداره
بل شو چا ورته کتې، کُل د کُل وه نظاره

يو احد دې، بل احمد دې په ميم سره جدا
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه

لا تکميل د سړي توب نظرونه کړموله
په ليمهٔ کښې د قدرت، ئې ارخونه بدلول

خلاصې چې د انسان په زانګو کښې د عدم
د بچو په شانې خپل، ارمانونه زنګول

لا نحو زیري د تخلیق غنوني کړي ور زده
بوټي ورک شو د فنا، په ورو ورو ئې خندول

یوه بشکلې نظریه چې وه پړه په جمال
چې ظاهر شو ترې جلال منتهٰی د هر کمال

په خارج کښې محمّده شپه د قدر وه هم دا
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه

چې په علم کښې د خدائے د مستی جوړ و میدان
وې کوبې د ارتقاء د عمل ئې و چوګان

سپوږمی نمر اوستوري ټول د دې کومې ماتې ذرې
کړه یرغل د مېړني حبوړه لار د کهکشان

په فطرت کښې د مخلوق شو نظام لکه د روح
بشکته پورته شو محسوس شو معلوم مزکه اسمان

خلاصه ئې د انسان کړه په شکل د آدم
په صورت کښې د ماشوم ارتقا شوه د عالم

ضد شو ضد لره پیدا هم خندا شوه هم ژړا
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه

پرورش د ارتقاء کړه په غېږ کښې زمانې
د رندانو ظرف شو لوئے، لوئ بویه پیمانې

زلمي توب د سري توب، داسې ساز شو لکه ساز
د احساس تارونه روغ، وې بې صبره ترانې

شمع داغله د توحید، ؤ فانوس یې عبدیت
اصلي حسن شو څرګند، شوې مضطرې پروانې
تېنګ ټکور شو دوادهٔ چې شوه پېغله ارتقا
جهالت او کفر و شرک، په نغمو کښې شول فنا
کړه مضراب د رسالت راپهر ترې دا ندا
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه

چې عِلّت ؤ، د ممکن، شو معلول یې مکمل
کړ انسان یې علوي کهٔ لهٔ جنسه ؤ اسفل
تصوّر د رب د ذات، تعین یې د صفات
دادنۍ نه شو اعلیٰ د جمیل نه شو اجمل
د شبقدر اعاده، او کړه بیا غني صمد
چې پیدا شي اتحاد، د اخر او د اول
پوره حق ته پاک نبي، چې رو داد ؤ د هستۍ
حقیقت د بلندۍ چې کوم دار ؤ، د پستۍ
دغه شپه وه د معراج دغه شپه وه دا سرۍ
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه

د زرمیاشتو په طاعت هغه شپه شوله حساب
هغه شپه شوه مور د شپو، بیا په شپو کښې په حجاب
ملائک او ارواحان، د سلام جلوه په لاس
په وریځو کښې د نور، د رحمت په لاس طناب

شو دنیا وته راکوز شو باران د تسلی

هم د وچې شوې شېبې، د رحمت راغلو سیلاب

په خاطر د محمد صلی الله علیه وآله وسلم، اوازه شوه د بخشش

آل اولاد د محمد صلی الله علیه وآله وسلم، دروازه شوه د بخشش

جوړ ؤ، جشن د معراج په زمین او په سما

لَا اِلٰهَ اِلَّا الله ، لَا اِلٰهَ اِلَّا الله

ښکته شوي چراغان، پورته جوړ ؤ رازنیان

ښکته واره ستنکان، پورته شمع وه دنیان

په ښېتو د شهاب، د اسمان فضا چمن

یا په سترګو د شیطان، کړې جلوو غوټې دیان

سندره ایزو، په طٰهٰ، نغمه بارو په یٰسین

د تطهیر په لے روان، د انسان د ضمیر ساز

چې بنا وه تړې هستي، چې پیدا وه تړې هستي

په ځائے راوړ محمد صلی الله علیه وسلم چې پیغام والستي

شو معراج د سړي توب په معراج د مصطفیٰ صلی الله علیه وآله وسلم

لَا اِلٰهَ اِلَّا الله ، لَا اِلٰهَ اِلَّا الله

دکوښنو یو کول که دوستي وي د عرب

او ادنیٰ شو یکښې زیات د احمد صلی الله علیه وآله وسلم او د خپل رب جل جلاله

دا یوه یندره د دوئ یوئ غښتے یوئ کورت

یو د ښبنه او یو هدف یوئ قهر یو سبب

ACKU

يو ليدل او اوريدل يو نيول او يو ئ تلل
هلته داسي ؤ، ادب چي غائب شولو ادب

هلته وركه شوه دوئ هم فنا ئ شومفهوم
هلته اوشوه پريې دعلم چي يو پاتې شومعلوم

دا مقام ؤ ، دالاّ هلته لا شو لا ړو لا
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه

لی مع الله وقته ؤ، يوحال د مصطفیٰ
دلته لله وقته مع الاحمد حقّا

يو حبيب او بل ميلمه يو استاذ ے يو محبوب
بيا كوربه څنګه كوربه چي سبحان حميدا

چي امكان ئ ؤ ، كل كورچي لائق نهٔ ؤ دكون
وے چي كور مې دلمو ستا دپاره دے اشنا

ستاليمهٔ چي شي زما شي زما ليمهٔ دستا
چي شي ستا په اختيار هرڅه چي وي زما

چي دا "تا" او "ما" شي "تم" باقي پاتې شي يو "ا"
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه

شي دا مدّ مې امتياز د ناپوهو په منهاج
كني دا په حقيقت ايښے ستا مې په سر تاج

تهٔ چي شوې راسره يو، زهٔ قابل شوم دليدو
كني څرنګه وي زما تعين ته احتياج

همګي زما په ځاے کاندي تا وته ندا
ته پوهيږي په هرځيزچرته زه چرته مزاج
زه محل دحادثو داشنا نه شي کېدے
چې کوم کارکيږي له تاغه له ما نه شي کېدے
دا همه دے ستا صفت چې مخلوق کوي زما
لَا اِلٰہَ اِلَّا اللّٰه ، لَا اِلٰہَ اِلَّا اللّٰه

جيب اووي الٰهي زارله داسې بهانو
تاله منځه اوويست ځان، زه دې کړم دښنانو
زه قبله شوم دحاجا، هيځ به دې کښې نشته شک
خو مور د هم شومه زه دګيلو او فسانو
واک دې راکړو شکريه، زه مختار دتور اوسپين
دا په سترګو مې قبول ستا دېتو خزانو
خو دا ځرنګه دے عشق چې دې زه کړمه مشغول
کړي عاشق به هم پېژنو دمعشوق دپارنول
دا چې ستا دې ستا دې وي زه خو غواړمه يوتا
لَا اِلٰہَ اِلَّا اللّٰه ، لَا اِلٰہَ اِلَّا اللّٰه

بيا هم واک وي پردے ځينې زه به څه وکړم په واک
نور کره لري الٰهي حجابونه دلولاک
په کرم دبل کرم يو حجاب په بل حجاب
تېر به او نه خورمه زه ستا دمهر په ادراک

درته کوم مخامخ خو زما نه يې غائب
څه ليدل شوچي وي ستا او ستا د غيږ اشتراک

داسي پورته کړه پرده چي "ته" هم شي پکښې غيږ
چي احساس او وهم ادراک د "زه" هم شي پکښې غيږ

چي ته هم او نه ګڼي چي دا غيږ ؤ له ما
لَا اِلٰهَ اِلاَّ الله ، لَا اِلٰهَ اِلاَّ الله

پرده لري شوه د منځ وګويا بخپل زبان
شکايت يې له خپل ځان محبت يې له خپل ځان

که الطاف و که کرم که ؤ، واک او اختيار
وو همه له ده په ده که خندا وه که ګريان

اينه چي د نسبت وه فنا شوه په صفت
عکس ننوت په ذات نه حيرت ؤ، نه حيران

شو منزل په انتها، ابتدا شوه د احساس
محمدا ؤ محمد صلی الله علیه وآله وسلم پاتې هيڅ نه شو وسواس

دا احساس وه رخصتي يو د بل نه شو جدا
لَا اِلٰهَ اِلاَّ الله ، لَا اِلٰهَ اِلاَّ الله

زه حمزه دم په پرواز په عالم کښې د خيال
د عالم ته مي د عقل غوړولے ؤ ـ يو جال

ماويل که چرته يو د معراج د کيفيت
شي د ے جال وته راښکېر يو مارغه قدري د حال

حال د قال هسې شو ورک ، شو رانده لیمۀ دخیال

خیال وحال وقال همه ، د محال په حق محال

شوه زما په التجا داپه لاس یوه کنجي

شو یو ور راته ښکاره پرې ییکلي وُ "علي"

نهٔ شوه بېرته دروازه ځوځي نهٔ شوم بې نوا

لا اِلٰهَ اِلاّ الله ، لَا اِلٰهَ اِلاّ الله

---

# میلاد النبي صلی الله علیه وآله وسلم

د نبیانو خاتم راغے دنیا راغله
د جنت نه دې چمن ته سبا راغله

د مکې په تندې ځرنګه برېښنا ده
د رحمت د بارانو تنا راغله

د هاشم په کور جلوې کړې پټ پټانې
تتوستورو د عرفان ته خندا راغله

د بتانو سترګې شوې د اور سکروټې
لات منات ته په غریو اوې ژړا راغله

شول لېوان د کفر او شرک هیبت نیولي
وارخطا وارخطا ګورې قضا راغله

جبرئیل په دنیا فرش کړل خپل پرونه
د شپېلۍ د اسرافیل نه نوا راغله

دروازه د هر نعمت په جهان وا شوه
میکائیل ته د پاک رب نه عطا راغله

د کره وره د عزرائیل سختي شوه ورکه
جوړ خدمت لره آدم ته قضا راغله

* * *

ACKU

# خاتم النبیین

حقیقت لباس د بر کړو د مجاز
د نیاز په رنګ کښې راغې همه ناز

نبي راغې د تیرو کړې په سر شوې
کاڼي بوټي جلوه دار شول د مجاز

شپه د کفر اوسیلي د منتظر شوه
چې سحر د رسالت شو تیر انداز

د احساس تارونو سُر د فطرت واخست
سندره ایز شو د انسان د ضمیر ساز

الستي فطرت محسوس کړې هم دادے
کړې الله د محمد صلی الله علیه وآله وسلم په خوله اواز

د فطرت سره اشنا هغه پیغام و
شو نزدې به چې ترې چا کړ احتراز

افشا هم په تربیت شوه مهذبه
چې لباس د شریعت واغوستو راز



ACKU

په خاطر د هغو بزرګو مستو سترګو
د توحيد د ميو عام اوشو جواز

حبشي بلال ته سيّدي ويل شول
نېک عمل کړ تور د سپين ځنې ممتاز

سړيتوب له حيوانه له جغه خلاص شو
په عمل شو د ښو بدو امتياز

د صفت د پرستش لومه جل بل شوه
فهم باغ وته د ذات وکړو پرواز

محمد صلی الله علیه وآله وسلم د عبديت رازونه حل کړل
چې معيار يې مکمل کړو د نماز

صلوة سوز دے زړه بې نور وي بې له سوزه
شمع مړه وي بې له سوز او له ګداز

پنځه بنا د سړي توب پنځه حواس شوه
دا امت په هر امت شو سرفراز

مسلمان ځکه مختار د خدايۍ شو
چې پاک رب د عبديت ورکړ اعزاز

ټول جهان د پاک الله يې خپل ګڼلو
چې طارق په اندلس وسېزه جهاز

# اوړ سترګے عشق

په ختو دے نمر دزړه ګلان موسيږي
په ادب دحقيقت نسيم چليږي
دسحر پرخه فطرت دميني بنائي
نمر ته سترګې کيږي اوبو کنيږي
ګل په خوړند سرحيران دشبنم کار ته
ورته ګوره خوخنديږي هم ژړيږي
زائران دشين ګنبد نه ګير چاپيره
پتنګان دي چي په شمع قربانيږي
يو پيره سپين وږبنته او په ملا خمه
ده روضې ته مخامخ سرګي دپيږي
انګکي ئې چي يو وخت به ئې ګلونه
دي ورناست دمخ هرو نه ئې بنکاريږي
ځائے په ځائے مات اوګوږ دبنو خټې
دليمو انګکې ئې داګه معلوميږي

زړه بودئ ئې مسلطه ده په سترګو
څو کلې دي چې ځواني پکښې موسیږي

په شینکي کښې دګنبد ئې نظر بند دے
که بلبله د سپرلي نه قربانیږي

شوه لینده د ملا ئې ښغه یو ناڅاپه
د عشق غشے بوړ د ګورت نه روانیږي

خندني سترګې ئې ډکې شوې له اوښکو
چې نمک ته ئې دژوند اوبهٔ پسخیږي

خلق چې راځي او دا په راز او نیاز کښې
عاشقان د وخت د تګ نه خبریږي

په ورو ورو ئې وې چې یا رسول الله
څو څو ځل راشم څو بیا مې هم زړهٔ کیږي

لا چې په ابتدا ښکاري د مینې
بې وفا عمر روان نهٔ حصاریږي

دربغه سترګې تل زما او ستا روضه وي
او زړهٔ ستا د محبت په تاو درزیږي

مدینه د روح مارغهٔ لره قفس کړه
که مې تن دے بچمې نهٔ پاتې کیږي

په تېر عمر بهره وره شوم له عشقه
وس پوهیږم چې احساس په مې ځوانیږي

بیا ئې غریو په یو یرغل کړه مرید بنده
ژبه چې شوه اوښکې سترګو کښې وښتې

یو حاجي کړه مخاطبه چې اے موري!
په څښ کال به دې ځوځجه پوره کیږي

بوډی اوویل چې دا یو ولسم دے
حاجي اووې چې خواهش دې نۀ کمیږي

بوډی اوویل بچوړیه بې خبره
فریضه کله ومینې ته رسیږي

د عشق سترګې خو وي تل ترتله اوږې
په دیدن د خوب اشنا کله مړیږي

# ولادت او انتقال د آنحضرت صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم

مختصر یې درته وایم د جلال حال
مفصل یې ظاهر کړے دے جمال حال

راشه واوره د سرور او د ملال حال
د حضرت صلی اللہ علیہ وسلم د ولادت او انتقال حال

د بقا او د فنا رازونه وایم
د خندا او د ژړا رازونه وایم

د احساس چې د کوم ځائے نه ابتدا ده
په تخلیق چې ختم کیږي دا بقا ده
چې تخلیق یې مکمل شي انتها ده
چې احساس یې مکمل شي دا فنا ده

له توحید مخکښې فنا او بقا نشته
خوشحالي او غم خندا او ژړا نشته
چې محسوس یې د نزول دادراک حد شو
په وجود کښې د واحد چې خوښ احد شو

ګویا قدم د حدوث سره بلد شو
چې ئې بیل له مخه نور شو محمد صلی الله علیه وآله وسلم شو

ازل واخستو وجود د دې دنیا سه
بیا وجود شو خبردار د هیولی سه

منحصر په مخ د ذات اهمیت دے
هم څرګند د کل وجود ترې حقیقت دے

نور وجود ئې جزئیت مخ کلیت دے
داخو مخ دے چې محل د معرفت دے

ځکه نور د محمد صلی الله علیه وآله وسلم ئې ترې جدا کړ
معرفت ئې خپل د دوئ په مخ نما کړ

هغه مخ چې مخ د خدائے وو د سرور شو
ذات د ربّ کهٔ وُ، ظاهر لهٔ دې اظهر شو

یو وجود وُ، هم د ننه هم بهر شو
بیا دا مخ د محمد صلی الله علیه وآله وسلم د هر بشر شو

لهٔ وحدته دوئ بیا له دې کثرت شو
معرفت ئې ممکن هله د وحدت شو

پهٔ صورت کښې دا یو نور وُ چې جدا شو
پهٔ سجده کښې محمد صلی الله علیه وآله وسلم شو په ثنا شو

کهٔ وُ کل د جزئیت سره اشنا شو
بندګي راغله چې نقص را پیدا شو

حقیقت دے چې کمال وي تل په کل کېنې
د نکهت د وجود قدر وي په کل کېنې

هغه ذات د ربّ چې پټه خزانه وه
کائنات چې نا ویلی افسانه وه

یوه شمع عبدیت ئې پروانه وه
هغه ساز چې محبت ئې ترانه وه

هغه ذات چې ئې غرض ظهور د کل و
چې له مخه ئې څرګند شو نور د کل و

دا پرتو د ذات و ذات لره مرآت شو
هم دغه پرتو بابا د کائنات شو

دے د ذات صفت مخلوق د ده صفات شو
ګویا دے صفات پخپله شو هم ذات شو

چې علمي وجود له ذاته رابهر شو
کرو صورت ئې اختیار پکښې ظاهر شو

الرّحمٰن علی العرش استویٰ داوه
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه اِنّا داوه!

هغه کُنْ او فَیَکُوْن تماشا داوه
دالشت سره ستر بلی بلا داوه

التفات چې خپل حبیب ته د رحمٰن شو
هم دې مینې وجود واخستو قرآن شو

په الحمد کښې یې محو میم د نوم شو
الف لام کښې یې سر اووښتو معلوم شو
چرته چرته مشدد د چرته مضموم شو
ګویا چرته څو ظاهر چرته مکتوم شو

د واللیل کلام د زلفو صورت اوموند
والضحیٰ یې د بشرې صباحت اوموند

په یو وخت یې ولادت او انتقال دے
په یو وخت کښې خوشحالي ده هم ملال دے
په یو وخت کښې اتصال او انفصال دے
په یو وخت کښې یې نزول او هم کمال دے

چې د حق نه را جدا شو ولادت دے
څو هم دغه جدائي ورله رحلت دے

څنې وائي چې دا میاشت د مسرت ده
چې هم دا د پاک نبي صلی الله علیه وآله وسلم د ولادت ده

څنې وائي چې د غم او د هیبت ده
د کونین د غوره شوي د رحلت ده

حمزه وائي چې غمژن دې پکښې غم کا
چې خوشحال وي خوشحالي دې دم په دم کا

پېښور ۲۲ جنوري سنه ۱۹۹۸ع

ACKU

صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم

# ښکلے نبي

چې سرهٔ دسرېتوب وو دفطرت په اننګو کښې
مسکے غوندې نظر چې دقدرت وُ، په لېمو کښې
یو روح دتسلسل چې وُ، دوچې په شېبو کښې
باران دتسلۍ وُ، په وریځو دتوبو کښې
چې شپوئې وُ، کاکل ته دخېرات کچکول نیولے
چې ورځوئې دخط دتصور وُ، شپول نیولے

دے نمر ته سترګې لکه پرخه وو وختونه
ترکیب ته منتظر دزمانې وو اندامونه
زانګو کښې دوحدت چې لا ازل لیدهٔ خوبونه
په خیال کښې دامکان چې دهستۍ و تعبیرونه
لا ذرهٔ دکائناتو دژوند نهٔ وُ درزېدلے
قدرت هم خپل جمال وته لا نه وُ، موسېدلے

ACKU

لا چرته په جوهر او په وجود کښې يارانه وه
لا چرته بوره شوې داعراضو پېمانه وه
لا چرته داسبا مو مرتبه مېخانه وه
لا چرته د کېدلو نه کېدلو افسانه وه

لا چرته پېدا شوې بوټې ونې ولولې وې
لا چرته د اُلفت په لب له غرېوه زلزلې وې

د "خُمٌ" چې ورته وايو هم پنهان وو په نقطه کښې
په مثل دېو تخم ګلستان وُ په نقطه کښې
موجود شو وُ، وجود ولې حېران وُ په نقطه کښې
آئين دېو وجود ګويا چشمان وُ په نقطه کښې

حق هم نه وُ، نقطه ځکه چې دا راځي په خيال کښې
نقطه په جبين خال وُ، کائنات وُ په دې خال کښې

دا خال وُ که جلوه وه د تخليق چې ځلېدلو
ورو ورو په موسېدلو موسېدلو لوټېدلو
هم داسې موسېدلو غځېدلو خوځېدلو
هم داسې خورېدلو نزمېدلو تخېدلو

مُسکې به چې شو ورځ به يې دشونډو نه نما شوه
چې بيا به تبسّم شو تورَشپه به راپېدا شوه

رڼا وه که تیاره چې د ازل او د ابد وه
مقدار او اندازه که څه د حد که د لا حد وه
منشاء که د نقطې نه تر الف که مد وه
په دې کښې وه موجوده د اجلوه د محمد صلی الله علیه وآله وسلم وه

خوره شوه لا خورېږي لا به لا پسې خورېږي
ورېږي زرغونېږي لا به لا پسې ورېږي

خالق او د مخلوق د تعلق د پاره راز و
نغمه ئې کائنات شو د خالق په لاس کښې ساز و
اثبات چې د خالق وربانديٍ او شو ځکه ناز و
مثبت چې له خالق شو نو په دې حقله نیاز و

تکمیل ئې چې عالم د جواهرو ته بنه ورکړ
بیا پسته ئې دنیا ته د اجسامو رابهر کړ

ادم ئې له منشاء د سرې توبه خبردار کړو
مرکب حیوانیت ئې کړ انسان ئې پرې سوار کړو
ځرګند ئې بې احسانه ورته فرق د نور او نار کړو
دنیا او د دین دواړو امتزاج ته ئې تیار کړو

دنیا او اخرت ئې د دوو سترګو په مثال کړل
که دوه دي خو یو دي نې په دا شان ئې په یو حال کړل



ACKU

راتلل د نبيؐ څخه ؤ، په عالم کښې جمال راغے
افراط شو نۀ تفريط شو چې کوم دم اعتدال راغے
عالم ته د تفصيل چې هغه څلندہ خال راغے
بيا پاتې نقطه نۀ شوہ "خال" په شکل د "حال" راغے

پرتو د سرې توب په دې آئين کښې را ښکاره شو
انسان د خپل جمال او د ښائيست په ننداره شو

هم فرق نۀ شولو پاتې په اقا او په غلام کښې
معيار د فضيلت شو بس عمل په خاص وعام کښې
باده د مساوات شوه د اسلام په ښکلي جام کښې
د رنګ او عصبيت امتياز ورک شو په اسلام کښې

بلالؓ غوندې حبش ته ئې ياسيّدي خطاب ؤ
داخُلق د پاک نبيؐ څخه بې مثال او لاجواب ؤ

سلام دې په هغه وې چې رحمت دے دکونينو
درود په هغه پاک چې دے اقا د ثقلينو
سلام دې په هغه وې چې صاحب دے د دارينو
درود په هغه پاک چې وہ بابا د حسنينؓ

سلام دې تل ترتل وي پرې بابا چې د زهراؓ دے
درود په هغه ښکلي چې اخي د مرتضیٰؓ دے

سلام پهٔ هغه نوم ئې چې باعث د اطمینان دے
درود په هغه ذکر ئې چې ذکر د سبحان دے
سلام شه په هغه چې هر یو گل ئې گلستان دے.
درود مې په هغه دے چې مولا د مسلمان دے

سلام د حمزه څهٔ دے؟ چې پاک رب پرې سلام وائي
درود د حمزه څهٔ؟ چې ملائک ئې دوام وائي

---

صلی الله علیه وآله وسلم

# میلاد النبی

پردې د زړۀ د ساز چې پۀ پنجه د یزدان راغلې
سندرې د ځوانیو د فطرت په زبان راغلې
وریځې د انوارو د مکې پۀ اسمان راغلې
جلوې د رحمتونو د جړبو په شان راغلې
ځونه تړې د تسنیم او د کوثر پۀ ورېدۀ شوه
فضا، د جنتونو د منظر پۀ ورېدۀ شوه

ښکلې ټکه د سپېغلې "ګل ورینه" خندا اوکړه
احساس د زلمي توب "سمرجبینه" خندا اوکړه
سختئ د تورو زړونو "مرمرینه" خندا اوکړه
لبانو غړېو نیولېو "بخملینه" خندا اوکړه
شرابو د بدئ لړه نمک د توبې راغې
نشې د سرکشئ د پاره څک د توبې راغې

ACKU

نغمې د جنتونو د فاني دنیا په ساز شوې
جاري د حقیقت نهې په ژبه د مجاز شوې
د مینې سترګې تورې په رنګو د امتیاز شوې
ساده ساده خبرې په بها کښې لکه راز شوې
نیسان ؤ، یو څو دُر د اطمینان په ورېدهٔ شو
هر شے ورته صدف غوندې په ښکته وازهٔ خولهٔ شو

وشمعو ته ئې راغلل چې کافورو ولهٔ وحدته
زړهٔ دونې د بیت الله شو د جشنو لهٔ دهشته
د وچې ابابیل ګلونه داوړل لـهٔ جنته
فضا د زړونو ډکه شوه د مینې لهٔ نکهته
سنګین زړونه راتنګ شول د بتانو په حرم کښې
کړهٔ وړهٔ د تصویرونو د حیرته شول په دم کښې

سجدې شولې راجمع په تندو کښې په خندا شوې
چې سترګې د جلوو په تماشه شوې تماشا شوې
ینولې تمنا د عشق سنګین وې بخلا شوې
د ډېرې مودې ورکې تسلئ بېرته پیدا شوې
ثنا حجرِ اسود د تودو زړونو په شکست کړه
وعدهٔ ئې اوچو شونډو ته وریاده د الست کړه

ACKU

وريځ د نور شوه ښکته د هاشم په کور شوه ښنده
رِداوه بجوړ د حق چې خپره حق کړله بربنډه
ندا شوه تړې بهر ټکني يو برق چې اوکړه منډه
اوس شي به له دې کوره د دنيا دامن غونډه
او ترشو دکسرلی دهوشمانۍ په زلزله شوه
په زړهٔ کښې د قيصر د ويرې جوړه سلسله شوه

پيدا شو هغه کس چې مدعا د پيدا اوښت وُه
ظاهر يُ هغه ذات کړ چې منشاء د پيدا وښت وُه
مسکے شو ورکوونکے چې ژړا د پيدا اوښت وُه
چې نمر د هدايت وُ، او رڼا د پيدا اوښت وُه
خوارهٔ د پلو شو ورځنۍ غشي هر طرف شول
لينده د رسالت رابنکه شو زړونه يُ هدف شول

بدي لکه د خوب د مالګجنو سترګو لاړه
نيکي شوله راويښه په خندا شوه راولاړه
ګلونه د توحيد شو راخرګند د شرک په شاړه
سپرلے د سرپيتوب شو ارمانونو ته ترغاړه
فطرت لکه بلبل د پاک احد په ثنا سر شو
هر ګل د بوئ په ژبه د احمد صلی الله علیه وآله وسلم په ثنا سر شو



ACKU

هستۍ چې په ښستۍ کښې د ستۍ وُ خوب لیدلے

تعبیر ئې بلندي شوه چې پستۍ وُ، خوب لیدلے

هستۍ بې محمد صلی الله علیه وآله وسلم ! د ښسۍ وُ، خوب لیدلے

دنیا شوه سیه مسته چې مستۍ وُ، خوب لیدلے

احساس لره رنړا د عقل راغله منور شو

مکه د مزکې زړهٔ وُ، مدینه د مزکې سر شو

کرګره شو د ښکي همه کابرهٔ کیلونه سم شول

یو ژغ تر د فطرت همه سرکښ څټونه خم شول

پهٔ سپاره د توحید د جهالت ختکي درهم شول

پهٔ وتره د الهام بیابانونه هم ارم شول

حاصل د معرفت شو د دنیا له بوټې بوټې

تالا کړل د تهذیب ګلونه خلقو موټې موټې

پیدا شو هغه کس چې د بې کسو مددګار دے

پیدا هغه فقیر شو د شاهانو چې سردار دے

پیدا هغه ګلزار شو چې هر ګل پکښې بې خار دے

پیدا هغه نسیم شو تول جهانٔ چې ګلزار دے

پیدا د آمنې د سترګو تور د جهان نور شو

پیدا د مطلب د سترګو نور د زړهٔ سرور شو

سلام په هغه ذاتؐ شه چې محبوب د کبریا دے

درود په هغه پاکؐ دې وي بابا چې د زهراؓ دے

صلوٰة په هغه نورؐ شه چې اخي د مرتضیٰؓ دے

سلام دې په هغه وي چې نیکهٔ د مجتبیٰؓ دے

سلام شه پرې پیدا چې چرته کفر کربلا کا

حضرت ورته نمسے امام حسینؓ غوندې پیدا کا

چې هر څوک د پنجتن نه لرې یاري

مرګ د روح يې دے لهٔ دغې بیماري

د کور خلق برابر د پردو نهٔ وي

زهٔ اول یم پنج تني بیا چار یاري

چې احمد صلی الله علیه وآله وسلم علي رضی الله تعالی عنه زهرا رضی الله تعالی عنها حسین رضی الله تعالی عنه واړه

اولی نهٔ کړمې غیبت کوي خواري

پس د دوئ نه مې پسند واړه اصحاب دي

چې لرې په تابعینو سرداري

زهٔ حمزه د بوتراب د در تراب یم

چې يې فیض تر قیامته دے جاري

★



ACKU

★

آدم د پاره وُ ، په دُعا کښې اثر علیؓ
کنعان د پیر امېد ، د لېمو نظر علیؓ

قران اذا تلها پرې آیت کړلو ګواه
حضرت نبي ﷺ شو نمر دهدیٰ او قمر علیؓ
سلمانؓ وُ، کهٔ بوذرؓ وُ، کهٔ مقدادؓ وُ، کهٔ عمارؓ
هر یو زمونږه تاج وُ، د دوئ تاج د سر علیؓ
د زړونو که پرسان کړې که پرسان کړې لهٔ لېمو
موجود مې دے درون کښې هم دے بهر علیؓ

حمزه نامه ئې اخله چې شي زور د ماسوا
یرغل ته داوهامو کړې پیدا خطر علیؓ

---

★

پهٔ دعا کښې د آدم اشر عليؓ دے
پهٔ ليمهٔ کښې د يعقوبؑ نظر عليؓ دے

د اذا تلٰها څهٔ نوري تفسير شته
نمر د علم محمد ﷺ قمر عليؓ دے

الف لام کهٔ مبتدیٰ ميم ئې خبر وي
ميم د هر څهٔ مبتدیٰ خبر عليؓ دے

چې ئې ستر کې د نبي ﷺ پهٔ مخ پرانستې
پهٔ تيرو د ضلالت سحر عليؓ دے

ستا باطن ظاهر بهٔ دواړه حمزه ښهٔ شي
بې نوا پهٔ خوئ نبي ﷺ پهٔ بر عليؓ دے

★

ګویا یو موج دے دقدرت په سیند کښې زور د علیؓ

زړهٔ دالحاد د بربوکو چوله شور د علیؓ

ورور د علیؓ که وُ، نبيؐ، نبيؐ ورور د علیؓ

کور د علیؓ وُ، د نبيؐ د نبيؐ کور د علیؓ

نامه د خدائے تعالیٰ چې شوه نامه د علیؓ نام خدا

ځکه نښان شولو سوا د حدنه خور د علیؓ

پرانیزه سترګې څهٔ پرسان د مرتبو یې کوې

باغ د اسلام دے په رنګ رنګ ګلو سمسور د علیؓ

چې په شکم کښې د مادر یې هدایت کولو

وما سوی ته احتیاج کنه پېغور د علیؓ

څوک یې چې غم د فرزندانو کاندې غم یې څهٔ دے

دے چې محبوب د کبریا غونډې غم خور د علیؓ

چې غوړه شوے د کوثر د اوبو وېش لره وُ

په مصیبت د صبر جام نهٔ شو نسکور د علیؓ

راشه جوهر د قربانئ کره رابهٔ زړهٔ د حسینؓ

دسرېتوب په ائینه باندې دے پور د علیؓ

حمزه نظر بهٔ وي پرې تل چې بې نوالمهٔ وي

اوشوې ککلې دې چې ککلې دې چې په تور د علیؓ

★

★

چې مخلص په محبت کښې دغلي يم
زه هر څو که ګنهګار يمه ولي يم

لا به ما په خوب کښې ليد په ماشومتوب کښې
په شباب کښې شوے نه يم ازلي يم

دادمغي پاکي ميني برکت دے
چې دښمن د خارجي او درغلي يم

دا چې څه زما دخولې نه اوريدۀ شي
هم ددې په څېر په زړۀ باندې جلي يم

شوه سرسبزه مې هستي له بوترابه
ددانې نه رسيدلے ترپلي يم

هر قدم دتخيّل مې چې رفعت ته
فخرِ علم ته چې خاورې دتلي يم

دا علمونه ظاهري دي تول هرونه
باب دعلم روڼ دے کړے په نلي يم

کربلا شي ما حمزه ته چې دانه وي
دحسينؑ دذکر فکر عملي يم

★

★

د شفق سرخي د وينو دے نشان د حسینؑ
نن معلومیږي رزمګاه هر بیابان د حسینؑ

باد د سبا چې په دوه دون د یثرب په طرف
غم د اصغرؑ چې کړي زلفانې پرېشان د حسینؑ

څښبنه د جوش او اشتیاق د شهادت ده که وي
نهٔ منافي دي د رضا چشمې ګرېان د حسینؑ

ولي به نهٔ وي په هیبت عرشؑ او کرسي او قلم
چې دي نهر د دریو ورځو ماشومان د حسینؑ

سخته کړي محاصره، لوږه، اوتنده ، اِلـــهٔ
زین العبادؑ، اکبرؑ، اصغرؑ او قاسم جان د حسینؑ

چرته زینبؑ چې سر سپوږمي يې کړه پرده لهٔ مخه
چرته کربل ډک لهٔ بلا او خاندان د حسینؑ

د قاسمؑ ناوې له يې جوړ شهٔ پهٔ شانه کړو وریل
ګویا چې خوړئې پهٔ خزان کړو ګلستان د حسینؑ

چرته خنجر د شمر چرته بوسه ګاه د نبـــي
چرته خزران، چرته بنا ئسته دُر دندان د حسینؑ

د آسمان ستر ګو به داهم لیدلي نه وو حمـــزه!
پهٔ کربلا چې شو بنکاره ورته جولان د حسینؑ

عاشوره ۱۳۵۷ هـ

ورکه بلا د خوار امت کړله بلا د حسینؑ
ځکه د هر مسلمان زړه دے جلوه گاه د حسینؑ
د تن ویښته د حال په ژبه کړي ثنا د حسینؑ
سخ د هغو سر کښې د چا چې وي سودا د حسینؑ
بوی شو قاصد یثرب ته چې باد د سبا د حسینؑ
شفق په وینو کړي ژړا په ابتلا د حسینؑ

په ملکوت کښې ځائے ځائے د اسې شور دے ولې
ستم ایجاد فلک د غمه نه نسکور دے ولې
د فرښتو په سر د غم ابر راخور دے ولې
چا کړو ستم مخ د افق د اسې تک تور دے ولې

زلفې خورې دي مضطرب ولې بابا د حسینؑ
شفق په وینو کړي ژړا په ابتلا د حسینؑ

عرش ښکلولو ته د مزکې نن تکل کړي ولې
نن علیین ته د ختلو نیت اسفل کړي ولې
نن سموونه د فلک ښکته مزل کړي ولې
نن عوارض بغیر د جسم نه غوبل کړي ولې

چشم حیرت کړي تماشا ارض و سما د حسینؑ
شفق په وینو کړي ژړا په ابتلا د حسینؑ



ACKU

نن په خېل منځ کښې ملائک کړي په حيرت خبرې
حورې غلمان وائي د سوز او د حسرت بدلې
د نظارې ته قدرت هم پردې له مخ کړې لرې
راځي په جوش کښې د تسليم او د رضا لښکرې
جنګ ته تيار چې شول اصحاب باصفا د حسينؑ
شفق په وينو کړي ژړا په ابتلا د حسينؑ

نن د کرمې چې له وحشته ساه ډوبيږي ولې
يخې خولې د پېشه کال په مخ بهيږي ولې
د کربلا خشکه صحرا ګلستانيږي ولې
سبا په څڅو د يثرب په لور چليږي ولې
وري په ژړا خبر الورئ ته ماجرا د حسينؑ
شفق د وينو کړي ژړا په ابتلا د حسينؑ

سبب ئې څه دے بې قرار چې شهيدان شو دوبار
تللي روحونه ئې قالب ته په رفتار شو دوبار
د کائنات د نياز سرونه نګونسار شو دوبار
بعثنا سيّدي للحرب په ګفتار شو دوبار
د روح په غوږ د مَنْ ناصر ئې شو صدا د حسينؑ
شفق په وينو کړي ژړا په ابتلا د حسينؑ

څوک وه چې وَس یې د مرکب ورته رکاب اونیسو
لاس د قدرت وُ، په پنجه کښې یې مهتاب اونیسو
د جلالت نه چې په لاس کښې یې نقاب اونیسو
نمر په اسمان کښې د خسوف نه حجاب اونیسو

په رخصتۍ کښې زینب واخستے بلا د حسینؑ
شفق په وینو کړي ژړا په ابتلا د حسینؑ

منم چې داغ یې د اکبرؑ د شهادت وُ، په زړه
بار د واده د شه قاسم یې هم حشر وُ، په زړه
د علمدار غوخ مړوندونه یې قیامت وُ، په زړه
خو یو جوش د شهادت چې یې راحت وُ، په زړه

قضا ته سر اېښے په مخکښې وُ، رضا د حسینؑ
شفق په وینو کړي ژړا په ابتلا د حسینؑ

نعرې د چا په کائناتو مسلط کړو سکوت
جلوې په چا قربانېدو ته راليږي ملکوت
د انبیاؑ وُ په نظرونو شو کربل جبروت
په آئینه کښې منعکس شولو ناسوت د لاهوت

پورته اتمام ته د حجت چې شوه ندا د حسینؑ
شفق په وینو کړي ژړا په ابتلا د حسینؑ

دښمن ویل مونږه منو چې يې فرزند د رسولؐ
د زړه ټوټه د مرتضیٰ يې جګرګوښ د بتولؓ
که د اجل چري پېرزو د ئې په ځانونو وي نزول
راشه بیعت زمونږ په مخکښې دیزید کړه قبول
ورته جواب کښې ذوالفقار وکړه برېښنا د حسینؓ
شفق په وینو کړي ژړا په ابتلا د حسینؓ

لرې پرده شوه اصلي رنګ کښې نمایان شو اسرار
چې د امام په قتلولو باندې سر شو اشرار
بیا چې شبیرؓ نه شو علیؓ سته امامت په رفتار
که چا کتے شولے بخپله بې حجاب و، ستار
دپاک وجود نه چې جدا شوله ردا د حسینؓ
شفق په وینو کړي ژړا په ابتلا د حسینؓ

شا تور شے راغے ذوالجناح زخمي په حال زبون
ددین پټے دادے خړوبه کړو امامؓ په خون
کښت وجنت دذوالجناح هره ادا د جنون
وکرامت د امام بې او بو ژوندے چې و، سنون
دمظلومیه وایې نوحه وس کربلا د حسینؓ
شفق په وینو کړي ژړا په ابتلا د حسینؓ

---

شه زین العابدینؓ

راغله دمشق ته قافله چې بندیوان دي همه

پټ په وریځ کښې دبلا دبرق پښان دي همه

څهٔ سرتورسري کنډې رنډې یتیمان دي همه

خبرې دا د محمد صلی الله علیه وآله وسلم دخاندان دي همه

میر دکاروان بسته په اوښ زین العباد حسینؑ

شفق په وینو کړې ژړا په ابتلا دحسینؑ

ذبح عظیم شو مکمل پاتې نور حال نهٔ شو

زیر دمنت وُس دا کمال پاتې اجمال نهٔ شو

یار د هندے د زوے د زوے سره اقبال نهٔ شو

ځائے دعبرت دے آل ئې پاتې پهٔ دنبال نهٔ شو

حمزه شاهان دي ځائے په ځائے آلِ صفا دحسینؑ

شفق په وینو کړي ژړا په ابتلا دحسینؑ

محرم سنهٔ ۱۹۳۹

---

# مېړنے حسینؓ رضی الله تعالیٰ عنه

الله الله ! د شهادت هغه منظر د حسینؓ

چې شمر غوڅ کړو په خنجر د ستم سر د حسینؓ

سر په ثنا د رب صمد شو هر پرهر د حسینؓ

لکه چې کل وي له اجزا، اجزا له کل وتلي

حُسَیْنٌ مِنِّی وَاَنَا مِنَ الْحُسَیْنِ راغلي

دے يې رڼا وُ، چې بابا اوګڼو نمر د حسینؓ

لهٔ سمعًا وبصرًا پکښې صفات د يزدان

د نوح نبي په څېر يې نهٔ وه مدعا د طوفان

د ستم حد او شو خو سترګه نهٔ شوه تر د حسینؓ

په کوم ساعت چې د حادث ځنې قديم شو جدا

عرش وُ، په مزکه اوريدے شو ترې کلام د مولا

سر د قران په تلاوت په نېزه سر د حسینؓ

تنده ګرمي او بې کسي او خاندان د علیؓ

غريو د زينبؓ د صغراؓ چغې د بانو اسويلي

زلزله تندر او سیلۍ ګوره ځيګر د حسینؓ

لکه مارغان ويرې اخستي بې سکت شول اشراں
چې ذوالفقار داژدها ژبې بهرشوې هـزاں
شوله نيامه په غضب چې رابهر د حسينؑ

بيا په شانه ئې د بلا خپله ګمنځ کړ څرے
دشهادت ناوې سيند ورکړه دحشر په درے
چې دحرم نه کربلا ته شو سفر د حسينؑ

چې په لسمه خزان راغے په چمن د عليؑ
داويره نه ده کړې ددوو سترګو ديدن د نبيؐ
دادخيمو په لوري اورے چې نظر د حسينؑ

دشهادت په وينو رنګ چې شوه لمن د امامؑ
دفضا سترګې شوې ګلرنګې دشفق په خرام
فطرت ژړا وکړه په پرخه د سحر د حسينؑ

امام په وينو خشکه مزکه دکربل کړه چمن
حمزه که تندې د فراق دې سوخته کړے وئ تن
پل ئې په پل بدده ملاقي شه په کوثر د حسينؑ

# د
# کربلا میدان

زړه به ظلمونه دیزید درته بیان کړم څه
لکه د نمر چې وي عیان هغه عیان کړم څه
ژبه اور واخلي د زړه نه، که پنهان کړم څه
واخله په ټکیو چې د غم اوښکې باران کړم څه
د تخیل سیند مې همه جاب جاب دے نن
زړه مې پولے چې په اولاد د بوترابؓ دے نن

داسې ظلمونه چې فطرت هم ترې امان غوښتو
داسې ورانۍ وه چې غارت هم ترې امان غوښتو
داسې طوفان ؤ، چې هیبت هم ترې امان غوښتو
داسې تنګسه وه چې دهشت هم ترې امان غوښتو
د پاک نبي صلی الله علیه وآله وسلم په نازولیو چې ستم شوے دے
دا جهان څه په ملکوت کښې ئې ستم شوے دے

دکربلا یوه بلا وه د بلا کرمي
دومره گرمي وه چې بیا نهٔ کیدهٔ دچا کرمي
سموم به چغې کړې چې نن دهٔ نشته بیا کرمي
سخته وي حق ده په رښتیا د ابتلا کرمي
ځومره چې لوړ وي خشکه ځوکه هغه غربهٔ لري
چې مرتبې جګې لري بلا په سر به لري

هوا په تښته وه چې ځم لمن دغر لټوم
د سیند بخار وې د سېرلي چرته سحر لټوم
ورځې په مخ لوستو غبار چې نماز دیګر لټوم
لیمهٔ به وي نظر ته صبر کوه نمر لټوم
مزکې پوله دزړهٔ ځمې کړي چې نور تاب نهٔ لرم
سیند وې چې مزکې ته بې اب شوم جواب نهٔ لرم

هلته نعمت وُ چلند چلند یو ساعت سورے
دکړمو کرمو بربوکو وُ ، غنیمت سورے
نمر شو په سر په تن کښې پټ شو په هیبت سورے
کله موندے شي په میدان کښې د قیامت سورے
تندې دزړهٔ په چینو وچو کښې ډېرې کولې
او ژبو تکندې غرمې وته خبرې کولې

ACKU

شکې دُعا کړه چې که نن سیند وسېلاب نهٔ شم
خدایه چې بیا تندې وهلیو ته سراب نهٔ شم
مښک و عنبر چې پهٔ اولاد د بوتراب نهٔ شم
ماکړې تراب چې په سنګ لوګښې حساب نهٔ شم

پېغمبرې زلمي غرموته بې کفن پراتهٔ دي
کهٔ د حیدرٌ د زړهٔ ټکرې په خوړلن پراتهٔ دي

ښکر د سیند اوبهٔ پرې بندې کړې طوفانٌ اوګوره
د کربلا سخته ګرمي او بیابان اوګوره
د پېغمبرٌ د خوږې کونډې ماشومان اوګوره
د دریو ورځو جل اخستي سیدان اوګوره

چې زیړ زېبخلې غوټدې ښکارې حیدرٌې زلمي دي
د کوټ او بو چې پیاسته دار دې کوثرې زلمي دي

د تندې حدٌ، ماشومانو واویلا اوکړه
یو ترهٔ قیدهٔ بل بوګښندهٔ بل پهٔ ژړا اوکړه
سکینې چغه دادې او د بابا اوکړه
اصغرٌ سوره په ابابا کښې دماءما اوکړه
د تندې حدٌ، پهٔ عباسٌ د صبر حد راغے
سپور د همّت ته یې غیرت لکه مدد راغے

ACKU

مشک په اوږه په یو یرغل غوښې پرې کړې عباسؑ
دسکینېؑ دپاره دواړه مټې پرې کړې عباسؑ
دکربلا ښکې په څپلو وینو سرې کړې عباسؑ
داس نه پرېوتو حسینؑ وته نعرې کړې عباسؑ
لاله چې مشک مې په ارمان دسکینېؑ ژاړي
داسته چشمان مې په خرمان دسکینېؑ ژاړي

حسینؑ وئیل ورته بیک بیک زما وروره
داېمه درغلمه ، وادے خلم بلا وروره
ماته مې ملا دحوصلې شوه په مرګ ستا وروره
په ما دردمنه په میدان دکربلا وروره
حسینؑ پرې شوې اندامونه دعباس اوښیول
خه یې په لاس کښې نو دې تول په اوږه یاسؑ اوښول

علي اکبرؑ چې په بهار وُ ، دځوانۍ راغلے
هغه بلبل چې په ګلزار وُ ، دځوانۍ راغلے
هغه طوطي چې په چغار وُ ، دځوانۍ راغلے
هغه پیکر چې ورته هار وُ ، دځوانۍ راغلے
چې خط او خال یې په بشره دپیغمبرؐ ښکاره وُ
په قد قامت په شجاعت لکه حیدرؑ ښکاره وُ

مقابلې له زلمي علي اکبرؑ لاړو
مقابلې ته د زړګونو یو نفس لاړو
د یزیدي فوځ په پرو کښې لړ او بر لاړو
اخر بهر په یو نیزه کښې ئې ځګر لاړو
په پرېوانهٔ شو، وې بابا زما خبر واخله
په وروستي وخت کښې دې په غېږ کښې خپل پسر واخله

حسینؑ ورد وکړل دا ئې وې د زړهٔ قراره ولې
زما د مړاوي زړهٔ چمن لره بهاره ولې
سر ئې په غېږ کړو وې چې آ زما سرداره ولې
ولې زما د ارمانونو انتظاره ولې
علي اکبرؑ او کتل پلار ته په زېس زېر لاړو
د پلار په مخ د کوثري اوښکو بهیر لاړو

طواف د شمعې کله کیږي چې پتنګ پرېښود
کله کېدهٔ شوه چې هغه میدان د جنګ پرېښود
کله قاسم پیغمبرؐي، حیدرؓي، تک پرېښود
لاړو میدان ته د خوږې ناوې ئې څنګ پرېښود
د مرګ خزان د پیغمبرؐ علیؑ په باغ ونګېد
مرګ د قاسمؑ پس د اکبرؑ نه داغ په داغ ونګېد

امام ولاړ دے شهید انو ته حیران ګوري
چرته زاړهٔ چرته ځوانان او ماشومان ګوري
څهٔ پرده داري سترګي هم د جنګ میدان ګوري
یوه پهٔ سور سالو کښي ناوي په ارمان ګوري
وائي زینبؓ چي ژړا شهٔ دهٔ خولمهٔ چرته دي؟
ما بهٔ باران پهٔ تربیو او کړو خو اوبهٔ چرته دي؟

زړونه بهٔ وائي د بیبیانو چي بهر ورشو
چي پهٔ قاسمؓ او پهٔ عباسؓ او پهٔ اکبرؓ ورشو
چي مو سایه لهٔ سره دروي چي پهٔ نمر ورشو
دي مو د سر پروني تلونکي چي تورسر ورشو
یوه ماشومه د خیمي په پرده لاس نګوي
ترور يې چي کوز کړي ځني خلاصه غږ يې پاس نکوي

رنګ يې پهٔ وینو د اصغرؓ بنګلي تندي ښکاري
پهٔ اراده کښي يې د صبر غرونه ښکاري
نهٔ چي خیمي ته کهٔ نظر يې کړندي ښکاري
چي لا پهٔ شونډو يې لهٔ غربوه رپندي ښکاري
وائي د زړهٔ د استقلال پهٔ لاس امام ورکوي
حکم قدم ته به پهٔ لوري د خیام ورکوي

زړهٔ ئې په ځائے کړ امام راوړ زیږ زېنځلے بچے
بانو وېل امامه راکړه زما ښکلے بچے
اوبهٔ دې درکړې کهٔ دے تخنګه داسې غلے بچے
اوښکې ئې اوڅښلې وې واخله جل وهلے بچے

حرمل د غشي د توبرې ورته اوبهٔ ورکړې
زویه دې مخ د شهادت ته واخله سرهٔ ورکړې

بانو لاسونه وراوږدهٔ کړل خو نظر ئې نهٔ وُ
کسې ئې دوغ وُ، د څهٔ کار وُ چې اصغر ئې نهٔ وُ
زړهٔ ئې پخوا وُ، ناتوانه چې اکبر ئې نهٔ وُ
دومره ئې اووې "هسې ارمان دے چې حیدر ئې نهٔ وُ

ن به دنیا کښې چې صاحب د ذوالفقار نشته
د معاویهٔ د زوئے په زړهٔ کښې ځکه دار نشته

حیران حیران به سکینې ورته نظر اوکړو
بیا د اصغر نه به ئې پوښته په مادر اوکړو
خبره نهٔ وه څهٔ تقریر ئې په پدر اوکړو
خو د ترور اوښکو ئې په زړهٔ د غم خبر اوکړو

په کوکو سر شوه وې زما په برادر څهٔ اوشو
شوه ورترغاړه وې چې موری په اصغر څهٔ اوشو

دلته دا حال و، د بنګړ نه بهر ز وګ راته
د پېغور غشي دا امام صاحب په غوږ راته
د خېمو خواته وار په وار به شمر سګ راته
ورته په جوش به دامام هاشمي رګ راته
غږ به یې اوکړو چې که زوړ یې د حیدر راشه
کله به خلاص رانه د ننه شي بهر راشه

امام اتمام ته د حجت ورته بهر راغې
ګویا په سر د کفرستان د تېرو نمر راغې
سترګې حیراني وې حسین و، که سرور راغې
او به ستو تریخې د کوفیانو چې حیدر راغې
حسین ویل ورته زه څوک یم پېژندلے مو یم؟
که مو لیدلے پخوا نه یم اورېدلے مو یم؟

هغو ویل ورته چې مونږ همه تا پېژنو
حسینه مونږ دې نیکه هم دې بابا پېژنو
رانده خو نه یو بنه سبا او بنه بېګا پېژنو
بس خو بیعت د یزید اوکړه مونږ دا پېژنو
بې د بیعت نه د یزید دے بل مخ نشته
که دې انکار وي په دې پوښه چې دې سر نشته

پوهه امامؓ شو چې اوس وخت مې مقرر راغے
د قربانۍ د پاره وار زما د سر راغے
د خدائے تعؒ په در کښې حاضرې لره خېر راغے
هغه ساعت د شهادت مې منتظر راغے
هاتف آواز کړو لا په ژوند درته يو غم پاتې دے
امامه! لا خو د يزيد حد د ستم پاتې دے

پس د اتمام نه د حجت يې ذوالفقار اونيو
د سامعې محل کوکار او شرنګهار اونيو
کوم پهلوان به د کند پوش فقيرکنډار اونيو
آخر له لرې يې د غشو ورته وار اونيو
سوړ سوړے چې شو د آس نه ناتوان پرېوت
جګ يې اسلام کړله پخپله پهلوان پرېوت

د خوشحالۍ نه شمر هسې ناروا اووېل
هغه ملګرو ته له جوشه مرحبا اووېل
برېت يې کړه تاؤ او بيا يې داسې په خندا اووېل
زخمي زخمي ناتوان امامؓ وته يې دا اووېل
ته را ته ګوره چې خېمې دې په رڼا لوټ کړم
زۀ چې نمسے اولونه نګښتي د زهرا لوټ کړم

دا اورېدل وُ چې له سوخته هغه ځوان پاسېد
دژوند ډيوه ئې په سلګو وه پهلوان پاسېد
داور بخري ترې وتل همه چشمان پاسېد
لاس ئې کړو غشي ته راوائې خست کمان پاسېد

وے اے شمره! بې غېرته خبردار اوسه
زهٔ لا ژوندے يَم دخېمونه مې کنار اوسه

دغه ستم وُ، په ژوندينې چې امام وليد
خبر ئې تالاته دنبي دکور غلام وليد
دلته امامؑ دقربانۍ بلند مقام وليد
دلته خيل ځان ته ثقلين ئې په سلا وليد

په ننداره کښې ترې دځان وتن خبر لاړو
بيا خبر نهٔ شو چې کوم وخت ورځنې سر لاړو

---

ACKU

# کوثري زلمي
رضی اللہ تعالٰی عنہم

اے فلکه! نهٔ ماتېږي ولې ستا د انصاف تله
دېرې وونو جرګه ژاړي غریو نیولے کهکشان دے

پهٔ خولو د مظلومانو هم خړوبه نهٔ شوه تنده
د کوثر په خاوندانو څنګه نوے امتحان دے

د اسلام د تکمیل نخښه شوه ښکاره پهٔ کربلا کښې
دا ایثار چې د حسینؓ و، د اسلام د شان نښان دے

زهٔ حېران یم ورته څنګه د امام قتل آسان و
چې هر یو ته وه معلومه چې د ځوان پهٔ نبيؐ ګران دے

یو تصویر د قربانۍ دے شهادت د حسینینؓ
کهٔ هر څو ښکاري خاموشه چې راوړي خلق ګویا دے

حمزه مینه د امامؓ دې کور ښهٔ کړه کهٔ پوهېږې
هم پهٔ دغې مېلمنه دې ویران کور د زړهٔ ودان دے

* * *

# کربلا

یو یرغل د اسوېلو شو په مېدان د کربلا
اوبن د تاو د برېبوکو کړ بیابان د کربلا

په لمبو د خپلو ستورو رڼا گرد د کهکشان شوه
چې راغلے ستړے ستړے و، کاروان د کربلا

چې ځوانی رته د مراد ئې رسید نه شول ارمانونه
ژړوي مې په سرو سترګو ماشومان د کربلا

د شفق د وینو برخه د اسمان په مخ خوله شوه
اوس به ژاړي[۱] ترسحره ماشومان د کربلا

د کوثر له خاوندانو مرغلرې اوښکې جار کړه
تخیّل دې حمزه بحر کړو یزدان د کربلا

---

۱ یعنې شفق به د کربلا په ماشومانو ژاړي

# انسانیت د حسینؓ

رضی اللہ تعالیٰ عنہ

زیات د هر چا نه به انسان وي ثناخوان د حسینؓ
انسانیت به فراموش نهٔ کا إحسان د حسینؓ

هغه په خدائے به حواله ورکړي یقین دے زما
د محمد صلی اللہ علیہ وسلم نه که هر څوک اوښتي حال د حسینؓ

هغه هم شي وي چې خاطر ېې د بابا ؤ، جمع
دغه هم شي دي چې زلفان دي پرېشان د حسینؓ

یو هغه وخت چې ئې دنیا د سترګو اخلي بلا
یو دغه وخت دے چې ېې یار د ي چشمان د حسینؓ

لکه د وخت ئې واقعات کنداروال شاسته
د حادثو ځنې همت ؤ، په امان د حسینؓ

کړ په زغم جنو پاکو ادبنکو ئې رضا اودس
نمونځ د تسلیم، ګویا معراج شو په دامان د حسینؓ

غني وي پرانستي خوشبویه ته هر یو ګل په خندا
فیض د دوام په برخه راوړ ګلستان د حسینؓ

محرم ۱۹۴۵ئه

# شهید

## د کربلا څوک وُ؟

هغه حُسن چې پهٔ ذات دکبریا کښې ځلیده
هغه نمر چې ئې پهٔ افق دمنشا کښې ځلیده
هغه نور چې دهستئ پهٔ ابتدا کښې ځلیده
د عدم وجود په لَا او پهٔ اِلّا کښې ځلیده
جوړه دید لره خالق ئې ائینه کړه دهستئ
بیا پهٔ خپل حُسن سینه ئې گنجینه کړه دهستئ

دغه حسن وُ نبيؐ چې ئې کامل انسانیت کړ
پهٔ دربار دسړي توب کښې ئې سرخم ملکیت کړ
پهٔ اخلاقو دخالق ئې چې دخلقو تربیت کړ
د الحاد وکفر شرک ئې لهٔ دنیا لرې لعنت کړ
پهٔ همو لوبو لوبو مرتبو ئې دے نمانځلے
بس خو یوله خدایه پسته دے پهٔ ټولو کښې بنا غلے

مېين توب وُ، اوکهٔ مينه وه، کهٔ راز وُ، کهٔ نياز وُ
کهٔ فراق وُ، که وصال وُ، کهٔ په دې کښې سوز وساز وُ
په هر څهٔ کښې محمد صلی الله علیه وآله وسلم په انبياؤ سرفراز وُ
نبوت کهٔ امامت که يې معراج سره پروان وُ
شهادت يې هم د نورو انبياؤ نه بلند وُ
لکه نمر په روښنايي کښې په همه ستورو څرګند وُ

مکمل يې شهادت کړل ځواني شهادتونه
مکمل کړل محمد صلی الله علیه وآله وسلم د خدائے د دين عمارتونه
شهادت د حسنينؓ کوي دا اشارتونه
پکښې پټ دي د نبي صلی الله علیه وآله وسلم د شهادت حقيقتونه
شهادت د خپل نمسي يې دېکهٔ وګڼه عين
دے حديث حسينٌ مِنّي وَانا مِنَ الحُسين

سپوږمۍ په اَس د تصور شه چې دې بو ځم کربلا ته
دي راغلي د جفا لښکرې زوے د مرتضیٰ ته
نمر د تندر پرده وکړه هيڅ نظر نهٔ کړي دنيا ته
چې نيرو هم د جنګړېز حوصله کړې ده دنيا ته
څهٔ خېمې دي د سادات د رضا پکښې چپيا ده
څهٔ خېمې د يزيديانو د ستم پکښې غوغا ده

د احسینؓ دے چې تسلیم ئې اس ینولے لۀ جلبه
د ژوند ون بنضو نه تېزدې په امکان راغلې تبه
خوله ورکه لۀ هیبته د لاکرمې را وېستې ژبه
چې جلوې د رسالت پرې قربانېږي لۀ یثربه
دهر څېز د قربانۍ نه پس بخپله راوتلے
د حجت اتمام په هغو کاندي چاچې دے بللے

چې صورت دامن صلحې په امکان کښې پاتې نۀ شو
چې هیڅ شک ئې د جهګړې په طوفان کښې پاتې نۀ شو
چې یو دوست ئې کس چاپېره په څشمان کښې پاتې نۀ شو
که یو حُر وُ، هغه هم په دې جهان کښې پاتې نۀ شو
دۀ به پېش ورته قرآن کړې هغو تورې برېښولې
چا به غشې کړتول او چا نېزې به نېغولې

امام پوئے شو چې وس وخت د شهادت د اکمال راغے
شو مزل د جمال ختم وس مقام د جلال راغے
یوئې تورې ته کړه هیله بل یو لاس ئې په ډهال راغے
د اجل په لاس کښې ښکار د ژوند انۀ لړه جال راغے
ذوالفقار چې کړبهر په لاس کښې زوے د حیدرؓ اوښو
قدوسیانو به په هیبت د اسمان څخه سیر اوښو

ACKU

ذوالفقار چې يې ميړانه له جوهره زاريده
ذوالفقار چې هره توره يې له پرهره زاريده
ذوالفقار چې تل يې فتح له حيدره زاريده
ذوالفقار چې بادشهي يې له قنبره زاريده
هغه توره چې په برېښنې کښې رفتار وُ د اجل
هغه توره چې په شرنګ کښې يې ګفتار وُ د اجل

جوړ نښته وه د اجل د امام لاس کښې ښکاريده
په يو وخت کښې هر يو کس ته اوړېده اولېده
وچيده او څخيده، او کږيده او ستړيده
برېښيده او ځليده او قهريده او موسيده
نه په خود او نه په زغره نه په ډهال حصاريده
نه په زور د زور آور او نه په سوال خصاريده

لکه برق به يې روح يوړلو پرهر به پاتې نه شو
غړېدې به يې سترګې خو نظر به پاتې نه شو
څه حساب د لس وشلو دې لښکر به پاتې نه شو
چې کوم سر به ځان ته سووې هغه سر به پاتې نه شو
چې برېښنا به يې د خلقو په نظر ننوته
دا به تېره وه د زړه نه په ځګر ننوته

کوم دښمن چې نظرباز او توریالی وُ، هغه روند شو
په برېښنا د ذوالفقار کښې عقل فکر کله موند شو
کهٔ وُ، ډهال لکه ګکوړې خو د غرهسې به روند شو
هغه روند شو، خود به روند شو چې خپلو وینو لوند شو
دلته شرنګ او هلته برېښ، او بیا په پنجه د امام کښې
په هر صف کښې به هر سر وهٔ، ګویا وهٔ په هر مقام کښې

دیو ځتې نه په بل مټې وه بیا د ډوونه بهر وه
لا به دلته برېښېده او لا به بیا د بل په سر وه
لا به زغرې فریادي وې، په ټټر وه په ځګر وه
لا به وچه ښکارېده په رب د سترګو کېښې به تر وه
لکه ژبه د اجل به یې دزه وینه څټله
ګویا وینه د صفین د شهیدانو یې ګټله

نهٔ مقداد وُ، نهٔ بوذر وُ، نهٔ سلمان وُ، تماشا ته
نهٔ عمار وُ، نهٔ قنبر وُ، تنهائي وه مرحبا ته
علمداري وُ، په وړاندې نهٔ اکبر قاسم یې شا ته
ذوالفقاري وُ، په وړاندې او د اس ګردونه ملا ته
میمنه، میسره، قلب کهٔ د لښکر مقدمه وه
د ترتیب بخیې یې لاړې تار په تار شوه کهٔ ساقه وه

چې په تېښته به شو ټوک ترې ذوالجناح به په ستنه شو

تار په تار به یې یو صف کړو بیا په بل پسې بره شو

چې به غبرګې ښېرې راغلې زر به دې ورته په دوه شو

سر تر پایه د دښمن د توري برېښنې ته به لمبه شو

د وسلو غوندې راتاو به یې په غاښونو کښې کړه زغره

څنګه وهل یې ذوالفقار ته اشاره وه چې ونغره

چرته سم لکه د غشي چرته کوږ لکه کمان تللو

څنې سر به یې وُ په منکر څنې سر به یې په اسمان تللو

بړبوکی وه چو ر لیده، که په تخیل ګرد کښې پنهان تللو

جمعیت یې وُ په ځائې که یو خوا بل خوا ته پرېشان تللو

په کوم ځائې به چې وُ بس وُ به د ده سمونه پاتې

په میدان به د کوفیانو له بس صفرونه پاتې

ذوالجناح چې کښې چاپېره کړه قتله د سرو ماته

بې له اذنه د امام یې ځان رسید کړو تر فراته

امام وتپاوه وې چې ذوالجناحه خوش صفاته

نه اکبر شته، نه اصغر شته، او به یوسم وایه چا ته

څوړند سر د ذوالجناح شو په ورو ورو بیا راستون شو

وې پکار چې د امام نه شو عبث زما ژوندون شو

خدا راغله لاس دې اونيسه فرزندهٔ دبتول
ستا جمال اوجلال دوارهٔ شول درب پهٔ در قبول
جنګ دې نهٔ دے اے امامهٔ دملکونو دحصول
نهٔ دجنګ دپاره جنګ وُ، داخوجنګ وُ داصول
سر ئې خم کړو دتسليم اوځان ئې اوسپارهٔ قضا ته
مخ ئې ستون کړو له دښمنه مخامخ شولو رضا ته

عمر سعد ته خو اوکوره چې څهٔ اووې شقي!
وې چې يريږئ کناره مهٔ کوئ داس دمے دنبيؐ
تهٔ نسبت داس ته کوره اونسبت ته دنسي
ځان اوتن دمحمدؐ وُ، وينه غوښه دعليؓ
ذوالجناح اوښکې راماتې دخيموپهٔ لورې سرشو
پيغمبر دخپل امامؓ بناغلے اس دپيغمبرؐ شو

يو پهٔ زهرو بل پهٔ توره دنبيؐ چې فرزندان وو
يو نظر پرې دنيکهٔ وُ، کهٔ دادوارهٔ ئې څشمان وو
پخوانې مرسلان وارهٔ شهيد شوي پخپل ځان وو
ولې داد نبيؐ ځان وو، بيا لهٔ ځانه ورته ګران وو
دايو هٔ کړه وه پاتې پهٔ زنځير دشهادت کښې
امامت کړهٔ ور پوره پهٔ سلسله د رسالت کښې

چې کوم سوال د پاک نبي د شهادت وُ، هغه حل شو
د حسینؓ له شهادته شهادت يې مکمل شو
دا چراغ زمونږ د پاره د قیامته پورې بل شو
هر منکر ته د حمزهؓ په مخکښې دا دلیل اول شو

شهادت د حسنینو رضی الله عنه ځکه وُ، د نبي صلی الله علیه و آله وسلم عین
پوره تن يې د حسن رضی الله عنه وُ، ښکته تن يې د حسین رضی الله عنه

جمرود محرم سنه ۱۹۲۵ع

ACKU

# د حسین رضی الله تعالیٰ عنه قرباني

اوښکي کړې باروې طوفان دغم شو
شو تازه د زړهٔ زخمونه محرّم شو
یو پهٔ دوه مې په دې غم د زړګي دم شو
لا سوا مې لهٔ دې دمه د زړهٔ غم شو
نن بهٔ نهٔ کړې داغم چې پرونے دے
ګویا هر پروسکال نې سکنے دے

زما ضبط او اسویلي مشت او ګرېوان دي
وس ترې دروې کهٔ زبرګې مې په زړهٔ ګران دي
د زړهٔ څاڅکي د سلګو سره لړزان دي
سترګې دوې ته هغه سترګو ته چشمان دي
ابتدا دغم کومه نوے کال دے
پهٔ اول چې زړهٔ خفه شي بیا خوشحال دے

څوک چې ډېر د امام غم کا ډېر خوشحال شي
د ایمان شجر به ئې دې اوښکو نهال شي
د سرور لباس کنډ لے به ئې ملال شي
نقصانونه، پیوندونه د کمال شي
اوښکې چرته د مئین د زړهٔ به تل کښې
مینه نهٔ پرېږدي تراوهٔ بخیل محل کښې

لوئے زنځیر د رسالت وته نظر کړه
سلسلې د هدایت وته نظر کړه
ولایت او امامت وته نظر کړه
د شروع نه نهایت وته نظر کړه
ابنیاء څو همېشه د تخم کر کا
امامان ئې بیا به وېنو اوبهٔ خور کا

مکمل چې هدایت لره معیار شو
د عاقل فطرت نه خوب لاړو بېدار شو
د انسان د ارتقا سرک تیار شو
د ملک نه د خاکې مخکښې رفتار شو
وروستو پاتې د صفاتو رنګینۍ شوې
چې حاصل د ذات د وصل شیرینۍ شوې

ACKU

چې اسلام له محمده (صلی الله علیه وآله وسلم) مکمل شو

خو د بخیله په نبیانو کښې افضل شو

آخر کښې ؤ، راغلی خو اول شو

اولین او آخرین چې دان ؤ، حل شو

خوله دې چې مستفید شي یو معیار دے

که پوهېږې درته وایمه ایشار دے

که نیکه په انبیاؤ کښې بهتر ؤ

نو نمسے په امامانو کښې سرور ؤ

که نیکه د نبوت د آسمان نمر ؤ

نو نمسے په قربانو کښې روڼ قمر ؤ

که نیکه په رسالت کښې لاثاني ؤ

نو نمسے په قربانو کښې لافاني ؤ

قرباني يې هم بیا داسې قرباني وه

خو د بخیله چې خپل ځان لره شاني وه

لوږه تنده لاچاري وه پرېشاني وه

د ښږو غشو د تورو، ارزاني وه

یو خوا بل خوا د بیبیانو اسویلي وو

څه سلګۍ د ماشومانو څه زېږکي وو

ACKU

څه له اوره پاتې نه شوې په خمو کښې
د چاکوښې پاتې نه شوې په لښو کښې
څه پرونې يې ټومبلي په سڼو کښې
څه اوچت د کربلا په بربوکو کښې
بې حجابه خاندان د محمد صلی الله علیه وآله وسلم شو
د جفا او د ستم، د ظلم، حد شو

په اکبرؑ د سڼو غشو پرهرونه
په سلګو د اصغرؑ سپلا رته نظرونه
د قاسمؑ د ادرک عمّي اوازونه
د عباسؑ پرې شوے سر او مروندونه
زيات د دې نه هم زغملو ته تيار دے
خو بېعت د يو فاسق نه يې انکار دے

چې يوازې پاتې شوے په دې حال کښې
فرق يې نشته دے ذره په استقلال کښې
لا زياتے يې ټنګسو اوکړه په کمال کښې
کړې جمال يې شمعې بلې په جلال کښې
چې ښکاره ترې کله کله پرېشانې شي
غوارې دا چې يې کامله قربانې شي

ACKU

دامام چې مکمل انسانیت وُ
یو عنصر پکښې غالب ملکیت وُ
حق یې څکه وراثت دامامت وُ
چې هم دے قائم مقام درسالت وُ

بل دچا به بې ددوئ نه دومره توان وُ
په کردن یې چاړهٔ تله او ثناخوان وُ

چې یې نیت دتگ وُ کړے لهٔ یثرب
اصحابانو ورته وې عالي نسب
ته چې دروې داخبره ده عجب
جوړ اجل دې اس ښیو لے لهٔ چلب

ته خبرې دیږیں چې څومره زور دے
ستا قدم دهلاکت دغار په لور دے

هم په دوئ کښې عبدالله ابن عمرؓ وُ
هم پکښې ابن عباسؓ نامور وُ
لهٔ راتلونکي واقعې هر یو خبر وُ
اوریدلے یې حدیث دپیغمبرؐ وُ
چې په برخه دحسینؓ کښې قربانې ده
لیک په څټ یې دتیغونو روانې ده

لهٔ يمنه چې علي پهٔ کربلا شو
کربلا باندې چې راغے پهٔ ژړا شو
يو صاحب ترې پهٔ پرسان د مدعا شو
پهٔ غرېو غرېو کښې بوتراب ورته ګويا شو
چې دا ځائے مې د اولاد د شهادت دے
دلته، هلته د فلانکي فلانکي تربت دے

تعجب دے لهٔ اصحابو به داهسې وو
چې مدام به د نبي نه کېږ چاپېر وو
دا پاکان د خدائے پهٔ نوم له سره تېر وو
خوشحالان وُ، چې به دې کښې تېرېدېږ وو
هغه دا چې وې ایثار پهٔ بې کسۍ کښې
نهٔ د زور پهٔ مساوات او پهٔ سيالۍ کښې

نهٔ شوې پاتې وسيلې نهٔ سببونه
رسالې د عراقيانو نهٔ اسونه
څومره سخت د قربانۍ دي منزلونه
مګر تيا چې پکښې نهٔ کاندي خپل پلونه
اسرې ټولې پهٔ دې لار کښې لکه ګردشي
همدردي ئې د خواخوږو آه سردشي

ACKU

چې توله د دوه اوياؤ يې شهيد کړ
اسلام دوه اويا توتې يزيد پليد کړ
يو ټوله يې د ساداتو پرې مزيد کړ
مسلمان يې تفرقې وته رسيد کړ
وس هغه په درې اوياؤ کښې ناجي دے
چې له صدقه حسني او حسيني دے

په فلک د قربانۍ کښې منور شو
محمد يې کړل بخرې جوړ ترې نمر شو
په ايثار کښې رهنما دهر بشر شو
د آدمه نه تر دې دمه سرور شو
که يې سيال د قربانۍ وي نبي کوم دے؟
که يې مثل د ايثار وي ولي کوم دے؟

ورسره چې هغه پاتې دوه اويا وو
خيال او نه کړې د امداد او د دعا وو
خو مثبت د قربانۍ د مدعا وو
لنډه داده چې د کل سره اجزا وو
که لازمه بې کسي يې وه جمال ته
نو قتال يې هم پکار و څه جلال ته

ACKU

میړني پیغمبري زلمي اتلس
ننګیالي وو هاشمي زلمي اتلس
کربلا کښي کوثري زلمي اتلس
له اسلامه قرباني زلمي اتلس
په محشر کښي به اتلس زړه قامه
وایه څوک به یې شي سیال له خاص و عامه
محرم سنه ۱۹۲۵

---

دخدائے په لار کښي چي حرمت هم پائمال نه شي
حق د ایثار پوره کول په سر او مال نه شي
که یې ثاني په رسالت کښي د بابا نشته
په قربانۍ کښي به هیڅوک دحسین سیال نه شي
په ابتدا کښي غم کول په انتها شي سرور
کال یې لا زوړ وي چي زاړه په نوي کال نه شي
حسین به نه کړو پرې کذا رچي چابر ځنګ ورکړ
وه یې منشا چي جلال هم یې بې جمال نه شي

د قربانۍ په نازکیو یو امام پوهه وُ!
په داسې وخت کښې استقلال سرهٔ هم سوال نهٔ شي

د حسینؓ غازیانو صف د مزکې پوزه کښېنوه
څو د دعوې د استخلاف چې بې جمال نهٔ شي

د بې مثال په درکښې سرهٔ شي بې مثال ایثار
هغه مثال دے، څهٔ مثال چې بې مثال نهٔ شي

چې حال بې هم د قربانۍ د حال محل نهٔ لري
د هغه حال ظاهرول په قیل و قال نهٔ شي

د کال په څلکښې د حسینؓ د وینو سرهٔ دي حمزه!
هغه بې نوره وي ماتم چې په کوم کال نهٔ شي
محرم سنهٔ ۱۹۷۵

---

نبي کهٔ محمد صلی الله علیه وآله وسلم د کل جهان د پاره دے
حسینؓ د ژوند چینه د کل انسان د پاره دے

نعره د رسالت په کور نسیم کړه د اجل
نهٔ دا چې بوي فقط د گلستان د پاره دے

میدان دکربلا نه تر میدانه د محشر
اولاد د مرتضیٰ رض خو د میدان د پاره دے

یاران د اوښکو وکړه که پرې زړه جمع کوې
حاجت د جمعیت د پریشان د پاره دے

یوه اوښکه لرم، شي دې په مزکه ولې توے
دا ستورے مقدس خو د اسمان د پاره دے

هر کال د قربانۍ نه نوے کښي د مسلم
مثال د حسین رض ژوند د مسلمان د پاره دے

ارمان د شهادت وګڼه سپلار د هر ارمان
زړګے چې پیدا شوے د ارمان د پاره دے

اکمال د نبوت وي نابینا ښې شهادت
ورکوټې کسے ژوند د هر چشمان د پاره دے

مسلم د حسین رض ژوند که کړي مشعل د خپل عمل
په خدائے تعالیٰ چې کُل جهان د مسلمان د پاره دے

دلیل د غه قران دے په اولاد د محمد صلی الله علیه وآله وسلم
اولاد د محمد صلی الله علیه وآله وسلم هم، د قران د پاره دے

ایثار به د هغوئ کړمه یو دوح د افسانې
حمزه نوم د حسین رض ئې د عنوان د پاره دے

* * *



ACKU

رَحمۃ اللہ عَلَیہ

# حضرت عثمان هاروني

د وحدت ناوې ته حُسن وادا عثمانِ هاروني
مسافر ته دشب منزل دنها عثمانِ هاروني

شي ظاهر مُوتُوا قبل اَن تمُوتُوا سر په يو لمحه
صراحي كښې لرې آبِ بقا عثمانِ هاروني

دكفر او شرك دهندې افق نه دورشوه تياره
كړو مخ د نمر معين الدين نما عثمانِ هاروني

د شبير و شبر فرزند دے جائے نشين دادے
چې دے مرجع د تسليم او رضا عثمان هاروني

مزارع دے محمد مصطفےٰ او شافع محشر
د اسلامي چمن بادِ صبا عثمانِ هاروني

زما يو شان كړه خلوت وجلوت اے شهِ عالي
كۀ شي قلب وبصر بينا زما عثمانِ هاروني

په تندرن د سپوږمۍ ساه ده بنده سيّد عالي
د حمزه خوار كه كړے ردِ بلا عثمان هاروني

*

برباد مې کړه عثمانِ هاروني
اباد مې کړه عثمانِ هاروني

يو دشت دابتلا وُ، وس ترې تېر يم
يو جال مې وُ دا "تېره" وس بهر يې کېږم
تا هر کړمه وس خود لهٔ ځانه هېر يم
راياد مې کړه عثمانِ هاروني

دنيا زما دخيال دې کړه ګل پوشه
را اوځي اسويلي نکهت فروشه
بلبل مې لا د زړهٔ دے بې خروشه
فرياد مې کړه عثمانِ هاروني

يو برق يم په اسمان کښې د بلا يم
يو څاڅکے يم لهٔ بحره راجدا يم
ګلشن د ے مړاوے شوے زهٔ سبا يم
ازاد مې کړه عثمانِ هاروني

محبوبؒ یم رسولے هسې ران ته
کړے غوږ به دکرم زما اواز ته
فریاد چې وکړم زهٔ غریب نواز ته
لا ښاد مې کړه عثمانِ هاروُنيؒ

راوینبه مې کهٔ تاکړه اوده مینه
کړم جوړه به دعشق لاره سنګینه
حمزه اوستا یوه خندده شیرینه
فرهاد مې کړه عثمانِ هاروُنيؒ

---

لہ حضرت سید نظام الدین اولیاءؒ

رحمة الله علیه

# حضرت خواجه معین الدین حسن سنجري

## چشتي اجمیري

---

درته ولاړه یم سر توره خواجه پیره

وکړه نظر زمونږ غم غوره خواجه پیره

ستا د فرقت په خنجر پاره پاره شو مګر

دوا بې تا مې نشته نوره خواجه پیره

ماوې بابا دے سخي، لکه نبي صلی الله علیه وآله وسلم او علي رضی الله عنه

زه چې راتلم له خپله کوره خواجه پیره

د تاج وتخت خاوند، تنګه کړم غم له ژونده

لږ خو ما خوارې ته هم ګوره خواجه پیره

سترګې مې سرې په ژړا، تل په ژړا انګولا

حمزه بیلتون له ظلم وجوره خواجه پیره

---

*

خم نه د حیشت واخلئ رنګ
راغې بسنت په غورځنګ

درکښې دستا یم ولاړه فقیره
وکړه نظر دکرم خواجه پیره
خاورې په سر دربه درشوم زهیره
زخمي دغم په خدنګ

کور مې د زړګي شو چولي بیابان
ناسته حیرانه په صحرا ئې سنسان
واستوه یار مې په خاطر دعثمان
راچې دالفت کړي بهنګ

څه کړم دسپرلي نسبتې ګلونه
بس مې په دل دے د فرقت داغونه
څانته نماکړم دخونې زړه حالونه
حمزه په رنګ خپل کړه رنګ

جنوري ۱۹۳۹ء پېښور

★

اے د اجمیر شریف سلطانہ
سر مې قربان شه د تانه

اے د حضرت نورِ چشمانه
سر مې قربان شه د تانه
تا چې مشکوة د اسلام بل کړو د چشت په تیلو
د پاک نبیؐ شو غلام بیا بې چهترې که بهیلو
لاړو ظلمت له هندوستانه
سر مې قربان شه د تانه
ستا د نقاب دلاندې د دین رڼا وه پټه
نازک حجاب دلاندې یو تجلّی وه پټه
چې بت خانه ئې کړه روښانه
سر مې قربان شه د تانه
وس د خدائے کوربئ کنه چې بتخانه وه اجمیر
خلاص له پیغوریئ کنه شراب خانه وه اجمیر
هندوان دې خلاص کړل له نیرانه
سر مې قربان شه د تانه

تاج دې دسروده په سر، شان د احمد لرې ته
کیمیا اثر دې نظر خُلق د احمد لرې ته

کشتۍ مې باسه له طوفانه
سر مې قربان شه د تانه

که یو نظر په حمزه وکړې د مهر و عطا
د خاندان د شها، شېوه د لطف و سخا
که یې رها کړې له زندانه
سر مې قربان شه د تانه

---



ACKU

*

خانه دا زړهٔ مې په تا روښانه، د هند سلطانه غریب نوازه
اے بې نقابه ماه تابانه، د هند سلطانه غریب نوازه

که خلق وران کړم زهٔ له کتابه د حافظې یو نکه غلط حرف
تا پاتې نهٔ کړم له خپل فیضانه د هند سلطانه غریب نوازه
دغم له سینهٔ مې راوباسه ما په چپو کړه چپه د پیاسه
بې کوره مهٔ کړې ماله طوفانه د هند سلطان غریب نوازه
په دُر د مینې دې مشرف یم، زهٔ که هر څو یو کنده صدف یم
چې بهره مند یم ستا له نیسانه، د هند سلطانه غریب نوازه
ښکارې دغم که بې بال و پر کړم، ته مې ښې سترګې چې پرې نظر کړم
بلبلان نهٔ چې له ګلستانه، د هند سلطانه غریب نوازه

حمزه که بلبل شو ګل ته ژاړي، اثر یې کړې چې هر څهٔ غواړي
له خنده رویه د بې نوا نه، د هند سلطانه غریب نوازه

اجمیر شریف ۱۵ر اګست سنهٔ ۱۹۷۰ء

***

★

ورک مي د ستر کـو نظر

اې خواجه رادي کړه خاورې د در

درکښې ولاړه ستا یم سر توره

غم کړم جدا نه پلار او له موره

د بې مروه مي دلبر

اې خواجه رادې کړه خاورې د در

وینځه چې هر څوک درکښې د چا شي

بنا ئې غمونه چې ترې جدا شي

مالک ئې اخلي خبر

آې خواجه رادې کړه خاورې د در

د پېغلتوب مې وران شو خالونه

سجده کښې وایم د زړه حالونه

رحبوم مښک وعنبر

آې خواجه رادې کړه خاورې د در

اوچې فریاد مې د زړه له سوزه

د یار ترخوا مې باباجې بوځه

ACKU

درلغه چې وکړې اثر

اے خواجهٔ رادې کړه خاوې د دَر

تشه جولۍ مې ده دخيال

پړ ې په دُر کړه يار دجمال

شپه مې دغم کړه سحر

اے خواجهٔ رادې کړه خاورې دَدَر

کله راوښي به بخت دحمزه شي

چې بې نوا به ترېنه رضا شي

شي په سرور به اختر

اے خواجهٔ رادې کړه خاورې دَدَر

اجمير شريف ۵ اګست ۱۹۵۹ء

---

له سيّد غلام سرور علوي مرحوم زما يو مخلص

دوست او پير بهائي .

*

ستا په خندا شوه د غم شپه سحر غریب نوازه
شو د جلوو سره اشنا نظر غریب نوازه
د مې مارغه د تصوّر په پر غریب نوازه
ستا محبت مې د همّت وزر غریب نوازه

شیطان چې راشي کور د زړه ته غلا کوي یقین
د دین دنیا باغونه جوړ کړي بناسته او رنګین
د وسوسو ئې زنځیرونه وي په لاس آتشین
ستا تصوّر کښې د بنګالو اتش غریب نوازه

په کفرستان کښې دې د هند د حق رڼا کړه پیدا
ګویا چینه دې په ظلمات کښې د بقا کړه پیدا
خضره! زمونږ د طلب نه دې سوا کړه پیدا
زړه د چې شیندي په تا ګهر غریب نوازه

کهٔ گنهګار یم بختور یمه چې ستا لرم داغ
تیارهٔ کهٔ ډېره وي اترېٔ نهٔ شي هیڅ په چراغ
چې ستا مینې شته پرې نقش لرمه داسې ایاغ
لهٔ ما سوا مې شولو ورک خطر غریب نواز

د روح دنیا مې د عنصر وکثافت کړه پېښه
لاره د عشق مې ناتمامه مسافت کړه پېښه
کله وسواس کله خواهش د کرامت کړه پېښه
ما کړه سرسبز یم بې مېوې شجر غریب نواز

چې زړهٔ مې مرګ پرې قبلوي هغه ژوندون کړه عطا
فرزانګي چې وي ترې زار هغه جنون کړه عطا
یعنې حادث او پهٔ قدیم کښې پېوستون کړه عطا
خورم به ترڅو ټکرې در پهٔ در غریب نواز

د مخالف زړهٔ وُ د سیند پهٔ سر حباب اوچاوُد
حباب کهٔ اوچاود و تل چوي نه چې دریاب اوچاوُد
چې وه نغمه يې لاغبرې هغه رباب اوچاوُد
لاس دې سپر کړو د حمزه پهٔ سر غریب نواز

---

*

مبارک شه خواجُبه    غریب پرور شوې
سلطانه دهنـد    دولیانو افسر شوې

ته ګوشه نشین یې که عرش نشین یې
په خلوت کده کښې د دل جاګزین یې

دلمو نظر شوې    غریب پرور شوې

چې مخ مې کړو تا ته جهان ته مې شا شوه
بابا جوړ ته نمر شوې    غریب پرور شوې

دعا مې چې اوکړه له درده له سوزه
چې بابا د دلبر و درته مې بوځه

دعا ته اثر شوې    غریب پرور شوې

ACKU

کۀ ذرۀ مې کړو خنجر دغم پاره پاره
پۀ جنبش دابرو کښې اے شهریاره

مرهم دپرهر شوې غریب پرور شوې

مبارک د حمزه کوے بےنوا سته
لرې خم جبین چې آل عبا سته

چې تۀ يۀ نظر شوې غریب پرور شوې

★

حیرت پیر د فلک خم کړ چې دا څنګه چراغان دے

که د مزګې اسټنې مې دا بنکو دے کهکشان دے

افسانه ده خدائے وسیلې دا عالم چې دا مکان دے

محمد صلی الله علیه وسلم او اهلِ بیت ئې هم کردار دے هم عنوان دے

تاجپوشي د کوم سلطان ده چې جلوې راځي ګدا ته

ن کچکول د څه د پاره نسکور شوے دا اسمان دے

د مسلم دتن رجرومه یو فانوس دے دا انوارو

د ګناه تیرې کچل شوې روند له غمه چې شېطان دے

دے د سُکر لیونے د صحرې ناوې ته ترغاړه

بیابان په ګلستان کښې ګلستان په بیابان دے

چې د مئے په تور او سپین نه اسلام نه کفر اخلي

د تیرې رنها نه لرې چښتي دا سې مسلمان دے

دا ایمان جلوه دې سترګې د عرفان نه کړې بې نوره

نمر د عشق ته نظر بویه قلندره امتحان دے

خودي داده چې خپل ځان دې کړې رانجه د ځان د سترګو

نم دې او سا ته له سترګو بیا دې ځان درته عیان دے

ACKU

اے واعظه ګرانه داشوه چې افسانه ده اسانه
راز د مینې کۀ اسان دے خو دے ګران چې پۀ ما ګران دے

د بلندې[۱] دروازې نه نوبت واوره چې څه وائي
چې جګ جګ دې دم پۀ دم وي د سيد چې دا نشان دے

د تېرو له تسلسله قاطعان د حق د لارې!
غزونې کړې دنیا شوه څوک پۀ تلو دي څوک روان دے

د حواسو مخبران شول سرنګون امر ربي ته
هیولی د نفس شوه پاتې جمعیت ئې پرېشان دے

هر اغزے له دې چمنه د قرآن فصیح زبان دے
د هر ګل ئې بلبلې زده د بې نوا شوه بیابان دے

زړه ئې تور شو سر ئې خم شوله دې خېل نقش و نګاره
د عرب آئينه سان ته د فلک ماڼي حېران دے

سرِ لباس د افشا واغوست د بیان پۀ نیلي سپور شو
ورک غبار د واهمې شو چې موسې کا نه عیان دے

د بونے غونډې سنډرې د حورانو دي را اورې
د خواجه له قدمونو هندوستان جنت نشان دے

---

۱ بلنده دروازه د حضرت خواجه معین الدین د درګاه یوه دروازه
ده چې د مغې دپاسه نوبت غږېږي - او پۀ هغه دروازه زما
مرشد کال پۀ کال یو علم اودروي -



ACKU

چې د کند هره تورته ئې وه پیوند د ماتو زړونو
د نظر د تاریخ ئې لکه غاړې د عرفان دے

د مینې غونډې خادم ئې هر انسان ته وي تر غاړه
د دې درچې څوک ګدا شي په معنیٰ کښې سلیمان دے

د حمزه د زړه په بنهس ده ډاکه د نفس پرېوتي
اے معینه اے معینه الغیاث والامان دے

---

ACKU

★

چې په حبیب (صلی الله علیه وآله وسلم) سره پاک رب (جل جلاله) کړو قبول
ځکه لقب یې شو عطا یې رسول

خواجه سرکند کړو حقیقت د وجود
ذاته نمائې کړو وحدت د وجود
وهم وګمان یې کړ کثرت د وجود
ورک یې اشکال کړو د اوتار او حلول

فقر یې چې وه سکه د شیر خدا
د حسنینؓ یې تسلیم او رضا
د محمد (صلی الله علیه وآله وسلم) غوندې یې جود و عطا!
سوز یې د زهرهؓ وه په مثال د بتولؓ

شو د مهدیؑ جانشینه ته غوره
چې شي تیرې د کفر بیا د بره
ژوند به ورکیني د خواجهؒ لهٔ دره
په زمانه کښې د عیسیٰؑ د نزول!

د خپل قصور او د خطا سره زه
حمزه ورځم د بې نوا سره زه
ځم به بغېږ له دوئ د چا سره زه؟
چې خطا کاروي ترېنه کړے شي حصول

---

کړے مسرور وصلت دران اونیازه
مبارک مبارک غریب النوازه

تېروته زمونږه رنها کره عنايت
شه مسکي په بېرته نظر کړه له نازه

مشرف شو مونږ چې تشريف راوړې
زمونږ سرفرازي له تا سرفرازه

د غفلت له دامه وتل مونږ ته ښايه
همايه د ناسوت ولاهوت بازه

په خاطر د پنج تن که خوارو ته ورکړې
د انوارو برخه له پاکه حجازه

و حمزه ته ورکړه په ګريه کښې خنده
چې الفت ئې کړي د زړه شمع ګدازه

* * *

# حضور غوث اعظمؒ ته خطاب

دا نظم ما د انجمن غوثیه په یوه جلسه په مئ ۱۹۶۱ء کښې اورولے وُ ۔ د مشاعرې په اختتام کښې د انجمن له خوا ما ته تمغه راکړې شوې وه ۔

عرش دے هغه فرش چې دې وې لاندې تر قدمه
فرش دے هغه عرش چې دے محروم دے له کرمه
نوح د قسمتونو مفتخر ستا له قلمه
اے د غوثیت په کرسۍ ناسته محتشمه
وامې خله هستي په یو انداز غوث اعظمؒ!

را دې ورړل دعشق همه رازونه په سینه کښې
ځانے دې بې شماره کړل بهتونه په نینه کښې
عکس دحق دې ښکارې دکردار په اٰئینه کښې
سیند دمعرفت لرې دزړهٔ په سفینه کښې
یو ځانے دې جوړ دیو وجود کړو له عدمه

صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم
دوه میمه په نوم دمحمد کښې چې راغلي
دا دوه صاحبان دي چې پاک رب ته دي ښاغلي
صرف دحاء ترمېنځ دحسنینؓ ناز ولي
دي محي الدینؒ ، معین الدینؒ چې دي ستائیلي
یو میم دمهديؑ ورسره دا تتنیه سمه

روح چې ؤ ، بیمار دمادیت شفا دې ورکړه
ورغلو زېږگو ته خوب دژوند دوا دې ورکړه
ځار دې له غمزې په یو ځبار بلا دې ورکړه
ځار ددې بلا نه په فنا بقا دې ورکړه
اے دطریقت دبې دمانو دم ته دمه

---

ؔ یعنې دمهديؑ یو میم ددې دوارو میمونو سره برابر دے ـ یعنې دمهدي تر ظهوره به دا دواړه دمهديؑ جانشینان وي .

نهٔ وي چې دځان پرده دې لرې کړه له ځانه
ځکه خو پیدا دې محبوبي شوه له سبحانه
پس د مقدر دې انکار نهٔ کړي لهٔ فرمانه
لوئے رب چې دې یار شو لوئي ستا شوه لویه ځوانه
شوې ناشونې شي اوهم بهٔ شي ستا لهٔ رقمه

ستا پهٔ زړهٔ هوا چرې د نفس نهٔ شوله زبا ده
حق ده چې جنت خالي ساتلے ربّ لهٔ بادهٔ
اے چې پهٔ تیارهٔ دخاکي تن کښې وې اباده
اے د برق صفته د وریځو نه ازاده
اے پهٔ خنده درمن د باطل لره عدمه

پل دې ګل پرانیزي پهٔ صحرا د طریقت
رنګ دې د عنصر وکړل اغزي پهٔ ریاضت
تا چې غازه واخسته پهٔ لاس د شریعت
نا وې د مجاز دې کړه سنګار پهٔ حقیقت
ذات دې شهٔ بنایست د ما سوا پهٔ زړهٔ کښې غمه



ACKU

ستا د نوم په ورد پرده له نفسه شي اوچته
شي ورته داني انـا الله معلومه پـته
څهٔ پرې کهٔ څهٔ اووابه ستالهٔ کرامتــه
ځار سل کرامته ستاله يو استقامتــه
اے د مرسلانو د مرسل قدم تـه خمه

تهٔ چې اور د عشق له ناسوتي دنيا فنا کړې
برق شوې پهٔ افق د ملکوت باندې برېښنا کړې
بوش دې د منزل پهٔ ملکوت کښې پهٔ ثنا کړې
تا پردې لهٔ سوزه دلاهوت وارهٔ جليا کړې
دِل زده کړهٔ هوسي د سلوک ستالهٔ يوه رمه

ځانے دې تلون کړ دسکون پهٔ انجمن کښې
پټ وحشي د سُکر ستا دصحوې پهٔ لمن کښې
تهٔ تيرک د امن د وختونو پهٔ ميچن کښې
مل دې چې دانهٔ شي نهٔ راځي پهٔ وړين کښې
خلاص دې وي غلام د کړدشونو لـهٔ ستمه

## ۵۷۰

زهٔ حمزه خوښم نهٔ یم خو بیا د څهٔ نه څهٔ یم
بد یمه خو ستا چې ثنا کړې یمه نو ښهٔ یم
راکړه څهٔ! ارمان د ناکامۍ یم چې پهٔ تلهٔ یم
لړزند اسویلي یم پهٔ مړي کښې پهٔ واتهٔ یم
تبه مې پهٔ روح د ما سوا کړه کالعدمه

---

# حضرت خواجه قطب الدینؒ بختیار

قطب عالم خواجه قطب الدینؒ دے
شاه اعظم خواجه قطب الدینؒ دے

خواجه قطب الدینؒ ته خم دے کُل جهان
خواجهؒ ته خم، خواجه قطب الدینؒ دے

دم په دم ناتوان د منزل وائی دا
دم د بې دم خواجه قطب الدینؒ دے

اے د عصیان زخمه نامرادي د څه؟
ستا چې مرهم خواجه قطب الدینؒ دے

غم خوړے شي تا کله حمزه زما
غم ته دې غم خواجه قطب الدینؒ دے

---

ؔ خواجه معین الدینؒ چشتي د خواجه قطب الدینؒ شیخ

*

نور د حق دے مبین قطب الدین
د عرفان په جبین قطب الدین

منتظم به وي ستا نوې دنیا
د همه تور او سپین قطب الدین

د تسلیم او رضا به وېش کوي
هغه عرش نشین قطب الدین

دا تېرې چې د شک او بو ګنبدې
راغے نمر د یقین قطب الدین

که خاتم دے معین[1] په لاس د مهدي
پکښې ښکاري نګین قطب الدین

د چهارده معصوم اثبات په طٰهٰ[2]
دوه الف ئې معین قطب الدین

مه شه مات دي د زړه محراب حمزه
مه شه چین په جبین قطب الدین

---

[1] خواجه معین الدین چشتي.

[2] د طٰهٰ اعداد هم د ابجد په حساب څوارلس دي.

ACKU

# حضرت خواجه نظام الدین محبوب الٰهي رحمة الله علیه

تا نه مې سر قربان، نظام الدینٔ شها
محبوبِ حق سبحان ، نظام الدین شها

آب حیات دے ستا په نظر کښې
ثاني دې نشته په بحر و بر کښې
شاه يې د جن انسان نظام الدینٔ شها

محبوب د ربّ يې عالي نسب يې
لائق مولا د ډیر ادب يې
د ې نشانو نشان ، نظام الدینٔ شها

ته په سیرت کښې لکه سرور يې
بشکلے په صورت عین حیدرٔ يې
د حسنینو يې ځان، نظام الدینٔ شها

صدقه د خواجه معین الدینٔ
د قطب الدینٔ ، فریدٔ الدین
مشکل زما کړه اسان، نظام الدینٔ شها

---

ٔ د محبوب الٰهي مرشد

حمزه د ظلمت خنې بهر کړه
صدقه د خسرو ورته نظر کړه
غم د فرقت کړو پریشان نظام الدینؒ شها

سنه ۱۹۳۹ء

---

زمونږ آقا زمونږ سرور نظام الدینؒ اولیاء دے
زمونږ هادي زمونږ رهبر نظام الدینؒ اولیاء دے

زمونږ غم خهٔ دے غم خور محبوبِ الٰهي دے
پهٔ تنګ ساعت کښې د محشر نظام الدینؒ اولیاء دے

پهٔ دریابِ حقیقت کښې طریقت په صدف کښې هم
منوّر ضو فشاں ګوهر نظام الدینؒ اولیاء دے

لباس بادشاهي کښې فقیر بې مثل دا دے
په ماده کښې نهاں جوهر نظام الدینؒ اولیاء دے

لره امید اے حمزه ! د دې دربارِ عالي نه
جګر ګوش علي حیدر نظام الدینؒ اولیاء دے

درګاه نظام الدینؒ اولیاء دهلی سنه ۱۹۳۸ء

---

رحمة الله علیه

# حضرت سیّد علي ترمذي پیر بابا

که یو ځل شي په چا ستا نظر پیر بابا
په نظر به د ستا شي سره زر پیر بابا

څوک چې کوري په سترګو نقشه د بنیر
په خمار او مستئ به هر ګز نه شي سیر
مرغِ دل یې په دام دالفت کښې شي ګیر
توتیا به کړي خاک ستا د در پیر بابا

اے علي ترمذي ته یې اٰل د رسول صلی الله علیه وآله وسلم
ته ګوشه د ځیګر یې د حضرت بتول ؑ
خاکروبانو د در کښې که ما کړې قبول
نور مې مه کړه ځوره در په در پیر بابا

چې هر څوک شي ذره ستا په درکښې شها
په مثال به د نمر شي هر چا ته نما
د هر نظر پرې د خېر الورئ وي صدا
فخرِ عالم شي دشکِ قمر پير بابا

دين و دنيا اے شاهِ خراسان ستا
خادمان ، د کل عالم دي شاهان ستا
وي به تر حشره سرسبز بوستان ستا
وي د جنت به ځي هر سحر پير بابا

غواړمه ستا نه زهٔ شاها لطف او کرم
چې د چشمانو دتورې د شاهِ امم
دُور د دِل نه زما کړه د ناسوت غم
سخت د سختو نه دے دا سفر پير بابا

سوز د فرقت مې خاورې ايرې کړ شباب
بيا د بنکليو شباب مې زړګے کړ کباب
په ځيګر مې پولې دي په شان د جباب
حمزه بې حد شو لو کور و کړ پير بابا

بنير سنه ۱۹۳۲ء



ACKU

★

کهٔ یو نظر دکړي په ما باندې بابا دښېښ
محبوب د ربؐ په رښتیا شاهِ باصفا د ښېښ

چې دبدبهٔ ئې په هر کور دخراسان پرته ده
دے ترمذي سید علیؒ ښکلے فتیٰ د ښېښ
زړهٔ له ګناه کهٔ مرغئړن وي په دو دو دې راځي
ده مرده روح لره دوا اب وهوا د ښېښ
یا خو کوثر او یا تسنیم ددې مقام اوبهٔ دي
ډکه نکهت نه دجنت وي تل فضا د ښېښ
ګېره کشتۍ کهٔ په ګرداب کښې دګناه وي دچا
پهٔ یو نظر به ئې بهر کړي ناخدا د ښېښ

حمزه هم دا یوه سودا به دې هوښیار کاندي
چې بهر نهٔ کړې دخپل سرځنې سودا د ښېښ
کرپه کلے ۱۹۳۵ء

---

★

چې راغې په نظر ښکلې دربار د پیر بابا
مستي په ما طاري کړله دیدار د پیر بابا

سیّد علي ترمذيؒ ورد زما شو په زبان
شاهان نسکور پراته و، په مزار د پیر بابا

پراته به ولې نه وي بادشاهان د دوئ په در
اللهؒ چې دے بخښلے مینه دار د پیر بابا

ثاني مشکل کشا دے په صورت او په سیرت
تفسیر دے د والليل د زلفِ تار د پیر بابا

طواف يې د مزار کړي ملائیک سبا بېګاه
حمزه کړو لیونے چشم خمار د پیر بابا

---

*

پیره بابا ما فقیره د درکړه

په سرو منګلو کوي درته سوالونه
چاپیره ستا له روضې ولاړې جونه
لږ په ما خوارې بابا هم نظر کړه
پیره بابا ما فقیره د دَر کړه

سالو مې رنګ کړه د چشت په رنګ کښې
خاندان ستا مېړنے په نام وننګ کښې
ډک تشې وربل مې په سیم او په زر کړه
پیره بابا ما فقیره د درکړه

دستګیر تور ته د مصطفىٰ يې
تورته د زړګي د مرتضىٰ يې
ورګډه ما په ګلشن د حیدر کړه
پیره بابا ما فقیره د درکړه

یاد مې د مخ په شمع راته پتنګ کړه
مل يې یو ځل راسره پخپل پالنګ کړه
حمزه معمور يې دلب په ثمر کړه
پیره بابا ما فقیره د دَرکړه

***

★

غنچې مې د امید کړه په خندا پېره بابا
بلبل د معرفت مې کړه، شیدا پېره بابا

نیمګړې تماشا یم څوک مې نشته د کتو
هر څېز راته نیمګړې تماشا پېره بابا
ګومې د تمنا شوې اسویلي د ناکامۍ
جلیا شومه چې نه شومه جلیا پېره بابا
وس شپې د محبت مې بوګنبد لې غوندې دي
مجنون شوم که رخصت مې شو سودا پېره بابا
دنیا ګرځنګ ده ما ته زه وحشي او بې قرار
نکهت غوندې مې جوړه کړه دنیا پېره بابا
امسا مې ستا د قدشه د ناتوان همت په لاس
همت مې شه هستۍ لره امسا پېره بابا
دنیا ده بې نوا او که حمزه دے بې نوا
هر څېز ورته بښکارېږي بې نوا پېره بابا

بنیر ۲۱ اپریل سنه ۱۹۷۲ء

★ ★ ★

# حضرت خواجه سائیں محمدؒ عظیم

چا چې نړاں ته خپل قدم په لاره سم ایښے دے
سائیں صاحب ورته په خوبۀ زړګي مرهم ایښے دے

طالب د حق به ئې له دره نه محروم ځي وے
محمدؒ عظیم په لامکان ورومبے قدم ایښے دے

ورشه مالک ته د کشمیر[2] چې غم دې ورک شي همه
د قسمتو بوئې خالق لاس کښې قلم ایښے دے

دغه لوئې ده د سائیں چې په درګاه د خواجهؒ
د دوئې امین[3] په دروازه بالا علم ایښے دے

فنا فی الله کړې به یو ځل نظر کولو سره
په منځ ورو څو کښې ئې عرش معظم ایښے دے

خوشحال خندان د همیشه وي اهلِ بیت د سائیں
دوئې کښې پاک رب جوړو سخا لطف وکرم ایښے دے

راز د حیاتِ ابدي به درمعلوم کړي حمزه
زمونږ د پاره مصفّے سائیں رقم ایښے دے

پېښور سنه ۱۹۶۰ء

---

[1] زما د شیخ مرشد [2] موضع نړاں تحصیل مظفراباد ریاست کشمیر ۔ [3] د خواجه معین الدینؒ چشتي د درګاه په بلند دروازه زما شیخ هر کال د جمادي الثاني په ۲۵ علم اودروي

★

همه سترګې شوې وکړو چا دیدن د سائیں صاحب

دي نرګس چې سترګه ورځي دے چمن د سائیں صاحب

چې هوا د مدینې ئې تل خرام کوي په غرونو

الهي زما وطن هم شه وطن د سائیں صاحب

سوز د عشق لهٔ زیادته د انوارو له کثرته

پرده پوښ د ماسوا شو پیرهن د سائیں صاحب

د جلوو ژبې پیدا شوې د مجاز په آئینه کښې

حقیقت شو بې نقابه په کفن د سائیں صاحب

بې نوا کښې ئې نوا ده په اکبرٌ کښې ئې صورت دے

د واړه یو لرې خاوند جان وتن د سائیں صاحب

د زړهٔ شمعې ته ئې راغلل پتنګان د حکمتونو

دوئي پرې سول خوسځي نه ماسختن د سائیں صاحب

څهٔ عجیب کهٔ تار په تار شي د الباس ئې چې د نفس دے

حمزه لاس دي نکولي په لمن د سائیں صاحب

نړاں اکتوبر سنه ۱۹۴۳ء

---

ٹه محمد اکبر د سائیں صاحب صاحبزاده جانشین

★

ما خو وسُل چې ستا په بند کښې شم آزاد به شمه
پوهه غفلت نهٔ کړم په دام کښې د صیاد به شمه

ستا د یوسف[۱] او د یونس[۲] او اسماعیل[۳] لهٔ مخه
کهٔ قربانې د نیل نهنګ شي ورته بناد به شمه

سائيں صاحبه بې پروا مې لهٔ تعمیره مهٔ شه
سیلی باران ته ودان کور یمه برباد به شمه

نفس بکهٔ ستا د کړو وړو شیرازه یم څهٔ شي
درته چې زهٔ د خپل سائيں راغلمه باد به شمه

چې بنا کسته بې نوا داسې خوله شیرینه لري
د قربانۍ ترخې سخ دے شه فرهاد به شمه

کهٔ د اکبر په مخ نظر[۴] ما تې صاحب او کړلو
ډکه جولۍ په جواهرو د مراد به شمه

حمزه روان او سه دنیا ده مدرسه د عمل
ته چې ډېر او خورمه لغزش هوم استا به شمه

---

۱ د صاحبزاده محمد یعقوب مرحوم ځوانمرد زوے۔

۲ د صاحبزاده محمد اکبر زوے۔

۳ صاحبزاده محمد اکبر

۴ د حضرت سائيں محمد عظیم صاحب بي بي مرحومه



ACKU

# حضرت خواجه

# سیّد عبدالستار شاه صاحبؒ بې نوا

# چشتي نظامي نیازي

---

راواستوه مشکل کشا سپړې شه ستار ته
غنچې د رحمت راغلې د امید ښکلي ګلنار ته

هر ګل یې دنیان رنګ لري
هر نیاز یې د ناز رنګ لري
چپیا داوان رنګ لري
پیالې دي هر مېخوار ته

سامان د بې ننګۍ ورمه
ارمان د دِل تنګۍ ورمه
بورنګ د بې رنګۍ ورمه
دې ګلستان بې خار ته

۳۰۰۰

ACKU

هر زښت د غنچې خوب ګل
مجذوب بوی مجذوب ګل
فطرت د دردمندوب ګل
څې د بګرې بازارته

بازار د جنت د بګرې
ګلشن د وحدت د بګرې
اجمیر صورت د بګرې
تحفه وړمه دربارته

حمزه په دې درشل اوسه
یو ترې ګل اوسه
مدحت کښې بې بلبل اوسه
سرخم لره سردارته

# قصیده ستاریه

دنیا ته مې د زړهٔ د اطمینان راشه بهاره
ګلونه د رجا مې کړه خالي دیاس له خاره

نسیمه د الهام، کړه د عرفان ګلې مې مسکې
داسترګې مې دې پټې په ګلزار کښې له ګلزاره

کیفونو څوانو، ملنې تخنو وهلې لاړل
جذبه د بې نوشه مې ده سلګو نیولې خواره

جذبات مې ګروي د څوانو کیفونو یاد
بیا سترګو مې سرې سرې نوکې پیدا کړې له خماره

فطرت زما د خوټې کړلو کړ لېچ سیه کاره
تریاق د مینې راکړه یمه تنګ د نفس له ماره

یو ځائے چې لکه یاس او رجا تل وي صحو سکر
مفید وي حرکت او قیام دواړه له هر کاره

دې غلهٔ د ما سوا مې په ورشو د سرخفې کښې
تعین محافظان کړه د تسلیم په هره لاره

رضا کهٔ مقام نهٔ دي مقامي ئې کړه په زړهٔ کښې
توبه دلارې ملا د حوصلې کړې استواره

د سر سترګې زما د زړهٔ د سترګو سره يو کړه
وحدت کړه د وجود او شهود يو راته دوخاره

تکميل بنهٔ د حواسو دې خو فتح ئې لاغوره ده
بهتره وي وريځ خو په وريځو کښې ابداره

پرده د سرې توب په ما پرته ده سرې نهٔ يم
ياده ستا د نظر بښکلې ردا شاه ستاره

سيّدهٔ ماچې ستا لمن ښو لې کومه ورځ ده
د زړهٔ د تعلق تار مې بيل نهٔ شولهٔ کرّاره

د زړهٔ د کور دې پرته دروازه کړه چې بيا در شم
خپل پاتې حقيقت دې چې زهٔ راورم لهٔ درباره

حسن په سطوت کښې او په فقر کښې حسين
پيکر دِ عبادت دے د سخا او لهٔ ايثاره

ستا نوم چې په تنګسه کښې د هر چا په ژبه راشي
الفاظ ئې د دعا کړې زيانه غوځه لهٔ تلواره

طالب مې د مولیٰ کړه د دنيا نه مې زړهٔ مور کړه
محتاج مې بل ته مهٔ کړه ده خودي مې حياداره

جوهر مې د خودۍ د ائينې دے سوال د تا نه
صيقل مې د حواسو، ستا عطا لري سرداره

ACKU

هر څو که زه خزله دې لائقه نه یم سینده
چې به مې ستاپاکه په ساحل کاندې ګذاره

امید مې د خوښو دے د دې بحر د ترخونه
ګړي مې د محبت ځې ابر جوړ کړې له بخاره

زلمیا د ترمذ د زړه په کوړکښې مې مسکے شه
برېښنا غوندې مې هره تمنا کړه جلوه داره

همّت مې کړه زلمے د حق په لاره مې روان کړه
زړګے مې کړه خالي د ماسوا له وهم وداره

امید په بوکښېدو شو سځې لنډه کنډه کېږي
آخر به اسویلے شي له دې لویه انتظاره

حمّزه یم خو وښو غوندې پامال د ماسېوائیم
ساته مې په نظر کښې چې زرغون شمه ملیاره

*

لید لې ما ده میخانه د مرشد
که میخانه ده پیمانه د مرشد

له نوراني جهانه ابرنیسان
صدف ناسوت کړه دردانه د مرشد

په جلوت کښې دخلوت خوند اخلي
وي هر دیوانه فرزندانه مرشد

صفت نوري کوي هر دم دخاکي
ملائک وائي افسانه د مرشد

چې دې دنیا لره راځي دحیرت
خودي پرېږده په استانه د مرشد

مئې وحدت لره عقل وخرد ستا
دشکراني ده بیعانه د مرشد

قدامت دے دحادث په طلب کښې
که شمع حق ده پروانه د مرشد

که اوري اصطلاح حمزه د لاهوت
هغه اقوال رندانه د مرشد

***

# حضرت خدا دوستؒ

زړګیه همه شوق شه په نیاز دخدا دوست
ډېر ډېر چې بې نوا به ورځونو دخدا دوست

تارونه به زما په نوي رنګ شي دخیال سر
آزاد شو وس د ترنه دزړه ساز دخدا دوست

خندان لکه دګل څېرې ګرځوان په حقیقت
پنهان وو به افشا افشا کښې راز دخدا دوست

رقصان وو په مجمر کښې دمستۍ که سوزېږ و
انداز دسپلني وو، هر انداز دخدا دوست

حمزه دګردملن یې نیسه تا به کړي رسید
رفعت هم لکه ګرد دے په پرواز دخدا دوست

---

ؒ زما د شیخ یو عارف مرید چې اوس په سکر کښې په ابدي خوب اوده دے۔

# تاریخ وفات

# حضرت قاصد بابا شنواري

لواړګے ۲۴ ر جون ۱۹۴۲ء

قاصد بابا د لواړګي یو مشهور او معروف سالک مجذوب ؤ ـ د هغه کرامات د نمر په شان روښانه دي ـ ماسره ئې ډېر محبت ؤ، په ۱۸۹۴ء کښې یو هندوستاني مجذوب د سپاهي توب نه د جذب دنیا ته راښکلے ؤ ـ

(حمزه)

چې صراط د دې دنیا ئې یو قدم کړ
تېر د نفس له جهنمه شو فراغ شو
د ناسوت نه د قضا خزان یو ګل وړې
چې برزخ ورته همه مشام دماغ شو
نوبهار دے جوړ د جذب په صحرا کښې
هر لاله د عرفاني میو ایاغ شو
جوړ شنوارو ته خبر د رڼا راغے
چې تیرو لره قاصد بابا چراغ شو

۳۰۰۷

چې ملیار د تن ئې باز د قدسي روح دے
نفس ئې تلونکے لهٔ دې باغه لکه زاغ شو

د تاریخ خبر سروش د فکر د اوږ
لوارکې چول وُ، "د قاصد پهٔ کبل باغ شو" ۱۳۶۱م

وحمزه ته د سلوک ډیوه شوه بله
انتقال ئې د قاصد چې په زړهٔ داغ شو

---

د مسرّت د شجاعت د امانت شوه زمانه
نشته ظلمت د تشتّت هغه دوران شو افسانه

نمر شو ظاهر د هدایت پهٔ تماشائې شو هر کس
شمع ئې گل پهٔ ننداره پهٔ تمنا ئې پروانه
نن شو ترغاړه خلوتیان او جلوتیان سره یو ځائے
شو لو یو روح او دوه قالب وو دیوانه کهٔ فرزانه
تېرهٔ اغزي شو زبانونه د رحمت لري مرهم
پهٔ گلستان او پهٔ صحرا کښې هر یو گل شو پیمانه



ACKU

د رسالت په نظر سترګې د قدرت ګوري دنیا
شش جهت ښکني هره ذره د امامت شوه میخانه

د هر شاعر ژبه ګویا شوه په با انت سعد بیا
طلع البدر علینا د مسلمان ده ترانه

ذره د قران په هرا خلاص وایي عامل مې شو پیدا
یو به ملت شي "ګنج"[۷۳] به وران شي د ابجد په نښانه

بخت يې راويښ شو احمزه ګوره د ناوکې د ناسوت
کوي سنګار جبروتي ، ملکوتي لري شانه

---

★

بې رنګه بهار دے ، ویح د زړهٔ ګلزار دے
اے د رسالت امامه تا ته انتظار دے

راشه راشه وس سرګند په کلیت کښې شه
اے د رسالت روح قالب د امامت کښې شه

بې رنګه بهار دے

اوس بغیر له تا نه چرته خوند د ېمانې نشته
اوس هغه رونق د دې دنیا د مېخانې نشته

بې رنګه بهار دے

ستا چې د راتګ وې هغه ټولې شوې وعدې پوره
ته را ښکاره نهٔ شوې که شوې واړه نښانې پوره

بې رنګه بهار دے

شمعٔ ستا د مخ چې په محفل کښې د دنیا نشته
واړه پتنګان په انتظار سوزي رڼا نشته

بې رنګه بهار دے

راغلهٔ ستړي زړونه په ګلکوکښې ئ قرار اونيسو
ستا د ديدن شوق مو د ګرېوان څنې څمبا راونيو

بې رنګه بهار دے

ګرد چې د سپوږمۍ په مخ دستورو بوګښېدل وينم
ستا د مخ په نمر پسې دوارو پسخېدل وينم

بې رنګه بهار دے

مسک شه د حمزه د زړهٔ په ګل کښې د چسپا په رنګ
يا خو په لمهٔ د بې نوا کښې د خندا په رنګ

بې رنګه بهار دے

***

*

وس نه زاهد او نه ناصح او نه غمخوار پاتې دے
وس محتسب او نه صوفي او نه خمار پاتې دے

د رهروانو څه پتوس په داسې وخت کښې کوې
چې رهنما ؤ، هغه هم په سمه لار پاتې دے

وس په کثرت کښې شته وحدت نه په وحدت کښې کثرت
نه اتحاد شته په تسبو کښې نه زنار پاتې دے

د قلندر په تجرد باندې ډاکه پرېوته
متوکل څنګه په زړه کښې انتشار پاتې دے

وس په خواص او په عوام کښې امتیاز نه وینم
نن د خادم شته تعین او نه سردار پاتې دے

کار د انسان شو بې کارې چې بې مقصده شو کار
اوس په دې ځائے کښې که څه کاروې نو ستا کار پاتې دے

که مشرف پخپل قدم کړې دا پرېشانه جهان
د جمعیت د تبسم ځنې ګلزار پاتې دے

لاړو رونق له دې ګلشن لکه لوګے د شمعې
د هدایت خورشیده تاته انتظار پاتې دے

څو که حمزه دے بې نوا ته مسیحا نفس یې
نشته هیڅ غم ئې که ژوندون ئې مستعار پاتې دے

بجکې دسمبر سنه ۱۹۵۰ء

# زرے

چې سرۀ د سرې توب وُو د فطرت په انګو کښې
مسکے غوندے نظر چې د قدرت وُ په لمو کښې
یو روح د تسلسل چې وُ، دو چې په شپو کښې
باران د تسلی وُ، په وریځو د تو بو کښې
چې شپوې وُ کاکل ته د خیرات کچکول نیولے
چې ورځوې د خط د تصوّر وشپول نیولے

دې نمر ته سترګې لکه پرخه وو وختونه
ترکیب ته منتظر د زمانې وو اندامونه
ذرّانګو کښې د وحدت چې لا ازل لیدۀ خوبونه
چې خیال کښې د امکان چې د هستۍ وو تعبیرونه
لا زرۀ د کائناتو د ژوند نۀ وو درزیدلے
قدرت هم خپل جمال وته لا نۀ وو موسیدلے

لا چرته په جوهر او په وجود کښې یارانه وه
لا چرته جوړه شوې د اعراضو پېمانه وه
لا چرته د اسبا مو مرتبه مېخانه وه
لا چرته د کېدلو نه کېدلو افسانه وه
لا چرته پیدا شوې بوکښېدلې ولولې وې
لا چرته د الفت په لب له غرېوه زلزلې وې

د "خه" چې ورته وایو هم پنهان ؤ په نقطه کښې
په مثل دیو تخم گلستان ؤ په نقطه کښې
موجود خو ؤ وجود ولې حیران ؤ په نقطه کښې
ایښي دیو وجود گویا چشمان ؤ په نقطه کښې
حق هم نه ؤ نقطه ځکه چې دا راځي په خیال کښې
نقطه په جبین خال ؤ کائنات ؤ په دې خال کښې

د خال ؤ که جلوه وه د تخلیق چې ځلېدلو
ورو ورو په موسېدلو موسېدلو لوېدلو
هم داسې موسېدلو غټېدلو خورېدلو
هم داسې خورېدلو نزمېدلو تخښېدلو
مسکې به چې شو ورځ به ئې د شونډو نه نما شوه
چې ټر به تبسم شو توره شپه به را پیدا شوه

ACKU

رڼا وه که تیاره چې د ازل او د ابد وه
مقدار او اندازه که څه د حد که د لاحد وه
منشاء که د نقطې نه تر الف که تر مد وه
پټه دې کښې وه موجوده دا جلوه د محمد صلی الله علیه وآله وسلم وه
خوره شوه لا خورېږي لا به لاسې خورېږي
ورېږي زرغونېږي لا به لاسې ورېږي

خالق او د مخلوق د تعلق د پاره راز وو
نغمه یې کائنات شو د خالق په لاس کښې ساز وو
اثبات چې د خالق ورباندې او شو ځکه ناز وو
مثبت چې له خالق شو نو په دې حقله نیاز وو
تکمیل یې چې عالم د جواهرو ته بښه ورکړه
بیا پسته یې دنیا ته د اجسامو را بهر کړه

آدم بې له منشاء د سړي توبه خبردار کړو
مرکب حیرانیت یې کړ انسان یې پرې سوار کړو
څرګند یې بې احساسه ورته فرق د نور او نار کړو
دنیا او د دین دواړو امتزاج ته یې تیار کړو
دنیا او آخرت یې دوه سترګو په مثال کړل
که دوه دي خو یو وینې په داشان یې په یو حال کړل

پردې دزړهٔ دسازچې په پنجه دیزدان راغلې
سندرې دځوانیو دفطرت پهٔ زبان راغلې
وړنځې دانوارو دمکې په اسمان راغلې
جلوې درحمتونو دجزېو په شان راغلې
پُونه ترې دتسنیم اودکوثر په وریدهٔ شوه
فضا دجنتونو دمنظر پهٔ وریدهٔ شوه

ښکلې لکه دپېغلې ګل وریښه خندا اوکړه
احساس دزلمي توب سحرجبینه خندا اوکړه
سختې دتورو زړونو مرمرینه خندا اوکړه
لبانو غریب ښوليو بخملینه خندا اوکړه
شرابو دبدې لره نمک دتوبې راغے
نشې دسرکشې دپاره څک دتوبې راغے

نغمې دجنتونو دفانې دنیا په ساز شوې
جارې دحقیقت نهې پهٔ ژبه دمجاز شوې
دمینې سترګې تورې پهٔ رنګو دامتیاز شوې
ساده ساده خبرې پهٔ بهاکښې لکه راز شوې
ینسان وَ یوچې دُر داطمینان په وریدهٔ شو
هر شے ورته صدف غوندې پهٔ ښکته وازه خوله شو

ACKU

وشمعو ته يې داغلل چې کافور وو له وحدته
زړه دوني دبيت الله شو دجشو له دهشته
دوچې ابابيل ځلونه راوړل له جنته
فضا د زړونو ډکه شوه دمينې له نکهته
سنګين زړونه راتنګ شو د بتانو په حرم کښې

- - - - - - - - - - - - - - - - - - -

سجدې شولې راجمع په تندي کښې په خدا شوې
چې سترګې دجلوو په تماشه شوې تماشه شوې
نيولې تمنا دعشق سلګيو وې بخلا شوې
د دېرې مودې ورکې تسلې بېرته پيدا شوې
تنا حجراسود دتورو زړونو په شکست کړه
وعده يې اوچو شونډو ته ورياده دالست کړه

دريځ د نور شوه بنکته دهاشم په کورشوه پيدا
پرده وه جوړه دحق چې څېرې حق کړله بربنډه
ندا شوه ترې بهر پکښې يو برق چې اوکړه منډه
اوس شي به له دې کوره ددنيا دامن غونډه
اورتشو دکسرا دهوش ماڼۍ په زلزله شوه
په زړه کښې دقيصر دويرې جوړه سلسله شوه

پیدا شو هغه کس چې مُدعا د پیدا وښت وُ
ظاهر يې هغه ذات کړ چې منشاء د پیدا وښت وُ
مسکې شو ورکونکې چې ژړا د پیدا وښت وُ
چې نمر د هدایت وُ او رڼا د پیدا وښت وُ
خوارهٔ د پلوشو ورځې غشي هر طرف شول
لیندهٔ د رسالت را ښکه شوه زړونه يې هدف شول

بدي لکه د خوب د مالګېنو سترګو لاړه
نیکي شوله راویښه په خندا شوه راولاړه
ګلونه د توحید شو راټوکند د شرک په غاړه
سپرلے د سرې توب شو ارمانونو ته ترغاړه
فطرت لکه بلبل د پاک احد په ثنا سر شو

- - - - - - - - - - - - - - - - - -

د بنیانو خاتم راغے رڼا راغله
د جنت نه دې چمن ته سبا راغله
د مکې په تندي څرنګه برېښنا وه
د رحمت د بارانونو تنا راغله
د هاشم په کور جلوې کړې پټ پټانې
تنو ستورو د عرفان ته خندا راغله
دروازه د هر نعمت په جهان واشوه
میکائیل ته د پاک رب نه عطا راغله

ACKU

هستي چې په ښېښه کښې د هستۍ خوب لېدلے
تعبير يې بلندي شوه چې پستۍ خوب لېدلے
هستي يې محمد ﷺ د ښستۍ خوب لېدلے
دنيا شوه سيه مسته چې مستۍ خوب لېدلے

احساس لره رڼا د عقل راغله منور شو
مکه د مزکې زړه او مدينې د مزکې سر شو

کله محور شو د نيکۍ همه کارونه کيلو سم شول
يو ژغ ته د فطرت همه سرکش تخمونه خم شول
په سپاره د توحيد د جهالت خټکي درهم شول
په وتره د الهام بيابانونه هم ارم شول

حاصل د معرفت شو د دنيا له بوټي بوټي
تالا کړل د تهذيب ګلونه خلقو موټي موټي

پيدا شو هغه کس چې د بې کسو مددګار دے
پيدا هغه فقير شو د شاهانو چې سردار دے
پيدا هغه ګلزار شو چې هر ګل پکښې بې خار دے
پيدا هغه نسيم شو ټول جهان يې چې ګلزار دے
پيدا د آمنې د ستر ګو تور د جهان نور شو
پيدا د مطلب د ستر ګو نور د زړه سرور شو

ACKU

راتلل د نبي څهٔ وُ په عالم کښې جمال راغې
افراط شو نهٔ تفریط شوچې کوم دم اعتدال راغې
عالم ته د تفصیل چې هغه ځلنده حال راغې
... پاتې نقطه نهٔ شوه خال په شکل د حال راغې
پرتو د سرې توب پهٔ دې آئین کښې رابنکاره شو
انسان د خپل جمال او د بنائست په ننداره شو

مختص ئې د رته وایم د جلال حال
مفصل ئې ظاهر کړے د ے جمال حال
راشه واوره د سرور او د بلال حال
د حضرت د ولادت او انتقال حال
د بقا او د فنا رازونه وائیم
د خندا او د ژړا رازونه وائیم

د احساس چې د کوم ځائے نه ابتدا ده
پهٔ تخلیق چې ختم کیږي دا بقا ده
چې تخلیق ئې مکمل شي انتها ده
چې احساس ئې مکمل شي دا فنا ده
لهٔ توحید مخکښې فنا او بقا نشته
خوشحالي او غم خندا او ژړا نشته

چې محسوس یې دنزول داد راک حد شي
په وجود کښې د واحد چې خوبښ احد شي
ګویا قدم د حدوث سره یلـــد شي
چې یې بیل له مخه نور شــو محمد صلی الله علیه وآله وسلم شي

ازل واخستو وجود د دې د ســهـا ســه
بیا وجود شو خبردار د هیولی ســه

منحصر په مخ د ذات یې اهمیت دے
هم څرګند د کل وجود ترې حقیقت دے
نور وجود یې جُزیت مخ کلیت دے
دا خو مخ دے چې محل د معرفت دے
څکه نور د محمد صلی الله علیه وآله وسلم یې ترې جـدا کــړ
معرفت یې خپل د دوئ په مخ نما کــړ

هغه مخ چې مخ د خدائے وُ د سرور شــو
ذات د رب که وُ ظاهر له دې اظهر شو
یو وجود وُ هم د ننه هم بهــر شو
بیا دا مخ د محــمد صلی الله علیه وآله وسلم د هــر بشــر شو
له وحدته دوئ بیا له دې کـثرت شــو
معرفت یې ممکن هله د وحدت شــو

حقیقت بناس د ربر کړو د مجاز
دنیان په رنګ کښې راغے همه ناز
نبيّ راغے د تیرو کړې په سر شوې
کانې بوتې جلوه دار شول د مجاز

شپه د کفر اسویلي د منتظر شوه
چې سحر د رسالت شو ستیر استدان
د احساس تارونو سُر د فطرت واخست
سندره اېن شو د انسان د ضمیر ساز

په تیاره کښې د دنیا ستا د نور چې شوه برېښنا
پرې تهذیب شو لو مسکے د ظلمت زړهٔ په درزا
ته شوې ابر د رحمت مرجمن شو په خندا
د ژوندون اوبه شوې نوې چې راسردې شوه تنا
رنګ او بوئ د معرفت سلسلې کړلې بنا

هر یو تاخ ته دې د زړهٔ شمع راوړه د عرفان
دا تیرو نیو لے عرش ستالهٔ نوره شو روښان
کل جهان دې کړو روښان چې تخرکند شو په فاران
د ښکانو د زړهٔ دم کافرانو ته طوفان
چې الحاد دې کړو لاهو دیاهو شوې پرې دریا

ستا قدم په هر قدم چم په چم چمن چمن
جوړ کړو یو عرب عجم یو وطن وطن وطن
د حکمت له مینکو پور د هر چا لمن لمن
دیشب د بڼ هوسی پرهر رم ختن ختن
د مذهب شو نو بهار کړي بلبل د دِل نوا

سبا را وړے د نګهت په غوټو ګلستانونه
که پریانو په ماشوم اوکړو زېړي د ځوانئ
شو هنګام د غوړېدو خبر که شته پریشانئ
ګل او ده کړي په اغزو د سېرلي سرګردانئ
وچي کلکې ژبې کړي د لمه په نم ثنــــا

چې په کور د جنت باغ راسمسور شو د هاشم
د حورانو بنه مجلس جوړ په کور شو د هاسم
په عالم کېښې د بقا نوم ورخور شو د هاشم
فاني عمر چې ولاړ باقي نور شو د هاشم
ځار له داسې ابتدا ځار له داسې انتــها

لاړې لاړې شول انوار له اسمانه تر زمين
قاصدان دېو قديم شو حارث ته راقرين
شوې سجدې پخپل مقام هر جبين شو بيا جبين
او ښو لاس له نقاشۍ نقاشان چې وو دچين
داسې نقش ئې کړو جوړ چې زايل به نشي بيا

په دماغ کښې دانسان لکه خيال دے محمد صلی الله علیه وآله وسلم
په جلوه کښې د قدرت ښکاره جمال دے محمد صلی الله علیه وآله وسلم
سرچشمه او منتها د هر کمال دے محمد صلی الله علیه وآله وسلم
غم مو څهٔ دے چې حبيب د ذوالجلال دے محمد صلی الله علیه وآله وسلم
خپل امت لره پښتي او هم دېوال دے محمد صلی الله علیه وآله وسلم

په ظاهر خو دے آدم په حقيقت کښې خدائے خبر
دے چې څان ته بشر وائي مونږ هم وايو دے بشر
د هر څيز د پاره دے امير او هم خبر
د عالم په ژبه قال دے او په قال کښې دے اثر
د صوفي او مجاهد په زړه کښې حال دے محمد صلی الله علیه وآله وسلم

را پیدا یې چې هستي شوه نو نیستي ځکه هستي شوه
چې د دوی په لاره نه شوه که هستي وه نیستي شوه
پیدا وښت د دوی غرض و بنا ځکه الستي شوه
تر قیامته په آدم کښې یې ځای اوموندو مستي شوه
ارواحانو ته تحفه یې کړو وصال د محمد صلی الله علیه وآله وسلم

دا څرګنده د حضرت په برکت حیا وفا شوه
د حیا سترګې شوې روښانه د حیا زړونو کښې رڼا شوه
هر یو زړه د تقوی ځای شو په خارا یې چې بریښنا شوه
چرته د صدق و دیانت شو چرته جود و هم سخا شوه
ترې غورونه شول نما هغه مثال دے محمد صلی الله علیه وآله وسلم

بنیادي رکن یې راوړو د اخلاقو دې دنیا ته
هغه څه و؟ خو توحید! چې ښکته نشي ما سوا ته
ائینه شو د اخلاقو شو حیران خپلې جلا ته
که عاصي و په زړه تور هغه یې اووېستو رڼا ته
په ګناه باندې سبب د انفعال دے محمد صلی الله علیه وآله وسلم

الستي فطرت محسوس کړي چي هم دادي
کړي الله د محمد صلی الله علیه وآله وسلم په خوله اوان
سړي توب له حیرانئ له جغه خلاص شو
په عمل شو د ښو بدو امتیان

سلام په هغه نوم ئې چي باعث د اطمینان دے
درود په هغه ذکر ئې چي ذکر د سبحان دے
سلام شه په هغه چي هر یو گل ئې گلستان دے
درود ئې په هغه د چي مولا د مسلمان دے

سلام د حمزه څه دے؟ چي پاک رب پري سلام وائي
درود د حمزه څه؟ چي ملائک ئې دوام وائي

# عظیمه قرباني

فلکه پېر اوګوره واپس هغه لمحې راوله
په کربلا کښې هغه تکندې غرمې راوله

دې تودې شوې په دې غم کښې د هر چا اوښکې
لا به تویېږي ستا د ستورو نه سهوا اوښکې

د نن انسان چې د اسلام شان و شوکت اووینې
د محمد صلی الله علیه وسلم د اهل بیتو شجاعت اووینې

چې ورته څلند شي معیار د قربانۍ د حسینؓ
چې زړه بوده کښې ور عیانې شي ځوانۍ د حسینؓ

چې ئې سیځلې دین دپاره کړو خپل ځان قربان
د خپلې خونې میړنې ښکلې ځوانان قربان

چې ئې سرتورې شوې عصمت او د عفت خاتونې
چې دین دپاره وې زوکړې[۱] د جنت خاتونې

---

۱ یعني زینب وې

هغه حسین چې یې ساقي دے دکوثر بابا
چې یې والي دے هم سید دبحروبر بابا

دریمه ورځ ده چې پرې بند دي اوبه دفرات
ژبه یې اوچه ده خو بیا هم پرې روان صلوٰت

دتندې زورؤ ماشومان وو همه سر په ژړا
دلته په کریکو سکینه، هلته اصغر په ژړا

پیدرپکېنې جرته چې دمنډو یې سینې اوچې وې
له دریو ورځو چې اوبه نه وې چښې اوچې وې

دا انتها ده دستم دپیغمبر په اولاد
داسې جفا د ظالمانو دحیدر په اولاد

# مرثیه

دا ستمونه چې په آل د مصطفیٰ شوي دي
په ویړ جهان کښې راته وایه چې په چا شوي دي

هغه ناشوني چې شیطان هم ترې امان غواړي
هغه په آل د محمد صلی الله علیه وسلم په کربلا شوي دي

تل به روانه وي د حق او د باطل جګړه
لکه جنګونه د تیرې او د رښا شوي دي

چې پاک نبي په پاکو لبو ښکلولو مدام
ډېر ګوزارونه د هغه په مخ او شا شوي دي

د اولادونو خاوندانو تصوّر څو اوکړئ
په ماشومانو چې ظلمونه د زهرا شوي دي

عجیبه دا چې دا روا مسلمانانو کړل
نو کافرانو دا وئیل چې ناروا شوي دي

***

ACKU

★

نن هغه ورځ ده چې تکمیل د قربانۍ شوے دے
د خوب تعبیر د ابراهیمؑ او اسماعیل شوے دے

ورکړے شوے د اسلام اوږې ته نوې وینه
نن د اولاد د محمد ده توېږي شوې وینه
نن به د او وینه تر محشره ګلستان جوړوي
د حق ثنا لره به نوي بلبلان جوړوي
د عمر سعد دا اصرار وُه چې بیعت اوکړه
حسینه راشه د یزید متابعت اوکړه
بغیر له دې دې خبردار شه بل مفر نشته
اوګنې پوهه شه په تن باندې دې سر نشته
امام ویل ورته یزید لره به ورشمه زهٔ
چې مخامخ ئې په منشا باندې خبر شمه زهٔ
اوکهٔ دا نهٔ وي چې په لور د هندوستان لاړ شم
چې د جهاد په سلسله کښې خرامان لاړ شم
د عمر سعد په کړهٔ وړهٔ کښې څه بزمي شوهٔ پیدا
خو د بدبخت شمر په وینه کښې کرمي پیدا شوه

وي، عمر سعد دا نو ميچري کيد لے نه شي
نه هندوستان ته او نه شام ته راند تللے نه شي

اوکنې پوځ شه د لښکر سپه سالار به نه يم
ابن زياد کړے فرمان دے چې سردار به نه يم

د عمر سعد ؤ د رتبې د حکومت لالچ
ابن زياد چې ؤ ورکړے په حکمت لالچ

وې چې حسينؓ نه دې هند او نه دې شام ته پرېږدو
او کړه بيعت په دې ساعت نه دې ما بنام ته پرېږدو

داسې ډزوند نه رانه وايه چې بېزار يې ولې
د خپل انجام نه بې خبره په انکار يې ولې

امام وئيل ورته چې ژوند خو امانت دے د رب
د ميچا خپل نه دے فقط يو عنايت دے د رب

عمره پوهه شه، فرزند د مرتضىؓ يمه زه
دستر گو تور د محمد صلى الله عليه وآله وسلم خير الورىٰ يمه زه

د فاطمهؓ بي بي په غېږ کښې لوبېدلے يمه
زه يې د دين و تحفظ لره پاللے يمه

لولې قرآن خولې ايت هم د تطهير اولوله
زمونږ په شان کښې نازل شوے بې نظير اولوله

دين به ژوند په بها ميچري ورنه کړمه زه
لاس د بيعت به تر قيامته هم درنه کړمه زه

زما بيعت به وي جواز د گمراهۍ د يزيد
داچې اوس شوے دے اغاز د گمراهۍ د يزيد

٣٠٣١*

ACKU

# مرثيه

ګراني ټومره ګراني مرحلې د قربانۍ دي
داسې بوګنو ونکي چې لمحې د قربانۍ دي

جنس ئې د ضمير د ازادۍ درته راوړے
دا غافل انسانانه قافلې د قربانۍ دي

اوس به نو وربل د ازادۍ د ناوې خورشي
جوړې کربلا کښې سلسلې د قربانۍ دي

غږ چې د امام د قافلې د جرس چپ شو
اوس نو په هر لوري انګازې د قربانۍ دي

غشے چې تنکي ماشوم اصغرؓ په مرۍ اوخوړ
خدائیګو دا سلګۍ وړې وړې د قربانۍ دي

غشو په څوکه د اکبرؓ سينه غلبيل شوه
لا ئې ځوانۍ شوې ولولې د قربانۍ دي

فخر به په آل د محمد صلی الله علیه وآله وسلم انسانيت کړي
جوړې هم له دې چې سلسلې د قربانۍ دي

* * *

ACKU

★

امام وئیل ورته چې ته د مرتضیٰ بچې یې
د هغه فاتح خیبر مشکل کشا بچې یې

زړه په قابو کښې ساته پام کوه چې نه وزي
دا لوړ واړه زاده چې هم په غم کښې کښې نه وزي

ته جانشینه د خاتونې د جنت یې خوري
داد به زما غواړي خاتونه د قیامت یې خوري

ته خو پوهیږې چې ترڅو چې قرباني اونه شي
دیو عمل به هم تکل او رواني اونه شي

امام چې سور په ذوالجناح شولو بهر را اووت
ګویا د فستق دیړو د پاسه نمر را اووت

اصحاب یې پوهه شول امام راغلو د جنګ د پاره
ملا یې تړلې ده په دین باندې د ننګ د پاره

بیا حبیب ابن مظاهر ورته سلام اوکړو
په ډیر ادب یې ورته بیا داسې کلام اوکړو

وې چې ژوندي چې ترڅو مونږ غلامان یو دتا
ترهغه وخته د حرم محافظان یو دتا

زما سیده اجازه راکړه میدان ته حمله
د دې عظیمې قربانۍ وامتحان ته حمله

امام وئیل ورته حبیبه باوقاره زما

ستا هلاکت مې پېرزو نهٔ شي وفاداره زما

ولې حبیبٔ دجنګ دپاره چې اصرار اوکړو

امام پهٔ نهٔ زړهٔ داثبات ورته اظهار اوکړو

غبن شو هرخوا دفولادي بدن څښتن راځي

اوس به میدان ته یو زلمے اتیا کلن راځي

ملاوه کړه لکه لینده، پهٔ لاس کښې تېغ اودرېد

چې راميدان ته شو دغشي غوندې نېغ اودرېد

وې چې وفا موکړله هېره جفا کارو ولې

دسمې لارې نه کاږهٔ شوئ خطاکارو ولې

وې ظالمانو پهٔ نمانځه کښې درود وایئ کهٔ نه؟

دمحمد صلی الله علیه وآله وسلم سره ئې ال هم پکښې ستایئ کهٔ نه؟

پهٔ ژبه یو او پهٔ زړهٔ بل منافقت دے که نه؟

سره دپوهې داتکل موجهالت دے کهٔ نه؟

دیو ګمراه دپاره ظلم پهٔ حسینؑ مهٔ کوئ

دپاک نبيؐ او د زهراؓ په نور العین مهٔ کوئ

وې عمرسعد چې څوک شته چې دابوډا کړي هلاک

دخپل لهٔ خوا راغلې دابلا کړي هلاک

بیا چې راتلل نو قتلېدل ددې جرې دلاسه

دحبیبٔ ابن مظاهر دامرزي دلاسه

ACKU

بیا عمر غږ کړو ترې چاپېر شئ چې ژوندے لاړ نشي

چې خپل امام ته فتح مند اوګرځي لاړ نه شي

ترې یو خوا بل خوا په سوونو ظالمان شو چاپېر

ددې بوډا زلمي زمرې څنګ ته پهلوان شو چاپېر

د حبیبؓ توري د سرونو کروندې کولې

په زخمي تن ئې هم د ګل غوندې خندا کولې

چې شو زخمونه بې شماره شهسوار پرېوت

په حوصله او په همت او په وقار پرېوت

بیا ئې نعرې کړې چې د خپل حبیبؓ خبر واخله

په پاکه غېږه کښې سیده زما سر واخله

امام ویل ورته لبیک دے جانثاره زما

لاسونه غوڅ د ظالمانو شه سرداره زما

په خپله غېږ کښې مې حبیبؓ له پناه ورکړه

هغه دیدار د امام اوکړو بیا ئې ساه ورکړه

# مرثیه

څه پوښتې چې دا د چا سرونه په نېزو دي
دا خو په معنیٰ کښې قرآنونه په نېزو دي

ځوان که ماشومان دي که نیم زاړه بوډاګان دي
اوګوره سورې سورې ئې زړونه په نېزو دي

تن دے د امام په ډېرو غشو غلبیل شوے
هم پرې باندې شوي ګوذارونه په نېزو دي

حیف دے چې پامال ئې په اسونو شهیدان کړل
څېرې د خېمو ئې دامانونه په نېزو دي

دا ئې د نبي او د زهرا په زړونو ایښي
کوم چې د سرو وینو ئې داغونه په نېزو دي

څه به کړي جواب هلته چې نمر یوه نېزه شي
دوئ چې څومره کړي ستمونه په نېزو دي

سر د پاک امام په نېزه څه دائ پوهېږئ
چرې قتل شوي ایمانونه په نېزو دي؟

* * *

ACKU

# تږي مظلومان

اے د پاک نبي د مدینې نسیمه راشه
راوړه نکهتونه ، پسرلے د کربلا شه

څۀ خو تۀ وږې دسکون راوړه لۀ یثربه
اوښینده کلونه دتسکین لۀ دې ادبه
ورځ د عاشورې ده پۀ سحر کښې هم سموم دے
واړه چاپېر چل هم د حسینؓ دپاره شوم دے
نن دلته ددریو ورځو تږي مظلومان دي
پاکې ارتینې مجاهدان دي ماشومان دي
پېښه به نن هغه حادثه شي کربلا کښې
وي به بې مثاله د تاریخ ویره دنیا کښې
هغه دي کوفیانو ډماڼې اوغرب ولې
ټوک دي سوارۀ شوي چا وسلې سنبالولې
صف خلور کوټه هم دلته جوړ کړو مظلومانو
ناست په زنګنو لاس کښې نېزې دي دغازیانو

مېنځ کښې د دې صف ئې تېر اند از دې کښېنولې
غشي ئې په ګورت کښې دې تيار ورته نيولې

اوکړه عمر سعد د شورو حمله بې واره
دلته کړه غازيانو په نېزو باندې حصاره

جوړې پړې حسيني تېر اندازانو يو قيامت کړو
صف د عمر سعد د لښکرو ئې لت پت کړو



ACKU

# مرثیه

ښکلي ګلونه ترمې ترمې د سپرلي پراته دي
د محمد صلی الله علیه وآله وسلم د خاندان ښکلي زلمي پراته دي

چې زړه د کفر یې نعرونه د تکبیر لړزېدو
د اصحاب دي د حسین لکه زمري پراته دي
یک یې سند د تل ژوندون شو په کتاب د عالم
د اهسې مړه دي چې تر حشره هم ژوندي پراته دي
چې ابراهیم او اسماعیل به هم پرې فخر کوي
نن بې کفنه هغه ښکلي مېړني پراته دي
چې هر څه څه یې قرباني کړه په نامه د اسلام
په بې کسۍ کښې دلته هغه لیوني پراته دي

چې استقلال ته ملائک یې هم حیرت وړي دي
هغه غښتلي ننګیالي هغه سري پراته دي

★ ★ ★

★

لا څو وه غرمه چې ننګیالي ټول شهیدان شو
آل د محمد او د اسلام ځني قربان شو
ګنج د شهیدانو کربلا کښې ؤ جوړ شوے
بس څو عمرسعد ئې په وینو ؤ موړ شوے
پاتې په میدان کښې یک تنها امام حسینؓ وُه
هو ! هغه حسینؓ د پاک نبيؐ چې نور العین وُه
لاړلو تر څنګه ذوالفقار ئې د بابا کړو
هم په سر دستار ئې د نبيؐ بنکلے زیبا کړو
خور یې یې رکاب د ذوالجناح ورته نیولے
اس د پیغمبر هم ورته ګورې غرېږو نیولے
وې چې خورې وخت د قربانۍ د ے اوس راغلے
آل د محمد صلی الله علیه وآله وسلم مې د ے په تا بانده سپارلے
تل کړه حفاظت ئې چې رنځور زین العباد د ے
پاتې دا وارث د خاندان د مصطفیٰ د ے
بیا نو د حرم ځنې میدان ته رابهر شو
فوځ د جفا ته بنکته پورته په نظر شو
بیا ئې پس له حمد وله صلوٰه اوکړه غږ
غلے شو یو دم کښې د کوفې د بنکر زوږ

وے چې بنهٔ ئې پټرنئ نمسے دپاک نبیؐ یئم
زهٔ د زړهٔ ټوټه د فاطمې او د علیؑ یئم

وائي زما خون درته په کوم دلیل روا دے
دا قدم چې تاسو پورته کړے دے خطا دے

غبرګ اوکړو عمرشمر چې څو بیعت اونهٔ کړي
قتل به خپل ځان هم دخپل کور واړهٔ ځارهٔ کړي

شور شو په دې وخت کښې به حرم کښې دبیبیانو
هم پکښې ژړا او انګولا د ماشومانو

ستون شو لو حرم ته وئې چې خبر دې وي څه حل دے
اوئیل بانو چې مې اصغرؑ وصلے جل دے

دا خستو په غبرګه کښې امامؑ راغلو بهر ته
بیا ئې په سکون مخاطبه اوکړه عمر ته

وې چې کهٔ قصور دے ستا په خیال کښې خو زما دے
دا دشپږ و میاشتو یو ماشوم خو بې خطا دے

څوک دے چې یو کوټ اوبهٔ به ورکړي لوئے ثواب دے
اے پهٔ زړهٔ سنګینو دا نمسے دبوترابؑ دے

غشے په جواب کښې حرمله بیا ورګوزار کړو
غبرګ کښې دا ماشوم دخپل بابا ئې تار په تار کړو

لیسه د امامؑ شوه د اصغرؑ له وینو ډکه
وے چیه نن دې د بابا غاړه کړه ټکه

پورته ئې اسمان وته ګوزار کړه وې چې خدایه

ته مې د امعصوم قرباني مه کړې بې حیایه

بیا ئې نو حرم ته جل وهلے اصغر راوړ

ګویا چې حرم ته ئې حالت د محشر راوړ

---

# مرثیه

---

چیغې په اصغر د سکینې د اوریدو نه دي

اوښکې ئې روانې په هیڅ شان د اوچیدو نه دي

باغ چې د نبي تالا کوې ظالمه څه کوې

دا ښکلې ورې ورې کلۍ د شوکیدو نه دي

اووې زینب، عون او محمد دې رانه هیر کړلو

اے اصغره زویه ستا زخمونه د کتو نه دي

اوښکې د بانو لا د اکبر له مرګه ختمې وې

اوس ئې بې د زړه له وینو هم د بهیدو نه دي

وي چې اے فاطمه د خیبر که راشې او ګورې

لاس مې د زنځور زین العباد هتکړو نه دي

اے نبي سروره (صلی الله علیه وآله وسلم)، امتیان دي شرمخان شولو

ستا د آل په وینو ظالمان په مړېدو نه دي

---

راشئ که ئې ګورئ اوس امام دے په مېدان

د اته نحوس کلن بوډا دے لکه ځوان

وي چې اے کوفیانو فکر اوکړئ چې د اخته کړئ

سر خو په ګرېوان کړئ چې دا بد کوئ که ښه کړئ

هم مو اوبللم چې زر راشه یو طوفان دے

تللے د یزید ځنې هم دین دے هم ایمان دے

اوس نو راته وایئ ولې داسې جفا کار شوئ؟

ولې د خپل لوظ او د اقرار نه په انکار شوئ؟

تاسو چې پراته په ګمراهئ کښې سراسر وئ

مونږه کړئ بهر د ځناور نه چې بتر وئ

ځنګه زما خون درته مباح شو ناپوهانو

نن په بلو بلو ولې سر شوئ ګمراهانو

غوږ کړو عمر سعد بیعت اوکړه چې آزاد شې

اوکنې برباد شوې لا به نور پسې برباد شې



ACKU

اوویل امام چې دا به هیڅری او نهٔ شي
اوس نو دا رضا د پاک الله بهٔ وي چې څهٔ شي

غلي عمر سعد د امام په لور ګوزار کړو
وې چې ګواه اوسئ اول ما د جنګ اختیار کړو

شک نشته امام چې سرتر پا یه یو جمال وه
بیا هم ضرورت په داسې وخت کښې د جلال وه

هله د انسان انسانیت لوړه کمال وي
جمع په هغه کښې چې جلال او هم جمال وي

کار د قربانۍ کښې ددې دواړو ضرورت وي
داسې د ایثار او قربانۍ اکملیت وي

تند رشو په سترګو او کهٔ برک د ذوالفقار
تا بهٔ داسې وې چې اژدها وه شرربار

یو خوا بل خوا هر طرف سرونه پرېوتلي
ډېر د مرګ لهٔ ویرې لهٔ میدانه تښتېدلي

غږ او کړو عمر چې تږي چا پرېنږدئ چې لاړ نهٔ شي
اولئ ئې ترهغې چې ځوتن ئې لتاړ نهٔ شي

بوره د هر طرف نه پرې د غشو یو باران شو
ترې ترې ګل د پاک نبي د ګلستان شو

پرېوتو د لاندې ذوالجناح په هنږېدو شو
اوښکې ئې راماتې وې په لوري د خیمو شو

بس نو په حرم کښې ګډه په هر طرف ته شور شو
راغلو ذوالجناح خو په میدان ئې پاتې سور شو
جوړ د ذوالجناح نه ګېرچاپېره لوئے ماتم شو
ګویا کور د غم، د پاک بنځې ښکلے حرم شو

---

# مرثیه

---

هغه سردار چې د جنت د شاه زلمو دے حسینؑ
کله لائق د تورو غشو د نېزو دے حسینؑ

سر ئې خپل ورکړو لاس ئې ورنه کړو په لاس د یزید
ځکه بنا د لَا اِلٰهَ اِلَّا هو دے حسینؑ

اے د دنیا تاریخه اوس خو لافاني شوې ته هم
ستا اننګو کښې چې تل تل په ځلېدو دے حسینؑ

چې عقلمند د جهان ټول ګوته په خوله دي ورته
هغه سالار خو د اسلام د لېونو دے حسینؑ

چې ئې سپرلے کړلو په ټکندو غرمو د ضمیر
پروت بې کفنه کربلا کښې په غرمو دے حسینؑ

انسانیت به ورته سر دنیان خم لري تل
روح په قالب کښې د راتلونکو زمانو دے حسینؑ

* * *

۳۰۴۵

ACKU

صلی الله علیه وآله وسلم

# رحمة للعالمین

---

هغه نور چې د موږ ونه منتظر وه
چې تکمیل د سرې توب ته مقرر وه

په فاران یې برېښنا اوکړه راڅرګند شو
کائنات خزان ځپلي سپرلي خند شو

اسویلي د یتیمانو په قرار شول
ظالمان په اضطراب او اضطرار شول

د فطرت ناوې ته راغلي سنګرېزې
فضاګانې د ضمیر شوې سندره ایزې

* * *

# نعت

اسرار د رب حمد (صلی الله علیه وآله وسلم) کنه اسرار د محمد (صلی الله علیه وآله وسلم)
انوار د رب د ذات کنه انوار د محمد (صلی الله علیه وآله وسلم)

مسکی همه کلی شوي په گلشن کښې د عالم
مسکې چې شوله ورایه نو بهار د محمد (صلی الله علیه وآله وسلم)

ثابت د مارمیت اِذ رَمیت کړو قران
کردار د پاک الله چې وُ کردار د محمد (صلی الله علیه وآله وسلم)

اشیاو همه ځپل حقیقتونه کړهٔ څرګند
اظهار د حقیقت وُ پهٔ اظهار د محمد (صلی الله علیه وآله وسلم)

تکمیل چې پرې موقوف وَه د انسان د خلافت
څرګند کړو پهٔ اخر کښې رب ستار د محمد (صلی الله علیه وآله وسلم)

مدغم شوي همه لارې پهٔ یو لار کښې د انسان
کوم وخت چې را څرګند ه شوله لار د محمد (صلی الله علیه وآله وسلم)

* * *

ACKU

*

دیوبک څلوېښت زره انبیاؤ ·
دهغوی د زمانې د اولیاؤ

دهمه وارو علمونو حاصل راغی
چې تکمیل یې ددین اوشو کامل راغی

دهستې مراوې نبضونو شول چلانده
دانسان دمساوات شمع ځلانده

دمړیو او دبادار امتیاز ورک شو
دانسان گردن له هره باده سپک شو

عجیبه غوندې یې کېفه رنها راغله
دهستې دروح نه داسې ندا راغله

---

# نعت

انسانه زېرے مې درباندې چې اختر راغے

رڼه بشره شوه د بشر خیرالبشر راغے

د ظلم زور او کفر و شرک په سر ببر و تېرو

د مساوات غشے پهٔ کورت کښې دوڼ سحر راغے

شوې د غفلت کړې پهٔ سر بې خبرې لاړې

چې سرې توب ئې کړو راویښ هغه سحر راغے

چې ئې کړه وړه کړو د ابلیس د مشورت مجلس

څوک دېردې نه د وحدت ورته بهر راغے

نن د اشیاؤ د غایت نه هر حجاب لرې شو

نوې دنیا شوله ښکاره نوے نظر راغے

اتش کدې شوې سړې د ننګې منارې پرېوتې

جوړ دېند ے شو په ظالم چې لوی خطر راغے

اوس نو دلر او دبر سوال لهٔ منځه اووتلو

چې پاک نبيّ د هر یو بر د پاسه بر راغے

* * *



ACKU

★

جوړې ابر د نیسان وه چې راخور شو
په څلور کوټه عالم کښې په هر لور شو

لکه دُر شو د اشیاؤ په صدف کښې
چې کوم کوم ې داخل شوې و په صف کښې
د مغرب نه تر مشرقه ، کمال تر کاله
شو ظهور ئې د جنوب نه تر شماله
مشرف چې له اسلامه کوم انسان شو
مزین بیا په اخلاقو د قران شو
خونړې چې وه انسان ، د انسان ورور شو
سربلند شو چې خپل رب وته نسکور شو

انسان یو دے ، فضیلت په نیک عمل شو
امن امن په هر کور او هر محل شو

★ ★ ★

ACKU

# نعت

څنګه رڼا راغله د دنیا پهٔ مخ
نوې ښکلا ښکاري د هر چا پهٔ مخ

مړهٔ چې لهٔ مودو وُو راژوندي یې کړل
ښکاري چې حیرت د مسیحا پهٔ مخ
ختمې بربوکې د اسوېلو شولې
نښته سرابونه د صحرا پهٔ مخ
مسکې نیږې هم شوې د حضرت پهٔ نوم
رنګ د سبا راغې د بېګاه پهٔ مخ
ځلنده، افشا هغه رازونه کړل
کوم چې لهٔ مودو وُو د اخفا پهٔ مخ

جوړه ترې مُسکا د تسلی شوله
کوم چې وُ ارمان د تمنا پهٔ مخ

* * *

★

مکمل د حق لهٔ لوري دین اسلام دے
تر قیامته دانسان دژوند نظام دے

کوم سرے چې د اسلام په لار روان شي
حقیقت دے ، د ادم نه به انسان شي
چې بنیاد یې قایم شوے په یقین دے
چې فنا نهٔ لري داهغه ائین دے
پس ددې نه نهٔ ائین شته نهٔ رسول شته
چې ددې نه بهتر راشي کوم اصول شته؟
چې یو حرف یې کم و زیات نهٔ شي قران دے
ضابطه چې دژوندون دهر انسان دے

نهٔ پیدا به پس ددې نه بل کتاب شي
نهٔ به بل نبيّ مبعوث ددین په باب شي

★★★

# نعت

چې سرور پکښې د روح دے میخانه د محمد (صلی الله علیه وآله وسلم) ده
پکښې کیف چې د جنت دے پیمانه د محمد (صلی الله علیه وآله وسلم) ده

غلچکي وختونه لاړهٔ، چې رهبر وختونو راغلل
په زړهٔ جمع روان اوسئ، زمانه د محمد (صلی الله علیه وآله وسلم) ده

کهٔ عنوان یې نوے نوے تر قیامته وي نو وي به
نو روانه تر اخره، افسانه د محمد (صلی الله علیه وآله وسلم) ده

سرپناه د مظلومانو د بې وزله بې کسانو
پاک حرم د مدینې دے، استانه د محمد (صلی الله علیه وآله وسلم) ده

د ذرهٔ سترګې کهٔ بینا دي، د دنیا محفل ته ځیر شئ
حقیقت کښې هره شمع، پروانه د محمد (صلی الله علیه وآله وسلم) ده

دا یوه ذره د مینې چې یې تا ته عطا کړې
ستا نجات له حمزه بس ده دردانه د محمد (صلی الله علیه وآله وسلم) ده

* * *

# زیرے

زیرے د هاتف دے چې انسان به اوس کمال ته رسي

هم انسانیت به خپل جلال او هم جمال ته رسي

اوس به بلا شکه په ضمیر کښې ډیوې بلې شي

اوس تمناګانې د ضمیر به مکملې شي

څلند به انسان ته د فطرت همه اسرار شي اوس

ځوان به سرټوب شي خپل میراث له به حقدار شي اوس

رابه شي هادي اوس به د ژوند نبضونه چلند شي

شمعې د عرفان به شي همه زړونه به څلند شي

بیا نو به فلک یوه نقطه وه چې روښانه شوه

رخ یې و د منزل په طرف چې را روانه شوه

څو مره چې راتله روښانېدله لوېدله به

هر شے د دنیا یې کړو روښان چې موښېدله به

راغلې پلوشې یې پرېوتلې د هاشم په کور

ګویا د مستې نه ګرېدلې د هاشم په کور

درځې د سپرلي وې چې دنیا ته محمد صلی الله علیه وآله وسلم راغے

نه چې یو عرب ته، هر چا ته محمد صلی الله علیه وآله وسلم راغے

* * *

# نعت

فطرت یو تبسم دے پهٔ عرفان د محمد صلی الله علیه وآله وسلم
یو کیف دے ښرلے د گلستان د محمد صلی الله علیه وآله وسلم

څرکند ئ چې لهٔ نوره شو يو والے د وجود
هر څیز شو ائینه ځان ته حیران د محمد صلی الله علیه وآله وسلم

یو گل د تجلّي نه د رخسارئ شفق جوړ دے
جنت یوه نقشه شوه د دامان د محمد صلی الله علیه وآله وسلم

هر څیز د کائنات لکه صدف پرانسته خولهٔ
راخوړ چې هر طرف ته شو نیسان د محمد صلی الله علیه وآله وسلم

راجوړه سلسله شوه د اشکال الٰهي
پیدا چې کړې رب زلفې پرېشان د محمد صلی الله علیه وآله وسلم

وحدت چې د انسان ئ کړو انسان ته ورعطا
ترحشره به ممنون اوسي انسان د محمد صلی الله علیه وآله وسلم

مسلمه هر یو شے بهٔ دې ثنا کړي د دنیا
تهٔ شوې کهٔ ثناخوان شېوه بیان د محمد صلی الله علیه وآله وسلم

***

★

دا سړے ځوان چې په قریشو کښې لوئے شوے وه
خو د جاهل چل په تاریکۍ باندې پوئے شوے وه

دے د ښو اخلاقو یو پیکر وه چې به چا لیدو
دے غریب پرور روف رحیم وه چې به چا لیدو

خپل وو که پردی، ورته صاحب یې د یقین وئیل
هم یې په اخلاص او محبت ورته امین وئیل

پینځه شوه یو کال دا واقعه چې لوئے سیلاب راغے
جوړ په بیت الله باندې طوفان د باد و آب راغے

زور چې د سیلاب وه، عمارت د حرم پرېوتو
هر سړے یې بیا د جوړولو په غم کښېوتو

راځي غلو کوم وخت حجرِ اسود د ایښودو مقام
هر قام به وئیل چې دا ښکلې دې شي زما په نام

جنګ په کښې کېدونکے وه خو بیا یې فیصله اوکړه
ټولو په رضا د یو او بل سره وعده اوکړه

څوک چې بیت الله ته اول په لوئے سحر راشي
بس حجرِ اسود به هم هغه ږدي چې بهر راشي

بل سحر قریشو خبر کتل دائي یقین راغے
چغې شوې چې مونږ ه پرې رضا یو چې امین راغے

بیا هغو دا کار د پاک نبي رضا ته پرېښودو
پاک نبي را واخستو په یو څادر کې کېښودو

وے چې اوس د هرې قبیلې دې یو یو کس راشي
پورته دې یې په ګډه کړي څادر په ښه هوس راشي

پورته شو څادر حجر اسود کړو پاک رسول اوچت
نصب یې په خپل ځاے شو چې هغه کړو دې زلمي اوچت

دا نو د قدرت وه اشاره چې ټول خوشحال به شي
هم به په تبلیغ کښې پاک نبي سره مرستیال به شي

عمر یې دې وخت کښې پنځه دېرش د پاک حضرت ګڼه
پس له پنځه کاله پرې نزول د نبوت ګڼه

* * *

ACKU

# نعت

د انبیاوُ چې خاتم راغلو رښا راغله
جوړ جنت نه دې چمن وته سبا راغله

دمکې په تندي څرنګه برېښنا شــوه
د رحمت باران لوېه تنا راغله

ګوره جلوې کړې پټ پټانې دهاشم په محل
تت چې وو ستورې د عرفان ورته خندا راغله

داور سکروټې شوې له غمه د بتانو سترګې
لات ومنات ته په غوږو اوې چې ژړا راغله

هیبت اخستې چې لېوان دکفر وشرک ووهمه
څه وارخطا وارخطا ګورې چې قضا راغله

خپلې وزرې جبرائیل کړې په عالم راخورې
بیا دشپېلۍ د اسرافیل نه دا ندا راغله

انسانه پوهې شه دکوم نور چې ابتدا شوې ده
هغه جلوه درلره اوس په انتها راغله

* * *

*

بیا نو چې سنګام د نبوت او رسالت راغې

قام ته په بلنه د اسلام چې انحضرت راغې

قام به چې امین ورته ویل اوس ئې دښمن شولو

تر په دښمنۍ کښې یو دبل نه هر یو تن شولو

چا به وې چې څنګه ښه زلمے وه خو ساحر شولو

چا به وې چې خدایګو هم ساحر دے هم شاعر شولو

څومره مصائب چې ډول ډول پرې راغلي وو

دا د خدائے حبیب په روڼ تندي همه زغملي وو

حد د مظالمو چې کوم وخت په انحضرت اوشو

بیا د خدائے له لوري ورته حکم د هجرت اوشو

لاړو مدینې ته استقبال ئې ډیر په زور اوشو

هم په مرحبا هم په سندرو په هر لور اوشو

بیا نو ډیر جنګونه پېښ ددې نه یو تر بل اوشو

داسې دو جنګونه چې د خپل سره د خپل اوشو

لس زره اصحاب دو په اخر کښې د حضرت سره

فتح چې مکه شوه د پاک رب د عنایت سره

ACKU

وارهٔ په کعبه کښې د قریشو معبودان شو مات
دوئ به په حسرت ورته کتل چې ټول بتان شو مات

بیا مخاطبه اوکړه حضرت چې اوس نو څهٔ وایئ؟
اوس د کوم سلوک امید زما نه لرئ او وایئ

عرض اوکړو قریشو شرافت خاندانی دے ستا
مونږ هم امیدواریو تری دا خوئی جاودانی دے ستا

دوئیل حضرت چې نن همه وارهٔ ازاد اوسئ
خلاص لهٔ هر غمه یئ ازاد اوسئ او ښاد اوسئ

څوک چې مسلمان وی بلا شکه به وی ورور زمونږ
اوکهٔ په خپل دین اوسی په هیڅ نشته زور زمونږ

سترګې د قریشو د حیرت نه پکې څکې شوې
هم د شکریې د ترمو اوښکو نه راډکې شوې



ACKU

# نعت

چې همه ناز وَه په صورت کښې دنیان راغے
چې حقیقت وَه په لباس کښې د محبان راغے

شوې د تیرو کړې په سر د محمد په ظهور
یو بسر لے په کانو بوټو د محبان راغے

د کفر شپه جوړ اسویلے د منتظر وه لاړه
په روڼ سحر د رسالت پرې تېر انداز راغے

سَر د فطرت همه تارونو د احساس واخستو
ډک د سندرو د انسان د ضمیر ساز راغے

په تربیت سره افشا هم مهذب به شوله
بیا په لباس د شریعت چې د ژوند راز راغے

د خدائے حبیب د عبدیت رازونه حل کړه همه
نو د عبادت د پاک احد په خپل انداز راغے

شوه پنځ بنا د دین پنځه ځلند حواس د انسان
په هر امت ځکه امت ئې سرفراز راغے

***

★

دا اخري حج د پاک حضرت وه چې بیان یې کړم
څه یې په دې وخت وو فرمایلي چې عیان یې کړم

وا ورئ خلقو ښه د زړه په غوږو نصیحت کوم
تاسو ته د خدائے په حکم داسې وصیت کوم

نشته فضیلت بې له تقوىٰ په یو او بل باندې
دا اصول حاوي دے په پردي او هم په خپل باندې

خاورو نه پیدا نمونږ بابا مونږه اولاد یې یو
څکه مساوات دے یو تر بله چې زوزاد یې یو

سپین لره په تور باندې هیچرې فوقیت نشته
هم په عجمي باندې عرب لره رفعت نشته

پام کوئ زما نه پس په مثل کښې کافر نه شئ
څټ چې یو د بل وهئ ظالم نه شئ قاهر نه شئ

او وائي پیغام در ته د حق اورسېد و که نه
تاسو ښه د سر او زړه په غوږو واورېد و که نه

چغې شوې چې اورسېد و مونږه ته پیغام د تا
کړو متابعت به د هر حکم په هر ګام د تا

مخ یې کړو اسمان ته وې چې اے پروردګاره ته
او سه پرې ګواه پاکه رحیمه اے غفاره ته

★ ★ ★

ACKU

# نعت مخمس

پهٔ تیرو کښې د دنیا ستا د نور چې شوه برېښنا
پرې تهذیب شولو مُسکے د ظلمت زړهٔ پهٔ دړنا
تهٔ وې ابرِ رحمت، مړحمن شو پهٔ خندا
د ژوندون او بهٔ شوې توئ چې راسر دې شوه تنا
رنګ او بوئې د معرفت سلسلې کړې بنا

هر یو تاخ ته دې د زړهٔ شمع راوړه د عرفان
دا تیرو نیولے عرش، ستالهٔ نوره شو روښان
کل جهان ئې کړو روښان چې څرګند شو پهٔ فاران
د ښکانو د زړهٔ دم کافرانو ته طوفان
چې الحاد ئې کړو لاهو، دَیاهو شوې پرې دریا

ستا قدم پهٔ هر قدم، چم پهٔ چم چمن چمن
جوړ کړو یو عرب عجم یو وطن وطن وطن
د حکمت لهٔ مښکو پړ، د هر چا لمن لمن
دیثرب د برهوسه پهٔ هر دَم ختن ختن
د مذهب شو نوبهار، کړې بلبل د زړهٔ نوا

سبا راوړي د نکهت په غوټو ګلستانې
که پریانو په ماشوم، اوکړو زړې د ځوانۍ
شو هنګام د غوړېدو، خبر که شته پریشانۍ
ګل اوده کړي په اغزو د سپرلي سرګرانۍ
او چې کلکې ژبې کړي، د لېمو په نم ثنا

# د

# شهادت سجده

---

یو یو غل داسو یلو شو په مېدان د کربلا
اون د تاړ د برېبوکو کړو بیابان د کربلا
په لېمو د خپلو ستورو، رڼا ګرد د کهکشان شوه
چې راغلې ستړې ستړې، وه کاروان د کربلا
چې ځوانې رته د مرادې رسید نه شو ارمانونه
ژړوي مې په سرو سترګو ماشومان د کربلا

ACKU

ګرد وه د هیبت غونډۍ چې جمع وه د نمر په مخ
څه یخه خندا وه چې ښکاره وه د سحر په مخ
داغې زېړ زبېښلي سمر رنګ د مازیګر په مخ
شنه د غم لوخړه پنډه شوې د منظر په مخ
غونډۍ په دې وخت کښې د تیږې د بلا څخې شوه
نمر په راختو شو پورته ښکته ښکاره رڼې شوه

راغلې تماشو ته ابته وې تماشې په غم
یا د زمانې لړم لړلې وې لشې په غم
ستې له غباره وې صفا د زړه ښیښې په غم
لړزنده ښکاره شوې چې سورې وې پلوشې په غم
راغلې زیړې زیړې رسېدونکې لړزېدونکې وې
تا به داسې وې چې جوړ د نمر نه غورځېدونکې وې

نمر لهٔ بیایه اسمانه ښکته ځي تکل کوي
ژرنده د وختونو ده روانه کار دَل کوي
مزکې ته په ښکته په هیبت کاته اجل کوي
ډېرې پرښتې د مرګ په وړاندې ځنې زغل کوي
ورځ له ډېره غمه مرغېژنه غرېو نیولې ده
یا پرده د امن په پنجه کښې دهو نیولې ده

ACKU

ښکاري څهٔ خېمې لهٔ تندې شته سوې سينې پکښې
پاکې پاکې جونې نارينه او ارتينې پکښې
اور اخلي بې واره د ګرمۍ نه ښتمنې پکښې
زياته ده د بېړ نه کربلا شګې نينې پکښې
سيند هم لهٔ ګرمۍ دے پېچ وتاب راوړلے تاب نهٔ شي
ځان د سيند پهٔ مخ ښودلے سترګه دجاب نهٔ شي

نن د ګرمۍ چې لهٔ وحشته ساه ډوبېږي ولې
يخې خولې د ښته کال پهٔ مخ بهېږي ولې
د کربلا خشکه فضا ګلستانېږي ولې
سبا پهٔ چغو د يثرب پهٔ نور ځلېږي ولې
وړي پهٔ ژړا خبراوړي ته ماجرا د حسينؓ
شفق پهٔ وينو کړي ژړا پهٔ ابتلا د حسينؓ

هور ته مخامخ د ګرد پهٔ منځ کښې را اوچت شو ګرد
زغل کوي اسمان وته دچانه پهٔ هيبت شو ګرد
پورته اسويلې د زړهٔ د مزکې پهٔ حسرت شو ګرد
حيف چې ځېل د ځېل نه دروي نخه د هجرت شو ګرد
راغے پهٔ جولان وُه د ګرد ونو نه يو سور اوت
زړونه چې بې واکه شو د خلقو لهٔ خولې شوُر اوت

۳۰۶۶

کوره درته مخکښې دبدبه دامامت لري
شا وته صولت دغه زلمي د ولایت لري
شان د خلافت او د عصمت او د عفت لري
څکه خو دستار په سر د شاهِ رسالت لري
روح هغه څلور دي خو ښځم ئې دا بدن ګڼه
بس خو سر تر پایه یو پیکر ئې د پنجتن ګڼه

اس ئې مطیئن په لاره چې په جست وخېز نه دے
پوهه د خپل سور په زړه چې ښت ئې د جنګرېز نه دے
امن په دنیا کښې مدعا لري چې تېز نه دے
زوے د محمد صلی الله علیه وآله وسلم اخر زمان دے څه چنګېز نه دے
امن امن صلح صلح غږ داس قدم قدم
غږ د حق اُوهو اُوهو اُوهو او حق چې اخلي دَم

سترګو د دښمن په حېرانۍ ورته نظر اوکه
زړونو پرېشانو په درزا ترېنه خطر اوکه
راغے مخامخ مېدان ته غږ زوے د حېدر اوکه
راغله خاموشي شوه پورته سنکته شور سفر اوکه
ساه د یزید یانو په فضا کښې پس پسې شولې
شور او په چپیا کښې پټې پټې کنکوسې شولې

ACKU

ولې به نهٔ وي په هیبت عرش وکرسي او قلم
چې دي نهر د دریو ورځو ماشومان د حسینؓ
سخته کړې محاصره لښونه او تنده اِلٰه
زین العباؓ، اکبرؓ، اصغرؓ او قاسمؓ جان د حسینؓ

وې چې زهٔ مومن یمه باغونه د ارمان لرم
ډک دے د جنت د ګلو زهٔ هغه د امان لرم
توره مې پهٔ تېکي کېښې ده لاس کښې چې قران لرم
او ګوړئ چې شان د محمد صلی الله علیه وآله وسلم اخر زمان لرم
زهٔ یمه باران د رحمتونو چې امام یمه
اے بې لارې تږیو د بقا داوبو جام یمه

زهٔ یمه حسینؓ مور مې زهراؓ نیکهٔ سرور صلی الله علیه وآله وسلم زما
پلار ابوتراب وه دلاور علي حیدر زما
ورور مې مې پهٔ صلح مجتبیٰ شاه شبر زما
سروه د حبش د مهاجرو ترهٔ جعفرؓ زما
مونږ هغه کسان یو چې دنیا مو مسلمانه کړه
اے عربو ستاسو توره څونه مو روښانه کړه



ACKU

اووې ورته دوی مونږ خبر یوو چې ته وایې
ښهٔ وایې کهٔ بد وایې خو اووایه چې څهٔ وایې
تهٔ چې د یزید پهٔ خوښه نهٔ وایې ښهٔ نهٔ وایې
هر څوک سم سم وایي خو مونږ وایو کاږهٔ وایې
یا خو د یزید د بیعت جغ ورته ګردن نیسه
یا زمونږ د عشق نېزو تورو ته دې تن نیسه

پوهه شو امام چې دوی به نرم پهٔ حجت نهٔ شي
توره چې کوم کار کوي هغه پهٔ نصیحت نهٔ شي
کار چې شي پهٔ زهرو هغه چرې په شربت نهٔ شي
جوړ بهٔ پهٔ دې وخت کښې بې لهٔ جنګه څهٔ صورت نهٔ شي
لا خو وه پهٔ فکر کښې امام پهٔ لر او بر د جنګ
راوړو د لښکر نه د دښمن غشو خبر د جنګ

وې امام پهٔ جوش کښې چې زهٔ غشې زهٔ دماغ یمه
زهٔ د ذوالجلال والاکرام یوه سلاح یمه
ځوان یم د جنت د جنتي ګلونو راح یمه
څې چې لهٔ ګوزاره شي زهٔ سور د ذوالجناح یمه
زهٔ نبي صلی الله علیه وآله وسلم نیکهٔ پهٔ اوږه باندې ګرزولے یم
زهٔ یم چې حورانو پهٔ سندرو کښې ستائیلے یم

چې غوره شوې دکوثر د اوبو وېش لره وُه
پهٔ مصیبت د صبر جام نهٔ شو نسکور د علیؓ
راشه جوهر د قربانۍ کړه راپهٔ زړهٔ د حسینؓ
د سړي توب پهٔ ائینه باندې دے پور د علیؓ

داسې پرې ورګډ شو تا به وې ولاړ بهرنهٔ وَه
اس ئې کړل صفونه تار پهٔ تار جوړې لښکرنهٔ وَه
تورې د نګولي خلقو یاد ورته سپر نهٔ وَه
چا به چې د سر فکر کولو بیا به سر نهٔ وَه
سترګو د عمر شمر چې برق ذوالفقار اولید
ګویا چې حسینؓ ئې پهٔ جامه کښې د کرارؓ اولید

خود به بې اوازه شو دوه نیم ورسره سر دوه نیم
زغرو به فریاد اوکهٔ تهتر دوه نیم څیګر دوه نیم
دلته به پیاده وه، هلته سور به وَه اکش دوه نیم
هر شے به د تېغ د لاندې پرېوت کوز او بر دوه نیم
جغه د وهئ وهئ به راغله پهٔ مرید کښې وه
توره د امام به ئې رسا پهٔ ګېږید کښې وه

راغله دا ندا چې اوس د فرض د استکمال اوشو
ستانه نمائش هم د جمال هم د جلال اوشو
راشه لهٔ اسلامه اوس د کفر انفصال اوشو
حق شو راڅرګند چې ستا پهٔ وینو استدلال اوشو

راشه رنګینۍ دې د جنت پهٔ انتظار کښې دي
جوړ دے ارائش د رنګ حورانې پهٔ سنګار کښې دي

---

# نوحه

ظالمه مهٔ ږ زیروه دمرتضیٰ بچي دي
دا دخاتونې د جنت بي بي زهرهٔ بچي دي

پهٔ انبیاؤ کښې لهٔ فخرهٔ سر اوچت کړو نبیؐ
وې چې ددین نه قربانیږي دا زما بچي دي
دنبوت او امامت دګلستان ګلونه
ناترسه لږ فکر خو اوکړه دا دچا بچي دي
داصغر څاڅکي وینې داصلاکوله
چې شو قربان ددین په ننګ دمصطفیٰ بچي دي

حمزهٔ هم دوئ ته مونږ دمرستې او ولا کړو بوا
چې پهٔ میدان دکربلا کښې بې نوا بچي دي

★

امام ولاړ دے شهيد انو ته حيران ګوري
چرته ذاره چرته ځوانان او ماشومان ګوري
څه پرده دارې سترګې هم د جنګ ميدان ګوري
يوه په سور سالو کښې ناوې په ارمان ګوري
وائي زينب په ژړا به د ګلونو ګل کړي چرته دي؟
ما به باران په تګيو او کړو خوا و به چرته دي؟

زړونه به وائي د بيبيانو چې بهر ورشو
چې په قاسم او په عباس او په اکبر ورشو
چې موسايه له سره دروې چې په نمر ورشو
دې مو د سر پړونې تلونکې چې تور سر ورشو
يوه ماشومه د خېمې په پرده لاس لګوي
تروږې چې کوز کړي ترینه خلاصه غږې پاس لګوي

رنګ يې په وينو د اصغر بنګلے تندے ښکاري
په اراده کښې يې د صبر غرونده ښکاري
نه چې خيمې ته، که نظر يې کړبند ے ښکاري
چې لا په شونډو يې له غربوه ربند ے ښکاري
واګې د زړه د استقلال په لاس امام ورکوي
حکم قدم ته به په لورې د خيام ورکوي



ACKU

زړهٔ ئې په ځائے کړو امام داوړ زيړ ژبغلے بچے
بانو وئيل امامه راکړه زما ښکلے بچے
اوبهٔ ئې ورکړې، کهٔ دے ختنګه داسې غلے بچے
اوښکے ئې وڅښلې وې واخله جل وهلے بچے
حُرمل دغشي دتوبرې ورته اوبهٔ ورکړي
زويه دې مخ دشهادت ته واخله سرهٔ ورکړي

صلى الله عليه وآله وسلم
دنبوي نمر رڼا امامه
تيارهٔ دې لرې کړه لهٔ اسلامه
صدے شوې تېرې لا به تېرېږي
قصّه دغم دې نهٔ شوه تمامه

بانو لاسونه وراوږدهٔ کړهٔ خو نظر ئې نهٔ وُ
کسي ئې دوغ وو، دځنهٔ کاروو، چې اصغرؑ ئې نهٔ وُ
زړهٔ ئې ځوا وُ لا ناتوانه چې اکبرؑ ئې نهٔ وُ
دومره ئې اووې هى ارمان دے چې حېدر ئې نهٔ وُ
ن په دنيا کښې چې صاحب دذوالفقار نشته
دمعاويهٔ دذوے په زړهٔ کښې ځکه ډار نشته

حیران حیران به سکیږي ورته نظر اوکړو
بیا د اصغر نه به ئې پورته په مادر اوکړو
خبره نه وه څه تقریر ئې چې پدر اوکړو
خو د ترور اوښکو ئې په زړه د غم خبر اوکړو
په کوکو سرشوه وې زما په برادر څه اوشو
شوه ورته غاړه وې چې مورې په اصغر څه اوشو

دلته دا حال وه د ښکر نه بهر زوک راته
د بېغور غشي د امام صاحب په غوږ راته
د خېمو خوا ته وار په وار به شمر سک راته
ورته په جوش به د امام هاشمي رګ راته
غږ به ئې وکړو چې که زوے ئې د حیدر راشه
کله به خلاص رانه دننه شې بهر راشه

امام اتمام ته د حجت ورته بهر راغے
ګویا په سر د کفرستان د تېرو نمر راغے
سترګې حیرانې وې، حسین وه که سرور راغے
او به شو تږي د کوفیانو چې حیدر راغے
حسین وئیل ورته زه څوک یم پېژندلے مو یم؟
که مو لیدلے نخوانه یم اورېدلے مو یم؟

ACKU

هغو ویل ورته چې مونږ ه همه تا پېژنو
حسنه، مونږ ه دې نیکه هم دې بابا پېژنو
راته ځو نه یو ښه ښه سبا او ښه بېګا پېژنو
لس ځو بیعت دیزید وکړه مونږ ه دا پېژنو
بې د بیعت نه دیزید دې بل مفر نشته
که دې انکار وې په دې پوښته چې دې سر نشته

پوهه امام شو چې اوس وخت مې مقرر راغے
د قربانۍ د پاره وار زما د ســـــــر راغے
دخدائے په درکښې قربانۍ لره خبر راغے
هغه ساعت دشهادت مې منتظر راغے
هاتف اواز کړو لایه ژوند درته یو غم باقې دے
امامه لاځو دیزید حد دستم پاتے دے

پس داتمام نه دحجت ئې ذوالفقار اونیـو
دسامعې محل کوکار او شرنګهـــار اونیو
کوم پهلوان به دکنه پوښې فقیر کوزار اونیو؛
اخرله لرې ئې دغشو ورته وار اونیـو
سورے سورے چې شو داس نه ناتوان پرېوت
جګ ئې اسلام کړو که پخپله پهلوان پرېوت

میرني پیغمبري زلمي اتلس
ننکیالي او هاشمي زلمي اتلس
کربلا کښې کوترې زلمي اتلس
لهٔ اسلامه قرباني زلمي اتلس
پهٔ محشر کښې به اتلس زره قامه
وایه څوک به ئې شي سیال لهٔ خاص و عامه

د خوشحالۍ نه شمر هسې نارو او ویل
هغه ملګرو ته لهٔ جوشه مرحبا او ویل
بریت ئې کړه تاؤ او بیا ئې داسې پهٔ خندا او ویل
زخمي زخمي ناتوان امام وته ئې دا او ویل
تهٔ راته ګوره چې خیمې دې پهٔ رڼا لوټ کړم
زهٔ چې نمسے او لونه نګینه ئې د زهرا لوټ کړم

دا اوریدل وو چې لهٔ سوخته هغه ځوان پاسېد
دزوند دیوه ئې پهٔ سلګو وه پهلوان پاسېد
د اور بځرۍ ترې وتل همه چشمان پاسېد
لا ئې کړو غشي ته را وائې خست کمان پاسېد
وے چې شمره بے غیرته خبردار اوسه
زهٔ لا ژوندے یم د خیمو نه مې کنار اوسه

شمر تري توپ کړه بل طرف ته چې هیبت واخست
چې ستر جلال د امامت تر ېنه همت واخست
بیا په ورو ورو زخمي امام هم نقاهت واخست
نمر د مخسوف پرده کښې پټ شو چې دهشت واخست
د ماسپښین د نمانځه وخت وه په قبله شو حسین
د رب په درکښې په نیاز او په سجده شو حسین

دغه ستم وه په ژوندیني چې امام اولیدو
خپرې تالا ته د نبي د کور غلام اولیدو
دلته امام د قربانئ بلنه مقام اولیدو
دلته خپل ځان ته ثقلین ئې په سلام اولیدو
په ننداره کښې تري دځان وتن خبر لا رو
بیا خبر نه شو چې کوم وخت ورځنې سر لا رو

چې شوه معیار د مسلمان د عبدیت سجده
د امامت او ولدیت او د عصمت سجده
یکښې راجمع شوې سجدې د جن وانس وملک
چې کړه ادا زمونږ امام د شهادت سجده

---

# د قربانۍ معیار

---

دا څنګه وخت د پاک نبي په خاندان راغلے
چې د جفا ورته لښکر لکه طوفان راغلے

دا بربوکۍ دي کۀ فطرت په رسوېلو سر دے
چې د اسمان په لوړي زغلي په سلګو سر دے

د کربلا هره ذره لکه بلا ښکاري
دے عافیت ورنه په تېښته وارخطا ښکاري

د علمدار مټې پرې شوې، سر د تن نه جدا
په داګه پروت دے د امام شاهِ زمن نه جدا

مشک ئې غلبیل سورے سوري په بیابان پاتې دے
داوبو کوټې د سکینې د زړۀ ارمان پاتې دے

علي اکبر چې وۀ زلمے د زړۀ رڼا د حسینؓ
په شهادت باندې ئې ماته شوله ملا د حسینؓ

چې په کرۀ ورۀ کښې سراسر د پېغمبر غونډې وۀ
چې په یرغل او په ګوزار کښې د حیدرؓ غونډې وۀ



ACKU

حورې غلمان ئې چې بناښت وته اوبهٔ اوبهٔ دوُ
راغلو مېدان لره قاسم چې ننۀ ئې څۀ پۀ زړهٔ وو

دنیم پرانستي ګل پشان ئې دخوانۍ وخت وُه
ددې غنچې نه دنکهت دروانۍ وخت وُه

بشکلے پېکرې دشتې پۀ یو ګوزار اوړېد
جوړې یو ګل دنبوت دلاله زار اوړېد

---

# مرثیه

مُسکي مُسکي دي جنتونه چې قاسمٚ راځي
حورې غلمان کړي سنګارونه چې قاسمٚ راځي

دزلمي تندې په کوثر کښې کړي چې پیدا
نبي بابا راوړي جامونه چې قاسمٚ راځي
دکنړې پېغلې اسوېلو ته فرشتې راغلې
دي په خېمو کښې فریادونه چې قاسمٚ راځي
اے شهیدانو مظلومانو د بې کس ملګرو
راسره واخلئ ځه کامونه چې قاسمٚ راځي
زین العباد بچیه، څنګه په هیبت پاسېدې
درته چا دکړه خبرونه چې قاسمٚ راځي

زما دسترګو نظر لاړو چې بهېرېږ مه زړه
لږ مې څوک اونیسئ لاسونه چې قاسمٚ راځي

* * *

★

زمکه اسمان دي په فریاد په بې کسۍ د امام
ژړونه له ډېره غمه چوي په بې بسۍ د امام

چې مور او پلار مې شه درجار ورته رسول به وئیل
ته ئې زما د زړه گلزار ورته رسول به وئیل
نه ئې ترخنګ هغه ملګري ځوان مردان پاتې دي
نه ئې خپل ورونړه نه زامن نه تربوران پاتې دي
خو په خیمه کښې یو رنځور زین العباد پاتې دے
د خپل بابا په بې کسۍ ئې داسې ننګ اوکړو
په دې حالت کښې هم هغه تکل د جنګ اوکړو
ورته امام هسې وئیل د سترګو توره زما
د حوصلې پښتې به پاتې نه شي توره زما

چې خاتمه مې د بابا نیکه د ال او نه شي
چې د قیامت په ورځ زمانه د دې سوال او نه شي

★★★

*

بیا په یو ځای ئې همه واړه شهیدان کړه جمع
دا ننګیالي ئې د اسلام په یو مکان کړه جمع

په کربلا کښې چې بې ګور او بې کفن پراته وو
خزان ځپلي جوړ ګلونه د چمن پراته وو

بیا ئې زینب ته اوکړو غږ چې ګرانې خورې زما
اے د خاتونې د جنت د سترګو تورې زما

ورشه وسله زما د جنګ اوس په تلوار راوړه
هیر مې چې نه کړې د بابا مې ذوالفقار راوړه

څو رکیه ورشه ذوالجناح کړه راته زین راوله
راغلے وار د قربانۍ مې دے یقین راوله

د زینب شونډې په ریا شولې چې غږ اونیوه
جوړ د مرګ نه د راتلونکي صدمې دیو اونیوه

وې چې آے رورة ډیر داغونه مې په زړه خوړلي
ځنې مې لوے ځنې اوسط ځنې واړه خوړلي

زړه به مې ستا روانېدل وې چې به سم شق شي
که اوس وي پاتې نو به ستا د مرګ په غم شق شي

امام ویل ورته زما د خاندان وارثې
د محمد صلی الله علیه وآله وسلم او د زهرا ، شاه مردان وارثې

ACKU

دا خاندان به اوس د تا په حفاظت کښې اوسي
لوئے او واړۀ به همه ستا په تربیت کښې اوسي

چې شوه مجبوره ورته خورهمه وسله راوړله
لور د حېدر وه چې يې بنۀ په حوصله راوړله

سورچې امام شو د حرم څنې بهر راغے
جوړ د دښمنانو ته په شکل د حېدر راغے

ورته امام مخاطبه کښې څۀ د پېر تللے نۀ وۀ
شور شو خېمو کښې لامقصد ته رسېدلے نۀ وۀ

بېرته راستون شو وې چې خورې دا ژړا څنګه ده؟

. . . . . . . . . . . . . . . . . . .

زینب وئیل وروره رښا چې د بصر دے زمونږ
د تندې مرې علی اصغر په څنګ دے زمونږ

امام اصغر په غېږ کښې واخستو بهر راغے
د یزید یې ښکر په مخکښې سترګې ستر راغے

ورته امام وئیل هر کوره قصور وار یمه زۀ
ستاسو په خیال کښې به بې شکه ګنهګار یمه زۀ

خو داماشوم د ښېنو میاشتو ګنهګار نۀ دے
ماکۀ قصور کړے وې دا خو قصوروار نۀ دے

ورکړئ اوبۀ ، ددې به اجر پاک اکبر درکړي
په بدله کښې به نبي درته کوثر درکړي

حرمله غشے ورګوزار کړو وې چې نهٔ ورکوم
واخله د غشي د توبرې ورته اوبهٔ ورکوم

غشي مرېد کښې د معصوم اصغرؑ تمام بنخ شو
بیا د مرېد نه ان پهٔ منځ کښې د امام بنخ شو

لبه سیځلي پاکې وینې ته امام اونیوه
ورته کوثر د ساقي زوئے لکه د جام اونیوه

وے چې خاونده کړه قبوله دا نیاز بینه وینه
بیائې اسمان ته کړه ګوزار پهٔ ډېره مینه وینه

---



ACKU

# مرثیه

یه اصغرهٔ زویه اوس به خود ځیری ګریوان کړمه
اوښکې شته نهٔ وینې چې پهٔ تا یې زهٔ قربان کړمه

وې بانو بچیه مرورله کوره چرته ځې
چار دې شه مورکه داخفه لهٔ موره چرته ځې
او درپسې به ځنګېنې چې لوګې درته چشمان کړمه
یه اصغرهٔ زویه اوس به خود ځیری ګریوان کړمه

او درپسې نبي نیکهٔ بابا ته مې سلام یوسه
هم یې مرتضیٰ او مجتبیٰ ته نام پهٔ نام یوسه
وایه ستا بې پته امتیانو په دا شان کړمه
یه اصغر زویه ........

چغې کړې کبریٰ چې دې چینې اوښکو ته نهٔ ګورې
یه روره کهٔ تهٔ دسکینې اوښکو ته نهٔ ګورې
مهٔ ځه درته روې به دعلي شاهِ مردان کړمه
یه اصغرهٔ زویه ........

اووې زینبې بي بي ، ددوسترګو رڼا زما
غم د تا دعون او محمد نهٔ دے سوا زما

تور د رڼه قربان شه زړهٔ به څنګه د رعیان کړمه
یه اصغره زویه ......

یه زویه خاتونې د جنت ته سلام اووایه
بیا مې مرتضیٰ او پاک حضرت ته سلام اووایه

اوس به بې د تا نه په دنیا کښې څهٔ کزران کړمه
یه اصغره زویه ........

*

اوس په اخر کښې چې میدان لره شبیر راغے
د ابراهیم خلیل الله د خوب تعبیر راغے

نکه د غر په استقلال او جمعیت او درېد
په تمکنت او په وقار او په شوکت او درېد

چه چپیا شوه د کوفیانو په لښکر کښې پېدا
شوه د هیبت یوه فضا په لر او بر کښې پېدا

امام د حمد او د ثنا نه ابتدا او کړه
د فصاحت او بلاغت ئې انتها او کړه

بیا ئې په پاک نبي سرور اووې درود او سلام
پس د هغې نه شو گویا نه د مطلب په کلام

وې چې اے خلقو نشته شک چې تاسو ما پېژنئ
هم خاندان مې هم زما نیکهٔ بابا پېژنئ

خلقو څهٔ لږ غوندې خو او کړئ له ځېل ځانه تپوس
بیا مو د ننه په ځېل زړهٔ کښې لهٔ ایمانه تپوس

د تاسو زړونو ته دنیا د اسلام چا راوړې
د تاسو شونډو ته پیاله د بقا چا راوړې

چا نه وئیلي پاک نبي وو سرداران د جنت
فخر د چا په غلامئ به کړي ځوانان د جنت

د چا په حق کښې د نبيؐ نه نور العين راغلي
حسين مني و انا من الحسين راغلي

څه حقائق څه په وينا کښې فصاحت د حسينؓ
څه په خطبه کښې زړه راښکون او بلاغت د حسينؓ

چې يې د درد او سوزنه ډک ورته تقرير اوکړو
په کاني زړونو د کوفيانو يې تاثير اوکړو

عمر او شمر په دې وخت کښې حيران او نيول
وار يې خطا شو سراسر پريشان او نيول

ويل هغوی چې به عبث همه خواري شي زمونږ
همه لښکر که اوس د جنګ نه انکاري شي زمونږ

ورته رامخکښې عمر سعد په شتاب راغے
په ډير غضب او په هيبت او په عتاب راغے

ورسره شوې وه د دې د حکومت وعده
د اقتدار او د شوکت جاه و حشمت وعده

هسې نه دا د حکومت نه چې محروم پاتې شم
لکه چې شوم زما فطرت دے هسې شوم پاتې شم

هغه ويل چې هو صحيح ده مونږه تا پېژنو
حسينه، مونږه دې نيکه هم دې بابا پېژنو

نو چې بيعت د يزيد او نه کړې مفر دې نشته
هم څه امکان د بل طرف ته د سفر دې نشته

لا څو بیعت ته دیزید راشه ګردن اونیسه
او لا زمونږ نیزو تورو ته دې تن اونیسه

بیا دیندې نه ئې یو غشے په ډیر زورکړو ګوزار
ان برابرئې د امام صاحب په لورکړو ګوزار

دې ګواهان اوسئې چې ماپرې ابتدا کړے دے
له هر څه مخکښې دا ګوزار په حسینؓ ماکړے دے

پوے شو امام چې بې له جنګه بله لارنشته دے
دخدائے په کړو کښې څوبل څه لوه اختیارنشته دے

دا ګمراهان کله پوهیږي دایثار په ژبه
ورسره بویه ګفتګوئې د ذوالفقار په ژبه

نوبس ددې نه ئې په لاس کښې ذوالفقار اونیوو
د سامعې محل کوکار او شرنګهار اونیوو

وئیل په جوش کښې ئې زهٔ غشے هم رماح یمه زهٔ
د ذوالجلال والاکرام یوه سلاح یمه زهٔ

زهٔ څېل نبي نیکهٔ په غیږ کښې لوبولے یمه
حورو غلمانو په سندرو کښې ستائیلے یمه

چې ائینه بهٔ همه عمر دجمال وهٔ حسینؓ
وه حیرانې چې سرتر پایه نن جلال وهٔ حسینؓ

چې وهٔ وارث د محمد صلی الله علیه وآله وسلم نوداسې حال وهٔ ضرور
څهٔ دجمال سره اظهار ئې دجلال وهٔ ضرور

ساته قلعه يې دسرو کړه ترې بهر اووتو
لکه دغشي ذوالجناح ترېنه په بېړ اووتو

فرات له ورغلو حيرانه دښمنان شو ورته
او به يې اونه څښلې ياد چې ما شومان شو ورته

بيرته راستون شو ترې چاپېر شوې دجفا لښکرې
که و هر څوک دېرغل نه وارخطا لښکرې

له هرې خوا پرې دنيزو غشو باران جوړ شو
په يو مظلوم باندې دهر خوانه طوفان جوړ شو

له اسه پريوتو امام گويا دنيا پرېوته
ځکه تر اوسه په امت کښې يې غوغا پرېوته

يو ابلق سپے چې په ټټر يې وو دبرص داغونه
چې کړه پامال يې دحضرت نبي دباغ گلونه

وخت دمانځه وه پاک الله ته په سجده شو امام
هم په سجده کښې دشقي په لاس کشته شو امام

جوړې تقدير دمسلمان وه چې بدل يې کړو نن
کوم چې معيار دقربانۍ وه مکمل يې کړو نن

چې شوه معيار دمسلمان دعبديت سجده
دامامت او طهارت او دعصمت سجده
يکښې راجمع شوې سجدې دجن وانس وملک
چې کړه ادا امام حسین دشهادت سجده

***

# مرثیه

ځلند سرېتوب شو چې به تل وه په سلګو کښې
چا بلې ډيوې کړې د ضمير په اننګو کښې

ښکارې د صفين غونډې صحرا د کربلا نن
بيا خو قرآنونه اوچت شوي په نېزو کښې
باغ ته د اسلام ئې چې سپرلے د دوام راوړو
وېره د فنا د خزان څه وه په غنچو کښې
سيال ئې په ماضي او مستقبل کښې ناممکن دے
څوک به شي ترې وړاندې د ايثار په مرنو کښې
ثم نبتهل والې فرزند د محمد صلی الله علیه وآله وسلم دے
دا هغه امام دے چې پنځم وه په پنځو کښې
نن ئې چې مسلم د ګمراهۍ له قېده اووېست
دا دے چې ښکارېږي په زنځير او زولنو کښې
غم کښې د امام دې حمزه اوښکو لمبې اوکړې
څومره حرارت دے ستا په يخو اوښکو کښې

* * *

ACKU

بسم الله الرحمن الرحيم

## د ژوند او یون مرحلې

# ژوند څه شی دی؟

څېر شه ورته ژوند په ابتدا یوه نقطه ده
بشکته پورته واړه کائنات يې دايره ده

«نقطه» د داسې يو نقطې نه عبارت ده
پر د عقل سوزې ورته د ومره په رفعت ده
نه څه تعين او نه يې حد نه اندازه شته
بس په دې نقطه کښې وهغې ته دروازه شته
وکړو تنزل يې په صورت کښې د نقطې شوه
پټ پکښې اجزاء وو په صورت د کلې شوه
دې چې حرکت وکړو پيدا ترې دائره شوه
خپله په يو شان وه نه خو لويه نه وړه شوه
ګوره چې سکړوټه شي بسته په يوه تار کښې
بيا په چورليدو سره هغه شي په رفتار کښې

ګېر چاپېر يې ګوره چې پيدا ترې دايره وي

نۀ وي نورڅۀ، دا هغه سکروټه وي نقطه وي

وه په حرکت کښې همېشه، توانائي وه

دې نه عبارت وۀ که تيارۀ که روښنائي وه

کاڼي دي که بوټي مظاهر د ژوندانۀ دي

ژوند په کښې برېښنا کوي که سپک دي که درانۀ دي

ژوند خو د مطلق وجود نامه ده نورڅه نۀ دي

چرته چې وجود نۀ وي نو وايه هلته څۀ دي؟

بلکې "هلته" "دلته" مراتب د يو وجود دي

بې د يو وجود نه کائنات همه مفقود دي

نۀ چې وي اشياؤ کښې وجود، همه نابود دي

ژوند شته په جمادو کښې هم ځکه چې موجود دي

عقل دے که فکر دے که مينه که ښکلا ده

ژوند دے چې څرګندۀ په هر څيز کښې يې دنيا ده

جسم دے که نوعه او که جنس دے که جوهر دے

ذات يې دغه ژوند دے چې دننه هم بهر دے

دغه ژوند خو دے عين وجود که ورسته خبر شي

ډېر څۀ به د راز د ژوندانۀ ځنې خبر شي

ژوند دے نورڅه نۀ دي اليکټران او که پروټان دي

ياکه نيوټران دي که نبات او که حيوان دي

ACKU

هر څهٔ چې محسوس دي دغه ژوند ورله علت دے

دي چې نامحسوس دهغو هم داکیفیت دے

جوړ دي ترکیبونه څرته څهٔ اوچرته څهٔ دي

چرته تړي اجرام دي راپېدا، چرته اوبهٔ دي

ژوند دعناصرو اتصال نه انفصال دے

ژوندې متصل اومنفعل کړي چې فعال دے

ژوند چې هریو شے دے نوهرشے یوه "انا" ده

مرګ چې ورته وایُ تبدیلي ده نهٔ فنا ده

ژوند په جمادا توکښې چې ځېر کړې جمادي دے

ژوند په نباتاتو کښې چې ګورې نباتي دے

ژوند چې دحیوان دے، حیواني اوشعوري دے

ژوند چې دانسان وجود اختیارکړي نو عقلي دے

ژوند په خپل وجودکښې په خپل ځان باندې موقوف دے

ژوند په حقیقت کښې هم صفت دے هم موصوف دے

علم دے که سمع که بصر، که ارادت دے

بیا ورپسې وګوره قدرت دے هم حکمت دے

داهمه راجمع دي یوهٔ ذات وته بې شکه

دې باندې باید چې دیقین غوټه وي کلکه

څرې که پهٔ ذات باندې زائد وے صفتونه

بیا به ثابت شوي وے په ذات کښې کثرتونه

# صفات عین ذات دے

پاک دے هغه ذات چې به معلول شي د صفاتو
بویه چې عاقل او ساتي ځان له خرافاتو

بیا په دې صفاتو کښې وبله عینیت دے
چرته په حریم د هغه ذات کښې غیریت دے

ذات عین وجود دے، او وجود عین صفت دے
بس د هغه قدرت دے چې ظاهر تر ښه کثرت دے

هغه چې دران نه د تکوین وو بې خبره
اصل د ممکن یې عدمات کړه مقرره

اصل د ممکن که وي عدم نو عجیبه ده
بیا نو د خپل اصل د وصلت څه خطره ده؟

ولې په انسان د مرګ د ویرې دومره زور دے
ولې خوشحال نه ورځي عدم ته خپل یې کور دے

اصل که عدم یې وي، وجود ورله عدم شو
دا چې هر څه وینو، د ماشوم د پاره مم شو

## ۶۸۱

ګویا یو فرېب مو، دحواسو د ادراک دے
اصل خو فنا یو، خو احساس مو دیو ژواک دے
بس نو یو وجود دے چې جاري اوهم ساري دے
ضد ئې ناممکن دے او عدم اعتباري دے

## د

# عدم غلط فهمي

واييُ عدم هغهُ ته، اجزا يُ چې خوارهٔ وي
مېړكويا عدم وي چې مېخونه لرګي نهُ وي

بيا هم كه مُصر وي چې عدم يو حقيقت دے
بيا خو نو عدم هم يو وجود په صراحت دے

پوے دے چې عدم نه په عدم واتهُ قايل دي
ضرب چې وركړي صفر ته په صفر څهُ حاصل دي؟

ژوند دے چې حاصل تر قوانين شو رنګا رنګه
هر خواته خوره د ارتقا يُ كړله پنګه

پټ دا كايُنات په هسې رنګ وهٔ په نقطه كښې
څنګه چې د ونې لوټے وجود وي په دانه كښې

جوړ يُ چې قانون كړو بيا شو پټ په كښې پخپله
بيا يُ ارتقا ته حركت وركړو چې څغله

# ارتقاء

بس نو دوه ضدین چې سره اووهي ډغره
ژوند شي په یو نوي درېم څېز کښې رادبره

ګوره اکسیجن او هائډروجن په یو کېدو کښې
نهٔ ښکاري اوصاف دهغو دواړو په اوبو کښې

جوړ شي دیو تخم په دانه باندې جنګونه
سر شي په ډغره د اضدادو طاقتونه

کاروي دمنفي چې ددانې وجود فنا کا
همغه دمثبت وي چې بهرته ئې نما کا

دغسې روان وي په اضدادو کښې جنګونه
بیا په نتیجه کښې دانه اوباسي ټېغونه

هم په دې جګړه دبقا کښې کوي وده
حق وئیلي شوي دي "چې وَجد من جدّه"

چې په پورته خیژي یو خوا بل خوا ته خوربږي
ټونهٔ وي کامله په یو ځائے نهٔ اودرېږي

ورکه شي دانه ددې شجر په ارتقاء کښې
نهٔ شي اندازه ئې په پیدا او په فضا کښې

څرنګه پیدا چې حرکت شي په نقطه کښې
بیا نو نقطه ورکه شي په خپله دایره کښې

دا ممکنه مه ګڼه چې ورکه به دا نه وي
ملا د خپل شجر سره په هره مرحله وي

وونه خو په اصل کښې هم دا یوه دانه ده
څه ده دایره په حقیقت یوه نقطه ده

څنګه چې سکون ته ګېر چاپېره حرکت کا
جوړ هغه ساعت د دایرې غونډې صورت کا

اصل کښې وجود د دې سکونتي یقیني وي
وي چې کوم وجود د دایرې هغه اعتباري وي

پس د دایرې نه نقطه بیا هغه نقطه شي
وونه چې تکمیل اوکړي ښکاره پکښې دانه شي

ژوند ګویا نقطه ده چې ښکاره شوه ابتدا کښې
پس د دایرې نه شوه ښکاره په انتها کښې

څرنګه دانه چې وي د تخم په اول کښې
رسي بیا ظهور د انتها ته پل په پل کښې

جوړ وجود د ونې په اوسط کښې ښه نما وي
تخم پکښې ورک وي ته به وائې چې فنا وي

هم په ابتدا د غه انسان ده چې نقطه ده
بیا نو کائنات ئې په اوسط کښې دایره ده



ACKU

# د ژوند درېیم اړخ

دا عظیم انسان دے په اخر کښې چې پیدا شو
حوا نه ارتقا چې شوه چې هم دے ترې هویدا شو

داړه عناصر چې په شماره ترسلو زیات دي
بس نو هغه ټول یې وهستۍ لره صفات دي

بل دداسې څېزنشة وجود په کائنات کښې
داړه عناصر یې چې اښکلي وي په ذات کښې

څنګه چې ژوند راغلو په کامل ډول په دهٔ کښې
داسې مکمل چرته رانغلو په بل څهٔ کښې

دیٔ دے چې قدرت درېیو اړخ نه کامل کهٔ
ځکه خو عرفان د کائیناتو یې حاصل کهٔ

ځکه چې ظهور د کائنات خو دے ددهٔ نه
جوړ همه منشور د کائنات خو دے ددهٔ نه

بس ددې نقطې نه کائنات شخص اکبر دے
روح یې دے هغه چې وهستۍ لره مصدر دے

* * *

# د
# انسان ظهور

دے دیو تنکي ماشوم په شکل کښې پیدا شو
بله شوله شمع دهستۍ جهان رڼا شو
دا د والدینو د خوبونو تعبیر راغے
دا ئې د رنګینو ارمانونو تفسیر راغے
دا دے چې کامل به د اخلاقو کړي قدرونه
دا دے چې به جوړ کړي په عالم کښې تنظیمونه
اوس له دې دا ئې به دنګه ونه پیدا کیږي
بیا د علم و فن به ترې ښاخونه ظاهریږي
دا د تمدن به ، ښځه مُسکي ګلونه راوړي
دا به چاپیرچل ته د اُلفت بادونه راوړي
بیا به نو د اَمن او عافیت سندرې وائي
هم به د انسان انسانیت سندرې وائي
دا دے چې ئې بار د امانت دے پوره کړے
دا دے چې ئې بار د خلافت دے پوره کړے

دغه دے، مثل چې دنقطې نه دوحدت دے
دا دے چې تشکیل د دایرې لره علت دے
دا په ابتدا کښې هم هغه "شخصِ اکبر" دے
اوس په انتها کښې هم دغه "شخصِ اصغرٌ" دے
اوس خو په ظاهر کښې څهٔ ناتوانه غوندې ښکاري
داسې بې خبرله خپله ځانه غوندې ښکاري
ځومره چې لوئيږي، خبريږي به له ځانه
ورو به ورو نو بيا به تلنګ اخلي له جهانه
مور ئې ده کهٔ پلار دے، اوس ئې غم د تربيت کا
څومره په کړاوٌ او احتياط ئې حفاظت کا
لن چې شي بې خوبه الاهو به ورته وائي
مور ورته ولاړه په رنګ رنګ صفت ئې ستائي

* **

# الاهو

لویه اوږده شپه ورته په سترګو کښې سبا کا
دا په قربانۍ او محبت کښې انتها کا

ګل ئې د ځوانۍ شي مرغړن په دې کلفت کښې
لا ئې اضافه کېږي په مهر او محبت کښې

نیمه شپه چې وژاړي راویښه په هیبت شي
بوخت ئې کړي سینې ته همه تن ورته رحمت شي

بیا په محبت ئې په شا ورو ورو ټپوینه
پېر وي په ظاهر خو د زړه وینه ورکوینه

ورک شي اضطراب د مور په پښو وي مور شوې
خوب ورشي واپس چې وي له لوږې تښتېدلې

سترګې ئې خوږې شي تور بانه ئې شي بشکته زوړند
مور ته کړي دریو رته خوبولې نظر ځلند

بیا ورته مسکۍ شي، څه کمکۍ غونډې خنده وي
ګویا چې په ژبه د احساس ئې شکریه وي

مور ورته د مینې دشدت نه ښوونې شي
سوځې دالفت داور دپاسه سپلنې شي

کله ېې په مخ کله په سترګو باندې ښکل کا
وايې چې پاک رب مې که دا ښکلې غوټۍ ګل کا

خورېږي چې نکهت شي دشهرت کلي په کلي
خلق چې دبلبلو په مثال ورته راځغلي

خدايه دې بچي ته مې هوښياره ځواني ورکړې
بچ ېې له غفلته کړې بېداره ځواني ورکړې

دا په قام وطن کښې يو پېکر دشجاعت کړې
هم ېې نمونه د ديانت اوسخاوت کړې

شي دې دولتمند خو په دولت دې مېن نه شي
کړي دې سخاوت په خيانت دې مېن نه شي

وي که ېې شهرت خو په شهرت دې مېن نه شي
وي که فراغت په فراغت دې مېن نه شي

دا په دې دعا وي د ماشوم لېمه درانه شي
بيا د مور په غېږ کښې د سکون په خوب اوده شي

ښکل ېې کاندي مور اوبيا ېې واچوي زانګوکښې
سوز لذت ېې زيات شي په نغمه د الاهوکښې

پلارېې چې سحر له کوره کارته روانيږي
ورشي د ماشوم بچي زانګو ته اودريږي

پوره ترې پړونے کړي په مينه ورته کوري
ډېر د خوشحالۍ نه ورته يوخوا بل خوا ښوري

ځلي ئې په سترګو کښې رڼا د اميد ونو
جوړ کړي تصوّر د مستقبل د اميد ونو

دا د زړهٔ قرار دے ، دا زما د سترګو تور دے
دا دے زما مټې هم زما د مټو زور دے

دا په ناتوانۍ او زړبودۍ کښې مې امسا ده
دا دے چې قوي مې د همت پرې باندې ملا ده

ښکل ئې کړي ، روان شي ، دروازه کښې اودرېږي
بيا ورته راستون شي په ديدن ئې نهٔ مړېږي

بيا ځلې مېنې ته ورو کوري مسکے شي
هلته د هغې د زړهٔ په سيمه پسرلے شي

د غه شان ئې کېږي تربيت د مور په غېږ کښې
وي ورته حاصل همه راحت د مور په غېږ کښې

لږ چې شي ناجوړه ځومره مور ئې وي اوتره
کله ترېنه لاندې قربانېږي کله بره

نور چې لږ رالوے شي بيا په مزکه ښناستے شي
ګرځي په خرپوسو يو خوا بل خوا ښکښېدے شي

لږ ه موده پس پخپله پاڅي او درېږي
مور چې ورته ګوري من من ورته غمېږي

واۍ ورته زويه، هله راشه ، ماته راشه

پل دې واخله زويه دادې دزړه دنيا شه

پورته کړي قدم خو توازن يې نه جوړېږي

ځي د مور په لوري خو ږيږي او ټپرېږي

واۍ ورته مور چې درنه جار مې مال وسر شه

هله راشه ، يه پاپلي پل دې بختور شه

پاڅي کله پريوځي په تتې ژبه خبرې

وي يې مور و پلار ته دا خبرې مرغلرې

څو چې صحت من وي هومره ډېر به بې قرار وي

نه شي کښېناستلی په قراره بې اختيار وي

سروي يو خوابل خوا ته په خاورو بادولو[1]

يا ادې بابا او د ماما په ميا دولو

خدای زده چې څه راز دی په بابا او په ماما کښې

ورد وي د ماشوم دغه الفاظ په ابتدا کښې

هم په ابتدا کښې يې په خوله باندې دادا وي

هم يې کله کله په خبرو کښې کاکا وي

ښکاري راته دا چې فطري ژبه پښتو ده

ګويا د اول نه انساني ژبه پښتو ده

ژوند چې د ځيور شو په اوږده او په ساړه کښې

ځکه ښې ظاهر شو په ماحول د پښتانه کښې

---

[1] دانسان فطري ژبه پښتو ده .

مزکه ابتدا کښې لکه اور وه چورلېـد له
ورو ورو سړېدله پرې موده چې تېرېـد له

مخکښې دهر ځائے نه چې سوړ شوے وهٔ پامیر وهٔ
زړهٔ دپښتونخوا وه له هر ځائے ورته نسکیں وهٔ

بویه چې دژوند وے ابتدا لهٔ دغه ځایه
بیا نو وې خپور شوے په هر خواله دغه ځایه

بس چې راپېدا په دغه سیمه کښې انسان شو
داسې په بابا اوپه ماما سره گویان شو

تل په ابتدا کښې دا الفاظ دهر ماشوم دي
شک په دې کښې نشته چې هرچا وته معلوم دي

بیا دبل وطن ماشومان دالفظونه پرېږدي
تن دخپل وطن اومور اوپلار ژبې ته کښېږدي

پاتې شي بېکن په پښتنو کښې دالفظونه
وائي ئې ترمزکه بوداګان اوزلمي جونه

* * *

# رنګين خوبونه

غونچې ته د مور وکړي بيا مخه چې ستومان شي
مور چې شي په پټو خوبولي ئې چشمان شي

او غږ وي پښې د بې غمۍ په خوب اوده شي
ګويا ماشوم توب ئې د ځوانۍ په خوب اوده شي

الوځي په خوب کښې د تنکو اور اورکو سره
لوبې کړي د ښکليو ماشومانو بناپېرو سره

خوب ويني چې زانګي د سپوږمۍ د پلوشو په تال
مست وي لکه روح ئې چې تهالۍ خوري د نغمو په تال

الوځي رنګونه، ډول ډولي په فضا کښې وي
ورو ورو مسکۍ کيږي چې مشغول په تماشا کښې وي

کله د ورو ورو غوټو سره خبرې کا
بيا د بلبلانو د نغمو سره خبرې کا

رنګ په رنګ وارۀ وارۀ مرغونه ترې چاپېره شي
داسې په رنګينو ننداړو کښې ئې شپه تېره شي

* * *

ACKU

# ويرونکي خوبونه

کله خوب کښې وينې ببرسرې بلاګانې وي
وي په کښې دوه سرې هم درې سرې بلاګانې وي

ځينې وړې سترګې لکه سرې داوړ سکروټې وي
ځينې دغويانو غوندې ګرډې وي چغ مټې وي

لوئې لوئې داړې ئې دشونډو نه بهر وي
دوه اوږده غوږونه ئې ښکې لکه دخر وي

لوئې اوږده نوکان لکه برمې داځې پنجه وي
ورو ورو ئې مرېد ته رالنډېږي شکنجه وي

ناڅاپه زانګو کښې وکړي کړيکه رابېدارشي
مورئې که غفلت وکړي ترې لاندې به ګوزارشي



ACKU

## د

# مور بېدارې

مور ئې په الله په بسم الله ورته راپاڅي
وي په خوله ئې جار بچيه جار، سترګې ئې څاڅي

مه راځه تتو زما بچو رړے اوده کېنږي
مه راځه پیشو زما بچو رړے اوده کېنږي

ځان ته ئې راجوخت کړي واېي ډک مي په درکړم
مور درنه قربان شه واخله يخ به دې ځيګر کړم

نه وي بيا هيبت د خوب ئې هره واقعه وي
ځکه چې لچه ئې په دې وخت کښې حافظه وي

بيا هم پاتې کېنږي دماشوم په لاشعور کښې
څنګه چې مثبت وي منفي هم وي په ضرور کښې

زور چې د منفي وي په خوبونو کښې بودنيږي
وار چې د مثبت شي په خندا وي خوشحالېږي

* * *

# مثبت افادیت

وار چې د مثبت وي ګل ورینه خندا وکړي
شپه کاندي مسکۍ سحر جبینه خندا وکړي
ویښ چې شي مور کې ته نازبینه خندا وکړي
مسکو مسکو شونډو کښې ورېښمینه خندا وکړي

# وضاحت

د غسې منفي او د مثبت سره ژوندون وي
دغه تقاضا ترې د اضدادو د قانون وي
څو چې تربیت موبي حواس پې کاملین بي
ذهن کښې نقشې پې د اشیاؤ شاملین بي
علم پې د ځان سره راوړي بالقوه وي
پوهه لا پخوا د کلیاتو ورسره وي

اوکنی چې خوب کښې خوشحالېږي خفه کېږي
څه خوبه ضرور محسوسوي، بېنه به پوهېږي
وېنې چې سپوږمۍ، ستورې، رنګونه، نو خوشحال شي
هرکله چې بدې ګوري وویني ملال شي
څوک چې ورته ښې خوږې خوږې خبرې اوکا
بس لکه ماشوم تتې ورې خبرې اوکا
درو درو ورته وګوري په شونډو کښې مسکے شي
اوس چې ورته اوګوري دګل غوندې لیدے شي
دا د کلیا تو که ادراک نهٔ وي نو څهٔ دي؟
ګو یا که په علم کښې ځل واک نهٔ وي نو څهٔ دي
پسته تربیت ئې چې په هره مرحله شي
بیا ئې نو بالفعل، دغه علم بالقوه شي
دائې د خارج د تصوّر نه عبارت وي
پرله پسې کېږي د اشیاؤ معرفت وي
هر یو تصوّر، بالقوه په خاکه رنګ شي
کوم چې مخالف وي ائینه ئې ورته زنګ شي
هغه قبلوي چې ئې فطرت[1] کښې وي راوړي
هره ونه ګوره عبارت وي له یو زړي

---

[1] تماکلي فطرت

خلق ئې هم هغه وي چې عطا وي لهٔ قدرته
کیږي ئې تشکیل چې وي داغلے لهٔ فطرته

څوک وائې چې "فرد حوله ماحوله عبارت وي؟"
څنګه چې محیط وي، هم هغه ئې شخصیت وي

دا د واقعاتو نه خلافه نظریه ده
نهٔ کورئ عالم ته دهر څیز بیله نقشه ده

یو بل نه ممتاز دي چې دنیا کښې حیوانات دي
بیا دا ډول ډول په عالم کښې نباتات دي

کله د منې ونې راوړے شفتالو دے؟
چا وې چې تیږ نو تیږنهٔ دے خوالو دے

اوګوره په غور چې صورت دهر یو نوع دے
بیل دے د یو بل نه چې فطرت دهر یو نوع دے

اوګوره په غور چې صورت دهر یو نوع وي
بس هم د دې لاندې فعلیت دهر یو نوع وي

دا اوبه کېدے شي چې هم واوره هم بدلې شي
هیڅ ممکنه نهٔ ده چې پهٔ بوټي کښې کلې شي

څوکه دا اوبه په حرارت سره بخار شي
بیا په لړ یخاوٗ سره اوبه وي چې اظهار شي

واوره چې صورتِ نوعیه دے برقرار دے
نهٔ منقلب کیږي په یو حال ئې استقرار دے

بیا د نوع د لاندې په افرادو کښې موجود دے

مه منه هیڅرې ځوک چې وائي چې نابود دے

زده کړه د ماشوم خود څښن وي حقیقت دے

خلق ته ئې چې هر شي مطابق ئې د فطرت دے

هو! د محیط هم څهٔ بوخه شته په تربیت کښې

هغه هم هله چې ئې وي اصل په فطرت کښې

لا چې په خبرو هم هغوئې نهٔ وي راغلي

ډېر داسې شیان وي ماشومانو پېژندلي

لا د تکلم نه ئې څوا وي پېژندلي

کوم ئې چې حواسو وي لیدلي اوربدلي

مور چې ترې تپوس وکړي بچیه چې دا څهٔ دي

او بنایه لرې ماته کوم دي لاس کوم دي لمهٔ دي

ورو غوندې ئې پورته کړي چې گویا دا مې لاس دے

سترگو ته بیا زده کړي اشاره چې دا دې پاس دے

گویا چې وي علم ئې د ځان سره راوړے

بې د تکلم نه ئې په خپله وي زده کړے

شي چې د الفاظو ذخیره ورسره ډېره

بیا نو ترکیبونه د جملو کړي رابرسېره

کران چې تلفظ وي د کوم څیز په ابتدا کښې

نوم ئې کړي بیان خو اېوته شي په وینا کښې

سوال چې د بجلۍ تري وکړي وائي چې بجلي ده
یا ئې د "دبلي" نامه په ژبه د بدلي ده

کله چې قادر شي د جملو په جوړولـو
بیا نو تجسس ئې بې قرار کړي په پوښتـلو

تل وي په پوښتنه چې دا څه دي او دا څهٔ دي
اوکه واې دادي نو بیا وائي چې بیا څهٔ دي

داسې تپوس هم وي چې جواب ئې کېدے نـهٔ شي
ځکه چې که ورئې کړي جواب پوهېدے نهٔ شي

ځکه چې وي سوال د کائنا تو کلیاتـو
نهٔ به شي پرې پوے که ئې ظاهر کړي په جزیاتو

ځکه د جزیاتو تعین د عقل کار د ے
دلته لا د عقل نه محرومه برخوردار د ے

اوبه کړي تپوس چې سپوږمۍ چا ده پیدا کړې
دا له کومه ځایه نه، چا هلته ده راوړې

مور چې ورته اووائي چې خدائے ده پیدا کړې
دا زمونږ د پاره ئې جوړه شمع رڼا کړې

بیا وکړي تپوس چې څوک دے خدائے راته نما یه
مور وائي چې داسې تپوس مهٔ کوه بې ځایه

اوس ئې لا ماشوم په دې خبرو نهٔ پوهېږي
هومره به پوهېږي څومره چې لوئېږي

ACKU

چپ خوشي، خو نه وي مطمئن د موږ یې پام وي
ځکه ته یې چې ګوري نښانه د استفهــــام وي

ګویا فطرتاً ورته احساس د یو خالق وي
دا یې د فطرت له لارې پوهې ته لاحق وي

پوهه وي بالقوه چې هر معلول وي له علته
ځکه سپوږمۍ هم د یو خالق ورکوي پتــــه

کله چې ضد او نیسي له موره مــــرور شي
بیا ورته شي له موره د بابا غېږې ته ورشي

ګویا چې ته نه سږې په تاخه انحصار دے
غم زما د ځه دے چې موجود مې راته پلار دے

مور ورته خوږه راوړې په جار او په قربان وي
ده په مزکه ځان وهي ترې ګرېزان وي

څېر چې شي خوږ و وته نو ورکه یې ژړا شي
خوړې یې په ورو ورو په خوشحالۍ او په خندا شي

بیا وائي چې نه، ددې نه جوړ راته شربت کړه
جوړ ورته شربت کړي وائي واخله دا اوچت کړه

ګوټ چې ترېنه واخلي وائي لرې یې له ما کړه
او باسه ددې نه ما ته خپله چینې دا کړه

ټوې چې د عمر وي د درېو نه کالونه

سم ئې اداکېږي بیا د ژبې نه لفظونه

بیا تر څلورم کال ئې شته منه حافظه شي

جمع د الفاظو پکښې ډېره ذخیره شي

اوس نو کلیے هم له اجزاؤ جوړ وے شي

اوس تر یوۀ حده په ښو بدو پوهېدے شي

---

## دوېم اړخ

# انسان د هلک په حېثیت

ژوند دے عبارت د هر انسان د دوه پېندونه
یوې د نزول ځنې دوېم یې د ختونه
وائي حکماء چې اول قوسِ نزولي دے
ختم چې دا قوس شي بیا یې قوسِ سعودي دے
یو وي د نقطې نه د انسان تر ولادته
بل د ولادت نه شروع کېږي تر رحلته
بس هغه نقطه چې کائنات یې دایره ده
بیا هغه شجر چې یې بنیاد یوه دانه ده
څرنګه چې تخم په آخر کښې هوېدا شو
دغسې انسان هم په آخره کښې پیدا شو
ژوند د یو ماشوم چې له څلورو کالو تېر شي
کوم چې اضطراب یې وه پخوا له هغه ډېر شي
هیڅ پروا یې نهٔ وي چې دا بد کوم که ښهٔ کړم
بس خو همېشه وي په دې هڅه چې څهٔ وکړم

۳۱۱۹

ACKU

څنګه چې دانه دتخم وي په حرکت کښې
ځان ظاهر وي ديوې ونې په صورت کښې

دلته ختم شو ګويا قوسِ نزولي وي
اوس ئې شروع شوے دوېم قوسِ سعودي وي

تېر له جمادانو، نباتاتو، له حېوان شو
قوسِ نزول ئې مکمل شو چې انسان شو

څې به اوس په بره چې کامل انسانيت کا
شرط دے پکښې دا چې خپل مرکب حېوانيت کا

څو چې حېواني عنصر دځان وته زير نهٔ کا
خپل انسانيت به مخکښې هيچرې تېر نهٔ کا

بس حېوانيت ئې چې مرکب دے ئې راکب شي
څې په بې غمې سره منزل به ئې صايب شي

څوئې دفرشتو به کړي حاصل په دې منزل کښې
خلاص به ئې "انا" شي چې وه ګېر په اب وګل کښې

دا بې قرارې چې په طفلې کښې پيدا کيږي
ځکه چې تحريک دارتقا ئې سېوا کيږي

دا دے هغه وخت چې تجسس په کښې سېوا شي
دلته ئې ظهور په ابتدا کښې د"انا" شي

نهٔ شي کښېناستے يوه لحظه هم په قلاره
اوس به دلته ناست وي اوس به دُو وهي په لاره

# هلک لوئیږي

اوس زمونږ ماشوم دے ښوانه را لوئے شوے
ویسنه حافظه ئې په ښو بدو دے پوئے شوے

اوس هم تپوسونه ډېر کوي له مور و پلاره
اوشي وضاحت چې ورته پوهه شي له داره

غواړي والدین ئې چې مکتب کښې ئې داخل کړي
دا دے هغه عمر چې اوس علم به حاصل کړي

ځکه چې عاقل شو اوس به وړاندې تېرېدے شي
اوس له جزویاتو کلیات هم جوړ وے شي

بس نو یو سحر نوې جامې ورته دربر کا
سر ورته ګومنځ کاندي او غسل ورته ور کا

پلار ورته ولاړ وي په زړه زړه کښې خوشحالیږي
بیا خپلې مېنې ته په سترګو کښې موسیږي

مور ئې هم مسکۍ وي خو مسکا په ګرد لړلې
وي دا خوشحالي ئې د فراق په درد لړلې

نه ئې کیږي زړه پرې چې بهر ئې شي له پامه
وي ورته قیامت که جدائي وي تر ما بنامه

څو د بېلتانه ئې که په زړه کښې ډېر وسواس وي
بيا هم د ملک د مستقبل ورته احساس وي

ورکړي "بسته" مور ئې بيا په سر او سترګو شکل کړي
جوش د محبت کښې دوه بار خوي لکه ګل کړي

او وزي له کوره د بابا سره روان شي
اوس به ورته مخ نوې دنيا نوے جهان شي

څې ورسره سم د مور د مينې نظر و نه
څو چې ورته ښکاري ورسره کړه جلبو نه

پېټ چې شي له سترګو بيا ئې زړه ورسره يون کا
ان له مدرسې تر واپسۍ ورسره تلون کا

دا دے ضرورت چې د تعليم ئې ابتدا شي
شوق چې د تحصيل ئې بنه په زړه کښې راپيدا شي

ورو ورو چې حواس ئې اوس په لور د تکامل شي
دا ښکلې غوټۍ چې په مُسکا مُسکا کښې ګل شي

فتح د حواسو ئې چې برخه د فطرت وي
مخکښې د تکميل نه ئې ځوان شوے ذهنيت وي

لا ئې د ځواننۍ نه پخوا، ځوانه اند ښنه وي
پوهه ئې ځلانده وي له ځايه نابغه وي

غېږ نه د مور لاړ شي، نګرانۍ کښې د استاد شي
ځکه چې ښه فرد، په جامعه کښې د هېواد شي

ACKU

راځي شي بې واكه ازادي په ضابطه كښې
ژوند ئې مقيد شي د آئين په دايره كښې

اوس ئې حركت د معلم په اشاره وي
ذره ئې ازادي غواړي هم ويره ورسره وي

دلته شروع كيږي په اضدادو كښې ډغره
دلته د فطرت وي اشاره څغله په سره

څو ئې چې هستي نهٔ شي اشناله ردوكده
بيا نو هيڅ ماشوم چرې كولے نهٔ شي وده

نهٔ به ئې فطري صلاحيت چرې بېدار شي
نهٔ به د اخلاقو مكمل چرې معيار شي

څو ئې چې فطري اضداد په خپلو كښې جنګيږي
هومره بالقوه خاكه د پوهې ئې رنګيږي

هم د ضبطِ نفس ئې د سبق سره سبق وي
اوړي چې د پوهې د كتاب نوے ورق وي

كيږي شا بندي ئې چې ماشوم لكه بنيښه وي
پس د تربيت نه به ترې جوړه ائينه وي

اوس به شي برسېره په دوران د تربيت كښې
څهٔ چې بالقوه ئې پټ پراته دي په فطرت كښې

دلته تربيت هم ئې په كور كښې تربيت وي
ونه كوي وده چې ئې خيال د حفاظت وي

# په مکتب کښې

وړ چې شي هلک ورته، مکتب نوې دنيا وي
ويره ترهه هم وي، څه حيرت وي څه سودا وي

هغه مکان چې له دې ورانده وي راغلي
اوس وي اشنا شوي که خوځل وي تېښتېدلي

نه چې وي استاذ ته، نو په تمو مسخرو شي
او بې بوتې واڼي، په چېړلو په نخرو شي

ورو ورو د هلک زمونږ هم پکښې بلد شي
نو که وه څو په ابتدا کښې اوس اشد شي

نه شي په قلاره کښېناستلې بې قرار وي
ټول يې د ملګرو د چېړلو سره کار وي

ورشي په خالد باندې چونډه اولګوينه
بيا ورته تپلا ورکړي په فرش يې غورزوينه

پورته شي خالد هم په غصه کښې ورغوته شي
د واړه سره پرېوځي يو تربله اېوته شي

اوس نو ديوبل د پاسه ښځې کړي نو کاري
بيا نو سره د واړه په ژړا وهي بغا ري

نور ورته تا ړه وهي خندېږي خوشحالېږي
بيا نو دوی په خپله ديو بل نه جدا کېږي

لږ ساعت چې تېر شي کوي دوا ړه سره لوبې
خاندي خوشحالېږي يو تر بل کوي ټيټو بې

اوس يې چې وړه کړه هغه جنګ ورځني هېر شي
خوئې د ماشومانو دے چې تېر شي هغه هېر شي

ځکه چې دا جنګ يې همېشه بې مدعا وي
بس خو يو تحريک د فرديت وي د "انا" وي

دا د چې په دې عمر کښې ماشوم ته څوک ورنهٔ کړي
بد د دې نه زيات به د ماشوم سره نور څهٔ کړي

پوئے چې شي ماشوم چې توجه ورته څوک نهٔ کا
د لته شخصيت يې کروندې د حسد اوکا

ځکه چې احساس د کمترۍ په کښې نما شي
بيا يې نو که خپل وي که پردے، ورته بلا شي

دې وخت کښې که پوخ په کښې احساس د کمترۍ شي
بيا په پاخهٔ عمر، په تکل د برترۍ شي

ضد په کښې پېدا هم يې منفي ردِّ عمل وي
اوس نهٔ محو کېږي هغه نقش چې له اول وي

بيا نو په اظهار د برترۍ کښې جنګيا لے شي
غواړي په هر کار کښې چې له وارو بريا لے شي



ACKU

نهٔ شي دا څغملے چې خبره يې څوک رد کا
دے معامله کښې ګويا جوړ لهٔ ځانه دَډ کا

بنايي ماشوم توب کښې، که استاد کهٔ موز او پلار وي
دا چې ورکوي نو تربيت په سمه لار وي

دا خو د حواسو د تنظيم يې زمانه وي
بويه چې نغمه يې د ژوندون، هره لمحه وي

څوک هم په خندا او خوشحالۍ کښې ورته بويه
داسې چې " اے ګله . اے بلبله زما زويه

# د

# اووه کالونه ترشپارسو کالو

عمر د ماشوم چې اووهٔ کاله شي رالوېٔ شي
سنهٔ د ښکو بدو په اوږ دهٔ اوسادهٔ پوهٔ شي

اوس يې مناسب په بدو چارو وي رټنه
ښه دهٔ که استاد هم ورکوي ورته ټوکنه

پام چې له دې عمره يې ښوا وهل ښه نه دي
جوړ شي ترې احساس دکمترۍ رټل ښه نه دي

دروره داسې وخت په ما حمزه باندې هم تېر دے
اوس په زړه بودې يې هم احساس راسره ډېر دے

کوړ کښې به پټی چې په تختی ما ويکله
بيا مې په مکتب کښې چې استاد وته ښوووله

خدائے زده يوه ورځ مې څه تحريک دلاشعور وه
ما وې هره ورځ نو دې پټی ته څه ضرور وه

راشه تن پرې جوړې کړه خاکې دانسانانو
گوټے د ذهنيت يوسه له واړو ماشومانو

جوړې مې خاکې کړې ډېر په زړه کښې وم خوشحاله
داد به استاد ښه راکړي چې ورشمه سباله

داد يې راله څه راکړو زما له بده بخته
ډېر چې ورته وائې کړه يې پورته هغه لخته

بيا يې نو نه سرکتونه پښې زما، وهل وو
چغې وې زما او پرېوتل او رغړېدل وو

خدائے زده چې بدل دکوم يو وخت يې وه راپورې
سمې دوهلو سره هم وې ستغې سپورې

کلک يې استاد اونيو، يو عزيز مې شو راپورته
ډهال شو گويا هغه داستاد دغصې اور ته

ACKU

بیا هم چې استاد مې لاس اونهٔ نیو لهٔ وهلو
یو دم ئې راپورته کړو په مزکه ئې وویشتلو

پس د دې مې داسې د مکتب ځنې زړهٔ تور شو
بیا که مې حصول وهٔ د تعلیم، همه په زور شو

جبر وکه په ما چې څو ناتوانه ومه تلمه
ځوان چې شوم د جبر اوله زوره اوتمه

پاتې شو تعلیم رانه په نیمه کښې نیمګړے
جوړ ترې شجر نهٔ شو که زرغون شو زما زړے

څه چې دې اوس دا مطالعه دا ئې حاصل دے
نقص لري بیا هم که هر څو ذهن مې کامل دے

بس په کم عمر د کښې کوم کار و نه چې فضول کا
پلار وي که استاد په بنګلې لوبه ئې مشغول کا

# فکري تربيت

ښکلې ځينې چې وګوري زه فکر يې بدل شي
لرې يې له ذهنه د عبث چارې خلل شي

ښائي چې قصې ورته بيان شي د نېکانو
بويه چې کردار ورته عيان شي د نېکانو

ډک يې چې شعور شي په ځلانده خيالاتو
هم يې لاشعور په ښائسته تصوّراتو

دغسې عمل چې تر اووه کالو تکرار شي
بيا نو پاکيزه ښکلې ځوانه ته ښه تيار شي

هم هغه د علم په تحصيل کښې ماهر نے شي
هم د هر يو فن په زده کولو بريالے شي

ښه ښکلې کړه شي په زنځير د جامعه کښې
يا ګويا نقطه شي د مرکز په دايره کښې

بويه چې تعليم يې وي اول په خپله ژبه
ځکه چې تعليم خو وي افضل په خپله ژبه

ذهن مکدر کا چې لفظونه اجنبي وي
خوله خو يې وي خپله ولې ژبه د پردي وي

جوړه ئې ذهني دمورنۍ ژبې سانچه وي
بله ژبه راشي نامعلومه بې معنه وي

یو ئې دپردۍ ژبې لفظونه یادول وي
بیا ئې په معنو هم دلفظونو پوهېدل وي

بس نو پرېشان ئې دا ذهني ردِ عمل کا
تښتي له تحصیله یوخوا بل خوا ترېنه ځغل کا

ګرچې هلکان ورلېږي هرخوا ته خوارهٔ شي
حکم دا استاد وي چې په لمنه دهغهٔ شي

تښتي ترې خو دوئ ئې تعاقب لکه ګولۍ کړي
اوې نیسي بیا ئې برابر ډنګه ډولۍ کړي

شته په کښې آفت چې په پردۍ ژبه تعلیم وي
ډوب کړي واړه قام په دې اصول کښې چې تعمیم وي

دا تحتِ شعور کښې چې باخه نقشونه جوړ کا
زرهٔ ددې ماشوم پسته له خپله قامه موړ کا

هم ئې بیا دخپلو روایاتو نه نفرت شي
خپل قامي تهذیب ورته یو بُو او مصیبت شي

بیا تحت الشعور کښې چې څه دا ذخیره شي
درومي لاشعور ته ئې روانه قافله شي

هلته لاشعور کښې ئې همه قامي صفات وي
هم ئې دپلرونو دنیکونو روایات وي

ACKU

جوړه شي په دوارو کښې دغرکه ناګهانه
څه به درته وایمه له دې سخته بحرانه

پوخ ئې لاشعور وي چې بنیاد د شخصیت وي
نه مني پردي "قدرونه" سخت ئې ترې نفرت وي

څه ئې نتیجه وي ؟ چې انسان په کښې راګېر شي
دا ئې نتیجه وي "نیم تیتر او نیم بټېر" شي

نه ورته حاصل د پردو ژبې فضیلت شي
نه ئې په خپل ځائے د خپلې ژبې حېثیت شي

پوخ ئې په دې ځائے کښې بنه احساس د کمترۍ شي
پاتې ترې کوشش او هم تکل د برترۍ شي

بیا په خپله ژبه خپل تهذیب پورې خندا کا
هم ئې د الفاظو په ترتیب پورې خندا کا

خپل قامي لباس ګڼي لباس د جاهلانو
دا پردے تهذیب ګڼي تهذیب د عالمانو

حیف چې والدین ئې وي ددې نه بې خبره
اوس ئې نصیحت هم په هلک وي بې اثره

بویه مور او پلار ئې هم چې دواړه منور وي
زده کړه بنیادي ، ورته په کور کښې مقرر وي

بیا چې مدرسې ته لاړ شي کم به ئې وحشت وي
بیا چې خو تحصیل کوي سېوا ئې مسرت وي

ACKU

څومره چې لوئیږي تکامل يې د خصلت شي
ورو په ورو بدل يې هم د لوبو نوعیت شي

څو د هغه چې لسو کالو ته رسیږي
اوس نو کله کله څوانیږي ته يې زړه کیږي

تل په مستقبل کښې جوړوي ښکلي باغونه
زړه کښې يې مثي بل د امید ونو چراغونه

څو ورته منزل چې د ځوانۍ رانزدې کیږي
هومره ورته ښکلي پریشانۍ رانزدې کیږي

کله وائي داشم کله وائي چې هغه شم
کله وائي سیند شم، کله وائي چې چپه شم

دا هغه تحریک دے چې رجحان يې د فطرت دے
اصل کښې بت دے چې چاپېره ترې کثرت دے

اوس د ځان بند دنې خواهشونه يې سپرا شي
غواړي په هر کار کښې چې د وراندې له مخ شي

ورو ورو اغېزه يې په رګ رګ کښې چې شباب کا
کله رټ په ډېره مون او پلار ته هم جواب کا

کله د استاد سره هم پاخې کې بخښې کا
پوهه چې بخپله ناپوهېږ شي خاموشي کا

ګویا احساسات يې په ترون کښې د نغمې شي
فکر ته ښکاره يې یو په یو د زړه پردې شي

* * *

۳/۱۳۲

دریم اړخ

# ځواني

تېر د هلکوالي نه هم اوس زمونږ ماشوم دے
اوس د ولولو اوجذباتو پرې هجوم دے

اوس ترېنه يو ښکلے خيالونے زلمے جوړ دے
نن د محبوباؤ ترې دکوتې غمے جوړ دے

ښه مکمل شوي يې حواس او عناصر دي
ځوانو ولولو کښې ارمانونه يې ظاهر دي

يا به وايو داچې دارمان شونډه يې شنه ده
غرغونډې محکمه يې همت او حوصله ده

اوس د مستقبل ښکلي رنګين خوبونه وينې
شپې يې ښائيسته "سحرجبين" خوبونه وينې

هيڅ د دنيا کار ورته ناشونے نه ښکارېږي
نشته داسې کار چې ورته کړونے نه ښکارېږي

مخ هم د احساس په پوزه نۀ پرېږدي ننګیال دے
نۀ ګرځوي مخ د چا د تورې نه جنګیال دے

نن ولاړ اوچت د زلمي توب د غرۀ په سر دے
ښکاري لرې هم ورته نژدې چې ئې نظر دے

وبه وهي اوس د هر مشکل سره ډغره
هر خوا ته د هر یو مقابل سره ډغره

جوش ئې د ځوانۍ هرۀ جذبه ده لمسولې
هم د بغاوت ئې زلزله ده لمسولې

پوخ ئې زړۀ کښې اوس د خپلې رائے حیثیت دے
هیڅ د چا د رائے ورته نن اهمیت دے

راغله د ځوانۍ او د مستۍ زمانه راغله
ګویا لېونۍ او سېلنۍ زمانه راغله

والوتے هر لورې ته سیلۍ د شبابونو
نوې غنچې ونې راپیدا کړې ارمانونو

ځوانې ولولې شولې، زلمي شو ارمانونه
څومره ښکلي ښکاري دا بې واکه طوفانونه

"جنس" ئې چې ځوان شوے دے رنګین خوبونه ویني
هرۀ تمنا ئې ګل ورین خوبونه ویني

ښکلئ دے جهان ورته هر خوا ښکلا ښکلا ده
هر ماښام ښکلا ده هر سبا ښکلا ښکلا ده

اوځې جذبات ئې اوس د عقل لهٔ نګامه
ځکه چې ئې هر زور اور ولوله لهٔ پامه

څوکهٔ د ځوانۍ د عمر تښکنه غرمه وي
زور د ولولو ئې د خرد د پاسه شپه وي

هغه چې ما شوم وهٔ بیا هلک وه اوس زلمے دے
اوس په دایرَه د سړي توب کښې یو غمے دے

ښنغ لکه د غشي د مقصد هدف ته رسي
وي که هر طرف کاروانهٔ هر طرف ته رسي

چرته وي د لوبو په میدان کښې ملا تړلے
چرته وي په دو او په توپونو کښې غښتلے

کله د سائیکل د پاسه الوځي روان وي
کله فکر ورے ځان ته ناست وي پریشان وي

* * *

# د تربیت اهمیت

بویه چې ښوا ددې ئې شوے تربیت وي
اوس چې په هر کام له جذباتو هزیمت وي

بویه چې غالب ئې اوس عنصر د سړیتوب وي
نن ورته مغلوب چې حیوانیت او لیونتوب وي

نه بنائي جذبه چې په زلمي باندې حاوي وي
نن باید تړلې ئې د ضبط په غړوندي وي

نن باید چې کار واخلي له هره احتیاطه
بچ اوساتي ځان چې د تفریط او له افراطه

بویه اعتدال چې په هر کام ورسره مل وي
هم په دې طریق به ئې روښانه مستقبل وي

اوس چې په ځوانۍ کښې تعمیري کارونه وکړي
بیا په زړبوډۍ به د آرام خوبونه وکړي

هم به ئې تر مرګه ښه صحت د زړه دماغ وي
هم به ئې کلی د دوارو سترګو دوه څراغ وي

دغه سرمایه چې دځوانۍ دې بې بها ده
پام کوه اسراف په کښې کول لویه بلا ده
داکه ورته وایې نو جمله معترضه وه
مونږه چې کوله، دځوانۍ عامه قصّه ده

# د ځوانۍ صفات

مونږ خو داویل چې ځواني څنګه څه شان وي؟
داعغه اصول دے چې حاوي په هر انسان وي
بس چې ځوانۍ راشي اضطراب ورسره راشي
سیند چې طوفاني شي نو ګرداب ورسره راشي
داهغه شراب دي چې زلمے به دیوانه کا
توڅې چې اونه څښي شکسته به پیمانه کا
کله ائینه په لاس کښې واخلي هوسیږي
ګوري ځان ته ګوري په خپل حسن نۀ مړیږي
کله به خپل عکس ته په مینه مینه ګوري
ډک وي له مسکا ورته دخپلو سترګو توري

کله شي په تورخ له يوه اړخه ځان ته ګوري
کله په بل اړخ يو خوا بل خوا ته به بسوري

کله پوزه بوخه سترګې برندې کړي مسکې شي
کله د ماشوم پښې کوي کله زلمې شي

ګوري به خپل سوري ته په لاره چې روان وي
زړه کښې وائي "ټول خلق به ما ته نګران وي"

چې د پښو په پنجو له مستۍ کړي تلنه تونده
ګوره ئې په مزکه باندې نه لګوي پونده

بيا چې د ځوانۍ سره ملګرے ئې عفت وي
ګوري چې خپل ځان ته په ښکلا کښې يو قيامت وي

بس په هر انداز کښې ئې بې حده زړه رابښکون وي
وي خپله ښکلا ورته ليلى، دے ئې مجنون وي

تر شي ساعتونه په خپل حسن نه مړيږي
څو چې ځان ته ګوري اشتياق ئې سيوا کيږي

غړوي له خپل ځانه په دا'ان په ائينه کښې
دے خپله وي همه جهان په ائينه کښې

وا تخلي ځواني چې وي حيرت په 'ائينه کښې
جوړ شي د جوهر ځنې حسرت په 'ائينه کښې

دے دغه عنت چې کړي ښکلا کښې د بوې بلې
هر يو حکمت هرې ادا کښې د بوې بلې

* * *



ACKU

# حُسن

حسن که هر څو د توازن نه عبارت دے
روح د توازن په دې حسن کښې عفت دے

حسن د عالم په هر یو ځیز کښې جلوه گر دے
حسن خو هم یو دے خو جُدا جُدا نظر دے

ذوق د ښکلا یو دے خو معیار جدا جدا دے
مینه خو یوه ده ولې یار جُدا جُدا دے

ستر گو ته حاجت دے، حسن شته دے په هر ځۀ کښې
هم شته په چمن او په صحرا کښې هم په غرۀ کښې

حسن شته صحرا کښې چې ئې گورې له یو ځایه
حسن پاتې نۀ شي چې نظر دې شي بې ځایه

وې چې کوم معروض کښې هغه شان ئې کتل بویه
بس په مقرر هغه مکان ئې کتل بویه

کندو خرخوړو کښې به د حسن ننداره کړې
بیا به حُسن نۀ وي که بدله زاویه کړې



ACKU

یو طرف چې ګوري نو په غرهٔ کښې به ښکلا وي
تېر چې شي بیا وګوري ښکلا نهٔ وي بلا وي

بیا نو دغه حسن مجتمع دے په انسان کښې
نشته داسې حسن په ملک نهٔ په حیوان کښې

ځکه خو د ''اَحسَنَ صوَّر'' ورته خطاب دے
دا دے په مخلوق کښې د خالق چې انتخاب دے

حسن د خالق له خپل جماله عبارت دے
ورئې کړو انسان ته چې حامل د خلافت دے

پېښې ورته د داسې امانت نه چې ذهول شو
ځکه خو نامزد هم په ظلوم او په جهول شو

وکړو خیانت ئې ورعطا چې امانت وه
دغه خیانت څهٔ وه؟ نسیان ئې د عفت وه

تل به د عفت کړي حفاظت چې نابغه وي
هم به ئې سالمه تر اخره حافظه وي

وائې شافعيؒ ماله استاده کړه پوښتنه
هسې شان زما ده حافظه ولې لهچنه

وے چې ګناه پرېږده نصیحت درته کومه
ښهٔ به حافظه شي وصیت درته کومه

خلاص چې له ګناه شې، حافظه به شي ځلانده
تل به دې د عقل او د خرد وي چینه تانده

* * *

# زلمے ائینه کیږدي

کیږدي ائینه نو بیا وي ځان ته فکر ورے
ډېروي د خپل حُسن گلستان ته فکر ورے

حُسن ئې د ننه په چپو لکه طوفان وي
وي که په ظاهر کښې مطمئن خو پرېشان وي

پټ ئې په خاطر کښې یو جهان د اضطراب وي
سر په چپو یون کوي، طوفان د اضطراب وي

ساز د زړهٔ چپړلو د نغمې ته بې قرار وي
وخت د زلمي توب کښې ئې رګ رګ لکه د تار وي

ساز د زړهٔ ئې سُرشي اضطراب ورته مضراب شي
بیا نو د سندرو په چپو، لکه دریاب شي

خپله تمنا ئې شي په ضد لکه ماشومه
غواړي ترینه څه؟ مطالبه وي نامعلومه

گویا چې مزار د ارمانونو ئې هر یل شي
دا دے زلمي توب چې همګي غزل غزل شي

ویښ به درته ښکاري خو مدام به وي له خوبه
څهٔ به درته وایم د زلمي له زلمي توبه

داسې یوه ورځ په اضطراب کښې چې روان ده
ګل غونډې په ډکه خوله خندان خو پرېشان ده

ناڅاپه ترې تېره په ځنګ ځنګ یوه برېښنا شوه
ځرېکه ناڅاپي وه چې په زړه کښې ئې پېدا شوه

تله او به تګ تګ کښې ئې الوتې نظر اوکه
یو ځل ئې په بر او بیائې ډه ته په بر اوکه

سر د صراحۍ چې ورته ښکته شي له رشکه
داسې وه قدرت ورکړې ښکلې غړۍ هسکه

تګ د زرکې څه وه ورته داسې ئې خرام که
زړه چې د زلمي په هر یو ګام ورته سلام که

غټې ساده سترګې ئې په ترهه کښې هوسۍ وې
بیا سره ددې د زړه په کښلو کښې زمرۍ وې

پټ په لوپټه ئې کړو د زلفو جهان ځلند
یو بې واکه لړه شو په مخ باندې راځوړند

★★★

# د عشق دیوتا کیوپډ غشي لینده په لاس راښکاره کیږي

غشي په لینده کښې د کیوپډ وُه راښکاره شو
بیا د زلمي لور ته د لیندې نه اوزره شو
ښخ يې شو په زړه کښې، نیم بهر او نیم دننه
څوړنده، کږه شوه، د زلمي د خاطر اونه
غږ يې وکړو زړه چې د غه حسن لاجواب وُه
دا وُه چې ملګرے مې په رنګ د اضطراب وُه
دا هغه ښکلا ده چې زما د کور ډیوه ده
دا مې د فراق ژمي ته تکمه غرمه ده
دا دے د نیاز يې چې په ما پاتې قلنګ دے
دا مې د فطري خاکې د مخ د پاسه رنګ دے
سر ګې چې ورته واڼيُ، بس د دې نه مې بېلتون دے
روح مې د حواسو، دا مې نبض د ژوندون دے
بې له دې زما په شخصیت کښې نیمګړتیا ده
بې د دې نه دا ښکلې دنیا راته بلا ده

ACKU

حال د ظلمې ګوره په نعرو لکه بلبل شو
لړزې ورځې پس لکه خزان وهلې ګل شو

مینه ئې په زړه کښې مېلمنه وه ګوربنه شوه
ګوره اسېنې ته چې پیدا ئې حافظه شوه

یاد ئې د اشنا ګویا په زړه کښې سوېدا شو
داغ لکه ملګرے د اول نه د لاله شو

پاتې تماشه د نور چمن هسې بلبل شو
بس خو په ثنا او په صفت د هغه ګل شو

ختم سر تر پایه ئې کثرت د ولولو شو
راغلو یو مرکز وته، وحدت د ولولو شو

حقه ده چې خیال د هر چا یو شي فرزانه شي
دے مګر په فکر د "دهرخیالو" دیوانه شي

چا ته حاصل شوے دا نعمت چې د وحدت دے
کښېلې ئې په برخه سعادت د سلامت دے

جرنده د ګردور په مېدولو اموخته ده
پاتې سلامته د تیرک سره دانه ده

اے چې ته، دې برله بسې غشو وارخطا کړې
کار واخله د عقل او له خرد ولې ژړا کړې

ورشه هلته غشې چې راځي له کومه ځایه
ځکه چې مامن دې چرته نشته بې له خدایه

* * *



ACKU

# د
# زلمي مينه رسوا کيږي

عشق لکه د مشک هسې ؤ چرته پټېدلو
ورو ورو په ماحول کښې ګنګوسے ؤ خوريدلو

بيا له کوره اوت ګنګوسي په کلي خور شو
بيا له کلي اوتو، اولس ته جوړ تر ې شور شو

مور او پلار د پېغلې چې په دې باندې خبرشول
غم د رسوايۍ اوبدنامۍ نه کور وکر شول

غم خو دادے بس چې دلته مينه مشرقي ده
نۀ چې بې پروا د رسوايۍ نه مغربي ده

وے کۀ مغربي، نه يې څه غم، نۀ بدنامي وه
نۀ په مغربي معاشره کښې رسوائي وه

ښکلې پېغله لور يې په کاله کښې کړله بنده
او ئے کړو تاکيد پرې چې بهر نۀ شي څرګنده

تېر چې ازاد شي دارمان يې بربادي وي
لا په ځېو سرئ مقيده ازادي وي

بیا د دوه مینو په ما بېنې چې پلتون راشي
ګویا چې ساعت د ژنګون په ژوندون راشي

دلته د ژلمي سترګې حیرانې اېښې وي
هلته د مینې ئې پرېشانې اېښې وي

بیا هم جدائي وه که و بند په یوه لومه
زړونه په یو تار ئې درزېدل خو و محرومه

بل و د عاشق او معشوقې په زړه اوروسته
خپل ورته پردي و او بلا ورته کورونه

بیا نو والدېن د ژلمي جوړې جرګې کړې
زرئې سره غونډې د سپین روبو مرکې کړې

# د پېغلې پلار ته جرګه ورځي

پلار د ژلمي خان سره سپین روبې کړه ملګري
تله به په ځلائې له ځوانو سره بخري
څه استانه داري هم له ځانه سره مل کړه
نور داسې دوستان ئې هم ملګري پل په پل کړه

جوړه شوه جرګه خو پلار د سغلې په غصّه وُه
الوتل بخرې ئې د سترګو نه لمبه وُه

پرله پسې ئُو ددهٔ د خوانه انکار وسنه
دې طرف نه وو سوال وزارې او منتونه

پلار د سغلې وې چې په اولس کښې ئې رسوا کړم
لاره د ددستې ورسره څرنګه پیدا کړم

وې که دوه جهانه ورته ورپه کړمه لته
نهٔ کړم رسوائې به د "پښتو" د پوزې نته

پلار د زلمې وې زما په زوے کښې څه نقصان دے
ذهن منوّر لرې شریف دے ښکلے ځوان دے

پوره په خوشحالۍ او په دولت او هم په مال یُم
سوال که د سیالۍ راشي ترمنځه، زهٔ دې سیال یُم

اے عزیزه تا ته یُم راغلے سوال کومه
نهٔ بنائې د درنه دې چې تشه ځولۍ ځمه

بیا ورته په سوال او په زارۍ استانه دار شو
پس د دې پر منت نه ورته راسې په ګفتار شو

بیا سره دې هم د پاک رب دغه فرمان دے
فرض د سغلې د پلار لره د سغلې نه پرسان دے

وکړه ترې پوښتنه که په دې باندې رضا وې
دې کښې خوشحالي به هم زمونږه هم د تا وې

پس د مرکو نه چې راضي د پېغلې پلار شو
جوړه شوه کوژدنه برابره هر یو کار شو

ورغلهٔ سپین ږیري ، د کوژدنې دستوره شوه
جوړه په دې دواړو کښې د مینې سلسله شوه

# واده

بیا نو هغه ورځ شوه چې واده وه خوشحالي شوه
لاړه رسوائي له منځه پاتې یې سیالي شوه

دواړو طرف ځوانو ارمانونو ځلا وکړه
زړونو د مینو لکه شمع رڼا وکړه

ښکلې وې ځلمي ښکلې سهره یې اوتړله
شور شو د باجو او ډمامه و غړېد له

چرته بجېده باجه وه غړېده چرته ډمان وو
چرته په اتڼ کښې د ځلمي همه دوستان وو

بل خوا ته څه پېغلې وې د ناوې په چاپېره
وخت یې د سنګار د ښکلې ناوې ده راګېره

وایې جینکۍ چې په لیمو ژړا کوینه
مونږه ښځه پوهیږو په زړه کوږې ماتوینه

بیا یې نو راواخستهٔ په لاسو کښې تمبلونه
پورته شو فضا کښې د سندرو آوازونه

ACKU

# د جينکو سندره

د ناوې مخ ته دې مسکې ګلونه
ترینه شرمیږي د سپرلي ګلونه

داښکلي زلفې له نظره مه شه
سترګې دیوې دې دنظره مه شه

شه دسهرې دې سپلنې ګلونه
ترینه شرمیږي د سپرلي ګلونه

ستا په سهره کښې دا وروکې کلۍ
لکه د زرونو دا پیغلو کې کلۍ
جوړ به شي اوس ترینه زلمي ګلونه
ترینه شرمیږي د سپرلي ګلونه

خور دې چې نیرڅ کړو وربل پښتنې
په شازلمو به شي اوربل پښتنې

هم دې بلېږې په تندې ګلونه
ترېنه شرمېږي دسپرلي ګلونه

څه بوږنيدلي ښونه سترګې دي
لکه د ترندې هوسه سترګې دي
ګوره چې نه کړې ليوني ګلونه
ترېنه شرمېږي دسپرلي ګلونه

له مسکو سترګو دې جارېږي جينه
بوره په کټ کټ سره خندېږي جينه
کړې يو ترېل سره سيالي ګلونه
ترېنه شرمېږي دسپرلي ګلونه

# ثلورم اړخ

# پوخ عمر

راغله اوس پخه ځواني غاښ ېُ زلمي توب شو
راغله پختګي دعقل، ورک ېې لېونتوب شو

اوس ېُ غلبه شوه دخرد په جذباتـو
ورو ورو ېې لمن راغونډېږه له واهياتو

اوس د زلمي توب همه خامي،شوې ورمعلومې
څهٔ دجذباتو وې داني اوڅهٔ ېُ لومې

څرنګه ېُ عقل دجذبولاندې اسير وُه
پروت دولولو ېُ ظابطې وته زنځير وُه

څهٔ وه ځواني څهٔ وه،سرترپايه جوړملسوٗ وهٔ
دا زمونږ زلمے سره له عقله هم مجنون وهٔ

ذره ئې ائینه وه خو جوهر ئې حیواني وه
بنه په دروند لباس کښې ئې ملکړې عریاني وه

څوک به په ځواني کښې اسې غوندې ساده وه
تل به یو نظر ته د ېې مخیو اما ده وه

عقل شو ازاد چې کم خروش د زلمي توب شو
هوش وکړه ځلا چې کم ئې جوش د ښونتوب شو

فکر ئې بې واکه ولولو ته غړوندې شو
سپوړۍ د وجدان هم د ښوانه کړندې شو

اوس چې زمانه ئې څو د عمر تېرېدله
هومره ئې په سر ذمه واري هم زیاتېدله

ګویا لکه بېغله چې وار راوړي ارتینه شي
څرنګه چې ونه مېوه ونیسي درنه شي

یا لکه هلال چې په ورو ورو سره قمر شي
بیا څه ورځې پس په مرحله د بدر ور شي

وخت د غفلت لاړو عمر تېر شولو له دېرشو
اوس چې عقل پوخ شو باقي لږ که وي هم دېرشو

نۀ شو هیڅ خبر چې څنګ د عمر رواني وه
تېر شو ماشومتوب، هلکانه شوه بیا ځواني وه

تېر چې وۀ غفلت کښې په تېر عمر پښېمان وه
بې مقصده بوئې غوندې پرېښا نه وۀ چې ځوان وه

څه وه ځواني څه وه خوبي خوب وه لاړو څه شو؟
څه عجیبه خوب وه ښکلي دے چې اوده نه شو

ګویا په ځواني کښې هم اوده وه هم بېدار وه
څوک د سکون يې کړو احساس خو بې قرار وه

اوس پرې د غمونو جوړ يرغل شو عيال دار شو
زوے که وه ځوان ددې نه اوس ښځيله پلار شو

راشي د بهرنه خپل بچي ورته راغونډ شي
غواړي ترې څيزونه ټول په ده باندې راپنډ شي

چا ته متاڼي ورکړي او چا ته بسکټونه
چا ته ورکوي د "چاکلېټو" پېکټونه

دغه شان يې پرله پسې عمر زياتېدلو
څو چې ورځ د ورځ زياتېدلو، کمېدلو

بدر د مستۍ يې د هلال په لور روان وه
هغه خوشحال عمر د ملال په لور روان وه

بار چې څومره درونډ وي هومره ډېره ستوماني وي
تل له جمعيته برابره پرېشاني وي

څومره چې مرور به د وختونو دے څپلو
هومره يې کړه وړه کښې تغيّر پېدا کېدلو

يو يې مشر زوے د شپږو کالو خالد خان وه
بل څلور کلن وه په نامه د مومن خان وه

بله يوه لور ئې د دوؤ کالو مېمونه وه

ګرانه مور او پلار ته هم د ورونو محبوبه وه

اوس ئې وهٔ دا کار چې شپه به تېره شوه سحر شو

دے به دخالد او د مومن سره بهر شو

وربه ئې بستې کړې ورسره به را روان شو

پلار به ئې بيا نورو هلکانو ته ګويان شو

دغه دواړه هم درسره ځاے کړئ په تهانګله کښې

پام کوئ چې څوک ئې زهير نهٔ کړئ مدرسه کښې

بيا به نو خپل کار دپاره تللو ته تيار شو

خپل د ذمے کار به ورته ياد شو چې اوزګار شو

بيا به ئې په غېږ کښې مېمونه واخسته بشکل کړه

هغه به د پلار ربې واکه مينې لکه ګل کړه

تللو به دفتر ته په خپل کار کښې به مشغول وهٔ

ډېر په ديانت سره ئې کار کړو چې مسئول وهٔ

کله به ئې لاس کښې وهٔ يو مثل کله بل وهٔ

کله کله کار به د اول نه يو په شل وهٔ

څوځل به ئې ځان ته چپراسي را اوبللو

مثل به ئې ورکړلو واپس به ئې لېږلو

بيا هم په دې وخت کښې به پيدا شو نور فکرونه

شول به ورته وړاندې د خپل کور ضرورتونه

پورته د کاغذ نه به په فکر کښې قلم شو
بیا به په سوچونو کښې د مېز د پاسه خم شو

کله چې خالد به ئې ناجوړه په کټ پرېوت
بس دا زمونږ ځوان به نو دغم په لومه کښېوت

جوړ به چې خالد شو په مومن به راغله تبه
وه به ئې نعره" اوبهٔ اوبهٔ "په وچه ژبه

کله لهٔ زوکامه مېمونه به پرېوتله
کله به زېږکي ، او کله کله ژړېدله

کله په ټوخو به وې توخلې ، کله شرے
کور کښې ماشومان چې وې رنځُونه خرے خرے

لاړ به شو ډاکټر به ئې د ځانه سره راوست
هم به ئې هغه د هر سامانه سره راوست

# غمونه

پهٔ ژوندانهٔ کښې خوښېږي رنګ په رنګ غمونه
سره دوان وي له هر قسمه څنګ په څنګ غمونه

هم دا غمونه په ژوندون کښې خوشحالي راولي
لکه چې صلح راپېدا کاندي، د جنګ غمونه

ورته معراج د خوشحالۍ وي کهٔ نظر وکړې
ځان چې د شمعې نه قربان کړي د پتنګ غمونه

لکه صيقل چې کړي پېدا په ائينه کښې ځلا
څنګه وهي داسې ښهٔ صفا د زړونو رنګ غمونه

زړونه غوټۍ وي په اخر کښې شي خندان ګلونه
چې يو طوفان په کښې پېدا کړي شوخ وشنګ ګلونه
غم د دنيا که هر څو ګران وي خو اسان يې ګڼه
ګران شي چې مل ورسره شي د ناموننګ غمونه

* * *

# د
# کورنمونه

مخکښې سرکلې وُه دخالد بیا ئې سنت وُه
خرڅ ئې په داسې دستوره مال و دولت وُه

څو که دے پخپله مخالف وُه لهٔ رواجه
بیا هم مجبوري وه دکورکلي لهٔ مزاجه

بیا مطابق دخپلې ښځې ته مجبور وُه
کار به هم هغه کیدهٔ چې هغې ته منظور وُه

وې به ئې مثل دے، که له نرخه اوځې اوځه
پام کړه د"اولس" خبره مهٔ غورځوه کوزه

دا مال و دولت څو واړه میل دے دلاسونو
اووینځه صفا کړه، نور به راشي په زرګونو

تیل د سوزیدو دپاره وي نه چې شي جمع
هله رڼا راشي چې پرې بله کاندي شمع

بیا ئې دمومن په سرکلي اوشو خرڅونه
کور کښې مجلسونه، هم بهر کښې محفلونه

بیا پهٔ سنتی کښې یو هجوم ئې په کالهٔ ده
هر خواته دنگ دونگ وهٔ، تابه وې جوړې وادهٔ وهٔ

پس دسنتی نه مېمونه شوه رانازله
خرخ ئې شوه په دې چې اثاثه ئې وه فاضله

# فرد او جامعه

فرد خو وي لاچاره داولس په دايره کښې
کېږ وي سر تر پايه تمدن دجامعه کښې

تک دجامعې نه مخالف ورته مشکل وي
خود په دې مجبور وي چې دقام سره شامل وي

گرانه ده چې "روغ" د"لېونو" سره ژوندون کا
يا به ځان پخپله هم د دوئ سره مجنون کا

"زوړ" که د وختونو" وي د وخت سره به تلهٔ کا
پلار که د وختونو وي، وختونه راستانهٔ کا

"زوړ که وي د وخت" دجامعې سره به دروي
کني خفت به په دې لاره کښې اموي

ځکه چې نقصان په اختلاف کښې سراسر وي
سيند نو دکشتۍ دپاره نهٔ چې، پرې خبر وي
واک دکشتۍ چرته چې دسيند مخالفت کا
ځکه نو افراد هم دخپل کل متابعت کا

---

ورځې دواړه اولوے اختر چې رانږدې شي
بيا ورته راپېښې ضرورتونه يو په درې شي
غواړي ماشومان ترې رنګا رنګه لباسونه
هم ترېنه دلوبو غوړه او غواړي څيزونه
ورکړي يو فهرست ورسره مور دماشومانو
واړه ضروريات د جينکو او هلکانو
هم پکښې شامل دماشومانو وي کوټونه
چاته وي خپلې پکښې او چاته واسکټونه
سم په دے فهرست کښې ډېر څيزونه وي دلوبو
رېل ګاډي، موټرې داسې نور وي د ټمټوبو
اوشي پرې تاکيد چې دا همه واړه چابکه
ګوره هېره نهٔ کړې ميمونې لره لينځکه
لاړ شي په بازار کښې يو دکان او بل دکان ته
ګرځي خبر نهٔ وي ستومانه ته نهٔ خپل ځان ته

څهٔ شیان دیو نه څه له بل دوکانـه واخلي
څه ارزان ارزان واخلي او څهٔ په ګرانه واخلي

جوړ چې د ځینو نو مخامخ ورته انبار شي
ګوري یو خوا بل خوا د مزدور په انتظار شي

څه ورکړي مزدور ته څه ځېله کاندي پورته
بیانو په تلوار سره روان شي وخپل کورته

ور چې شي خپل کورته ماشومان شي پرې راجمع
هر یو د خپل ځینې د پاره وي ورته په طمع

مور د ماشومانو یې چې ناسته وي مشین ته
ګوري د ورو د بابا بوټ غوندې جبین ته

دے د ستومانئ نه ورته بوټ غوندې وړبوز کا
مور د ورو راشي د اپښودو ته ترینه کوز کا

تل داسې مصروف وي داسې عمر یې تېرېږي
دے چې څو زړېږي ماشومان یې راځوانېږي

ستړي یې مومن خان شي هم یې پېغله مېمونه شي
جوړه له خالد خانه شي زلمے شونډو ئے شنه شي

اوس ورسره غم د لور، زامنو د وادهٔ وي
فکر ورسره چې یې راتلونکي عمر ښهٔ وي

عمر ته خو ګوره څه فریب او څه ټګي کا
څه د سر وېښتهٔ چې یې بریتونه هم برګي کا

ACKU

ورو ورو ئې په کوړو کښې هم خوږ راپیدا کیږي
نن چې کمزوري وه ، په سبا به سیوا کیږي

ګونځې راښکاره ئې په تندي او په رخسار شي
پنډې ئې په زړهٔ باندې د غم شخړې غبار شي

بیا نو زړهٔ ته دا د خپله ورکړي چې "لا ځوان یم"
څهٔ که لهٔ ځلوښتو یم تېر شوے پهلوان یم

لا د نوکرۍ هم زما پاتې دي څو کاله
شکر دے قوي یم لا خو نهٔ یم بې مجاله

بس خو یو وادهٔ د خالد خان دے راترغاړه
سم به شي په فضل د الله کارونه واړه

هم د میمونې هم په ښهٔ کور کښې وادهٔ بویه
اوس د کالهٔ نهٔ ده چې ناڅاپه شوه رالویه

بیا وي په دې خوښ چې لوئے زامن لوڼه زما شي
دوئ په زړبودي کښې به پښتې زما د ملا شي

پروت به په آرام یم ، نهٔ به پورته شم له کټه
ځکه چې زامن به راته د واړه کوي ګټه

بیا نو د خالد د وادهٔ جوړه خوشحالي شوه
جوړه عزیزانو ترېورانو کښې سیالي شوه

اوس د خوشحالۍ نه ئې دنیا وه سندرایزه
هم ئې د خپل کور هغه فضا وه سندرایزه

* * *

ACKU

# ارمانونه

راغلي څهٔ په جوش کښې مې بهار د ارمانونو دے
خړنگه تازه ښکلے گلزار د ارمانونو دے

دي دژوند اوبهٔ که خوشحالي د اولادونو دهٔ
سوړ په دې اوبو زما انگار دارمانونو دے

دواړه مې حاضر دي ورته سر دے اوکهٔ مال زما
څه چې غواړي وادې خلي اختيار دارمانو دے

هر يو ته چې گورمه ځان ځان ته خوشحالي غواړي
بس د زړهٔ په کور کښې مې ناتار دارمانونو دے

ښکلي ځلا راغله ، اېښې ته د خاطر زما
ننّ چې لوې شوے ترې رنگار دارمانونو دے

نه چې وي ارمان په زړهٔ کښې، زړهٔ په زړهٔ حساب نهٔ دے
ژوند کښې خوابه راولي ، دا کار دارمانونو دے

## پنځم اړخ

# زړبودي

دغه تغیر چې مسلسل دے په اشیاء کښې
هیڅ سکون ئې نشته لاندې باندې په دنیا کښې

من چې یو شے کورې بیا سبا ته په بل رنګ وي
ځکه چې اضداد و کښې تل یو تر بله جنګ وي

ژوند دے چې دیو حالت نه بل حالت ته درو يي
دے ئې مرحلې له یوئې تېر شي بله موي

ژوند خو تل تر تل دے نهٔ فنا کا نهٔ زوال کا
ژوند دے چې افعال دانفصال او اتصال کا

دا چې داشیاؤ تغیر نهٔ محسوسیږي
ځکه چې مدام په تسلسل سره چلیږي

ورو ورو حیوانات او نباتات چې را لوئیږي
څیرکهٔ ورته ګوک شي په دفتار ئې نهٔ پوهیږي

موږ چې یو انسان په ماشو متوب کښې وي کتلی
بیا موشل ښځه ویشت کاله هیڅ نهٔ وي لیدلی

مجې نه که راشي هم بېغې به نا آشنا وي
دے به هم زموږ له پېژندنې بې پروا وي

موږ يې تغير په دې دوران لیدلے نهٔ وي
بیا مو تر دې وخته دا انسان لیدلے نهٔ وي

موږ که کله کله دے لیدے په دې دوران کښې
هیڅرې مشکل به يې پېښ نهٔ وهٔ په عرفان کښې

ځیرشه د ما دې دې تغير او حرکت ته
دا د کثافت نه ده روانه لطافت ته

دا توانائي راغله د جبر په قانون کښې
ځان ازادوي چې مسلسل ښکاري په یون کښې

هیڅ وجود په ځان کښې تغير ځغملے نهٔ شي
بس د خپل فطرت نه هیڅ خلاف منلے نهٔ شي

څو يې چې د جبر زولنو کښې اسیر نهٔ کا
څو د ضابطې يې چې ګرېوان کښې زنځیر نهٔ کا

ځکه نو زموږ ه مېړنے په زړه د و دے
لاړه نیم ذالې يې هم ، فنا وته په تلو دے

اوس د عناصرو اعتدال يې پاتې نهٔ دے
اوس د نیم ذالی هم هغه حال يې پاتې نهٔ دے

ګونځې ئې سپوا شوې په تندي او په رخسار کښې
کمه دلچسپي لري په کار او په روزګار کښې
تېر شوله پنځوسو، که هر څوئې احتیاط کړو
بیائې هم قواؤ ورځ تر ورځې انحطاط کړو
ډیره ئې شوه سپینه په آخرو مرحلو شو
اوس نو په اولس کښې د جرګو او مرکو شو
اوس د تجربو نه ئې زلمو استفاده کړه
هره کشاله کښې ئې دده سره جرګه کړه

---

# روانې ده

---

څو چې کمیږي، عمر ډیریږي
څو چې ډیریږي، عمر کمیږي
دا تغیر دے چې مسلسل دے
ګني یو "آن" دے نهٔ محسوسیږي
نهٔ خالي کیږي د ژوندون لارې
کاروان تېریږي، کاروان چلیږي

په زلمي توب کښې ګويا اوده وي
زيات ئې هوس شي چې څو زړېږي
چې ئې عفت وي، ذهن ئې روڼ وي
د حافظې ئې، سپوږمۍ ځلېږي
ډک ئې شعور وي له معلوماتو
د ژوند په لوړ او ژوړ پوهېږي
چې بې عفت وي لوے مصيبت وي
چې څو ژوندے وي، هومره کړېږي

---

اوس زمونږ بناغلي د شپېتو نه هم ورتېر شو
کم ئې شو نظر د ناتوانۍ په جال کښې ګېر شو
سترګې ئې څلور شوې يعنې راغله عينکو ته
اوس ئې ګويا تک په ډانګورو کړې نظرونه
ډېر کوي احساس د مرګي، دے چې روښن فکره
اوس نو يو ساعت نهٔ وي غافل د حق له ذکره
داسې بوډاګان شته چې د نوي نه هم تېر وي
بيا سره د دې هم بې غم اوسي مرګ ئې هېر وي
بيا چې وي بې علمه، نهٔ چپ کېږي له خبرو
شي په اخر عمر، بې شعوره، بې اکرو

کوم چې وي دیندار ، اراده يې وي محکمه
هیڅ د زړبودي سره يې پوهه نهٔ شي کمه

ورو ورو طاقتونه جسماني په کمېدو دي
کم شو هغه تول چې دیدو او اورېدو وي

هم يې پیدا شوې په لاسونو کښې رغشه ده
هم يې په آواز کښې پیدا شوې زلزله ده

ورو په ورو د خولې نه يې غاښونه روانېږي
څهٔ په کومه خولې چې خوري نو ډېر يې خوږېږي

درد په زنګنونو کښې اوکله يې پېچش وي
ځکه چې په دې عمر کښې پاتې له ورزش وي

بیا يې هم خواهش دي چې لس شل کاله ژوندے وي
هم پکښې طاقت راشي ، د لارې ګرندے وي

بیا نو شي مایوس چې حقیقت ته فکر وکړي
خپلې زړبودي او نقاهت ته فکر وکړي

بیا هم څه دم خم لري جرګو کښې شاملېږي
هم د کور او کلي مرکو کښې شاملېږي

اوس چې ترې د عمر تپوس وکړي ډېر يې ښئ
وي کهٔ د اویاؤ د نوي نه يې ستر ښئ

کم چې له شپېتو وي، وايي یم به د څلوېښتو
یا د اتهٔ دېرشو، یا به سم یم د څلوېښتو

یو صاحب د علم به ددې نه مستثنیٰ وي
عام چې بوډا ګان وي ، هم په دې شانته ګویا وي

بیا په ټېره چرې که پرسان اوشي له بنځو
وائې به پنځلس ، څو که ټېره وي له شلو

هر څوکه خپل زړهٔ ته د اهکېږے د کړي پخپله
ویړه د مرګي یُې هم زیاتېږي یو په شله

داسې جاري پاتې چې د عمر روانې شي
ټر شي د نوي نه ترینه جوړ شیخ فاني شي

تت یُې بیا دسترګو د ېخوا نه هم کاتهٔ شي
بل افت یُې داوي چې غوږونه یُې کاڼه شي

---

# شیخ فاني

---

اوس نو په کټ پروت وي چرته نهٔ یُې راتلهٔ وي
پلې یُې وي بې کاره نهٔ ئېدهٔ نهٔ اوریدهٔ وي
اوس یُې خالد خان هم د زامنو نمسو پلا روي
بیا هم د بوډا بابا خدمت وته تیار وي

څنګه چې بابا ورته ورکړې تربیت وي
ډېرې اوچت کړې په روزنه کښې زحمت وي

هم ئې په نعمت باندې دعلم وي موړ کړې
هم ئې په روزنه ښهٔ انسان وي ترې جوړ کړې

څکه دبابا ورسره هر ساعت وسواس وي
تل ئې دتکلیف او ضرورت ورته احساس وي

راچې شي تپوس ته، ورلېږي پوره لښکر وي
ښځه ورلېږي، نمسي زامن وي دے ئې سروي

راشي کېږ چاپېر شي ترېنه ټول ورته ولاړ وي
حال ته دبابا چې نظر وکړي وران ویجاړ وي

بیا ورته بابا هم په خپل کټ کښې شي راپورته
کړي په استفهام سره نظر دغو لور ته

هر طرف ولاړ ورته نمسی او هم نمسي وي
څه پکښې وارهٔ وارهٔ موجود ئې کړوسي وي

یو ته بل ته وائي چې تهٔ څوک ئې او تهٔ څوک ئې
اووایه بچیه چې راغلې، له کوم توک ئې

یو وائي محمود یمه، بل وائي علي خان یم
یو وائي نجمه یم، بله وائي چې ریحان یم

ادري ئې آواز خو په مطلب ئې نهٔ پوهېږي
بیا اوګوري یو بل ته، ورو ورو ورته موسېږي

ACKU

ځني ماشومان ئې بسترې ته اوچت ورشي
کښېني په غېږ کښې په تنکو خبرو سرشي
لاس ورته په سر اووهي ځان ته ئې راتېر کړي
بيا په ډېره مينه ئې په غېږه کښې راکېر کړي
يو ساعت کړي لوبې ورسره بيا ترې روان شي
ځانه سره پاتې بيا يواځې باباجان شي

---

# يونمسی راځي . او د بابا پښه نوزوي .

---

بابا ـ کوم يو ئې چيه څهٔ دپاره ئې راغلے
ماخو د څهٔ کار دپاره نهٔ وې رابللے

نمسے :ـ ( په اوچت آواز ) پلار مې راته وې په غرغره راغلے نمر دے

بابا :ـ (هن ؟)

نمسے :ـ پلار مې راته وې په غرغره راغلے نمر دے
اووايه بابا ته د نمونځ وخت شو مازيگر دے

بابا :ـ ( مسکے شي ) بنه ؟ نو کوم يو کار ته مو را وستے کاريگر دے ؟

نمسے :ـ نه ، کاريگر نهٔ دے ماخو وې چې مازيگر دے .

بابا - بنه بنه تماشې ته مداري که بازیګر دے

نسیے : (تنګ شي) نه نه ماخو وې چې مازیګر دے مازیګر دے

بابا : وې به مداري که بازیګر که کاریګر دے

(نسیے ورنزدې شي - دوېم نسیے ورله چاۍ او پېښترې

راوړې او په مېز ئې کېږدي)

دا نسیے د چایو نه پیاله کړې ورته دکسه

ورځې کړې په لاس کېنې واخلې اوې نیسه کلکه

کوټ له چایو اخلې ځنې کوټ ترېنه توئېږي

ځکه چې رغښته ئې ده لاسونه وې رپېږي

بیا هغه وروميے نسیے ئې لاس په اوږه کېږدي

پام شي د بابا د هغه لور ته چاۍ پرېږدي

پورته ورته هغه اشاره کړې په لاسونو

یوسې کېنې کوټې پوشکوته د غوږونو

بیا دواړه لاسونه اوسترې د توم دپاسه

بوے په اشاره بابا شي بې وسواسه

بابا (مسکے شي) ماخو داکهل چې بازیګر که کاریګر دے

اوس پرې ایله بوے شومه چې وخت د مازیګر دے

وخت دے د نمانځه. پچیه سنځه مې ورته پام دے

عمر دې شه ډېر، اول طعام دے بیا کلام دے



ACKU

# پیري

نهٔ لیدے نهٔ اورېدے شي په پیرۍ کښې
سر تر پایه اسوېلے شي په پیرۍ کښې

نهٔ غوږ ونه پکښې ځېل وي نهٔ ئې سترګې
هر اندام ئې جوړ پردے شي په پیرۍ کښې

د رحمٰن بابا وینا د کاڼي کرښه
کهٔ رستم وي زړهٔ پرې سوے شي په پیرۍ کښې

په ځوانۍ کښې به چې شغ وهٔ لکه غشے
دلیندئ غوندئ لیدے شي په پیرۍ کښې

اوس زلمیانو ته ښکارېږي "بې اکرو"
کهٔ سړے وي، ناسړے شي په پیرۍ کښې

اوس امسا ئې هم د بل په لاس کښې ښکاري
ځېله تلے او نهٔ راتلے شي په پیرۍ کښې

د فطرت ګوره ستم چې څو زړېږي
خو هوس ئې لا زلمے شي په پیرۍ کښې

* * *

# شپږم اړخ

## مرګ

ژوند لکه د نمر چې پلوشه يې ده راغلې
هغه په صورت کښې د يو څېز څرګنده شوې

څکه نوم څېز چې مونږ ه وينو سنهٔ څرګند دے
دا په حقيقت کښې نور څهٔ نهٔ دي عين ژوند دے

اوس د انساني ذهن ودې ته رسائي ده
ژوند چې ورته وائي بس هغه "توانائي" ده

دا توانائي څو نور څهٔ نهٔ دي يو صفت دے
بس په اراده د څپل موصوف يې حرکت دے

نشته دے امکان د حرکت له هيڅ صفته
بې له څپل موصوف وي معرّا لهٔ تعليته

نوم يې شو ماده چې په اول کښې وه لطيفه
بسته د تکوين په سلسله کښې شوه کثيفه



ACKU

جوړ تړي ښکته پورته يو خوا بل خوا تو جهان شو

بيا په هر يو ځين کښې اصل ژوند وه چې عيان شو

داتوانائي باعث د ژوند ده تر ابده

دا دموړ په ګېډه کښې نطفې ته ورکړي ده

بيا نو چې جنين شي مکمل په خپل حالت کښې

وځينې دمورځينې د طفل په صورت کښې

بيا په تربيت سره ماشوم دغه انسان شي

بيا نو د ملک نه ورته اوګوره چې ځوان شي

# رباعي

آخر فنا ده ، دنيا فاني ده

دا خو يو سرائے دے تړي رواني ده

دا زړ بودي ده چې راشي نهٔ ځي

چې ځي بيا نهٔ راځي هغه ځواني ده

هو کنه ! ځواني خو چرې بېرته نهٔ راګرځي

رسي زړ بوده وته ، بيا چرته نهٔ راګرځي

* * *

# رباعي

طفلي که وه همه بې خبري ، تېره شوه
بې غمه هلک توب وه او ځواني تېره شوه
بیا ځائے د نیم زالۍ هم زړبو د ده اونیوو
اوس وار د فنا راغلو زړبو دي تېره شوه

اوس زمونږ بنا غلے که ئې کوږې په سلګو دے
پروت په بستره دے په آخرو مرحلو دے
نه کړي انتظار وختونه چې په خپله لاره
چرته توقف نه کوي دوي د چا د پاره
ځان سره یوسي که طفلي که هلک توب دے
محو کړي آخر هم د ځوانۍ که ښکلے خوب دے
بیا ئې نه مستي وي نه ئې ځواني ولولې وي
نو چې مخکښې یون کوي غمونه ورپسې وي

نشته خوشحالي هسې په نوم خوخوشحالي ده

غم د انسان اصل دے خوښي ئې اضافي ده

غم چې کله کم شي او پیدا ترې څهٔ راحت شي

بس دغه حالت دے چې نامزد په مسرت شي

غم دے د انسان ، انسانیت نه رسوونکے

دے د مادیت نه روحیت نه رسوونکے

غم د زړهٔ په سیپ کښې مرغلره بې بها ده

غم دے چې پیدا دخوشحالۍ ترېنه رنها ده

دا د فطرتي صلاحیت لره سنداف دے

بیا کهوټه کهره معلوملول کوي صراف دے

غم دے چې راوړاندې ورته ویره دفنا کا

غم دے چې فنا ئې په کوشش سره بقا کا

څوکهٔ مرغلره له سیپۍ جدا کوي غم

تاج نه بادشاه ئې هم بې شکه رسوي غم

چار غمه چې زهٔ دې دخپل ځان سره اشنا کړم

زهٔ دې په معنیٰ دکل جهان سره اشنا کړم

ستا په ائینه کښې حقیقت بې دځان اومونه

ستا په حیرانۍ دبې نشان مې نشان اومونه

ستا زما وعشق وته کړمي دځوانۍ ورکړه

ستا په ډاډ مې ګرانه مرحله دمینې سر کړه

تا چې مکمله په اخر کومه ځواني کړه
بس نو خوشحالي هم دمغې دې لا فاني کړه

پلار دخوشحالۍ اومسرت اوابتهاج ئې
سر دسړي توب درباندې وياړي تهٔ ئې تاج ئې

بس نو دغه غم دې چې احساس دسړي وينې کا
هم د مستقبل لره وسواس دسړي وينې کا

راشي نيم زالي چې يکښې غم.دخاندان وي
ګل غوندې هرڅوک په خندا ښکاري پريشان وي

غم د جانان لاړشي ترېنه غم ئې دجهان شي
هم په چاپېرچل کښې ئې پېدا غمٔ دښمنان شي

پوله پسې غم ئې ذړبودي وته نزدې کا
ورو ورو ترېنه پاتې مرګې اوهم جرګې کا

بيا نو په صحرا دذړبودي کښې وردا خل شي
ګويا هلال هله تندرنيسي چې کامل شي

# ناجوړتیا

راشئ کۀ ئې ګورئ په کټ پروت زمونږ هیر دے
اوس د دې دنیا نه په ارمان د تېرېدو دے

ډېر ئې د ښخوا نه لا په زړۀ دي ارمانونه
لاخو زلمي هم نۀ شو، واړۀ دي ارمانونه

ډېر چې خواهشونه وي، ډېرېږي ارمانونه
نور ورپسې راشي چې تېرېږي ارمانونه

نۀ دي پوره شوي په ژوندون، نۀ به پوره شي
تۀ ئې چې کوشش د کمېدو کړې، یو په دوه شي

بویه یو ارمان دې او اړۀ ئې د اکثرت کړۀ
تل به سلامت ئې خو پېدا ترېنه وحدت کړۀ

ویره د مرګ ډېره وي چې ډېر وي ارمانونه
ډېر به دې وسواس وي، چې ډېر ډېر وي سامانونه

نشته شک په دې کښې چې ارمان د زړۀ ژوندون دے
جوړ چې شي کثرت ترېنه هم دا ورله جنون دے

خیال چې د چاپوشي، لیونئ خلقو ته ښکاري

ښکاري هوښیاران ورته، هر څوک چې وي "د هر کاري"

خیال چې د چاپوشي، حقیقت کښې فرزانه شي

څوک چې وي "د هر خیالي" وهغو ته دیوانه شي

اصل لیونئ هغه چې ګړ وي په کثرت کښې

اصل فرزانه هغه، چې خوښ وي په وحدت کښې

نهٔ ښائي انسان چې دارمان سرمایه دار شي

دا دسري توب او دا اخلاق په حقله خوار شي

اوسه د کثرت سره دیو اصول دلاندې

نوښ شي د وحدت سره دیو اصول دلاندې

د هر عمل کوه ولې محور دې د خیال یو کړه

ځانګه یو خوا بل خوا خو استوګنه په ټال یو کړه

اوس دا لوڅې پوڅې چې کوې په ژوندون کښې

دے ژوند ښاغلے د دنیا نه په رفتن کښې

د هر کاروانه شول په نن سبا ورځنې پاتې

هغه ترینه پاتې شو، هم دا ورځنې پاتې

پریږې ته لاس اچوي دسوز اولهٔ ارمانه

حیف چې دغه ښکلے دنیا پاتې شوه زمانه

اوس شوه مخامخ ورته هینداره دتېر عمر

ویښ یې شول همه واره یادونه د هر عمر

پوهه دې پرې تول چې ئې سفر د آخرت دے
نورې پاتې نهٔ دي، دا د عمر نهايت دے

بيا ئې هم جاري دې چې ئې کړې علاجونه
څو چې پاتې ساه وي د ژوند کړې اميدونه

دا دے رادننه شو ډاکټر معائنې ته
ورغلو نژدې شو د سپين ږيري بسترې ته

او ئے کړه ډاکټر معائنه ترېنه روان شو
زوے د بابا هم ورپسې راغلو په پرسان شو

سر ورته ډاکټر په ډېر افسوس اوخوزولو
هيڅ اميد دې نشته د مريض د رغيدلو

ختم د سپين ږيري، د مرض مدافعت دے
اوس په لوئے سفر روانيدل ئې حقيقت دے

بس خو دلجوئي ئې بنهٔ کوئې چې خفه نهٔ شي
مينه ئې له تاسو په آخر کښې سړه نهٔ شي

پاتې د بناغلي د ژوندون يوه شپه ده
گويا تاثر د چاپېرچل يوه نوحه ده

---

# نوحه

څوک چې دلته راغلو له دې ځایه بهر اوت
څنګه د ماښام نه پس چې راغلو سحر اوت

دلته هر یو څیز د ابتدا نه په سفر دے
نه چې دا مقیم وه، لاړو اوس په سفر اوت

بېرته يې خبر چرې رانهٔ غلو کرانه دا ده
ښکاري هر انسان له دې نړۍ مرور اوت

پاتې دول دول نعمتونه د دنیا شول
دلته هر وګړے نهٔ راغلو، نهٔ اوت

دلته تراخره هم احساس د نیمګړتیا دے
راغلو په ژړا او په ژړا ترې بشر اوت

راز د ژوندانهٔ ډېرو پوهانو معلوم نهٔ کړو
ډېرکه په تلاښ کښې يې د زړونو نظر اوت

* * *

ACKU

★

څو مره چې ښته يې د مرض په زياتېد و وه
کړۀ د بابا د ژوندانۀ په بارېد و وه

پنځه د اجل ورته ورو ورو نژدې کېدله
څو ځله په ورځ کښې بې هوشي به پرې راتلله

کوم شے چې دنيا کښې يقيني دے هغه مرګ دے
کوم چې په راتلو کښې ضروري دے هغه مرګ دے

ورک چې د مادې نه تغير ترکومه نۀ شي
لرې له انسانه د اجل به لومه نۀ شي

ورک چې تغير شي نو بيا ورک به حرکت شي
بيا خو ناپېدا به ژوندون هم په حقيقت شي

ژوند دے او کۀ مرګ د حرکت نه عبارت دے
نۀ شي بدلېدے د حقيقت نه عبارت دے

لا د ابتدا نه هم انسان په دې تکل دے
ګرځي لټوي يې څه علاج که د اجل دے

نۀ ځغمي فنا، ځکه له مرګه کوي وېره
هيڅ علاج يې نشته، وې کوشش يې بې اثره

بيا هم چې مدام د هر مرض مدافعت کړي
ښکاري د باطن په اشاره دا حرکت کړي

دا ده پلوشه د انساني "انا" له نوره
چغه د بقا ده د انسان له لاشعوره

ACKU

پوهه دے انسان په شعوری طور چې باقي يم
پرله پسې يون پيداکړو دهم چې فاني يم
ويره د فنا خو ديو شک نه پيدا کيږي
بس هغه د پوهې د تيندک نه پيدا کيږي
او که شي يقين چې پس له مرګه به هم يمه
دا خپله هستي خپله "انا" به پېژنمه
بيا ممکنه نهٔ ده چې پيدا شي د مرګ ويره
او وايه په کومه لاربه راشي د مرګ ديره
کله چې رڼا دديې يقين شي په زړهٔ پښه ده
ورشي د مرګي ته مخامخ تنده په تنده
وائي مرتضیٰ چې محافظ د خپل اجل دے
ماته راز د ژوند بنهٔ معلوم شوے مکمل دے
واخله دا ثبوت ابن ملجم چې پرې حمله کړه
څه په جوش او مينه مرتضیٰ هسې نعره کړه
وې چې د کعبې په رب قسم دے چې کامياب شوم
سيند کښې دا نوارو سرتر پايه زهٔ غرقاب شوم
چارشم لهٔ يقينه چې د ژوند رازونه حل کا
دا د مرګ په خونه کښې چراغ د سکون بل کا

# عشق

دے هم دا یقین چې څهٔ شدت اوکاندي عشق شي
ډېر د زړهٔ په کور کښې چې حدّ اوکاندي عشق شي

عشق دے هغه اور چې څهٔ په زړهٔ کښې وي جلیا شي
پاتې بس په کښې یوه نقشه د خپل اشنا شي

عشق ؤ چې حسین غونډې نازبین ئې مړه نے کړو
بوندو څونې سترګو داجل ته ئې مسکے کړو

ټرشوله خپل ځانه لهٔ اولاده له انصاره
پاتې د ایثار ورته وه لهٔ کرّاره

AGKU

# اخري وخت

ډېر عمر کۀ وپایېدو اوس دادے روان دے
مړے په ناکام دے ځۀ شي ګور کۀ ورته ګران دے

دادے چې دوستان ئې داروان دي عیادت کا
یو کرت ئې اوکاندي دیدن بیا ئې رخصت کا

بیا نو څو دوستانو ورته اوکړۀ اوازونه
هم ئې په سپینو لاسو ورته اووهل لاسونه

اوبه کړو هېبت ورته بابا به رابېدار شو
سترګې به ئې څُب وهلې بیا به په قرار شو

بیا به نو دعا لره لاسونه ټول اوچت شول
پس له یو دیدنه د بابا نه به رخصت شول

وخت چې اخري شي هوش ځرد شي رابرسېره
کړي لکه ډیوه چې په سحر کښې لمبه ډېره

مرګ چې مخامخ شي د حواسو مشال بل شي
ټول مدافعت لره راغونډ په یو محل شي

اوشي افاقه هغه ساعت څو ځنګاني وي

پوه سنګې ددې روې سحرګاهي وي

غږ دکړو بابا چې بونیکوال ورته حاضر شو

حال چې د بابا په زړه کښې پټ وه راظاهر شو

هم ئې په لاسونو اشاره ورته کوله

هم ئې په خبرو ژبه صافه چلېدله

حکم د خدائے چې څوک له دې سرایه رحلت کا

بویه هغه کس چې په دې وخت کښې وصیت کا

بویه مکمل ئې په دې وخت کښې وصیت وي

دې سره چې تل ئې خاندان کښې عافیت وي

ختم اختلاف چې د زامنو د نمسو شي

حال درته څرګند چې ټول د خپلو د پردو شي

لاړلو نیکوال چې وصیت ئې مکمل کړه

درک د اختلاف ئې له دې کوره هم خلل کړه



ACKU

# وفات

شپېبه بس زموږ ښاغلې بې قرار شو
هغه اضطراب ئې اوس بدل په اضطرار شو

سم له ماښېګره علامه د ژوندن شوه
جوړه هنګامه ئې د تجهيز او د کفن شوه

جوړې منډې تړې شوې خبرچې ئې خپلوان شي
بويه اخري ديدن ته واړه راروان شي

ښائي چې قاري ورته حاضر دغه ساعت کا
بويه چې يٰسين ورته په ښه شان تلاوت کا

لږ ساعت به تېر وُه چې قاري راغے دننه
خلقو په کتو ئې اوکړله ستاينه

بيا نو قاري راغے سم ئې کېنېنا ستلو سرته
اوکړه بسم الله ئې خپل مصحف ئې کړلو برته

بيا په خوږ آواز ئې نو شروع ورته يٰسين کړ
خپورې په فضا کښې نور د صبر او د يقين کړ

پوهه وو همه چې نه بابا څه اوريدے شي
نه ئې څلو سترګو د قادر وجود ليدے شي

بيا هم د کلام نه چې د خدائے ډکه فضا شي
څه خو اطمينان به د بابا زړه کښې پيدا شي

ځکه چې عبث خو هيڅ عمل د انسان نه وي
بې وي موثر که په ظاهر کښې عيان نه وي

ډکه تل فضا د هر مقام وي له خيالاتو
هم له هر عمل او مختلفو وارداتو

تل ئې پرتوونه په اذهانو برابر وي
تل په ائينو د انسانانو موثر وي

زيات چې په نړۍ کښې له کوم قسمه نظريات شي
پريوځي په اذهانو د انسان کښې خيالات شي

بيا که مخالف وي هم، په دې سيند کښې بهيږي
سر وي په غلطه، خو مجبور وي بنه پوهيږي

نن چې دهريت وته رجحان د زمانې دے
باب ځکه بند شوے د مذهب د افسانې دے

ډکه په خيالاتو د الحاد، همه فضا ده
لاره د خالق د پرستش ترېنه خطا ده

نن که څوک خاوند هم د يقين وي څو شک من شي
پاتې که سرغے هم وي، الحاد ورته خوندلن شي



ACKU

اوس نو دواړه سترګې د بابا وې غړېدلې
ورک ترېنه ځمبار وه، دواړه بڼې راوتلې

پښې ئې يخې يخې ، په سينه ئې نفس اخست
لاس د اجل ګويا چې مارغه له قفس اخست

اوس پرانستې سترګې دکتوې وې په تن کښې
حق چې د ديدن ئې شي پوره په زنکدن کښې

جوړه ترې سلګۍ شوه چې ئې ژوند راغلو مرۍ ته
پرې نه ښودو يې د اجل بلې سلګۍ ته

پاتې شو قفس ترېنه مارغه ورنه په تلو شو
لاړو خپل مرکز ته جوړې برق وه په ختو شو

دلته ئې په خونه کښې ژړا او اناګولا شوه
هلته د غرېو ژنو اسويلو ځنې فضا شوه

دا هغه ژوندون دے چې انسان پرې هوسېږي
ژاړي پرې په تلو کښې، په راتلو ئې خوشحالېږي

# هیڅ نهٔ پاتې کېږي

آئینه د سکندر او جام د جم هم پاتې کېږي
دا زمونږ بناغلي څه چې، کل عالم نهٔ پاتې کېږي

دا اجل خزان ته پاتې، ستا پروازله دې چمنه
پلوشې د نمر چې راشي نو شبنم نهٔ پاتې کېږي

د سکون له وهمه ذهن، لږ صفا کړه چې خبر شې
دې سفر کښې به یو ځائے هم، هیڅ آدم نهٔ پاتې کېږي

سمبیدے نهٔ شي هیڅرې د هستۍ د بېلې زلفې
درته چا وې چې شانه شي، بیا ئې خم نهٔ پاتې کېږي

بس یوازې نېک عمل دے چې بقا ئې مسلم ده
بې د دې نه حقیقت دے، زیات و کم نهٔ پاتې کېږي

دے هجوم د ارمانونو پکښې ورک د فنا غم دے
چې له دې هجومه او چې، بیا څهٔ غم نهٔ پاتې کېږي

په ژوند او مره رحمٰن وائې چې د مرګ له غمه خلاص شي
بیا چې مړ شي هغه غم دې په هیڅ دم نهٔ پاتې کېږي



ACKU

## اووم ارخ

# برزخ

راسته چې اوس وچېړو دژوند اوومه برخه
دا دژوند په یون کښې عبارت ده لهٔ برزخه
څهٔ دے برزخ؟ واوره، دے دژوند لویوهٔ قسمه
روح چې دانسان اوځي بهر له فاني جسمه
روح څهٔ دے؟ "انا" ده او "انا" عین ژوندون دے
بس له یو میعاده ئې دجسم نه بیلتون دے
مهٔ ګڼه داهسې چې ژوند لاړلو فنا شو
فکر کهٔ ښه وکړې داول نه لا سهوا شو
ژوند دے هغه کل چې ازلي او ابدي دے
نهٔ چرې فنا موي اونهٔ چرې مادي دے
ژوند چې له یو وجهې ورته اوکوري صفت دے
ژوند دبل یو ارخ نه له ذاته عبارت دے

ACKU

ژوند متعین چې شي ، ظاهر شي په صفت کښې
او کښې نو ذات دے په اطلاق او صرافت کښې

ذات او که وجود دے او که "شان" او که صفت دے
ټول دي بل عین دے په همو کښې وحدت دے

نشته جدائي په ذات صفت او په وجود کښې
هسې غیریت ئې ښکاره کیږي په نمود کښې

عین لکه په بحر او په څپو کښې غیریت وي
لا لکه د ابر او اوبو اجنبیت وي

لا لکه سیپۍ وي د اوبو نه مختلفه
لا سنه مرغلره د څپو نه مختلفه

لا لکه کبان چې پرې نامه د اوبو نهٔ وي
بې له اوبو فکر ورته بویه کبان څهٔ وي؛

هغه چې په ذات د زاهدو صفت گویان شول
څکه خو پیدا ترې بې شماره معبودان شول

د غه خیال به څنگه عقلمندو ته معقول شي
داسې خو به ذات هم د صفاتو یو معلول شي

گویا چې صفات نهٔ وي نو ذات به معطل وي
ړوند به وي اوکوڼ به وي بې علمه هم بد شل وي

گویا انتزاع د هر عمل به له صفت وي
خود نو منتفي به بیا له ذاته فعلیت وي

ځکه خو پیدا ترې یو مذهب تنویت شو
هم ترینه تثلیث هم د بتانو عبادت شو

بنځ چې د صفاتو په کثرت د زړه قدم شو
بیا نو د ممکن د پاره اصل هم "عدم" شو

هم "عدم" ته نشت وائې او هم ورته "شر" وائې
هم ئې موثر گڼي او هم بې اثر وائې

هم وائې چې عین دې هم ئې غیر گڼي له ذاته
گویا چې ئې جوړه تماشه کړه له صفاته

بیا وائې نه عین دې او نه غیر دے، عجیبه ده
بس خو همېشه د اضطراب پرې زلزله ده

"گویا نه هورې شو نه دلې شو مذبذب دي
لوے شول په اوبو کښې او به نه پېژني کب دي"

گویا په یو وخت کښې صفت عین دې او هم غیر دے
بیا نو که دې په خلاف اووائې هم خیر دے

ښکاري چې هغوئې نه دي خبر له دې تضاده
اوکني نو څوک هسې دعوىٰ کړي بې بنیاده

هم د اخلاق نفي د وجود کړي له جوده
برېښني له دې دا چې ئې منکر دي له ایجاده

دوئې چې سنجوئې فعلیت دے له صفاته
ځکه خو نسبت د فعل لازم لو له ذاته

موږ ته د برزخ د ژوند په حقله کړې خبرې
ګوره په دې توګ کښې لاړو څومره لرې لرې

ژوند چې کلیه ده خیال یې اوکړو په افرادو
پوے که شوې بو چرې مخ به نه شي له اضدادو

نه وي یو انسان به هم چې ژوند ته فاني وایې
هر عالم چې اوپوښتې باقي یې درته ښایې

بس چې شوه معلومه کلیه ده لا فنا ده
بیا یې نو په برخه د افرادو هم بقا ده

دا نه ده ممکن چې کلیه خو دې باقي وي
کوم یې چې افراد وي هغه واړه دې فاني وي

یون دے د افرادو له مقامه تر مقامه
لا نکه باده چې له یو جامه تر بل جامه

دغه تبدیلي ده مسلسله روانې ده
موږ دنیا پوهېږو نه هسې وایو چې فاني ده

ځیر که شي نو پوے به شې فنا هم اضافي ده
بس دومره وینا چې درته ما اوکړه کافي ده

اصل د شیانو ته چې ځیر شي معلومیږي
نشته داسې شے چې تحول ته راضي کیږي

ګوري چې کوم څیز د تحول نه یې ابا ده
ځکه چې هر شے په حقیقت یو "انا" ده

ACKU

هره یو "انا" دتحول نه کراهت کا

ګوره ئې ټینګار به تل په خپل موجودیت کا

طفل هم که ته لرې کوې له خپل محله

بس مزاحمت به ئې څرګند شي له عمله

خپل وجود به چرې محول نه تابع نهٔ کا

هیڅرې قوت دکوم منطق ئې قانع نهٔ کا

څوئې چې دجبر په زغـښ کښې بسته نهٔ کا

دا کله کېدے شي چې دبل په رضا تـلهٔ کا

ACKU

# ماده که توانائی

راشه نو اوس څېړشه چې ماده توانائي ده
بیا پکښې راغلې دکوم څوا نه دانائي ده

ځکه چې قیام څوپه موصوف وي د صفاتو
څنګه شیریني چې ده قائمه په نباتو

هنځ نهٔ دے ممکن چې به صفت چرې فعال شي
داکهٔ شي ممکن نو به موصوف لره زوال شي

فعل وي د ذات چې په صفت سره موسوم شي
چرته چې تحریر وي محرر ئې بنهٔ معلوم شي

راځه وسته داتوانائي له "کیفه" "کم" ته
جوړه ئې کړه بیا په زور او جبر تک اودم ته

څکښې راخرګنده شوه د "انو" په صورت کښې
پسته راغله بیا د "پرمانو" په حېثیت کښې

"انو" ده ذره چې په خوردبین هم لیدے نهٔ شي
هنځ ډول انسان ئې کیفیت موندلے نهٔ شي

جوړ شي "پرمانو" ترې دا چې جمع شي ټکونه
بیا شي راڅرګند په کښې چې پټ وي حکمتونه

بیا د"پرمانو" نه دا اجرام دجهان جوړ شول
بیا ترې نظریات هم دمکان او زمان جوړ شول

دا زمکه زمونږ هم اجتماع ده د ذراتو
دا ذره بنیاد دے د همو کائناتو

وے به مادیینو چې پخپله راپیدا ده
هیڅ فنائې نشته همیشه چې وي هم دا ده

راغے زمونږ عصر چې فنائې دا ذره کړه
رد ئې پخوانئ د مادیینو نظریه کړه

ورو ورو ارتقا په کائنات کښې وه کېدله
دا ماده په یو او په بل رنګ به بدلېدله

راچې غله اخر ته نوظاهر ترېنه انسان شو
ژوند سره دعلمه دے قالب کښې نمایان شو

څومره عناصر چې دي په ذات کښې ئې شامل دي
پاتې نهٔ دي هیڅ چې په تکمیل کښې ئې حائل دي

جسم ئې کامله ائینه د کائنات شوه
دا نمائینده دحق د ذات او د صفات شوه

راغے په اوږو باندې ئې بار دخلافت شو
اوس دحق لهٔ ذاته ئې په برخه نیابت شو

دے په قول مخلوق کښې چې حق ذات وته مقبول شو
ځکه نو جواب ئې په ذمه دے چې مسئول شو

هر انسان مربوب دے د ښښتن له یوه اسمه
هم د هغه اسم د صفت له خپله قسمه

بیا ئې نو یو "عین" دے چې په علم کښې د ذات دے
بوئې ئې د وجود حس کړے نهٔ دے بې صفات دے

یعنې خارجي وجود ئې هیڅ موندلے نهٔ دے
خپل ظهور ئې چرې په هیڅ رنګ لیدلے نهٔ دے

فضل چې پاک رب په انسانانو د کمال کړو
بیا د "عین" په مثل ئې پیدا ورته مثال کړو

بیا شو دا خاکي جسم نما له دې مثاله
څرنګه چې سورے وي د جسم ، له دې واله

د غه مادي جسم ئې "انا" لره اله کړه
علم و معرفت لره ئې دهٔ ته حواله کړه

بیا نو د مادي او مثالي جهان تر میانه
جوړ شو بل عالم چې په "برزخ" شو راعیانه

دا ګویا دې دواړو جهانونو کښې پرده ده
یو د بل حالت معلومولو وسیله ده

هر هغه پرتو چې به راځي له ملکوته
راشي هم د دې پردې په لاره تر ناسوته

ځکه چې د ناسوت نه ملکوت وته رسیږي
دے دغه "برزخ" چې هم ددې نه ورتیریږي

بنه نو دا "انا" چې دې مادي جهان ته راشي
دے ځائے نه د قوسِ سعودي ئې ابتدا شي

دلته ئې تم شوے، هغه قوسِ نزولي دي
ځکه ابتدا ئې اوس د قوسِ سعودي وي

قوسِ سعودي ئې عبارت دے له اعمالو
جوړ چې بل کالبوت ئې مثالي شي له افعالو

پس له مادي جسمه چې "انا" لره مرکب شي
دا ئې چې خپل "عین" ته رسیدلو لره سبب شي

جوړ ئې یو لطیف غونډې قالب شي له اعمالو
بل نوے پیکر ئې مرتب شي له افعالو

دا مادي قالب چې د "انا" نه شي بې کاره
لاړ هغه لطیف ته شي چې وي ددهٔ دپاره

ځیس شه اوس چې دا لطیف قالب څنګه جوړیږي
دا چې د "انا" په خپل منزل کښې پکاریږي

ګوره چې کوم دم په ربړیو مشاعره وي
داد چې یو او بل ته ورکوي څه هنګامه وي

او خیژي فضا ته ددې تولو اوازونه
اوس به درظاهر د لطائفو کړم رازونه

نهٔ وي تصادم په لطائفو کښې وبله
ګډ شي سره بې له څهٔ زحمت همه پخپله

څرنګه موجوده په مکان کښې چې هوا وي
بیا ددې هوا سره موجوده هم رڼا وي

هم په دې هوا کښې دګرمۍ شمولیت وي
نهٔ وي تصادم په کښې سبب ئې لطافت وي

داسې اوازونه هم په یو بل کښې مدغم شي
نهٔ چې دیو بل سره ټکر وهي برهم شي

دلته تداخل د جواهرو ته پام اوکړه
بیا نو حکمتونو د خالق ته سلام اوکړه

شکسته بیا په سیټ دریږي چې اوریدهٔ شي
هر یو غږ ته څیرشه چې ځان ځان تر پېژندهٔ شي

ګویا هر یو غږ کهٔ وي په بل ننوتلے
خپل انفرادي وجود ئې بیا هم وي ساتلے

اے دژوند نه پس چې تهٔ قایل دژوندون نهٔ ئې
تهٔ دعقل وهوش په حقله وایه مجنون نهٔ ئې؟

غږ دیو انسان هم فنا نهٔ لري دوام دے
هم ئې باقي پاتې له خولې وتے هر کلام دے

دے که حرکت که ئې اواز، کهٔ ئې خبرې
وي ئې کهٔ ژړا، اوکهٔ په خولې ئې وي سندرې

۳۲۰۰

پورته په فضا کښې همه واړه جمع کیږي
ټول د یوه "عین" سره هم غاړه جمع کیږي

عین د همه واړو د یو بل نه مختلف وي
عین د هر یو کس د پردي خپل نه مختلف وي

عین او حرکت چې د خالد وي په فضا کښې
کم به چرې نه شي نه په زید نه په بل چا کښې

بس د خپل قالب سره دا واړه شي دا جمع
بله شي په هغه کښې چې کل شي دلته جمع

دې مادي قالب ځنې چې روح او ځي بهر شي
جوړې له عمل چې وي قالب هغه ته ورشي

هم یې د خپل عمر د حاصل وړے برتو دي
بیا نو په برزخ کښې خپل قالب وته په دو وي

څوک وائي برزخ خو بس د خوب یوه دنیا ده
غم وي که راحت لکه په خوب کښې تماشا ده

بیا به د قیامت په لویه ورځ رابهر ایږي
هلته به د خپل عمل جزا سره مخ کیږي

---

ACKU

# نوے قالب

جوړکۀ دعمل قالب د"عين" په مطابق وي
روح په کښې خوشحاله وي چې ښۀ ئې موافق وي

دې کښې ښۀ مسرور وي، ګويا داورته جنت وي
هم ښۀ اطمينان ورته حاصل وي په راحت وي

بيا نو دخپل "عين" په لوري تک کوي روان وي
اوس نو هغه "عين" ته دسېدل ورته اسان وي

چرې که له "عينه" مخالف دغه قالب وي
وي په ډېر کړاؤ کښې اطمينان تر سېنه غائب وي

دا ئې په معنیٰ وي جهنم کښې کړېږي
ډېر کړي فريادونه خو په لاره نۀ سمېږي

دلته بيا لۀ سره دعمل مظاهره کړي
"عين" ته دسېدو دپاره بيا مجاهده کړي

بويه د زاړۀ عمل قالب چې نار په تار کا
جوړ نوے قالب کا وخپل "عين" ته سمه لار کا

# عالم مثال

مرچې شي برزخ کښې بیا عالم کښې د مثال شي
هلته مثالي اصلي قالب سره وصال شي

فکر که کوې چې دوېم ځله مرګ ئې څۀ وي
بس له يو مقامه بل مقام ته تېرېده وي

بیا هم مخالف ئې که ترې دا نوے قالب وي
دا ده لازمي چې اطمینان به ئې غائب وي

هلته مثالي قالب کښې نۀ شي ځائېده لے
ګرځي بوډنېده لے، تزنږده لے، تېرېده لے

هوکۀ په قالب د مثالي قالب په شان وي
دائې وي جنت په کښې هم حورې هم غلمان وي

هم په کښې د شهدو د شرابو وي نهرونه
هم په کښې مېوې او د بلبلو آوازونه

پوهې شي د هٰذَا الَّذِی رُزِقْنَا په اسرارو
هم د جنتي مېوو په خوند او په انوارو

اوکهٔ یٔ قالب دمثالي قالب خلاف وي
جوړ ورته بیا ګویا د دوزخ د اور غلاف وي

هم به دسور اور، په کروړو باندې واهه شي
هم به په ضربونو دګرزونو ټکاوه شي

هم به تور ماران پرې باندې بوخت وي دړکې دړکې
هم به پورې نښتي لړمان وي چرګې چرګې

هم به یٔ غذا وي د زقوم اوله حمیمه
پس څو نو بهر به وي درحم لهٔ اقلیمه

محو به یٔ بیا دغه قالب کړي عذابونه
جوړ به یٔ دبل نوي قالب شي سامانونه

پام کوه چې دا په تناسخ نهٔ کړې محموله
اوباسه له ذهنه " دا خبره نامعقوله

ACKU

# تناسخ

دے تناسخ داچې پس له مرګه روح روان شي
لاړ په اګه اولادهٔ رحم کښې مکان شي

څنګه چې عمل ئې وي قالب ئې هم هغه وي
بیا دلته پیدا شي په دې زمکه ئې ډېره وي

کله په خنزیر کښې وي راګیر کله غوایهٔ کښې
کله په قالب کښې وي د سپي، کله په خرهٔ کښې

او چې زغمي دا ځلور اتیا لکه جسمونه
بیا نو نجات اومومي، نور نشته قالبونه

ما باندې پخپله هم راغلے دا حالت دهٔ
پرله پسې درې کاله ئې دغه کیفیت وهٔ

څنې ځاے به ما وته اشنا غونډې ښکاره شو
ګویا یو لیدلے تماشا غونډې ښکاره شو

ما به وې چې دلته جوړ پخوا یم اوسېدلے
زهٔ به دې ورشو کښې هم ډېر عمر ګرځېدلے



ACKU

بیا څهٔ موده پس چې دشعور څقله لوئے شوم
دا خو اشتباه وه، سراسر پرې باندې پوئے شوم

مونږه چې څهٔ واورو، یا څهٔ وینو حقیقت دے
نهٔ لري فنا تحت الشعور ته ئې رحلت دے

کوم شے چې مهم وي حافظه کښې پاتې ډېر شي
کوم چې مهم نهٔ وي هغه زر راځنې هېر شي

هو! چې مهم نهٔ دي یقیني ده چې به هېر شي
مهٔ ګڼه دا هم، چې دشعور له دنیا تېر شي

تل وي په شعور کښې هیڅرې نهٔ فنا کېږي
بیا ددې دنیا نه هیڅرې نهٔ جدا کېږي

ډېر کهٔ وي نو دا چې لاشعور ته شي ورننکته
بیا ئې دانسان په شخصیت کښې لګي پته

کله کله مونږ ته یو مقام داسې ښکاره شي
مونږ ته دلیدلي یو آشنا په شماره شي

ورته وي هغه ته چې پخوا مو وهٔ لیدلے
وهٔ د حافظې نه چې ګویا زمونږ وتلے

مونږ اوګڼو دا چې وو پخوا دلته راغلي
هم په دې ورشو کښې وو ډېر عمر اوسیدلي

څومره لوئے افراد په دې فریب کښې ووګېر شوے
لا پکښې اوس څومره به ګیرېږي نوے نوے



ACKU

ګوره فیثا غورث او افلاطون غونډې بناغلي

نهٔ وو په ټول عمر ددې جال څخه وتلي

کرشن که ګوتم وهٔ که شنکر وهٔ اوکه رام وهٔ

دغه اشتباه وه چې همه عمر ئې دام وهٔ

علم دشعور په هغه وخت کښې لا ماشوم وهٔ

عقل ئې نسبت زمونږ دعصر وته اوم وهٔ

پس له کړاوونو چې ډېر تود شي او ډېر سوړ شي

بیا نوے قالب ئې مثالي قالب ته جوړ شي

---



ACKU

# مثالي قالب

بیا دمثالي قالب ردا په ځان خبره کا
بیا شروع په وړاندې د پېندونو سلسله کا
اوس د وړاندې تګ پکښې پېدا نوے قوت شي
زيات ئې د پخوا نه په څو چنده لطافت شي
اوس ئې نو الوت په لور د عقل د عالم وي
نهٔ ستوما نه کېږي ډېر همت او ډېر ئې دم وي

# د عقل عالم

قوسِ نزولي کښې هم دې ځائے ته ده راغلے
هغه مثالي عالم ئې ډېر بنهٔ ده ليدلے
علم د اشياؤ ورسره که وهٔ عقلي وهٔ
دلته امثله هم ورسره شول مثالي وهٔ

اوس ورته اشنا وُه، دا عالم چې د مثال وُه
بس خو چې قالب ئې مثالي نهٔ وه اتهال وُه

اوس به بنهٔ واقف وي د همُو مرحلو نه
نهٔ دي مانعات به ئې د بره الوتو نه

ویني په تګ تګ کښې څه رنګینې مرحلې وي
دلته د اشیاؤ مکملې نمونې وي

هم په کښې د ظلم او د عدل پیکرونه
هم د سخاوت او دیانت وي قالبونه

ظلم دے که عدل په ناسوت کښې چې ماسوم دے
هر یو ته چې ځیر شې د یو څو فعلونو نوم دے

هر کله چې دلته مکمل شي څه فعلونه
شي د عدل و ظلم، معین ورته اسمونه

هلته په عالم کښې د مثال نهٔ وي فعلونه
بس د هر یو ځیز په کښې کامل وي قالبونه

اوس د دې قابل وي چې عقلي عالم ته ورشي
ځئ د مثالي عالم نه الوځئ بهرشي

څه عقلي عالم دے؟ خو همه مجردات دي
دلته د شیانو وجودونه مفهومات دي

دلته ممکن نهٔ دي هېڅ حرفونه هم لفظونه
دلته منتفي وي د اذهانو نه فکرونه

دلته نه اوږده شته، نه ژوره شته نه ساره شته
لاندې باندې نشته ، دلته سم شته نه کاږه شته

دلته هر انا د لامحدود وجود څښتن دے
خپور په کائناتو ، کائنات ئې انجمن دے

بیا نو دا همه "انا" په یو بل کښې مدغم دي
بیا سره دې د فردیت سره هم دم دي

دلته دا همه "روح اعظم" کښې شي راجمع
ډېرې رڼا کانې یو فانوس ، یوه ئې شمع

داسې په کښې ورک لکه په نمر کښې دي رنګونه
نمر وي همه تول چې وي څو هم فردیتونه

دلته هر "انا" وائي کامل یمه ، اتم یم
زه په خپل وجود کښې خپل ځان "روح اعظم" یم

ځائے دے د حیرت چې د هر یو هم دغه خیال وي
ځان ورته څرګند په ائینه کښې د کمال وي

بیا هم تشنګي محسوس کوي په خپل وجود کښې
ځکه چې لا اوس هم وي په څټه د نمود کښې

شوق چې د نمود وي دا نه نقصه عبارت دے
لا ئې په سر پاتې وخت اصل ته رحلت دے

دا په مراتبو کښې موسوم واحدیت دے
دا د خلافت او ولایت او کرامت دے

دا واحدیت خوجوړ مقام دامامت دے

دا روحِ اعظم دے چې دابل راځي وحدت دے

دا دمرتضیٰ علي ولي سره مختص دے

وړاندې تړي وحدت دمصطفیٰ سره اخص دے

# د وحدت پهٔ لور

بیاځي نوالوت وي د وحدت پهٔ لوري یون وي

څنګ چې د محمل پهٔ لوري ځغاخته د مجنون وي

داځي چې وحدت ورته، مقام د محمد صلی الله علیه وسلم دے

بیا ددې پهٔ پورته ما وراء چې دے احد دے

اوکنه وحدت چې دلته اسم ئې الله دے

دے دغه برزخ چې موسوم شوے پهٔ کبریٰ دے

محو دې برزخ کښې همه واړه برزخونه

دې کښې وي راجمع ټول اسمونه صفتونه

دا د پاک احد د تنزل اول مقام دے

دلته پهٔ الله سره موسوم شو چې بې نام دے

دغه ده خاصه چې دا انسان د حقیقت ده
دلته مرتبه متعین د رسالت ده

نشته هيڅ انسان لره رفعت ددې نه پورته
يو قدم که واخلي ، خپل وزر به نيسي اوُرته

عين ديو او بل دے ، که اسماء دي که صفات دي
جمع په يو ذات کښې سره واړه عين ذات دي

دلته ټول افراد خپلو اسمونو ته رسيد شي
دلته ميسّر په حقيقي معنو کښې ديد شي

دلته چې حجاب د غيريت وُه ، هغه شق وي
هر "انا" هم دا محسوس کوي چې "خپله حق وي"

ځيرشه که پوهېږې چې هم دا هغه مقام دے
چرته چې سالک په انا الحق[1] سره گويان دے

هم په کښې موجود "ليس فى جبتي[2] سوى الله"
هم په کښې "مقيم القيامة[3] هـو انا"

ځني واڼي[4] نشته نور هيڅوک خو زهٔ موجود يُم
زان د کائناتو د وجود او د نمود يُم

---

[1] حسين ابن منصور

[2] حضرت ابوسعيد ابوالخير

[3] حضرت على کرم الله وجهه

[4] اکثر مجاذيب

ACKU

دې کښې پوره شوې هم نعره د ه سبحاني[1]
لن خو داته حُیر شئ خلقو " ما اعظم شاني"

رنګ[2] د هغه لوښي وي کوم رنګ چې د اوبو دے
دا د شطحیاتو یو دو داد داوریدو دے

څه که د قطرې سره احساس د سمندر وي
بیا هم حقیقت کښې وي قطره که نا خبر وي

عین ثابته وته لا نهٔ وي رسیدے
لا په خپل اصلي شخصیت نهٔ وي پوهیدے

اوس به په تلاش کښې د خپل "عین" وي په وحدت کښې
موږ به هم هغه کښې سکون په حقیقت کښې

دلته چې خپل رب اسم ته اورسي مستي کا
دا جوش وخروش په هغه څغه السي کا

کوم چې حقیقت کښې د هغه اسم وصفت وي
جوړ ئې د هغه نه چې خلقت او شخصیت وي

بیا ئې نو یو "عین" وي چې په علم کښې د خدائے وي
بوئې هم د وجود ورغلے نهٔ وي پخپل ځائے وي

---

[1] بایزید بسطامي رح

[2] حضرت جنید بغدادي رح



ACKU

# د
# عبن په لور

راشي هغه وخت چې بيا ددې نه هم فاني شي
باقي شي مقام فنا فی الله ، ترې رواني شي
ځنې هم په دې فنا فی الله کښې باقي کيږي
دا په جذ وبا تو مقبولانو کښې ياديږي
پس له مادي مرګه به بيا "عين" وته رسيږي
څوچې دلته ژوند کوي مجذوب بللې کيږي
نه وي دا مفيد د مشيخت په سلسله کښې
ځکه چې رانه شي دسلوک په دايره کښې
څوچې دځل عين ثابته ته نه رسيږي
دا د تربيت دپاره کله پکاريږي
عين ثابته ته چې څوک اورسي کامل شي
ورشي په مقام د سکونت کښې ئې منزل شي
داوي ډير مفيد د رهبرئ په سلسله کښې
بيا چې راواپس شي د ناسوت په دايره کښې

دا دجمع الجمع دي مقام په طريقت کښې

لوړه مرتبه ، په حقيقت او معرفت کښې

يادې دحق نهٔ شي له مخلوق غافل کوے

بارې دمخلوق ، دحق نه نهٔ شي کرځوے

وي فنا في الله کښې دمخلوق نه غافل شوے

دې ته وائي "جمع" چې وي حق ئې منزل شوے

محو په مخلوق کښې چې خالق ترې فراموش وي

"فرق" وائي ودې ته چې خواهش ترې ورځو شے وي

"عين ثابته" نه چې واپس شي ودنيا ته

وي باقي بالله چې رهبري کوي هرچاته

عينِ ثابته دانسان هغه شخصيت دے

کوم چې دحق علم کښې موجود په حقيقت دے

دلته چې سالک وځان ته ځير شي چې "زهٔ څه يم"

پوے شي، حقيقت کښې چې هغه نښته خو يو "زهٔ" يم

خلقو په الآن کما کان يم بللے

زهٔ يم، چې نهٔ چرته يمه تللے نهٔ راغلے

زهٔ هغه نقطه يم چې سبب د دائيرې وه

زهٔ هغه شجر يم چې دتخم له دانې وه

اوس چې ځان ته کورمه نو زهٔ هغه دانه يم

نهٔ هغه شجر چې له خپل ځانه بېګانه يم

ACKU

یم هغه نقطه چې سرچینه د ژوند انهٔ یم
هر یو شے په ما کښې دے او هر څهٔ هر څهٔ زهٔ یم

ځم دخپل وجود هغو ژورو ته کون شوے
سیل مې په خپل ځان کښې په هر کام وهٔ نوے نوے

پټه خزانه وم، چې پرته وه پټه بنده
دا مې کړله عوره چې ئې زهٔ کړمه څرکنده

غېر شومه له ځانه دلېتون په سلسله کښې
لاړمه داخل شوم د مخلوق په دایره کښې

لاړمه د عقل په عالم کښې ورداخل شوم
بیا ددې عالم چې دے حواس، زهٔ ئې حامل شوم

دلته داخلې مې ممکنات واړه عقلي شول
سپرته دباطن مې باهمت غونډې زلمي شول

کله چې فارغ او دعقلي عالم نه سر شوم
بیا نو په ورو ورو ومثالي عالم ته تېرشوم

دلته دعقلي سره حواس مې مثالي شول
ګویا جلالي سره ملکوي جمالي شول

اوس مې دعقلي شیانو ځلندې څېرې شوې
بیا تو هېره عمره دې جهان کښې مې ډېرې شوې

دلته مثالي او عقلي دواړه سره ضم شول
زیات ئې معرفت شو بخپل ځان کښې سنهٔ محکم شول

دغه مثالي دي چې په خوب کښې شیان ویني
بې د مادي سترګو نه بل نوے جهان ویني

وارۀ مادیین لۀ دې عالمه انکاري دي
دوئ له ناخبرۍ او وېره همه انکاري دي

بویه چې بیان د مثالي عالم دلیل شي
بوږ د ناپوهانو و خاطر ته یو سبیل شي

یو مادي انسان شي بې وزرو الوتلے؟
هیڅ په بېدارۍ کښې دا ممکن نۀ شي کړلے

الوځي په خوب کښې په فضا کښې الوتۀ کا
کوم خوا ئې چې خوښه وي په هغه لوري تلۀ کا

نۀ ورځې دا خیال چې الوتۀ ئې ممکن نۀ دي
بس خو چې ئې خوښه وي هر لوري ته ئې تلۀ دي

وي کۀ اعتراض چې بېدارۍ کښې مرغان ویني
څکه نو په خوب کښې دالوت هم امکان ویني

بس نو شو ثابت چې د مادي انسان وجود کښې
مل څه لافاني اجزا هم دي په هست وبود کښې

وارۀ کۀ مادي وي د انسان په شخصیت کښې
ټول مادي صفات به ئې شامل وو په خلقت کښې

ځ چې دانسان په بېدارۍ کښې کوم خیالونه
خوب کښې به هم هغه وو ثابت ورته دامونه

څرچې بېدارۍ کښې ناممکن ورته ښکاره وے
داده یقیني چې به په خوب کښې هم هغه وے

خوب کښې الوتنه چې ممکن کښې الوځې
بیا سره ددې ئې دا یقین چې نهٔ پرېوځې

صافه شوه خبره، دا حواس ئې مثالي دے
خوب کښې معطل وي کوم حواس چې مادي دے

خوب کښې بصارت نهٔ سماعت نهٔ ذائقه وي
هم ئې لامسه وي معطل هم ئې شامه وي

اوس د مثالي حواسو کار وي چې افعال کا
کوم چې وي مادي ته ناممکن هغه اعمال کا

نهٔ گورې په خوب کښې؟ چې لاهور ورته روان شي
ځې په قافله کښې په پیاده منزل پویان شي

تېرې کړې څو ورځې په لاهور کښې ترې واپس شي
خپل کور ته راستون په خوشحالۍ او په هوس شي

دے د خوب سفر کښې څو لمحې وي تېرې شوې
لا به داسې وايو، دقیقې وې تېرې شوې

ستا مادي حواس چې له دې خوبه رابېدار شي
بیا ددې سفر د تېرو ورځو په شمار شي

شي ورته معلومه چې شل ورځې په سفر وهٔ
هم ئې نیمه ورځې په لاهور کښې مستقر وهٔ

بیا هم په شل ورځې کښې پیاده کو رته راستون شو
دا وه حقیقت چې ورته دے سر په زنګون شو

فرق په مثالي او په مادي کښې ورښکاره شو؟
او وایه چې زړهٔ دې هم په دې سره واده شو؟

څهٔ موده عالم کښې د مثال مې اقامت وهٔ
بیا مې نو عالم د شهادت وته رحلت وهٔ

دلته یو برزخ زما په وړاندې ښهٔ محکم وهٔ
هغه په ناسوت کښې وهٔ، زما د مور شکم وهٔ

پاتې دلته زهٔ د نهو میاشتو په عدد شوم
دلته اوڅاتو د ناسوت سره بلد شوم

هم مې د مادي حواسو پنګه اوموندله
پوهه د پښوانه مې لا ښهٔ او حل کړه دله

دلته د خپل "عین" په مطابق وم پیدا شوے
بیا نو د ناسوت په محبوبه وم شیدا شوے

جوړې د اعمالو نه یو بل نوے قالب شو
"عین" سره زما نامناسب کهٔ مناسب شو

څرنګه چې ذکرې په وروستو دے تېر شوے
بنایئ چې سامعه درنه نهٔ به وي هېر شوے

پس له مرګه لازم د هغهٔ سره واصل شوم
ښهٔ وهٔ او کهٔ بد وهٔ د هغهٔ سره شامل شوم

زه چې پخپل ځان کښې هم له خپله ځانه غېر شوم
ځان کښې مې منزل وه بس تر هغې چې پرې سېر شوم

بېرته چې خپل "عېن" وته راستون شومه عالِم وم
اوس نو پخپل ذات او په صفت کښې بنهٔ سالِم وم

کوم وخت چې په ذات کښې عېنِ ذات زما صفت وه
ورک هغه حالت کښې وه، زما چې فردیت وه

"سېرُ من الله" که "الی الله" وه که "فی الله" وه
نهٔ وه په خارج کښې خو پخپل ځان کښې زما وه

زهٔ یمه بس زهٔ یم، نهٔ خارج نهٔ مې داخل شته
نهٔ په حقیقت کښې څه زما سره شامل شته

نهٔ لهٔ خپله ځانه یم بهر چرته وتلے
نهٔ خو چرته تللے، نهٔ واپس بېرته راغلے

زهٔ په حقیقت کښې هم هغه یوه نقطه یم
تا وته ښکاره کهٔ په ظاهر کښې دایره یم

یا هغه دانه ابتدائي انتهائي یم
بیا نو په اوسط کښې کهٔ شجر یم اضافي یم

بس دغه شجر د دایرې نه عبارت دے
دا یوه نقشه مې د نزول، دائي صورت دے

---



ACKU

# د

# حال حقیقت

---

څهٔ پوے شوې لوستونکیه چې دا څنګه کشاله وه
څهٔ دې ترې اخستے تا څنګه قصّه وه؟

پام کوه دې وهم کښې چې پرې نهٔ ووځې بیدار شه
خبر شه حقیقت وته بنهٔ پام اوکړه هوښیار شه

څومره چې تا اولوستو زما چې دا بیان وهٔ
راشه چې پرې پوهشې دا ستان دیوانسان وهٔ

حق زمونږ د فکر وهم وخیاله ما وراء دے
هم مثال ئې نشته، بې مثاله ما وراء دے

هو! مثل ئې شته دے خو په واړه کائنات کښې
بس دغه انسان کنه په ذات او په صفات کښې

ځائے زمونږ په فکر کښې که هغه رب ودود شي
بیا خو به هیڅ شک نهٔ وي په دې کښې چې محدود شي

ACKU

هیڅ ری راتلے نهٔ شي په کومه احاطه کښې
د اهمه مخلوق دے چې راځي په دایره کښې
هیڅوک پوهېدے نشي، چې څرنګه هغه دے
بس دومره احساس وکړے شوی دے چې "شته" دے
ځای چې دعوی وکړه دکهنه پېژندنې
پرېوتې لهٔ ښخه ئې دعقل او دین ستنې
وي دعقل زړهٔ به ئې اخته په اختلاج کښې
کښ به همه عمروي په دام داستدراج کښې
حق دمعرفت نهٔ ئې چې کړي عاجزي ده
نور به لاڅه او وائي چې کړي پاک نبي صلی الله علیه وسلم ده
هغه چې درب اسم چې الله، ختم الرسل وهٔ
هغه چې مَا کَانَ او مَا یَکُوْنُ دپاره کل وهٔ
هغه چې نقطه دکائنات دابتدا وه
هغه چې صورت ددایرې دماسوی وه
وائي له ماحق دعبادت هم پوره نهٔ شو
څوک چې وائي او شو دخپل حد نه په واته شو
حق کهٔ نزول هم وکړي، دے حق، برګزیده دے
پوره نهٔ که پوره هم بنده شي خو بنده دے
ختم رُسُل فخر چې پرې کړي، عبدیت دے
ځکه چې هم دغه عبدیت انسانیت دے

نور مخلوق چې کاندي عبادت متابعت دے
دا متابعت ئې په تحریک د جبلت دے
ګوره "ما یعصون امره" چې فرشتې دي
حق په خپل کرم دي پیدا کړي دغسې دي
بس خو یو انسان دے، عبادت چې په اختیار کا
هم په خپل اختیار د حق د لارې نه انکار کا
بس نو دا انسان وَه، چې مثل د هغه ذات شو
ځکه، وَه هم دا، چې متصف ئې په صفات شو
بویه چې فرق اوشي په مثل او په مثال کښې
داسې لکه فرق چې وي په نقص او په کمال کښې
یو څیز چې کټ مټ او همګي د بل په شان وي
دې ته مثال وائې شي به بوے چې دانایان وي
ځکه ناممکن دي چې به حق لره مثال وي
داسې کۀ ممکن وي، دا به نقص د کمال وي
وائې مثل دې ته چې یو څیز په څو صفته
وي بخپل وجود کښې مشابه له رب عزته
ځکه "له مَثَل الاعلیٰ" هم قران وائې
حق وائې، شک نشته چې کتاب د رحمٰن وائې
واوره دا انسان دے چې د حق دسترګو تور دے
واره جهان وینې د خپل کور په حقله کور دے

داده حواله چې ورته بار د امانت شو
داده چې په برخه يې منصب د خلافت شو
داده چې ياد شوے په رؤف او په رحيم دے
داده چې سَميع او هم بصير او هم کريم دے
بل وُه داسې چرته چې مثل د هغه ذات شي
بيا په کائنات کښې چې مظهرئ د صفات شي

# سفرنامه

دا منظومه سفرنامه امیرحمزه خان شنواري په ۱۹۲۸ کال کښې چې هغوئ سره د نورو ادیبانو شاعرانو د افغانستان جشن ته هم په دغه کال غوښتي شوي وو لیکلې ده. په دغه اوږده منظومه سفرنامه کښې یو طرف ته ښاغلي امیرحمزه شنواري خپل ټول سفر راوستې دې نو بل طرف ته ئې په نظم کښې هم د تغزل لمنه ټینګه نیولې ده. کوم وخت چې لوستونکي یو بند ولولي نو یو طرف ته د هغوئ شاعرانه خوبي لوستونکي ته پښې اړمې کړي- چې دا بند واپس ولوله او بل طرف ته د آخري مصرعې ختمېدو سره د بل بند وړومبۍ مصرعه لوستونکې داسې ځان ته راکاږي چې هغه هډو په ځان پوهه نهٔ شي او بیا ئې په بل بند شروع کړې وي.

(اداره)

ورځو شپو ته اوګوره ښکلا سفر سبا سفر

هر نظر او هر قدم او تللهٔ راتلهٔ د سبا سفر

ما دې محسوس کړې دهستۍ په ابتدا سفر

لاړه راته خوې کړې زما په انتها سفر

زهٔ ځمه روان یَم دهستۍ د ارتقا سره

خپل حقیقتونه بدرګه کاندي زما سره

مل مې د دماغ رڼا دشمعې وي دحال سره
وي د زړه پتنګ مې د ماضي دخط وخال سره
روح مې دے وصال ته بې قرار د استقبال سره
کال مې لکه ورځ وي هم مې ورځ سمه دکال سره
د هر پرون "سبا" زما د "نن" نه زيګيدلي دي
"نن" هم هغه "نن" دے هغه تللي دي چې تللي دي

زه يم چې جوړيږم حوادثو واقعاتو سره
مومم تربيت د زمانې دوا راتو سره
جوړ زما نبضونه د ژوندون دي له افاتو نه
زه يم بې نيازه په منزل کښې له افاتو نه
هر طرف زما دے زه روان که يمه کوم طرف
کار زما سفر دے څه معلوم څه نامعلوم طرف

زه به لکه بدر په سفر شم که هلال يمه
نقص محرک دے چې غوښتونکے د کمال يمه
پټ يم په جمود کښې د قدرت هغه جمال يمه
خور يم په هستۍ کښې زه قسمت دخپل جلال يمه
خدائے زده خبر نه يم چې به کله راغوړيږمه
کله به منزل ته د مقصد ورا ورسيږمه

واړه سفرونه دي زما لړي لړي پکښې
ژوند مې يو ځنځير دے حوادث کړي کړي پکښې
اېر د وختونو دحشمت راوړي جرې پکښې
ژمے دافلاس وي کله نهٔ موسم شړي پکښې
په دار دے اپوته يم سرګردان يمه
ځهٔ چې يو منصور د معانۍ يم پرېشان يمه

لاړم د اګست په دوه[۲۲] ويشتم افغانستان وته
سن اتهٔ څلوېښت وُه د کابل ښکلي بوستان وته
شمع د هستۍ مې يوړه نوي شبستان وته
جوړ نوي ماحول کړم د قصې نوي عنوان وته
ماله خپلواکۍ له جشنه څهٔ اثرات اوموندل
ګويا چې مالوړ د حريت برکات اوموندل

هر راته مامور صاحب ويزه ښهٔ انتظام اوکهٔ
داسې انتظام د نظام زړه ورته سلام اوکهٔ
داسې لاړېد وه لکه برق به ئې خرام اوکهٔ
ما وئيل موټر خو پهٔ دنيا هسې خپل نام اوکهٔ
حيف چې د لارې له هاره پاتې سمندر شو لو
بس خو لوئے علت ئې يو فقدان وُ د موټر شو لو

سپوږ د پښور نه راسره شو یوسړې غونډې
ډ خونچا بې خو په لباس ډ پېرنګې غونډې
دوئ څېنګونه ښکارېدلو چارچشمې غونډې
لاړ شو ځکښې سیټ ته ځائې جوړکه مشرته غونډې
مونږ ورته وېل چې دا مخصوص زمونږ دپاره دہ
لاړ شه روستو کښېنه چې لارې تولہ وزګاره دہ

ورانه ئې کونه شوه ورستو کښېناستو مجبور شولو
دو د رنګه تور خو دغصې له زوره سور شولو
کوز په جمرود کښې زه به څه وایم تربور شولو
بل افسر ئې هم ځانسره راوستو حضور شولو
وې چې زه افسر دسي ائی ډي یم تلاشي کوُم
زه اداکول به دخپل فرض منصبي کوُم

واړه ئې راکوز کړه دلارې ځنې سامان زمونږ
ښه ئې راپوره دکښېنولو کړو احسان زمونږ
ورځ په تېرېدو وه دغه بند کړې ډ کاروان زمونږ
حیف چې مسلمان کا وُو د صبر امتحان زمونږ
پاس ئې دغصې نه یوه وروځه بله لاندې وه
کله به رالاندې شوه هغه بله به باندې وه

ناساپه رسا پرې خوله راپرانستــه ورتـه شولـو
هم ترې هلالي له بلې ددې راچاپېر شولو
ورو ځې يې شوې سمې د مزاج فرعون يې زېر شولو
خپل د منصب فرض يو ساعت لره ترې هېر شولو
راغې مولانا عبدالقادر د دوئ ترميانه شولو
صلح جوړونکے په هغوي کښې خوش بيانه شو

اوو ېل افسر دسې اې دي دوه افسران يو مونږ
اووې هلالي چې شاعران د پاکستان يو مونږ
اوويل افسر چې د خپل کارو ته نګران يو مونږ
اووې هلالي چې شاعران او اديبان يو مونږ
اوويل افسر زمونږه کار تر لرې لرې شتــه
تاسو شاعرانو څخه بس تشې خبرې شتــه

جوړ کړل مولانا عبدالقادر کلو قصو ته تول
لوئ يې کړې هېرې شو مايل ورو ورو ته تول
درنګ چې تېر يدلو شو تيار مصافحو ته تول
زه وم جذبات مې وو غوندارې عينکونه تول
ناست وم په لارې کښې ماله سوخته وړغې اوکه
درشم! عفوه اوغوارم ترې تاسو چه دا زوګ اوکه

ACKU

لاړل فرنګیان خو ذهنیت يې دلته پاتې دے
دوب شولو خو اوس فرعونیت يې دلته پاتې دے
تېرې شو شباب زیب وزینت يې دلته پاتې دے
ورک يې شو دفتر خو حکایت يې دلته پاتې دے
مونږ کښې کوونکه دخپل تهذیب يې داسې کړې دلته
ګویا چې رښا داسلامي تهذیب يې وړې دلته

لا خو مقابل دے پاکستان دلوئے افت سره
پاتې شته یو جنګ د فرنګي د ذهنیت سره
اوس مونږ ه اشنا یو د صحیح جمهوریت سره
نشته مساوات د حیواني انسانیت سره
مونږ مسلمانان یو فضیلت په ښه عمل کښو
مونږ ه مومنان یو سعادت په ښه عمل کښو

زړه او رښا دواړه وو لاړي کښې په بدحال سره
مونږ نه وو سرشوي د درنجکو دجنجال سره
ورغلو ډکې لره د ورځې د زوال سره
هلته ملاقي شو د بناغلي سید کمال سره
څه به درته وایم دډکې دسرحد ار ځنې
څه به درته وایم دد ې هسې نېکو کار ځنې

هیڅ په تواضع کښې ئې زمونږ کمي او نهٔ کړله
دهٔ چې زمونږ اوکړه تواضع نو چا به څهٔ کړله
هم ئې په لیمو کړه تواضع هم ئې پهٔ خولهٔ کړله
هم ئې په پسته شیرینه غونډې خولهٔ کړله

دا خو ابتدا وه په کابل ئې انتها اوشوه
داسې تواضع لکه زمونږ شوې د چا اوشوه

مونږه تېرېدلو د صحرا بیابانونو نه
هم مونږ د مارکو د کتهو ډکو دامانونو نه
هم د شفوړے پټو او دولو او باغونو نه
هم د وُچو تاندو کښو ونو غونډو غرونو نه

وخت د ماز یګر ؤ شو داخل جلال آباد کښې مونږ
هلته شو الفت سره واصل جلال آباد کښې مونږ

مونږه ګل باچا غونډې بناغلے خوش خصلت اولید
اسم مسمّٰی ؤ چې بشر مو د اَلفت اولید
مونږ په دې سیّد کښې د اخلاقو بنهٔ رفعت اولید
ګویا چې حاصل مو د سفر او سیاحت اولید

دغه دے مدیر د "اتحاد مشرقي" اخبار
راغے هر کلي ته لکه وي متبسم بهار

ACKU

نور هم څهٔ ښناغلي استقبال وته راغلي وو
څهٔ به درته وایم په اخلاقو کښې عښتلي وو
ټول په تواضع کښې یو تر بله مخکښې تللي وو
دوي پرانستې غېږ لکه کلونه غوړیدلي وو
څهٔ معانقه وه وٌ وصال د زړهٔ د زړهٔ سره
تا دې سره یو وٌ په یو غېږ به درزېدهٔ سره

چائې موچې نوش کړلې کلفت د سفر کم شولو
نوے په بدن کښې راپیدا زمونږه دم شولو
ستړکو لیدل اوکړهٔ چار چاپېره فکر سم شولو
مخکښې لاره د برکه ؤ پیدا د سفر غم شولو
راکهٔ یو تصنیف راته الفت مطالعې لره
مونږ ته سروېي ته رسېدل پراته وه شپې لره

اوختو لارې ته بیا درېنجکے شوے گردونه شو
پس له لږ ساعته وران زما او رسا زړونه شو
جوړ په دې لارې کښې یو تر بله سنهٔ بحثونه شو
جوړ په هر یو سیټ کښې د لارې جدا ذکرونه شو
کړپ له پېښوره د خلیق انوار الحق سره
دومره وٌ چې ولې ککرېدې نهٔ شوې شق سره

لاړ د دوو ګنهګو به وي الفت هسې وېلي وو
رسټې سروبي ته به دامونږ ترې اورېدلي وو
مونږ په دغه لار ښکوا ددې نه خوا را غلي وو
بس خو انتظار د سروبي واره ځپلي وو

لاد ډوزنتې د پل په حقله څهٔ خبرې شوې
وړانګې د نمر لاړې د افق نه مسافرې شوې

زړونو لره کله انتظار کښې قرارے راځي
لاشي منزل، لرې که نږدې ورته سړے راځي
زړهٔ چې شي ډېر تنګ د امید ونو رڼو زړے راځي
دا دې رانږدے شو بس خو اوس به سروبے راځي

راغلو لس بجې وې چې ملګرو موکښېنې کتې
ما او رسا وړاندې د هر څهٔ نه بسترې کتې

کښېناستو په مېز خوشحالهٔ زمونږ خوراکونه وو
خولې مو خوږېدې په زنګېدو زمونږ سرونه وو
ماشو مخه نهٔ وو خرطومونه نشترونه وو
مونږ ترې خبر نهٔ شو چې ژور زمونږ خوبونه وو

ویښ چې زهٔ سبا شوم د چرګانو په بانګونو کښې
کوم چې پتلون پوش وو رانما شول په لنګونو کښې

خدای زده په پرتوګ څه فوقیت به وي پتلون لره
بنه څرنګه ورځې په سترګو کښې پښتون لره
لا به ضروري په کوم یو کار کښې وي ځوندون لره
لا به وي لازم د مغربي فېشن جنون لره
بل يې څه تاویل بغېر له دې زما په لب نشي
څه به شي په سیند کښې د هستې چې سرګب نشي

نقص د پتلون دې چې د شپې په کار بېدے نه شي
څو چې دا اونه باسي سرے اودس کېدے نه شي
څو چې کرسی نه وي پتلون پوش به کېنېدے نه شي
نمونځ پکښې شکل دے په سجده کښې سمېدے نه شي
غوره چې پښتون پخپل لباس کړو فرنګي لباس
بیا څه مناسب دي استعمال د پنجابي لباس

## ۲۳ اګست سنه ۱۹۴۸ ع

بیا راغلو لاړه ته چې د چاپو نه وزګار شو مونږ
پاتې سرو بے شه تري په وړاندې په رفتار شو مونږ
غر دلته بند په مخه راغے خبر دار شو مونږ
لار ورته وېتل نه دي په کار په هسې لار شو مونږ
بنکته مو له ویرې کتې نه شول کمرونه ووه
زړه مو ووېږد په کتو داسي کړېنګونه ووه

چرته په کړلېچ کښې به وُ پلن چرته نرې سړک

چرته به وُ غرهٔ په ټوکه پروت لکه ورې سړک

چرته به پوزه د غونډۍ وهٔ تېرسرې سړک

تللې په دې غرهٔ کښې په همت وُ ازمرې سړک

لنډه کنډهٔ سایه کښې ټوټوځل دا لارې شوله

بیا بې دمه پاس په یو کنډو کښې لهٔ خوارې شوله

ژٔپه پښتون کښې لا بد بد زکام وهلې وُم

نن مې ډېر خراب وُ پروني تبې نیو لې وُم

تنګ ورا په غاړه ادبي ټولي بللې وُم

بس خو بې سامانه دخپل کور نه راوتلې وُم

مونږ سره ملګرې فرنګې هم یو راغلې وُ

یو یې وُ ټبر چې هغه هم زکام وهلې وُ

ورانه چې لارې شوهٔ په کپ شپ خلقو بنا وکړه

کوز شو د لارې نه چا به هغه چا به دا وکړه

چا به چاپلوسي اوخوشامده د صحرا وکړه

دهٔ به واپسۍ کښې بهانه د تماشا وکړه

تېرې دوه کنتې شوې اخر جوړه مو لارې شوله

لاړه څهٔ قدر خولته بند ته په زارې شوله

وه يې کړه زبېښکه په يو پېچومي بيا حصار شو!

دم يې پاتې نه وه شور يې ورک شولو قراره شوه

پوهه شو پرې مونږ چې پاتې دا زمونږ له کاره شوه

څه به وايم مونږ ته لته بند د صراط لاره شوه

کوز انوارالحق شو رنګارنګ کتې يې غونډې کړې

پټې د حکمت خبرې ډېرې يې برېښنده کړې

برګه غونډې کته وه ويل يې چې مارسرې ده

اوګوره دا بله هګۍ د وله د کامترې ده

داچې زړه پرې خوږ شو معلومېږي چې سورزرې ده

دا برګه بې خونده غونډې دا تپوس وزرې ده

دا سنګ اسود او دا دوېمه زعفراني کته

اوويل دساچې دا بل سنګ سليماني کته

اووې مولانا دا مرغله پېين سپېځلې ده

اوويل حکيم خليق چې دا صفرا وهلې ده

وې انوارالحق چې دا بلغم غونډې چېلې ده

ماويل له ذهنه موسودا دسفر تللې ده

اووې هلالي چې دا يوه باغي مزاج لري

اوويل انوار چې دا دوېمه رنګ دعاج لري

ACKU

جوړه مخکښې تګ ته بیا لاړمو په ملاتړ شوله
اورسېدو سر دلته بندوته په چړ شوله
ورک ئې شور او زوږ شو په ارام شو په زوړ شوله
خلاصه د پش پش او د ډک ډک او د کړ کړ شوله

خلاص چې لته بند شو مونږ داخل په ملاعمر کښې شو
څه ښکلي مقام و چې ئې مخو په منظر کښې شو

څه ښکلې چینې وې کېبر چاپېر تړې ښکلي غرونه وو
پېغلې پېغلې ونې وې زلمې زلمې ښاخونه وو
پیاسو تېک وهلي په راتګ زمونږ لاسونه وو
ځائې په ځائې مارغانو اچولي اتنړونه وو

دلته چینه هلته چینه هر خواته لښتې لښتې
ورشه زیږو وړانګو کښې ئې اوکوره وختې وختې

چرته یوه ونه د اسمان سره خبرې کا
بله پرې دیاسه له ځغې هم سترې سترې کا
چرته اشتیاق د ننداري ئې نظر لرې کا
کله پکښې کېبر شي چې منظر هم زغرې زغرې کا

زړه مې راته وائي چې سحر وي لره شخړه وے
دلته دې وي چینې په خوا کښې مې جونګړه وے

ACKU

زړهٔ وے زما شمع ارمانونه پروانې نهٔ وې
يو د زلفو خيال وے منتشرې افسانې نهٔ وې
حال د وصل دا وے چې پرده د يارانې نهٔ وې
وخت زما چاکر وے او مرور د زمانې نهٔ وې

مسکه وے څوانۍ په دې منظر کښې د سحر په وخت
زړهٔ وے زعفران باره وے فضا د نماز ديګر په وخت

مخکښې شو روان چې اوس بټ خاک را نژدې شوے وُ
څو ملا عمر که اوس په ورستو پاتې شوے وُ
ځان سره هغه ښکلے منظر مې را وستلے وُ
ما سره ملګرے دے تر اوسه چې ملګرے وُ

او د ربه وُ بټ خاک کښې يو ساعت مخکښې روان شو بيا
لاړو باکرامې وته رسيد هغه زمان شو بيا

هلته مو ښتين او خادم دواړو استقبال اوکهٔ
څهٔ په خوږه ژبه ئې پرسان زمونږ د حال اوکهٔ
ډېر په تواضع او احترام کښې ئې کمال اوکهٔ
دې کمال د دوئ په ښو اخلاقو استدلال اوکهٔ

ذړونه ئې په لاس کښې را کول مصافحه څهٔ وه
ذړونه ئې زمونږ نه را ښکل معانقه څهٔ وه

بیا سره په ګډه د کابل په لور روان شو مونږ
هیر مو د سفر همه کلفت کړو خرامان شو مونږ
څه ښغله فضائی هم هواده چې ځوانان شو مونږ
ښار ته نژدې پورې غونډخه ته دانګران شو مونږ
مونږ ته شو ښکاره یو عمارت په غونډۍ باندې وو
نه وو مکمل تراوسه لا د تعمیر لاندې وو

شان یې په هغه کښې د افغان د جلالت اولید
ګویا چې مینار یې د ایثار او شجاعت اولید
ما یې هر دیوال کښې استحکام د دې ملّت اولید
هر یو خشت یې ما د حریت په حکایت اولید
ما چې پرسان وکړو هدیره د شاه نادر وه دا
یا نامکمله تمنا د شاه ظاهر وه دا

لاړو په هوټل کښې د کابل مو اقامت اوکه
مونږ د بسترو د پاسه ښه استراحت اوکه
خوب مو تر سحره د ارام او د غفلت اوکه
قدر په سحر کښې مونږ د دې ښکلي نعمت اوکه
نه وم په کمره کښې پښته شوې د انور سره
ګویا چې استوګنه وه زما د شور و شر سره

ACKU

## ۲۴ر اګست سنه ۱۹۴۸ء

نن د جشن ورځ وه چې راغلي دعوتونه وُ
مونږ ته یې راوړي څه چهاپ شوي کارډونه وُ
ښکته د کوڅې نه چې مې تللي نظرونه وُ
لاندې په بازار کښې راوتلي څه فوځونه وُ

راغلل لارې د وتو غږ راته رښتين اوکه
نن مو د هوټل نه بهر سبر تر نماز پښين اوکه

کښېناستو لارې کښې د چمن په لور روان شولو
لار کښې د ناوې وه سنګار ورته حیران شولو
مونږ به هغه وخت کښې چې مخلوق ته نګران شولو
مونږ وې چې رابښس جوړې د حشر په مېدان شولو

هلته مسلمنو لره ولاړې وې خېمې د خوند
هر شي تماشه وُ یو خوا بل خوا تماشې د خوند

یو خوا ته خېمې نظر راښکونکي سپین سپېڅلي وې
یا د استبداد په زړه پولې وې راختلي وې
بل خوا ته سرک د شاه سپرلۍ چې پرې راغلې وې
مونږه د خېمې نه په ښه شان سره لید لې وې

هېڅ نه شو ویلے د کور به په شکل یه کښې مونږ
ځاې یې کړلو تول د شهزادګانو په خېمه کښې مونږ

مخکښې تېرېدل زمونږ ټولې ټولي نوځونه وُ
کله به جنګي لارې وې کله به ټېنګونه وُ
هم اوکښلې تورې برېښېدونکي سنګینونه وُ
بیا راغلې څهٔ توپې چې ترغاړو ئې ګلونه وُ
مادووې رښتين ته دائې څنګه راويستلي دي
وې چې دابه جنګ د استقلال کښې دردېدلي دي

دادې هغه توپې چې په تېل ئې زړهٔ تش کړے دے
هم ئې په ډکه کښې فرنګے په مخه وړے دے
وس ئې چې ګوله وه د افغان د فضل زړے دے
قام د ښتانهٔ ددوي په زور غښتلے پړے دے
راغې شاهٔ ظاهر بیا په مونږ کښې په لوئے شانٔ سره
څهٔ ئې افسران هم کښېنولې وُ د ځان سره

فرش د خلقو سترګو په سرک کړلو سپرلې ته جوړ
زړونه کړل احساس د قومیت د خوشحالئ ته جوړ
واړه نظرونه په جلب کښې شو سیالئ ته جوړ
وخت په تېرېدو کاوهٔ ستم وهٔ پائمالئ ته جوړ
چیرته یو خوابل خوا شو لاشو خلقو ټک وهل
زړهٔ د دښمنانو د حسد په بټ کښې پړک وهل

ACKU

خوښ د پښتون خدائے زده چې تهذیب د فرنګ ولې دے
خدائے زده چې د مرګ شمعې د پاسه پتنګ ولې دے
جنګ دے د بقا نو په پردۍ تورۀ ننګ ولې دے
شته دے خپله توره خو راغلې پرې زنګ ولې دے
مونږ مسلمانان یو په تکبیر مو زړونه ښاد پکار
شاه ته د اسلام مخاطبه په "زنده باد" پکار

مونږه چې تهذیب هم د اسلام هم د پښتون لرو
حیف دے چې بیا مونږ د مغربي تهذیب جنون لرو
مونږ د اسلامي تهذیب چې ځان ته پوهنتون لرو
مونږ همه جهان لره طاقت د زړۀ راښکون لرو
مونږ بغیر له سوټ او بوټ له هیڅه پائید لے شو
هم د ږیرې بریتو سره وړاندې لارکولے شو

نۀ به کموي د پښتون والي جامه شان زمونږ
نۀ په ترقۍ کښې د بندېز کېږي ګمان زمونږ
نۀ شته ږیره شته، خو وي موچې په زنخدان زمونږ
بریت نشته که وي د پوزې لاندې دوه ځان زمونږ
حیف چې ږیره بریت د ترقۍ د لارې سد ګڼو
حیف دے چې اسلام ئې ښۀ ګڼي او مونږ ئې بد ګڼو

ACKU

رنګ د امتیاز دیو اوبل نه په هر مقام کښې وي
ځکه غیریت ده انسان په هر یو نام کښې وي
فرق د مختلفو ژبانو په هر یو قام کښې وي
فرق په رنګ د ګلو کښې په خواصو کښې په عام کښې وي
خپل رنګ چې بدل کړ هغه وے به خجل نه شي
ما ډګورکه لړې کاندې پوست رنګ ئې بدل نه شي

راغے په دې وخت کښې یو افسر په موټر ګذر وکړو
ترشو په همه ؤ بیا په ما ئې کلک نظر وکړو ؟
لاس ئې زما مټ ته کړلو بیا ئې شور و شر وکړو
سترګو ئې باران له ډېره قهره د شرر وکړو
وے قبائیلي، او په خېمه د شهزادګانو کښې
کار د عامي څه دے په دې غونډه د خاصانو کښې

ګرم نه ؤ افسر ځکه پګړه چې وه په سر زما
وه خو د خلیق هم خو په څټ کښې وو څادر زما
کوټ ؤ خو افسوس چې بې پتلونه وے د بر زما
بربټ ؤ خو افسوس نه ؤ په دول د مچ وزر زما
خلاص ئې له هغه کرم په دښتن درب کرم اوشه
دے چې تخیل ئې هم داهسې جام وجم اوشه

بیا مو حاضري د شاه نادر په هدیره وکړه
هلته مو د لوی شهید په حق کښې فاتحه وکړه
روح وته ئې ما په تصوّر مخاطبه وکړه
څهٔ مخاطبه وه ورته ما یوه ګیله وکړه
روح دې یو سبب دے نن سبا د پښتنو د ژوند
ولې دې رکونه پریوتلي د پښتو د ژوند

---

نن د معارف له وزارته وُ دعوت زمونږ
کړې مېلمستیا د دې غړې وه وزارت زمونږ
هلته مو نشتر اولید وزیر د حکومت زمونږ
ډېر شولو خوشحاله چې ئې اولید دا عزت زمونږ
ډېر محترمان وُ یو د مصر وُ وزیر پکښې
ډېر ښهٔ ملاقات وُ یو له بله وُ تقریر پکښې

نور نوموړي هم نجیب الله ډېر رابللي وُ
راغله چهل ستون ته په شهرت کښې چې غښتلي وُ
څومره چې کېدے شو مېلمانهٔ ئې ښهٔ نمانځلي وُ
ولې به دانهٔ وُ کوربانهٔ ئې چې ښاغلي وُ
هلته خارجه هم داخله وزیران دواړه وُو
هم د مطبوعاتو کهول او نوموړي واړه وُو

۳۲۴۴

کښېناستو ډوډۍ ته مخامخ راته يوځوان شولو
نهٔ مې پېژندلو په اردو ژبه ګويان شولو
ډېرئ له کړهٔ ورهٔ په شخصيت زما ګمان شولو
ما په استفهام ورته کتل هغه حېران شولو

پسته شو معلوم چې احمدشاهٔ بخاري هغه وُ
وُ د هندوستان درېيو چې باني هغه وُ

## ۲۷ اګست ۱۹۴۸ئ

ويښ چې زهٔ سحر شوم څهٔ خو درونډ وُ طبعت زما
شوې په بحران کښې د نکام وهٔ څهٔ صحت زما
کم د تېرو دوؤ ورځو په حقله وُ حدت زما
ځان مې کړو تيار چې وهٔ نمانځهٔ وته رغبت زما

مخکښې هلالي شو داړو نمونځ په جماعت اوکهٔ
بيا د سپهدار خان او مولانا مونږ زيارت اوکهٔ

ټول سره راجمع شو د چايو انتظار کښې مونږ
کښېناستو يو مېز ته يو قطار په بل قطار کښې مونږ
غږ د قدم واورېد د پيالو په کړنګهار کښې مونږ
خوش شو د کاشغر د پنجو په شرنګهار کښې مونږ

مونږ ئې لېواله وُ چې چائې به نا وخته وې
دوئ به مکلفې په مسکه زمونږ له بخته وې

ځینې خوشحالۍ لره تکلیف په ځان ورل ښه وي
بد شي چې عادت دې د عادت نو ماتول ښه وي
چا درته ویل چې د خپل نفس په نغوته تلل ښه وي
ستا په سرېتوب کښې چې تعمیر کړي هغه تل ښه وي
دلته موږ چې نه شو ماتولې په کابل شو مات
د ډېر خورد و نوش مو عادتونه یو تر بل شو مات

نن والا حضرت صدر اعظم غازي بللي وُ
ځکه د غرمې ډوډۍ ته مونږ ریش خور ته تللي وُ
څه ښکلي ګلونه په ګلباغ کښې غوړېدلي وُ
ټول پرانته په مزکه وُ ډېر ډېر چې خندېدلي وُ
غرض خپله لمن کښې د جنت ټوټه نیولې وه
یا په رنګینو حورو غلمانو جوړه کړلې وه

دننګ وُ چنارونه چې اسمان وته یې هپه کړه
چا به چې په پورته ورکتل خوله به یې ټپه کړه
لوړ وُ د مارغه نه د نظر به یې یوه ګپه کړه
بیا به ننداره د تماشبینو سترګه لپه کړه
نه په تماشه زړه موړېده او نه یې وار کاوه
سترګې مو ښکار کړې ننداره دې که یې ښکار کاوه



ACKU

څه په روڼ تندي واله حضرت مو استقبال اوکه
څه په خوږه ژبې پرسان زمونږ د حال اوکه
نمر وُچې خورون ئې په ذرو کښې دجمال اوکه
هر یو لکه بدر وُچې ځان ته مونږه خیال اوکه
مونږ ئې مخامخ کړو د سردار شاه ولي خان سره
کړو متعارف ئې مونږ سفیر د پاکستان سره

هم مو دویم ځل ملاقات اوشو د نشتر سره
هم پېژندګلو د پاکستان دچندریګر سره
هم په مرتبه کښې دهر لر او هر د بر سره
څومره چې حاضر وُ په ریښ خور کښې دهر سره
بیا چې مونږ جدا له تولو کښیناستو په خپلو کښې
راغے شو شامل واله حضرت مو په خبرو کښې

وې تاسو زمونږه مونږه ستاسو افغانان یو مونږ
یو مو ګلستان دے څه که ونګ په رنګ ګلان یو مونږ
نوک او داوری نشته بېلتون چې واصلان یو مونږ
یو زمونږ مذهب یو مو ملت دیو زبان یو مونږ
څوک به د پښتون دځان ځانه خبرې ولې کا
توان دچا رسیږي په کوتک چې اوبه بیلې کا

دادې تاسو کور دے که هر څو ددې نه لرې یئ
دا افغانستان دے یو هما تاسو وزرې یئ
دا لکه یوسیپ دے تاسو ټول ئې ملغلرې یئ
دا ګویا یو ساز دے تاسو واړه پرې سندرې یئ
شکر چې نن دلته ډېر ځا رائې آزاده ده
دلته د زړهٔ خونه په ضمیر باندې اباده ده

شکر چې نن تاسو هم جهان کښې سر اوچت لرئ
فضل دے د رب چې سرمایه د حریت لرئ
تاسو په هر قام کښې د ازادو حیثیت لرئ
دغه حریت د مساواتو ضمانت لرئ
تاسو لهٔ ازاده پاکستانه چې راغلي یئ
هم مو اوس ګڼم هم مې پخوا ورونه ګڼلي یئ

پس له یو ساعته د غرمې د ډوډۍ وار شولو
ډلې ډلې پاسېدلې مېز ته ئې رفتار شولو
تا به وې بلندره په مېز اوشوهٔ دندوکار شولو
ښرنګ ؤ د کاشغر د تالیو کړنګهار شولو
هر چا سره وه ښجه چاړهٔ او بل ئې پلېټ پهٔ لاس
ډېر ؤ داسې پاتې چې نهٔ پلېټ ؤ نه ئې هیڅ پهٔ لاس

ACKU

سخته د ډېلي وه فقط مېږ ته پهلوان رسيد
تش تالے په لاس ؤ ضعيف پاتې ورته څوان رسيد
ما هم کوشش وکړو ترهغې چې څو مې توان رسيد
ګرانه وه خبره چې به مېږ ته څوک اسان رسيد
ما وته نظر چې د غازي والا حضرت شولو
وې چې بسم الله کوه داځنګه دې حالت شولو

بيائې چې سردار نجيب الله ته اشاره وکړه
لارئې ما ته پرېښود له ذرئې کناره وکړه
مېږ ته شوم نژدې خو طبيعت مې ترا ره وکړه
نن مې په خپل عمر يوه نوې نندا ره وکړه
نن وم مجبور د مجلس پاس چې راد غاړې ؤ
تلخه تجربه وه چې خوراک مو په ولاړې ؤ

يو څېز غوښول په چاره بيائې په پنجه نيول
او بيائې په تالي کښې ايښودل او ځنې څک وهل
ورېژې په کاشغه خولې ته وړل د مرغه کبې کول
ورتې ورتې سترګې غړول او د مېږ و خوړل
دې مې هر ارمان چې لا به مړ لا به ژوندې اوسم
خدايه هغه ورځ کړې په نمرو چې کرندې اوسم

کله به وي دا چې پلټې په دسترخوان وهم
لپې لپې وریژې خورم په داړو چې چړکان وهم
دا خو ډېره ګرانه ده په پنځو چې دندان وهم
چې له دمغربي طاقت به زده نه کړم که ځان وهم
ما کل هغو ته څه هغوئې هغه به ما کول
بس خو هم هغه کول په کار وُ څه چې چا کول

کم چې شړنګهار او تندهار شو ګنګوسې شولې
زور د اشتها په کمېدو شو پسپسې شولې
بوږ شو یو له بله ګفتګوئې وړې نرې شولې
جوړې یو خوا بل خوا د مړې کېنې پارسې شولې
یو په پنځه غوښنه تومبلې په خبرو وهٔ
بل به په ښیلي کښې تش تالي ته په سندرو وهٔ

زهٔ وُم دومره سترې چې نور هلته اودرېدې نهٔ شوم
پاس وُ د مجلس په هغه ځائې هم کښېناستې نهٔ شوم
دروند رابانديې ځان وُ هغه ځائې کښې ټینګېدې نهٔ شوم
خېلې پښې مې یوړې تر کوسې که زهٔ ئې وړې نهٔ شوم
موږ د خوشحالۍ او محبت نه ملن ډکه کړه
کیف په حصار کې د اندېښنو چې جنړه لکه کړه

ډکه وه مینا د خوشحالۍ د وخت د جام سره
کام د مسرت مو اشنا شوی وو د کام سره
څکه مونږ جلب کوو د وخت د حړیو ګام سره
څکه چې اشنا ده زمانه د انتقام سره
تسلل ورسره بنهٔ وي راتیول د وخت پکار نهٔ وي
کوم دې هغه وخت چې په لستوڼي کښې ئې مار نهٔ وي

اوخت دې چې کوم وخت پرده د امن له مخ پورته کا
مخ د جهان وا ړوي له امنه د جنګ لور ته کا
خپله په امان له حوادثو دنیا اور ته کا
شور غونډې بهر له سینهٔ غونډ د جهان شور ته کا
مرګ د ماضي په مستقبل هیولاني کنه
حال ئې دې خونریز ښکښې ځواني ئې لافاني کنه

وي که په هر شان خوتل وکړي ته خپل قام بنهٔ وي
بد به وي که بنهٔ وي خو خپل قام سرهٔ ناکام بنهٔ وي
کم دې په قیمت وي له پردي جامه خپل جام بنهٔ وي
څوکه وي ویړیا پردو شرابو ته سلام بنهٔ وي
څوک چې د خپل قام په جمعیت کښې ځان فنا نهٔ کا
ژوند به د ښځې د انتشاره نه جدا نهٔ کا

زاړشمه له قام راسره صلح اوکه جنګ کوي
غېرچې راته لږ غونډې کاږه وکوري ننګ کوي
تل په بېلتانه د خپل جوهر اېنه زنګ کوي
توره چې په زور جدا له تېکي کاندې شرنګ کوي
چرته په بدن کښې راڅرګند چې لږ نقصان شي
واړه طاقتونه یو مرکز وته روان شي

داخوده ملّي جذبه فطرت د هر انسان کښې ده
دا په هر حیوان او پرنده په زور او ځوان کښې ده
دغه په مشرق او په مغرب په کل جهان کښې ده
دا په یورپي امریکني هندي افغان کښې ده
ما به کله کله هندوستان کښې چې پښتون اولید
ګویا چې لیلیٰ د تمنا به مې مجنون اولید

نن سبا کنټرول چې د اشیاوُ هرې خواته دے
راز هم پکښې دادے چې خپل قام غوره هر چا ته دے
کله شي خپل نن چې منتظر د غېرو ساته دے
بل مریض به څه کړم احتیاج چې ستا دوا ته دے
تل له خپله قامه په هر قام کښې انبیاء راځي
حکم د ایتاء د صدقې په اقربا راځي

ACKU

ژړونه هم ګړون کوي د وینې د ګړون سره

څرنګه چې ګړه سیاهي وي د مضمون سره

اخلي هر صافي رڼا د نمر د راخښون سره

داخو وي ژوندون چې اتحاد کړي د ژوندون سره

زړه پردي ژاړي که چرته مړه شي زړه پرې سوځنه کا

څوک دے چې دخپل ځې سرخوږ شي بانديې دے نه کا

راځې غلو واپس دامو د خیال څنګه عزمه وه نن

لار نه وه د غم د خوشحالیو سلسله وه نن

ځان مو کړو تیار چې پاتې لا بله جلسه وه نن

شپې نه ډیرو کښې د کابل مشاعره وه نن

ډېرئ د خواهش داورید واله حضرت کړے

چا ورته زمونږ د وینااو و صفت کړے

لږ غونډې ایثار د پښتون کور ودانه ولے شي

وي که روادار د نور نه نور ودانه ولے شي

څه خو په رضا او څه په زور ودانه ولے شي

مات چې لور د بغض کړي هر لور ودانه ولے شي

نن په بوکینډلي زمانه کښې چې بېدار نه شي

بیا به تر قیامت دارتقا په سیخه لار نه شي

تېر شو یو ساعت تمه وېنا د شاعرانو شوه

راغله په سکون کښې څه وېنا د شاعرانو شوه

ډېره ښه پوره چې مدعا د شاعرانو شوه

یو بل ته په سترګو کښې وېنا د شاعرانو شوه

پوره ته شو رښتین صاحب په دې باندې تقریر اوکه

څرنګه تقریر ؤ خو په زړونو ئې تحریر اوکه

ډېره ئې زمونږ شکریه په کښې ادا کړله

مینه حقیقي ئې د پښتون پښتون بنا کړله

خوله بیا مولانا عبدالقادر په جواب واکړله

جوړه د کلام ئې په مخصوص انداز بنا کړله

د اسلامه دوستي چې په خصوص افغانستان لري

ډېر څه تشکر او ډېر احساس ئې پاکستان لري

## ۲۸ اګست سنه ۱۹۴۸ء

نن د ادیبانو فاکولټي له لوړ بلنه وه

بیا په چهل ستون کښې د غرمې زمونږ ټولنه وه

زور د زکام نه ؤ په فرحت زما وتنه وه

سیمه د کابل مې په نظر کښې دنیا پلنه وه

لاړو په لارې کښې د رښتین په بندوبست سره

ناست انوارالحق او خلیق بیا په یو نشست سره

ACKU

ښکاري چې د دوئ معاشقه په دې سفر کښې وه
نا سته پاسته یو ځائے په نمانځام او په سحر کښې وه
زۀ دې ته حیران ومه سودا زما په سر کښې وه
داسې زړۀ راښکنه به دکوم یو په نظر کښې وه
پۀ پرې پوهان هم نۀ وُ چې کوم ډه ګډۀ دوغه ده
مینه ئې مشتقه له شودو او که لۀ دوغه ده

نظم د بیتاب ښخوا د هر څۀ نه ګویا اووې
بیا څۀ نجم الدین هم د پښتو لۀ ارتقا اووې
ډکې وې د علم او ادب نه چې هر څا اووې
بیا خو دې خیرې چې زمونږه مولانا اووې
څۀ قابل افراد وُ د پښتو ټولنې هم په کښې
وکړې مولانا څۀ د مغوئې ستائنې هم پکښې

لا د ادب مالګه وه د ذهن په زبان زمونږ
خوند په رنګینو د سخن کښې وُ چشمان زمونږ
او شوله ناسا په طلبې په دسترخوان زمونږ
مونږه ورسپې رانه وړاندې شو مېزبان زمونږ
نن مو د ادب چکښې نصیب شوه د طعام سره
روح او نفس مو دواړه وُ یو ځائې پۀ انهماک سرۀ

نن مونږ هوټل کښې څه د خوند ډکه جلسه وکړه
ځوانو ادیبانو د کابل زمونږ سره وکړه
مونږ د پښتو په رسم الخط مباحثه وکړه
هر سړي تر اوسه په تحقیق کښې بندُ شبهه وکړه
دوئ کښې بېنوا ؤ هم رښتین او تسلیمي پکښې
هم الفت خادم ؤ وهم اخلاص او کشککي پکښې

څومره وه فصیحه د رښتین او بېنوا ژبه
بیا مقابله کښې د خلیق او مولانا ژبه
کمه د بیاتي نه پکښې نهٔ وه هم زما ژبه
توره شوه په شرنګ کښې د الفاظو درسا ژبه
کوم وخت چې انوار به لغتي ژبه برخېړه کړه
مونږ نه سلسله به ئې د شوي تحقیق هېره کړه

بحث چې په "ے" ؤ لر او بر ته ئې ما خیال اوکهٔ
یو محمد نور او بل رښتین پکښې کمال اوکهٔ
کله به خادم په دعویٰ خپل استدلال اوکهٔ
کله پکتیانی به په بل اړخ کښې جنجال اوکهٔ
کله به الفت په اختلاف کښې منځګړی شو
ولونه به ئې دواړه سره یو کړل جوړ به پرې شو

اووت اختلاف د رسم الخط مزکه هواره شوه

شکر کوندې ته د پښتو ادب تیاره شوه

اوس فضا د ذهن د غبار څخې اوزګاره شوه

اوس د پښتو ژبه د همه پښتون دپاره شوه

لاړل ذور او زیر او پېښې ترې خرپه خندا پاتې شو

سوزې د له رشکه چې همزه یوازې پاتې شو

یو چې دے پښتون نو رسم الخط دې جدا ولې وي

روح د یو مضمون کښې اختلاف د معنی ولې وي

بل به په یو لار کا خو زبان دې خطا ولې وي

ژبه چې یوه ده مخالفه د بنا ولې دي

هر څوکهٔ محل ځي د وقوع سره جدا لري

بیا هم اشتراک په مرک او ژوند کښې پښتونخوا لري

ژوند د انفراد که هر پښتون جدا جدا لري

هم په سیاست کښې اختلاف سبا بېګا لري

هم وفاداري د خپل ماحول مدام روا لري

بیا هم ورته وائي کهٔ خطا یوه خطا لري

ژوند د جمعیت ځي د فطرت صورت نیولے دے

هر چرته چې وي خو په یو تار سره تړلے دے

بیا دارالفنون ته شو روان په نماز دیګر کښې مونږ
ورک موکړو کړاوُ چې وُه راښکلے په سحر کښې مونږ
بیا کړل ښخواني عمارتونه په نظر کښې مونږ
زر شو را واپس نهٔ شو حصار په رهګذر کښې مونږ
مونږ لره نن بیا اتهٔ بجې دشپې بلنه وه
بیا په چهل ستون کښې مقرر زمونږ تولنه وه

کوم د پاکستان ځني لوبغاړي چې راغلي وُ
هلته وزارت د معارف همه بللي وُ
څهٔ په دوستانه فضا کښې واړهٔ کښېنیدلي وُ
ګویا یو د بل سره ټول زړونه لګیدلي وُ
ښهٔ وه چې تقریر یکښې کفیل د معارف اوکهٔ
زړهٔ مې د پښتون ته هسې غږ یکښې هاتف اوکهٔ

بیائې په جواب کښې مولانا دُر فشاني وکړه
ژبې ئې د سیند د موج په مثل رواني وکړه
څهٔ ښهٔ تبصره وه چې قابل پاکستاني وکړه
ګویا پسرلي د رنګینیو ارزاني وکړه
قام چې دې یو وي هم مذهب هم ئې یزدان وي یو
نشته غیریت چې بیا دې دوارو زبان وي یو

ACKU

یو د قومیت او رورولي ده د مذهب بله
یو خو دیووالي د رواج ده د نسب بله
هم د تمدن او هم د علم او ادب بله
هم په حیثیت کښې د انسان په دې سبب بله
ته چې مسلم وې ترقي د مسلمان غواړې
پښته چې افغان وې هغه خېر د افغان غواړې

نن له دواړه لوریه د ګیلو قصو باران اوشو
کار د صفایې د پاکستان افغانستان اوشو
شکر چې د دواړو تسلی لره سامان اوشو
ګران په ابتدا معلومېدلو خو آسان اوشو
ښه وه د خیالاتو چې ترمېنځ تبادله اوشوه
څه غلط فهمي چې وې د دواړو ازاله اوشوه

## ۳۰ اګست

ورو ورو جذبات شاعرانه بېداریدل زما
څومره چې حواس په دې ماحول کښې کاریدل زما
ذهن کښې څه نوي مضامین تیاریدل زما
څومره چې حصار د وهمونو د پر اوپاریدل زما
یو شعر مې هم لیکلے نهٔ شو په کوشش سره
نکړه تخیّل مې ملګرتیا څهٔ د بندش سره

ذهن مې ګولو د ماحول څخه تعمیر نوے
نوې څهٔ کړېده وي جوړېدلو ترې زنځير نوے
ذوق مې دا وېيل چې دلته بنائي څهٔ تحرير نوے
نطق وه په ضد اړومرو دې وي تقرير نوے
اولرې د وارو ماحولونو کړه ګډون سره
دې ردّ عمل کښې د مضمون نه شو سمون سره

څهٔ د زکام زور وُ څهٔ هوا کښې تبديلي اوشوه
څهٔ خو په سفر کښې په نازک احساس يخني اوشوه
ګرم پټي کوټه کښې لته بند کښې مو يخني اوشوه
چرته چې دمه اوشوه هغه هم سرسري اوشوه
ذهن نيولې په بندش کښې وو افکار همه
ګويا چې عامه صحت زما ته وُو حصار همه

تن مې په صورت کښې د قطعو چې څهٔ اشعار ليکل
شوق مې وُ د ليک خو طبيعت باندې مې بار ليکل
بيا به مې حالات د سفر واخستل تار تار ليکل
يو ته برابر نهٔ وه ما به وار په وار ليکل
لورې ته به ما بيا د الفت عالي افکار کتل
کله د کړکۍ نه به مې خلق د بازار کتل

ACKU

نفس لره په داسې حالاتو کښې قرار نهٔ وي
کار ته چې زړهٔ کیږي اراده چې وکړي کار نهٔ وي
ذهن د خیالاتو د امدٔ ځنې اوزګار نهٔ وي
څه چې ترې طلب کړي د رکولو تر تیار نهٔ وي
څو چې د عجب غونډې شیانو ننداره نهٔ کا
نفس به په دې حال کښې اطمینان چرې ښکار نهٔ کا

کارٔ د قدرت چې اطمینان لره کار سم شولو
لاړو موږ یم ته د کابل لرې مو غم شولو
کوم چې کشمکش زما په ذهن کښې وُکم شولو
دم د تخیّل غرځنې واخست ورک پې دم شولو
ما چې د ملّي شیانو هلته ننداره وکړه
زړهٔ ته دې منظر د اطمینان څهٔ اشاره وکړه

څهٔ په کښې خطوط وُ پخوانی څهٔ لباسونه وُ
ډېر په کښې " نایابه " قلم ښکلي " کتابونه وُ
" حال " چې پرې مُسکے وه د " ماضي " هغه نقشونه وُ
هم د مستقبل استفادې ته سامانونه وُ
ما ته مخامخ د تمثیلونو سلسله شوله
جوړه د ماضي زما په ذهن کښې نقشه شوله

څرنګه ورو ورو د ارتقاء چپه روانه ده
څو څو ځله ورانه د دنیا شوې چې ورانه ده
نن چې ده ودانه چې سبا ئې ګوري ورانه ده
عمر کښې زړه ده په سنګار کښې ایله ځوانه ده

کار چې د ترمیم او د تنسیخ چې دے روان پکښې
لا خو ئې تعمیر دے د کالبوت نښتے د ځان پکښې

مونږ په حیرانتیا چې ګورو دغو لباسونو ته
دغو کتابونو ته دې تورو ته دالونو ته
اوس مو فکر شو ګویا خپلو نقصانونو ته
اوس مو فکر تللې پښوانو خپلو ځانونو ته

مونږ وو پښوا د اسې اوس له هغې مونږ په دنګه یو
مونږ لره باید چې فکر وکړو بیا به څنګه یو؟

فکر دے په کار چې وي به څنګه مستقبل زمونږ
حال خو ضروري دے چې له دې به وي بدل زمونږ
وخت به وي سره د ضروري ماحوله مل زمونږ
بنائې چې د وخت د پل نه لرې نه شي شي پل زمونږ

ژرنده د هستۍ خو ده روانه دریدے نه شي
څې دانه تیرک ته دي چې هلته وریدې نه شي

ACKU

قام لکه اسمان کۀ سرګردان وي خو ځان برلري
ژرندۀ په خپل کار کښې مېرېنه وي چې محور لري
ګل په پرېشانه کښې جمعیت لکه دفتر لري
بوۍ د زړم په حال کښې هم د ګل په غېر کښې سرلري
قام شي هله قام چې چورلیدل ئې په یو لوري وي
چې د یو نظام د لاندې نمر قمر کۀ ستوري وي

مونږ د اقتدار د تسلسل او بد د نخښې اوکوت
مونږ د هر بادشاه په مونږیم کښې چې تصویر اوکوت
شان د بې نیازۍ او دستم مو د تقدیر اوکوت
رنګ د بې بسۍ ئې مونږ په مخ کښې د تدبیر اوکوت
یو د دوئي په منځ کښې دوۀ تصویر د امان هم ولاړ
شکته ورته زۀ د حیرتونو نښان هم ولاړ

هغسې لاځوان دوۀ د تعمیر جذبه ئې ځوانه وه
هغسې ئې توره په پهلو کښې اوېزانه وه
هغسې جذبه د تربګنۍ ئې مسلمانه وه
هغسې نرنګ ته ئې له قهره ګوته ورانه وه
هغسې ئې سترګې د افغان د مینې شمعې وے
هغسې ئې کښې لا د ملت د تعمیر طمعې وے

ACKU

ما ورته د خیال په ژبه اوویل چې تللې یې
قام درنه خفه نه دے وختونو ته رټلې یې
څرنګه چې وې دښت په حقله پښې سېځلې یې
ته د فیرنګي د پالیسۍ چېو وهلې یې
پاتې چې کوم کار په نیمګړتیا کښې دے پوره به شي
پاتې چې لتا په حیرانتیا کښې دے پوره به شي

کارخانه په تعمیر کښې د افغان چې پوړ چا کړے
بیا د پښتونو نه پس هم دېرو دے سوا کړے
هېر مو هغه نه دې چې بخیل وخت کښې هم تا کړے
پس د تا چې راغلل هغوئ هم دے په رښتیا کړے
اوس یې د تکمیل د پاره ښه او ورځ دعا کوه
څومره چې کولې شي له هغې هم سوا کوه

ښه مقتدر هغه دے چې غوره کا اقتدار د قام
سر چې کړي قربان د قام نه وي هغه سردار د قام
ښائي د هغه سره یو رنګ چې وي کردار د قام
کار یې د سردار وي هم هغه چې یې وي کار د قام
قام او د سردار د خواهشات سره خلاف نه وي
متن حاشیه چې وي کردار به ولې صاف نه وي

ACKU

نمر د نماز یگر چې په خیالاتو زرباري وکړه
زیړو پلوشو په دیوالونو ګلکاري وکړه
دلته مونږ د وخت د بې فکرۍ سره یاري وکړه
هلته په ګلباغ کښې کوربنو طلبګاري وکړه
مونږ له هیبته د ربنتین په صدا پورته شو
کښېناستو لاړو کښې مونږ روان د ګلباغ لور ته شو

هلته عصرانه وه مونږ ئې هم پکښې بللي وُ
ټول د پاکستان لوبغاړي هم پکښې راغلي وُ
څه وو د بلوچو ادیبان همه ښاغلي وُ
ورغلو ګلباغ ته څوا هم چې ورته تلي وُ
کړه صدر اعظم مصافحه د هر میلمه سره
څه په ورین تندي په تواضع او په خندا سره

څومره په ښه ښان یوله بله تقریرونه وُ
بل د ښه جذباتو څرګند روښانه مثالونه وُ
ډېر ښه ترجمان د دواړو زړونو ژبانونه وُ
داسې ژبانونه ښکاریدل چې ګویا زړونه وُ
وې صدر اعظم چې پاکستان دې برادر زمونږ
ورور مو د مذهب دے هم ازاد دے برابر زمونږ

ACKU

وې اووه بجې چې اختتام د عصرانې اوشو
ثبت ئې په تاريخ کۀ ورته زړۀ د زمانې اوشو
څۀ رنګين تقسيم نن د افغان د ميخانې اوشو
کار د محبت په مے، د زړۀ د پيمانې اوشو
زړونه مو مشغول وُو د تيرشوي نمازيګر سره
سترګو مو په لار کښې مخ بښه کړه د منظر سره

راچې غلو هوټل ته زۀ کمرې ته تېرېدلمه
بېرته ئې وُ ورپه جمع زړۀ ننوتلمه
ناڅاپه يوغيب شو له پنډۀ ئې اونيولمه
خيال مې وُ داوبۀ پښاسپي څنګه اوخوړلمه
بجه دغه هوټل په دغې ځائے کښې د سپي نوم نۀ وُ
دا د مېز دلاندې څنګه ما ورته معلوم نۀ وُ

شاته چې مې اوکتل د مېز لاندې انځور وُ پيشو
څه چپه چپيا کښې داپېکر د شور و شر وُ پيشو
پښې ئې ښکارېدلې لا زما ځنې ئې سر وُ پيشو
لا په غورېدو وُ چې زمانه ئې نظر وُ پيشو
بيا چې رابهر شو لا ئې جوړه تماشه کړله
ما ورته بد بد غوندې کتل او دۀ خندا کړله

## ۳۱ اگست ۱۹۴۸ء

لا کچه غرمه وه چې راجمع ادیبان شولو
بیا د رسم الخط په سلسله سره گویان شولو
اووت اختلاف د منځه واړه یک زبان شولو
لرې کړ لیکونه شول په ښغ سرک روان شولو
کوم مسلمات چې وه پرې ثبت مو دستخطونه شول
شکر سره یو چې د پښتو نمونې خطونه شول

یو چې رسم الخط وي اختلاف له ژبې پورته شي
مینه د تعمیر د مناسب نقش نه کورته شي
خیل لور ته چې پاک وي نظرونه هر یو لورته شي
نقش چې کامل وي اشتیاق ئې خودا مخورته شي
رنګ چې د وحدت په ګلستان کښې د زبان راشي
کړې د جمعیت نامه پرې د ترکه بلبلان راشي

جوړ شي ترې وحدت د خیال چې خط سره د چا شي یو
بیا د خیال وحدت د ډېرې ولې لکه دریا شي یو
بیا د دې دریا واخله بهیر چې هر څه خوا شي یو
رسي سمندر ته د مراد چې په رښتیا شي یو
څوک ئې لکه جز وي خو د کل په حیثیت کښې وي
ځکه چې د فرد هستي فنا په خیل ملت کښې وي

جُز چې کلیت نهٔ لري کل به را پیدا نهٔ شي

کُل چې جزیت نهٔ لري جز به پرې ښکاره نهٔ شي

قام چې هر یو فرد لکه د ځان ګڼي فنا نهٔ شي

فرد دے هغه څهٔ؟ چې په احیا د قام فدا نهٔ شي

د غه اتحاد کهٔ په زبان او کهٔ په قام کښې وي

ژوند دے د غه ژوند دے که په خاص او که په عام کښې وي

ژوند غواړي محل خو چې محل کښې ځان ځاني نهٔ وي

داسې جمعیت چې په هغه کښې پریشاني نهٔ وي

نهٔ هغه اوبهٔ چې په هغو کښې رواني نهٔ وي

بیا هم رواني هغه په کار چې طوفاني نهٔ وي

ژوند له هر محله تناسب او تسلسل غواړي

بوټي الکاهو د پسرلي په وړش کښې کل غواړي

ژوند هله کېدے شي چې مرکز لري محور لري

ستوري چې په یو نظام روان دي زور د نمر لري

سمع که شامه که ذائقه که څوک نظر لري

بیا که لامسه حافظه فکر برابر لري

دے مشترکه حس او واهمه ده که دے خیال د چا

ذره ئې چې مرکز نهٔ وي را تلے نهٔ شي کمال د چا

هر کله حواس چې متحد نهٔ وي د ذرې سره
او وايه ژوندون د دې وجود به وي د څهٔ سره
ښائي چې خپل ژوند د پاره وار وي خوانهٔ سره
راکه شي په جمع با ندې او نغمې خوانهٔ سره
خو ښ د نوک او رې چې تر څو پورې خو ښ د زړهٔ نهٔ شي
خو ښ د زړهٔ به څهٔ وي چې حواس پرې ټول او ښ نهٔ شي

حيف دے چې قامونه د پښتون دي نن سبا جدا
څهٔ ښکلي لفظونه ښکيدلي د مضمون جدا
هېرې قوميت دے له ليلىٰ لکه مجنون جدا
ګډې ېې جدا دي هم شپېلۍ ښکاري له شپون جدا
دا له کومه وخته له مذهب چې جدائي کړے
يو د بل دښمن دے دريه درې ګډائي کړے

څرته ناموري چې راپيدا شي پکښې مړې کا
څرته بر ښېښه لے خيالونه چې راشي خړې کا
زور چې څوک لري که ناروا او وائي ورې کا
وي که نمرد علم چې طاقت نهٔ لري پېړې کا
تل د غه حواس دي بې محوره ځاځانې کښې خوښ
ګويا جمعيت دے د دې قام په پريشانۍ کښې خوښ

ACKU

شک نشته په دې کښې چې مرکز دے د افغان په کار

بیا د دې په پورته دے مرکز د مسلمان په کار

روح د دې کالبوت وته تعلیم دے د قران په کار

بیا د دې جوړونو چې پیدا شي یو کاروان په کار

څو چې د افغان له ډېرو لارو په یو لار نه شي

خدائګو چې مذهب او قومیت ته به وزګار نه شي

ویره د تهذیب نه د اسلام د انګریزانو وه

هم د جرمنیانو جاپانیانو د روسیانو وه

هم د امریکنو هم د هند د مشرکانو وه

بس د کل جهان د ملحدانو کافرانو وه

ټول شول ورته یو د مسلمانې جمعیت که مات

تل چې بوکښېدل ترېنه هغوئ هغه قوت که مات

کوم چې ئې کړیوان د جمعیت و تار په تار ئې کړه

کوم چې په یوه لار روان و لار په لار ئې کړه

کوم چې په دنیا کښې دولتمند و هغه خوار ئې کړه

مینه ئې ترې واخسته له یو بل نه وېزار ئې کړه

مینه د ترکي له ایراني او افغان پورته شوه

هم له عربي شامي مصري مسلمان پورته شوه

نن که فلسطین په غم کښې کېږي دایران پرې څه
نن که په ترکي باندې یرغل وي د افغان پرې څه
نن که فنا کیږي شام عراق د پاکستان پرې څه
غم که په کشمیر وي د عالم د مسلمان پرې څه
نشته چې مرکز يې په مسلم کښې ځان ځاني شوله
هر یو خبر د ځان غواړي داسې پرېشاني شوله

ګویا چې یو ځان بخواله دې د مسلمان نه وُ
ګویا چې په لاس کښې يې زمام د کل جهان نه وُ
ګویا چې له دې بخوا په یو سرک روان نه وُ
ګویا چې پرېشان وُ یو په بل باندې قربان نه وُ
اوس که مسلمان شته دے مذهب او هم ملّت يې کوم!
ډېر دے بلا ډېر دے خو پرېشان دے جمعیت يې کوم!

دغه ورځ ژړله افغاني جمال الدین زمونږ
مونږه خندېده ورپورې نه کېده یقین زمونږ
مخ مو تو د جهان ته شو خو زړه نه شو سپین زمونږ
ځکه چې له لاسه ده بهر "حبل المتین" زمونږ
مونږ چې چا ترلو اساني وه لاس تے بند نه وُ
پاتې په کالبوت کښې د ملّت زمونږه ژوند نه وُ

ACKU

پوهه چې مسلم شو اوس مې روح د سیاست تلے
کړې شولم په دام د استعمار کښې حرکت تلے
هم هغه قوت او شجاعت او اخوت تلے
یعنې حوصلې دي د همت نه حرارت تلے
طمع د رهبر چې شوه پیدا پاتې په لار کښې شو
اوس متوکل شو د مهدي په انتظار کښې شو

نه راځي مهدي چې هدایت ته تمام تیار نه وي
میو ته هرګز اشتیاق نه وي چې خمار نه وي
هلته ائینه شي د کتو چې پرې زنګار نه وي
تګ ته پرې زړه نه کیږي چې مخکښې سمه لار نه وي
مونږه چې ترکومه هدایت لره قابل نه شو
چرې به په عمر د مهدي سره واصل نه شو

څوک چې د مېلمه په انتظار وي انتظام کوي
واره ضروریات پوره کوي سبۀ ورته پام کوي
فکر د مینا او د صهبا کوي د جام کوي
حرج نشته بیا که انتظارئ پاس له بام کوي
کور کښې چې څه نه وي د مېلمه طلبګاري عبث
داسې وچ په وچه د کور به انتظاري عبث

راشي مهدي چا لره چې مونږ مسلمانان نهٔ يو
راشي څهٔ دپاره بيا چې مونږ کافران نهٔ يو
چرته جمعيت دے اے که مونږ پرېشان نهٔ يو
وي انسيم که نهٔ وي په داڅهٔ چې مونږ کلان نهٔ يو
خيال د طبيب څهٔ دے چې په مونږ کښې څهٔ مرض نشته
هم يو رنځوران خو په دارو زمونږ غرض نشته

ستړکو کښې د وخت مونږه مهمل غونډې لفظونه شو
نشته معاني مو و نظر ته حېرتونه شو
فهم ته که ورشو په معنیٰ به چراغونه شو
مونږ به د حالاتو پروانو ته مشالونه شو
وائي چې بخوا له مهدي مونږ په يوه لار خو يو
بنائي چې دنيا د امتياز کښې يو قطار خو يو

مونږ چې دين ته شاکړه زياتت قوت د استعمار شولو
پرې موکمزلو خو منکور سرمايه دار شولو
ورک جمهوريت شو شخصيت په اقتدار شولو
حيف چې بنکلے دين د دُ دُنئ دنيا نه ځار شولو
بيا ئے سر شو پورته بو کښېد لے د هريت چې وُ
راغے په قالب کښې د حيوان انسانيت چې وُ

موږ یُې ذمه دار یو راپیدا کمیونزم چې شو
دا د خوشحالۍ قدر موږ نهٔ وُکړے غم چې شو
خود راغلې تیرې زموږ په زړو نوکښې نور کم چې شو
ولې خفه کیږو زموږ غیرو ته سر خم چې شو
موږهٔ چې اسلام کړلو ناقص ورته دنیا اووې
هیڅ قصور یُې نشته ترې ځوا چې ما او تا اووې

اوس کهٔ په دنیا کښې یو مرکز د مسلمان نشته
څهٔ ګله په کار چې دهندې او د افغان نشته
ځان ځان ته که ګل وې پرې نامه د ګلستان نشته
دے ته که باران وائې دا پرخه ده باران نشته
ځان ته کهٔ ژوندے وې کوم یو قام هغه ژوندنهٔ دے
څوک وائې د غیرے په ګردن کښې غړوندے نهٔ دے

نشته دے مرکزے چرې ځان ته پائیدے نهٔ شي
څرګندې زور اور د اقتدار نهٔ خلاصیدے نهٔ شي
هم د خپل ضمیر په آواز کار ته پاڅیدے نهٔ شي
واړه ناپکار وي دیو بل په کاریدے نهٔ شي
بیا سره ددې هم وي خپل قام دپاره کارپکار
څومره چې کیدے شي په دې کار کښې وي ایثار پکار

ACKU

لا خو د پښتون وینه تل جوړه د قیفال وته
لا به وي محتاجه د علمي ستنې ادخال وته
لا خو ئې جزا راغې نهٔ دي اتصال وته
لا خو تطابق ئې راتلل نهٔ غواړي اشکال وته
تېرې شوې پېړۍ چې د پښتون نه شو داوي بدل
بنائي مېړني زلمي چې زړئ کړي تقدیر بدل

څوک چې مسلمان وي تقدیرونه بدلوے شي
بیا چې پښتانهٔ وي تحریرونه بدلوے شي
رنګ کښې د ژبې مو زنځیرونه بدلوے شي
شکل د ژوندي کښې تصویرونه بدلوے شي
ژبه د پښتون بیا د مسلم ده د رحمٰن ژبه
نهٔ شي کېدېدے ترې په تقدیر کښې د اسمان ژبه

توره شجاعت او سخاوت دے د پښتون صفت
عفوه عنایت او صداقت دے د پښتون صفت
هم وفا سخا او امانت دے د پښتون صفت
بیا څرنګه خدایه جهالت دے د پښتون صفت
څرنګه دا یو صفت غالب په دغو نورو دے
دا شوله معلومه چې بنیاد ئې د نسکورو دے

ځو چې جهالت يې لري نهٔ شي سخاوت يې څهٔ
ځو چې بې علمي تري ورکه نشي شجاعت يې څهٔ
ځو چې وي بې علمه صداقت او عنايت يې څهٔ
ځو چې بې خبره وي وفا او عنايت يې څهٔ
روند که ډېر هوښيار وي کړ ليچو به کوتک وهي
بيا هم لازمي ده دا خبره چې تيندک وهي

دغه بنيادي خامي محسوس چې امان کړله
جوړه اراده ئې تربيت ته د افغان کړله
داوه چې يې خپلو پښتو لره سامان کړله
څهٔ ښکلې استوګنه يې په قام باندې قربان کړله
دغه وه جذبه چې دهٔ د وخت مخالفت وکړو
ځکه پښتنو هم دغهٔ ته بغاوت وکړو

بيا تر ډېره وخته د تعليم نه افغان پاتې شو
ډېره موده داسې سره مشت او ګرېوان پاتې شو
ما ته ائينه د ترقۍ شوه حيران پاتې شو
لاړ يې جمعيت لکه پرېشان و پرېشان پاتې شو
وخت د سقاؤ لږ وُه خو د علم اب يې لرې کړو
بس ديو کنجکې يې قيمت و ملغلرې کړو

شکر چې نن بیا په ښه معیار کښې مکتبونه دي
مفت دے چې ورکیږي جاري شوي تعلیمونه دي
ځې د وخت د تنګ سره مکري ئے وختونه دي
هیر د زمانې نه هغه خپل انتقامونه دي

داسې معلومیږي ابوالوقت دے حکومت دغه
زر تر زره واکې به د وخت داخلي ملّت دغه

ډیر شو پرې خوشحاله چې لیدلې مکتبونه مونږ
هم ئې په معیار کښې ښه ځیر کړي تعلیمونه مونږ
یا خو د افغان د ترقۍ کتل خوبونه مونږ
یا ئې په تندي کښې د زلمیانو تعبیرونه مونږ

بیا سره د دې هم څه ډیر قدر د پښتو نشته
یا خو په قسمت کښې ترقي د پښتنو نشته

ځانته یو کالج دے چې زده کیږي فرانسیسي پکښې
بل داسې موجود دے چې نصاب دے انګریزي پکښې
شته دے سنسکرت او عربي او هم ترکي پکښې
بله ده فارسي چې دے نصاب ئې لازمي پکښې

اوس د پښتو هلته لازمي حیثیت نشته دے
ګویا په پښتون کښې لا صحیح ملیّت نشته دے

څوک دے چې به وائي چې فارسي ده دافغانڅ ژبه
راغله په یرغل کښې دې طرف ته د ایران ژبه
ښه ده او شیرینه ده اوهم د مسلمان ژبه
نه ښائي چې داوي د افغان "علم سامان" ژبه
نور نه شم لیکلے روانې موده یغمان لره
ګویا په دنیا کښې د کابل لاړو جنان لره

څه کښلې تروته ده د جنت چې په درو کښې وه
یا هغه جلوه چې د حورانو په ککو کښې وه
یا هغه خنده چې د غلمان په لبو سرو کښې وه
یا هغه حیا چې د ښایست په اننګو کښې وه
روح په مسکېدو د حسن بن سباح پکښې
غېږ اوکه احسا چې ولې مے نه وي مباح پکښې

ګلکې نظارې وې په وفا کښې د یغمان سره
کړې ستړمشي په قدم کښې د چشمان سره
لبوچې خوشبویېدو د ګلونو د دامان سره
ګویا چې وغاړه غړیده امن د انسان سره
ځائے په ځائے تېلو ته که جرګې ناستې د ګلو وې
پلنې پې لمنې په شرشرو کښې د بلبلو وې

لړزنده پسرلي مو په ځګر کښې د پغمان لیدل
مسک مو جنتونه په منظر کښې د پغمان لیدل
مونږ د رنګ وبشونه په وُچ غر کښې د پغمان لیدل
مسک مو سحرونه نمازیګر کښې د پغمان لیدل
ټال د نوښاخ وُ شبابونه زنګېدل پکښې
هره کلی داسې وه چې زړونه زنګېدل پکښې

ذوق مې د سخن ستوماني اوښسته بېدار شولو
لاس ئې د ارمان د زړۀ کرېوان وته تیار شولو
د پېرې خوشبویۍ وُئې په مشاة کښې دندو کار شولو
څۀ رنګین هجوم وه چې د ذهن انتشار شولو
زۀ د پرېشانیو یو بنګړ په مخه واخستم
رنګ په رنګ خیالونه یو دفــــتر په مخه واخستم

هر یو تخیّل به وې چې ما لره جامه راکړه
زور مضمون به هم وئیل چې نوئ سرنامه راکړه
ګوتو به نعرې اوکړې په زوره چې خامه راکړه
خیال د سرتور عشق به وئې چې دلته عمامه راکړه
پنځه د تخیّل به په ګرېوان د هر منظر کښې وه
بېره د عمل مې تله د وخت سره په پر کښې وه

باغ کښې د وزیر زه ګرځېدم په ځان خبرنه وم
کوم د ګلو تېل و چې یې زه ولاړ په مسرنه وم
دومره زر مې تنګ ترې ناممکن و څه سحرنه وم
سرچې ترې کړم پټ د غوټه لمن کښې زیړې نمرنه وم
شین زه د دنیانه د شینکي سره واصل بنه یم
زه چې پرېشان یم د نکهت سره شامل بنه یم

ګل چې په خندا ځي پرېشانه په کښې راز څه دے
سر د ګل په جیب کښې چې نکهت لري پرواز څه دے
یو رنګه بلبل خندا ژړا کړي دا اواز څه دے
کله نیاز او ناز چې وي یو رنګ نو نیاز او ناز څه دے
یو که تمنا لري دا بل هم تمنا لري
هر طرف ته حسن دے نسبت زما او تا لري

راچې شي شاهان او وزیران بنا باغونه کا
بل د ژوند په کور کښې د عشق و نو چراغونه کا
وکړي کروندې پکښې ارم غونډې راغونه کا
رنګ کښې د ګلانو زرغونه د زړه داغونه کا
پورته یې رونق شي د وختونو د قدم سره
نقش او رنګیني یې دواړه یو ځاے او

ACKU

نو ځکه رنګ ئې چې بدلیږي د جهان د باغ
رنګ له فنا جوړ دې په دنیا کښې د انسان د باغ
باغ به د صاحب کا که صاحب به کا ارمان د باغ
نښې مرغړنې د ارمان دي د ښغمان د باغ
دا د اقتدار ورځې خو الوزي کامترې دي
نښې د علمي تعمیر چې پاتې شي بهترې دي

زرچې سرسبزي د وچو غرو پیدا کولے شي
زرچې په صحرا کښې ګلستان بنا کولے شي
زرچې په تخریب کښې د تعمیر رنها کولے شي
زرچې وچوبي له بیابان جدا کولے شي
صرف دې وایه ولې دا د ذهن په تعمیر نهٔ شي
باغ دې په دې ولې وایه شاړ دے د ضمیر نهٔ شي

ولې دې معیار د قام د ژوند په دا اوچت نهٔ شي
ولې دې بدل خپله قامه جهالت نهٔ شي
ولې دې بدل په خوشحالیو کښې غربت نهٔ شي
ورک د خټهٔ د پاره د افلاس د غر لعنت نهٔ شي
هر قدم کښې ګل د پوهنتون ولې تخرګند نهٔ شي
ولې ذهنیت دې د خپل قام تر سیرلي خند نهٔ شي

دمے په هر قدم کښې گلستان د پوهنتون پکار
دلته چې اباد شي يو جهان د پوهنتون پکار
لاړ د زاړه وخت سره افغان د پوهنتون پکار
دي دې چمن ته بلبلان د پوهنتون پکار
ښنائې گلان هغه چې دفتر وي د حکمت پکښې
ښکاري که پرېشان خو وي خندا د جمعيت پکښې

نمر چې ډوبېږي په ښکته رو رو اوږدېږي سوري
بر د پلوشو غشي و وکوز ترې رسېږي سوري
لاړل استقبال لره نما ښام ته رسېږي سوري
گوره په تنگ تنگ کښې په ورو ورو فنا کېږي سوري
راغلو نوے باغ مو د غازي اعلحضرت وليد
ډېر په نمونه کښې د تعمير مونږه اوچت وليد

ښکته پورته يو خوا بل خوا پاس په غونډۍ د تللے وو
چرته په تعمير کښې وو او چرته غوړېدلے وو
چرته چرته شاړه چرته شين راټوکېدلے وو
چرته په صورت د دنگو بوټو کښې ختلے وو
څه که اشتياق د ننداري مې ورسته وړے وو
هيڅ نه شوکېدے چې د تعمير د اوبو

نمر چې په فضا کښې وتک تور او پرېشان سوري و
پټ د دنو بوټو غرونو شاته لړزان سوري و
یا د چا د مخ نه کېږ چاپېره زلفان سوري و
یا د الا ﷲ نه ګرېزانه هندوان سوري و

څوکه پټه دل څنې خو ژوند یٔ و د نمر سره
ګویا تاریکه شي راپیدا د منور سره

# ار ستمبر ۱۹۴۸ء

نن مې مختصر څه سوانح د خپل ژوندون لیکل
یا څه بې تعبیره مې خوبونه د مجنون لیکل
یا مې څه حالات د شاعري د یو مفتون لیکل
یا مې رواودونه د حسرت د پښتون لیکل

خپل یوه تالیف لره و حکم بېنوا کړے
ژواک مې ورته او کښنه په دنیا کښې چې وه کړے

ژواک به زما څه وي یو استوے غونډے پړے یم
زه د شخصیت په هر یو اړخ کښې نیمګړے یم
هک له معارفو نا سرسبزه غونډے زړے یم
ژوند مې لا تراوسه ارماني دے هغه مړے یم
ورک شوم په ارمان د ورید و کښې هغه ابر یم
نه مې شته ثمر په سرسبزه کښې که یوسبز یم

ته مې په مکتب کښې تربیت اونهٔ په کور اوشو
لاس د دلاسې نهٔ وه چې څهٔ اوپه زور اوشو
کله برېښېدلې کله شپې غونډې تک تور اوشو
چرته چرته نرم نرم پوست اوچرته سپور اوشو
سوړې داډې مې په طفلۍ له سره پورته شو
وخت چې د ځوانۍ ؤ د بابا قدم مې کورته شو

د برکه ؤ حشمت خو د بابا سره فنا شولو
ګویا چې یو سوړې ؤ د نمر سره هوا شولو
کښېنلې استعداد مې ؤ افلاس ورته بلا شولو
بار د معیشت مې په اوږو باندې سوا شولو
ما ته په پستېدلو استعداد به کهٔ پېغور اوکهٔ
نفس به په لمسون د احتیاج د حشر شور اوکهٔ

کله مې ګرېوان ؤ د منطق او د حکمت په لاس
کله فلسفې به کړمه خرڅ د دهریت په لاس
کله تصوف به کړم بسته د طریقت په لاس
څهٔ به مې کول چې مې جلب ؤ د غربت په لاس
جوړې ترې جوړې شوې د هستۍ چې ؤ کاروان زما
سرای د حسن تونو زما ژوند ته شو جهان زما



ACKU

زهٔ د یو مېړهٔ غونډې د ټولو مقابل یمه
څوک که یې چپې دي طوفاني نو زهٔ ساحل یمه
دوی مې قاتلان دي زهٔ هغوی لره قاتل یمه
نغړم حوادث چې له طفلۍ ورته مائل یمه
ضبط مې د بې ذرو او د سلمانو خوشه چیني کوي
ذهن مې ځوند د بې پرورش ته کراري کوي

نشته شخصیت مې که د سرائې د خوشحال خان پشان
اونهٔ نو میاله یم د مهمند د رحمان په شان
زړهٔ مې وي ګوزار د زمانې ته د سندان په شان
لا په تکلیفونو ترقي کړم د ایمان په شان
لاړو نماز پښتین د مطبوعاتو ریاست وته
مونږ د خوشحال خان خټک د قبر زیارت وته

بوږو دا تعویذ په نوي دول د مرمرونه
رنګ یې بازي وړې وه د مشکو نه عنبرونه
اب یې وړې تاب و په شوخۍ کښې د سروزرونه
بس خولنده داده چې بهتر و د بهترو نه
اولیدل جلال او جمال د واړه مونږ صنم سره
عکس و د تورې، په پهلو کښې د قلم سره

دا وه هغه توره چې په قام باندې ئې ننګ اوکړ
دا وه په پښتو ئې د مغل سره چې جنګ اوکړ
دا وه هغه توره چې هیبت څني اورنګ اوکړ
دا وه په فضا د پښتو چې د ژوند شرنګ اوکړ
نغم د مغل د برترۍ ئې چې د ببلے وه
پرق ئې دا اورنګ د صبر درس چې سپړلے وه

دا ورته ښودل چې په مسلم کښې امتیاز د څه؟
ټول چې لاالله وائي دیو په بل ئې ناز د څه؟
فرق څو د عمل دے یو په بل باندې اوان د څه؟
څوک چې وي په نیاز کښې د ښتن د بنده نیاز د څه؟
نشه برترۍ په پښتنو باندې مغل سره
وي له رنګه او بویه په ګل باندې بل ګل لره

دا هغه قلم دے چې حکمت ترې څڅیدلے دے
دا دے په تعمیر کښې د پښتون چې کړیدلے دے
د غم د ضمیر په ازادۍ کښې چلیدلے دے
دا دے د زمانو هم خلاف چې خوزیدلے دے
دا دے د راتلونکو پښتنو د قلمونو پلان
دا دے د پښتو د مستقبل دا د بونو پلان

ACKU

دا هغه قلم دےچې دځوان غوندئ په زور کښې وي
دے هغه دریاچې دخپل زورځنې په شور کښې وي
کله په کابل اوپه تیرا اوپه لاهور کښې وي
کله په چنوړ اوپه ډلي په رنتهمبور کښې وي
کله په شلمان کښې دډېرودغردپاسه وي
کله پاتې شوے دشکست له بده لاسه وي

دادےچې یاري ئې غوښته نه کړله دخان سره
ځان ئې پرېښان سا تلو تل د پرېښان سره
ډېرئې خبرې وې په ډه کښې دافغان سره
وچې سیاهي شوې اشنا نه شوې دبیان سره
جاله دهرچاچې دتکمیل په لور روانه شي
وخت به ئې ستړې کاندي تندر له اسمانه شي

دا هغه قلم دےچې پښتو ترې زېږېدلې ده
ژبه ئې پښتون وته په پند کښې چاودېدلې ده
چرته دادرجن په شند لوګوزیدلې ده
چرته دغزل په رنګینو مسکیدلې ده
چرته ئې حکمت په رباعي کښې پیدا کړےدے
چرته په قطعه کښې زړه دا بنګوئې سوا کړےدے

څومره د پښتو ژبې دا په موږ احسان کړے
بیا ددې په هورته حکومت افغانستان کړے
نه یوازې دا په موږ دا ئې په افغان کړے
بیائے د سرحد په هر پښتون باندې ځان ځان کړے
رابه شي ایسوړو ته په شان او په شوکت سره
وصل به په فخر دا تعوین شي د تربت سره

څو کله مې سودا د زوړ کابل ددیں په سر کښې وه
هیڅ نه شو کېدې چې قرارې زموږ په پر کښې وه
موږ لره بلنه کله لره کله په بر کښې وه
بیا په چهل ستون کښې مېلمستیا په ښما زیگر کښې وه
د کښې په خصوص سره راغلي ادیبان وُ تول
ګویا د پښتو ژبې ګلشن کښې بلبلان وُ تول

مخکښې د عوتو کښې وُ ګډون ئې کښې ګډون نه وُ
مخکښې یو دفتر به د بې شک خو یو مضمون نه وُ
وې به رنګینې پکښې خو داسې به افسون نه وُ
مخکښې ئې پښتو دا ادب ذوق هسې ممنون نه وُ
نن ګویا کالبوت وُ د پښتو ادب تیار ولاړ
روح پکښې دننه د غازي سپه سالار ولاړ

AQKU

نن کا وهٔ احساس پښتونولۍ چې زهٔ وجود لرم
دا مې واهمه وه چې کمه مې زهٔ وجود لرم
زهٔ هم په وسعت او جمعیّت کښې څهٔ حدود لرم
زهٔ وافره برخه په فطرت کښې د نمود لرم
زهٔ هغه حنا یم چې وهل خورم رنګ اوباسم
هغه اٰئینه یم چې صیقل شم زنګ اوباسم

زهٔ هغه ادب یم چې رازونه د حیات لرم
زهٔ یم هغه ژبه د حکمت چې کلمات لرم
زهٔ د ترقۍ په حقله څلند نفسیات لرم
زهٔ په پس منظر کښې څه عبنتلي روایات لرم
زهٔ په ډېرو ژبو یو مقصد بیانولے شم
زهٔ خوارهٔ وارهٔ په یو لار روانولے شم

زهٔ پهٔ بنګاله کښې د شېرشاه سره نسبت لرم
هم زهٔ په رومان کښې د امان سره الفت لرم
هم زرهٔ د نادر په فرانسه کښې په راحت لرم
هم څهٔ د جمالِ اٰفغاني نه حکایت لرم
هم عبدالرحمٰن په خپل جلال کښې ځائے راکړے وٰ
زهٔ یم چې مې زرهٔ د احمدشاه بابا نه وړے وٰ

ACKU

راشه چهل ستون نه چې نن اوګوره صورت زما
تا چې پریشان کړلم ګوره جمعیت زما
راشه اوس که ګورې په اجزاو کښې وصلت زما
خدائې دې داسې نه کا چې ناقص وي کلیت زما
ګوره د انګابنګا چې جمع شوې وې سره
جوړ څنې دریاب شو یو طرف ئې چې سره

ګوره د سرحد دغې غرې ادیبان دي دا
ګورې مخامخ چې د ازاد افغانستان دي دا
هغه که داماں وي ګوره ئماړې د دامان دي دا
هغه که نظر وي نو نظر لره چشمان دي دا
دا صدر اعظم چې ورته زړه د پښتنو وائي
دا محمدګل ورته بابا چې د پښتنو وائي

پیش سپاسنامه له تولو وراندې بې نوا کړله
اخسته بلا څنې ادب چې ده وینا کړله
ده چې تبصره په ملیت د پښتونخوا کړله
خدائګو چې جذبه د خان خانی ئې وار خطا کړله
روح ئې په مضمون کښې ځلیدلو د خوشحال ختک
زړه ئې په هر حرف کښې درزیدلو د خوشحال ختک

---

# فخرِ افغان لاړ

چې دا چې وُتل دامن او د امان لاړ
یو پیکر د پېرزوینې دانسان لاړ
هسې نه چې پاکستان په هندوستان لاړ
دا د غم خبر ئے نن په کل جهان لاړ
چې غرور د پښتنګي ئې وُه مات کړے
د دنیا نه نن هغه سپین ږیرے ځوان لاړ
اوس به تل د حریت ګلان تازه وي
پسرلے کۀ د پښتون د ګلستان لاړ
پۀ خندا لکه د ګل وُ په اغزو کښې
چې وه تل د قام په غم ځیرې ګرېوان لاړ
پسته ډېر ځلاندۀ ستوري ئې پرے ایښې
په دا څۀ شي که مو دا ماهِ تابان لاړ
چې مدام به افتخار د قام او ملک وي
نن هغه مېړنے ځوان فخرِ افغان لاړ
حمزه فکر د تاریخ کړه هاتف اووې
"اے الله یغفرلهٗ" لوئے مسلمان لاړ

۲۱ ر جنوري ۱۹۸۸ ع

# د سید تقي په وفات باندې

اتلسم د مارچ دسپرلي میاشت وه
سن عیسوي د نولس سوه یونوي ۱۹۹۱ء

چې فردوس وته روان شو په ځواني کښې
چې سید د حسیني شاه تقي
شاه محسن یې په ژړا انګولا پرېښود
سکه ورور یې د هم دا ال د نبي
پسماندګانو ته دې صبر مولا ورکړې
هر انسان به په دې لاره شي راهي
بختور د چې اولاد د پاک حضرت د
په ایت او په حدیث دے جنتي
د تطهیر ایت که ولولې شي پوهه به
ګناه نه پرېږدي په ال کښې د علي
ځکه پاک رسول وئیل چې اهل بیت دے
که هر څو د ایران ے سلمان فارسي
د سید ګناه ، ګناه خو ده ظاهر کښې
دا وینا کړې ده ابن عربي
حمزه هم د دې خاندانه امیدوار دے
چې نصیب یې شفاعت شي د نبي



ACKU

# قطعه

حمزه شکر خو داد ے چې کیدلے نهٔ شي
روښان وي په وجدان کښې خو ویلے نهٔ شي
بس دا چې یو عاقل په دُعا یاد ساته
انسان چې وي احسان به هېر ولے نهٔ شي

# د
# عاقل خان اپریدی په واده

څهٔ تعریف به کووم زهٔ د عاقل خان
سره یو دي زړهٔ او خولهٔ د عاقل خان
ائینه چې څو ساده وي هومره ښهٔ وي
داسې دے سپېځلے زړهٔ د عاقل خان
خدایه هغه مستقبل ورته عطا کړې
هر هغه چې وي په زړهٔ د عاقل خان

که څهٔ هم خوارهٔ تراخهٔ شته دے په زړهٔ کښې
دا خوارهٔ مهٔ شه تراخهٔ د عاقل خان

پېلوشې د لیاقت او شخصیت ئې
کړه خورې په سمه غرهٔ د عاقل خان

بختوره د ذی الحج یوکم دېرشمه
پهٔ دې ورځ چې دے وادهٔ د عاقل خان

هاتف اووې هر ارمان ئې "داچراغ" شه
چې حمزه تعریف ئې کهٔ د عاقل خان

---

## د ډاکټر مسعود او جاوید ایډوکیټ د

# دواړه سهره

نن د جاوید او د مسعود په مخ خورشو جاوداں سهره
لکه ځوره ده په فلک دکهکشان سهره

د دوه جهانو خوشحالۍ هم نصیب ورسي
چې په خپل ژوند د والدینو ارمان سهره

د زړبودي مراوي تارونه به محکم شي اوس
چې د ځوانۍ ترجماني کوي دځوان سهره

د زلمي سترګې ئې ډېرې کړې لکه ځیلي ګلان
د تجرد له ژوندانه اخلي تاوان سهره

په بسم الله سره تړه د مسلمان سهره
دیت او ننګ له تاره جوړه د افغان سهره

نن چې د نوې افسانې دا ابتدا شوې ده
د مستقبل د خوشحالۍ دې شي عنوان سهره

حمزه په مخ د زلمي سره غوټۍ ښکارېږي داسې
که وریځ چې د رحمت لري باران سهره

۸ رمارچ ۱۹۸۸ء

# د ډاکټر افتخار علي د واده

# سهره

فخر کوم چې لیکمه د ډاکټر سهره
د افتخار علي زلمي د دلاور سهره
مالي ته او وایئ چې زړونه یکښې ویرې نن
چې د جاوید او د مسعود نه شي بهتر سهره
مبارکي ئې مور او پلار ته نور رحمٰن ته وایم
ورلیږې خدائے کړه د امجد علي په سر سهره
هم لیاقت دې خدائے زلمے کاندې د ټولو په مخ
په نګرانئ د مور او پلار کښې کړې په سر سهره
خدایه ژوندي ئې مور او پلار لرې زمونږه سره
مشاهده چې کړې فیاض د بختور سهره
داسې سهره د افتخار د خدائے شهرت کړې نصیب
چې کوزه او بره پښتونخوا کاندې خبر سهره

خدایه دعا کښې د حمزه داسې تاثیر کړې پیدا
چې هره ورځ ئې د خپل عمر شي اختر سهره

۳ رمئ ۱۹۹۱ سنه

* *

# دډاکټر خلیل الرحمٰن د واده

# سهره

ستا د سهرې دې وي تر عمره په خندا ګلونه
داسې دې وي ستا د ځوانۍ په تماشا ګلونه

هره کلۍ ئې په مسکا ادې بابا ته وائي
نن مبارک دې غوړېدل د تمنا ګلونه

چې ترجمان شي دسکون او اطمینان د زړونو
ملیار راوړي څه د باغ څه د صحرا ګلونه

مونږ په دې شپه دې کهکشان دخوشحالۍ راوړې
څه په ادب په زوړند سرکوي وړنا ګلونه

ډاکټره پام چې په ځېر ځېر ورته نظر ونه کړې
دا ورېښن ورته په سرکړې په لړزا ګلونه

خدایه ثابت ئې کړې رښتیا د زړګو رانو په حق
چې په سهره کښې په خندا دي مسیحا ګلونه

چې په نکهت ئې ارمانونه د دلسوز شو مسکې
خدایه تا نه او په خندا لري تل دا ګلونه؟

ښکلا ښکلا شي چې شامله له ښکلا شي حمزه
دې د زړمې په ښکلې مخ څکه زیبا ګلونه

۱۰ر اپریل سنه ۱۹۸۶ ع

# د داد محمد دلسوز د وادهٔ
# سهره

ستا ځی ته حاجت چې په لړزان شو د سهرې
پیدا له اضطرابه ګریوان شو د سهرې
کوم نمر ته مقابل کېږي کهکشان شو د سهرې
خپل سورې په انوارو چې قربان شو د سهرې
یاران یې لکه شمعې په محفل کېږي په خندا
ګل ګل له خوشحالۍ په زړهٔ روښان شو د سهرې
ګل داد وته ځان جوړ کړو سر تر پایه شو داد ګل
هر لړ په چپو سر لکه طوفان شو د سهرې
لمو ته د دښمن یې شو هر ګل لکه شهاب
خوسترګو د یارانو ته بستان شو د سهرې
ځوانۍ دې پېغلې زانګي په تالونو دستې
اختر د ارمانونو چراغان شو د سهرې
سپین سرې پښتني ته مبارک شه خوشحالي
دا نن یې چې په ژوند پوره ارمان شو د سهرې
حمزه چې راخوره نن په تندي شوه د دلسوز
ناچیزه که څهٔ هم وُ اوچت شان شو د سهرې

یکم دسمبر سنه ۱۹۶۳ء

# سهره

راغله جيلب کښي دانوارو داد چيا سهره
په يثربي شان وشوکت کښي بي بها سهره
له کهکشانه چي برېښنا کوي سوا سهره
له تجلو ده عبارت دحکيم شاه سهره
ولي سبب دافتخار دواقف شاه به نه وي
چي په شرف کښي ده سايه دبي نوا سهره
کلي کلي کړه تجلي دسيادت مسکي
بنکلي عطا ده دګلشن نه دزهرا سهره
په خاندان به دمرحوم عثمان سيد راولي
دخوشحالئ او برکت سحر سبا سهره
دقربانئ سهره چي تل ده دسادات په سر
ځکه به داوي لاثاني او لافنا سهره
چي ئې تړي د"انما يريد" ورد وکړي
کړي دزلمي په مخ خوره په بسم الله سهره
داخوشحالي ئې مبارک دوالدينو اوسه
سايه په سر دخادمانو دهما سهره
حمزه رفعت ورته عظمت دبې نوا ورکړو
چي په رفعت کښي شوه بالا له ثريا سهره

* * *

# د هنر سهره

مطربه ووایه څهٔ داسې په هنر سهره
چې شي خبره په هر طرف په سمه غر سهره
څهٔ سپېلني هم درنه غواړي برابر سهره
چې نهٔ شي ښکار د سپړو سترګو د نظر سهره
ورته به سوري د هما که د طوبیٰ ووایم؟
نن چې خبره ښکاري اصفّه ستا په سر سهره
د خوشحال د کاروان ګردې نګهتونه شيندي
لهٔ کهکشان سره سيالي کړي معطر سره
چې بې پرتونې هم له شرمه وي ښکلا ته اوبهٔ
داسې کابل ته کړه په سر د پېښور سهره
وکړه له ننه مصممه اراده صميمانه!
چې د ملّت په باب دې نهٔ شي بې ثمر سهره
مستې ځوانۍ دې په جوړ په تال د هر يو تار زانګي
ځکه د زړونو د راښکو لري اثر سهره
غوټۍ ګلونه دې چې مخ ته د زلمي وګوري
په تنبدو شي لکه ستوري د سحر سهره
وايه تبريک دې مجاهد او منوّر زلمي ته
شي بختوره دې "حمزه" دا معنبر سهره

د بګرې پېښور مارچ سنه ۱۹۸۲ء

ACKU

# شکیل دراني ته

خود شکیل ې په معنیٰ او په صورت کښې
چې ئې تل دخدائے په فضل او په رحمت کښې

پاکستان ته افسران ستا غونډې بويه
مشهورچې وي په عدل او د ديانت کښې

پښتانهٔ زلمي به ښهٔ ترقي وکړي
راشامل چې شي دستا په قيادت کښې

ملاحت دې کړې ښکلا کښې ډيوې بلې
ورشامل چې شولو ستا په صباحت کښې

احمدشاه بابا په شاني دورانيه
بريا لے شې دڅوندون په پاني پت کښې

دا بيمار پرسي سنت دپيغمبر دے
چې حساب ئې هر قدم دے عبادت کښې

دهرعمر ثمر اوخوري خوشحال اوسې
چې مخلص ئې دحمزه په عيادت کښې

---

ئه شکيل دراني صاحب نن سبا دصوبه سرحد ايډيشنل سيکرټري دے -

امیرحمزه خان شینواري مرحوم د مولانا روم د مثنوی په طرز په پښتو کښې یوه مثنوي لیکلې وه - نورشعرونه خوئې په لاس رانغلل. داېوځو شعرونه دخیال اسدآبادي په مرسته ستر مونږ را اورسېدل - هم دهغوئې په منته شاملولے شي.

واوره واوره بین چې څون فریاد که
ستا نه هېر اشنا چې بیا دریاد که
اوس به در معلوم کړمه اسرار دنفس
غنې مې چې کړي مست وبې خود مار دنفس
مارهله شي بې ضرر چې مست شي
یو صفت چې نیست شي نو بل هست شي

# د اقبال اعزاز اپريدي دواده

# سهرا

اقبال په مخ خوره چې شوه اقبال دے دسهرې
څواني چې پکښې ځانګي بنګلے تهال دے دسهرې

سهره ده ډېنبتون چې د اجلال دے دسهرې
هم د اجلال چې اوګورې جمال دے دسهرې

شاعر دے دشباب ورته مُسکے په تيټ نظر
اوبه نهٔ شي لهٔ شرمه احتمال دے دسهرې

رارسي ئې دوستانو ته استازے دجلوو
هر څوکه ورته وېړه مخکښې جال دے دسهرې

يو لړئې دوالد، بل ئې پسرلے دمور د زړهٔ
دوه درې خوشحالي راوړي کمال دے دسهرې

راوړے جور فلک دے دځپل خوئي نه په خلاف
څادر دکهکشان دے که د اشال دے دسهرې

دي بنګلي دوه اړخونه، يو د ننه بل بهر
يو مخ ئې د"رحمان" بل د"خوشحال" دے دسهرې

دے کړے اقتباس ئې چې د مخ نه د زلمي
د حُسن ځکه داسې بې مثال دے دسهرې

حمزه چې د شاعر د مخ ئې واخسته بلا
اوس عمر که خدائے کا ملازوال دے دسهرې

# خاتونِ قیامت زینب کبریٰؓ

---

کهٔ هر څو لهٔ خویه بویه خُناور یم
ولې ستاسو مدح خوان اوشناکر یم
اے خاتونِ د قیامت راته نظر کړه
اوس د ډېرې ناتوانۍ نه بې بصر یم
نهٔ قرار او نهٔ سکون او نهٔ صحت شته
ستا د در نه یمه ستون خو در پهٔ در یم
د خاتونِ د جنت دسترګو تور یې
اسوېلي د انتظار یمه په سر یم
ددې یو دم د سوزېدو نه مې بهر کړه
په محفل کښې مو بلېږمه اګر یم
اوس مشکل زما اسان کړه هم په تا شي
چې فدا دې له حېدرهٔ تر قمبر یم
صفت خوان دِې د الله نه تر احمدهٔ
لهٔ احمدهٔ تر حېدره تر اصغرؓ یم

د ابلا رانه شېره کړه قدرت د ستې
زهٔ حمزه د ژوندانهٔ کړه په سر یم

---



ACKU

# بند کړو وختونو خرام

بند کړو وختونو خرام
د ابُولوقت په سلام

د لاهوتي میُونه د وصل ډک راغلو جام
قطب الاقطاب چې دې د جهان لاس کښې زمام
بند کړو وختونو خرام

لاړو وصال ته درب حمزه حالف کړي سلام
د ثریا نه اوچت د فخرِ علم شو بام
بند کړو وختونو خرام

# د باچاخان په مرګ

چې فرنګ یې سرګردان کړو باچاخان وُ
چې سامراج یې نن حېران کړو باچاخان وُ
تېښته کتل یې د پښتون د زړهٔ نه ورک کړل
چې سرلوړے یې افغان کړو باچاخان وُ
چې خاني په فقیرۍ د یې کړه بدله
د غریب د زړهٔ ارمان وُ باچاخان وُ
سرهٔ کافر یې د ناځي نه په هېبت وُ
چې سپېڅلے مسلمان وُ باچاخان وُ
چونې ځوانۍ ته د سپېدل څه کمال نه دے
ځوان هغه چې حوصله همت یې ځوان وي
که بوډا عبدالغفار مـو وي لیـد ے
بل به چرته په دنیا کښې داسې ځوان وي
نمرکه پرېوزي نو بیا هم پرېوتے نهٔ دے
چې ترې پسته ځلنده ستوري روښان شته
باچاخان که له دنیا کړې سترګې پټې
غم یې څه دے چې ترشاه ولي خان شته

## د ډاکټر راج ولي شاه خټک ته

زما تصویر به درسره وي که زهٔ یم که نهٔ یم
د محبت به سلسله وي که زهٔ یم که نهٔ یم
دا توقع ده د حمزه راج ولي شاه د تا نه
تل به دې مینه پښتنه وي که زهٔ یم که نهٔ یم

## فواد علي
## د ډاکټر مسعود زوے

ماشومان مې ډېر لیدلي په خپل عمر
ولې زه متاثر شوم له فواده
که خدائے کاندي یو عارف به ترې نه جوړ شي
بې فرصته به وي تل د خدائے له یاده

ACKU

لواړکے

۷۵ — ۶ — ۲۲

# ډاکټر راج ولي شاه خټک ته
## په یو خط کښې

---

دا چې خیال ونهٔ کړې ښکلیه چې به نهٔ راته یادېږې
څوکهٔ زهٔ دې هېروم، هومره ښهٔ راته یادېږې
ته چې څومره هېروې مې، دومره زهٔ به دریاد ېږم
څو چې زهٔ دې هېرومهٔ هومره تهٔ راته یادېږې

---

# ډاکټر راج ولي شاه خټک ته د
## خپل تصویر په شا

---

ګفتګو د خاموشی خو به کېدے شي
که زهٔ نهٔ یمه هم زهٔ به درسره یم

---

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

9 - 8 - ١٥

[illegible]

PROPERTY OF ACKU 33508